# تحفة المسجون

## لفهم كتاب الله المكنون

المعروف به

دالی بندیوان په بیان د اصولو د قرآن

لیکونکی:

علامه مفتي

مجتبى عامر بن عبد المتين

عفا الله عنهما وعن جميع المسلمين

خپرونکی

مكتبة الجواهر

سليم خان صوابي

Maktaba Tul Ishaat.com

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کرام
کی تصانیف کو سکین کر کے PDF فارمیٹ
میں علماء طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن
اور محنت ہے ۔ مطالعہ کرتے وقت ہمیں
دعاؤں میں یاد رکھیں

**نوٹ**

کتاب میں لکھے گئے مسائل کے ساتھ متفق ہونا
ضروری نہیں ہمارا کام کتاب کو سکین کرنا
ہے

منتظم اعلی

**ابو معاذ خٹک**

معاونین

مولانا عبد الکریم, مولانا اکرام گل, مفتی ابو عتبان فداء الرحمن عابد

0314_9958550

# تحفة المسجون

## لفهم كتاب الله المكنون

المعروف به

دالي دبنديوان په بيان دا صولو د قرآن

ابوعتبان
فداء الرحمن عابد
نور ډهير

ليكونكي

علامه مفتي مجتبى عامر حفظه الله ورعاه


واٹس ایپ گروپ
مکتبہ
اشاعت التوحید والسنہ
زیر نگرانی
ابو معاذ خٹک
ابوعتبان مفتی فدا الرحمن عابد
0314_9958550



خوروونكي

مكتبة الجواهر

سليم خان صوابي


Maktaba Tul Ishaat.com

حقوق د طبع محفوظ دي

د کتاب نوم: تحفة المسجون لفهم كتاب الله المكنون المعروف به "
دالي د بندیوان په بیان د اصولو د قرآن
لیکونکی: مفکر اسلام مفتي مجتبي عامر حفظه الله وانجاه.
خوروونکی: مکتبة الجواهر مدرسه جواهر القرآن سلیم خان
(صوابي)
چهاپ کوونکی: ادارة العلم پشاور
تعداد :: ۱۱۰۰
سن اشاعت: 15 صفر 1442 هجري. 2020---10—2
د موندو درکونه:

1. مکتبة الجواهر مدرسه جواهر القرآن سلیم خان (صوابي)
2. مکتبة حسینه اینډ خوشبو محل شیوه اډه.
3. مکتبة ادارة العلم پشاور.
4. تاج مکتبه صوابي.
5. اسلامي کتب خانه صوابي.

بسم الله الرحمن الرحيم

Maktaba Tul Ishaat.com

# " ډالۍ کوم "

دا خپل بې کاره او معمولي کوشش او ليک دَ زندان دَ تورو پنجرو دَ شا نه دَ هغه لويو لويو استاذانو روحونو ته ډالۍ کوم کومو هستو چې خپل ساهونه او وختونه دَ لوئ الله تعالي دَ کتاب خدمت ته وقف کړې خپل عزتونه او سرونه ئې دَ هغې نه قربان کړې وو خاص کر هغه عظيم شخصيات او په ما ډير مئين مهربان چې دَ هغوي دَ غم خبر دَ زندان په دننه دَ بنده عاجز دَ زړه ازغې شو يعني زما محبوب استاذان، الفقيه مولانا خائسته رحمن صاحب ، شيخ الحديث والتفسير مولانا نور الهدي صاحب، ناقد الرجال مولانا تاجبر خان صاحب ، او خاص کر په ما انتهائي مهربان او مئين څما روحاني پلار چې دَ هغه دَ ژوند په ارمانونو کښې يو ارمان دا وو چې مجتبي به کله وينم او په آخري ملاقات کښې دَ غلنۍ جيل په دروازه کښې دَ معانقې په وخت کښې دَ عاجز په غوږ کښې ئې اوونيل که اوس زنات شوم نو خير دې ته مې اوليدې او دويم ارمان ئې دا وو چې دا به کله وي چې زَه ئې کتاب باندې دَ مجتبي عامر نوم اووينم ؛ يعني شيخ القرآن والحديث مولانا غلام حبيب صاحب (رحمهم الله ونور مرقدهم) روح ته ډير په مينه ډالۍ کوم "

"" الله دې قبول کړې ""

# تقریظ

## شیخ القرآن والحدیث مفتی سراج الدین صاحب (حفظہ اللہ ورعاہ)

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الحمدللہ الذی قال "وأن اتلوالقرآن" والصلوۃ والسلام علی من قال خیرکم من تعلم القرآن وعلمہ وعلی آلہ وصحبہ اجمعین۔

امابعد: قرآن فہمی اور قرآن کریم کی اشاعت عظیم جہاد ہے، باری تعالی نے فرمایا۔

وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا سورۃ الفرقان 52۔

قرآن کریم کے ذریعے دنیا میں انقلاب لانا جہاد کبیر ہے، قرآن کریم تمام باطل ادیان ومذاہب تمام رسومات کفروشرک اور الحاد کے خلاف تعلیم دیتا ہے، اللہ تعالی کی یہ آخری کتاب صرف اس چیز کی تعلیم دیتی ہے، جو اللہ تعالی کے نزدیک برحق ہو، لہذا اس کی تعلیمات کو دنیا میں عام کرنا بہت بڑا جہاد ہے، اور یہ جہاد ہمیشہ کے لئے جاری رہتا ہے۔

شاہ ولی اللہؒ الفوزالکبیر میں لکھتے ہے، کہ قرآن کریم میں سزا کی وعید سے متعلق جتنی آیات موجود ہیں، ان کا شان نزول یہ ہے کہ دنیا میں جب تک برائی موجود ہے، یہ آیات اس کو وعید سنائی رہیں گے، اور اس کتاب میں بشارت والی تمام آیات دنیا میں پائی جانے والی ہر نیکی کے حق میں نازل ہوئی ہے، اب جن برائیوں کے خلاف جہاد کرنے کا حکم دیا گیا ہے،

Maktaba Tul Ishaat.com

ان میں اعتقادی، عملی، اخلاقی، انفرادی اور اجتماعی ہر قسم کی برائیاں شامل ہیں۔
قرآن کریم ان تمام برائیوں کی مذمت کرتا ہے۔ قرآن کریم کی عظمت آپ ﷺ کی اس دعاسے واضح ہوتی ہے، جس میں آپ ﷺ نے اس صحیفہ آسمانی کو آنکھ کا نور اور دل کا سرور فرمایا ہے۔
ان تجعل القرآن العظیم ربیع قلبی ونوربصری وجلاء حزنی وذهاب همی۔
سلیم الفطرت لوگ اس قرآن پاک کو پڑھ کر ایمان کی دولت سے مالامال ہو جاتے ہیں۔
قرآن کریم ذکرالہی بھی ہے۔ قدانزل اللہ الیکم ذکرا کتب حدیث بیہقی وغیرہ۔
یہ حدیث موجود ہے کہ سب سے زیادہ افضل ذکر قرآن کریم کی تلاوت ہے۔
آداب قرآن کریم کے سلسلہ میں آپ ﷺ نے فرمایا ہے ( لا تتوسدو القرآن ) قرآن کو سرہانے کے نیچے نہ رکھا کرو، واتلوہ اس کو پڑھا کرو۔
شاہ ولی اللہؒ الدھلوی کی دینی خدمات اور تحریک فہم قرآن مقامی زبان سے کرنا ایک عظیم کارنامہ ہے، فتح الرحمان کے نام مقامی زبان فارسی میں کیا، اُصول تفسیر میں آپ نے الفوزالکبیر لکھی، پھران کے بڑے صاحبزادے شاہ عبدالعزیز نے قرآن کریم کی آخری دوپاروں اور سورۃالبقرۃ کے نصف تک کی تفسیر فارسی میں لکھی، شاہ صاحب کے دوسرے بیٹے شاہ رفیع الدین نے قرآن کریم کی سب سے پہلے اردو میں ترجمہ کیا، یہ تحت اللفظ ترجمہ ہے، جو کہ عام پڑھا جاتا ہے، مختلف اشاعتی اداروں نے مثلاتاج کمپنی، انجمن حمایت اسلام وغیرہ نے شائع کیاہے، تفسیر رفیعی کہا گیاہے، آپ کے تیسرے بیٹے شاہ عبدالقادر کی نام

پڑھے انہوں نے قرآن کریم کا بامحاورہ اردو ترجمہ کیا، شاہ صاحب کے سب سے چھوٹے بیٹے شاہ عبدالقادر نے قرآن کریم کا ترجمہ اردو میں شائع کیا، اور شیخ الہند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب نے زمانہ اسیری میں اس بامحاورہ ترجمہ کو آسان بنادیا۔

کہتے ہیں کہ جب شیخ الہند مالٹا سے بذریعے بحری جہاز واپس آرہے تھے، تو سمندر میں طوفان آیا اور ایسا وقت بھی آیا، کہ کسی کا بچ جانے کا امکان ختم ہوگیا، تو ایک شاگرد جو ان کے ہم راہ تھے، فرمایا اس ترجمے کو اپنے سینے سے باندھ لو، اگر جہاز کی تباہی کی صورت میں تیرنا بھی پڑے، تو اس ترجمہ کو اپنے سینے کے ساتھ باندھ لو، اور ساتھ لیجانا۔

دیکھئے شیخ الہندؒ کو ترجمہ کتنا پیارا ہے، اور شاہ ولی اللہؒ کے سب سے پہلے چھوٹے صاحبزادے شاہ عبدالغنی ہیں، آپ نے درس وتدریس کے ذریعے دین کی بڑی خدمت کی ہے، مگر کوئی کتاب نہیں لکھی البتہ ان کے صاحبزادے نے قلم اور تلوار دونوں سے جہاد کیا، مراد میرا شاہ اسمٰعیل شہیدؒ ہیں، پھر اس تحریک فہم قرآن کو اشاعت کے اکابرین نور اللہ مرقدہم نے پروان چڑائی، خصوصا مرشدی ومرشد العلماء شیخ القرآن والحدیث مولانا محمد طاہرؒ نے ربط السورۃ، خلاصۃ القرآن، مشکلات القرآن، اور اصول قرآن پر بہتر اور یکتا جواہر جمع کئے، اور قرآن کریم کی خدمت صرف مردوں میں نہیں، بلکہ خواتین حضرات میں عام کیا، انہی کی گلستان قرآن کا ایک پھول انہی کے مجاہدین میں ایک مجاہد اور انہوں کے ایک شاہ سواروں میں سے ایک شاہ سوار انہوں کے شجاعوں میں ایک شجاع انہوں کی صابروں میں سے ایک صابر مفتی مجتبیٰ عامر صاحب حفظہ اللہ ورعاہ ہیں، قرآن کریم کے فہم کے لئے اُصولوں کا ایک مجموعہ تیار کیا ہے، چند اوراق دیکھنے کا موقعہ ملا ہیں، ہمارے آنکھوں کا ٹھنڈک جیل کے

Maktaba Tul Ishaat.com

سلاخوں میں ہماری آنکھوں سے او جھل ہیں، کتنے مشائخ عظام ان کو کھلی فضاء میں دیکھنے کے متمنی تھے، لیکن وہ اپنی تمناوں کے ساتھ ہم سے چلے گئے، اللہ رب العزت ان کی مرقد نور سے بھر دے، اور اعلی الجنان میں ان کو جگہ دے۔

باری تعالی سے دعا گوں ہوں کہ برادرم کی سعی جمیل کو قبولیت سے مشرف فرمادیں، اور علماء اور طلباء کو مفید بنادے اور ان کے حسنات میں ایک بہترین حسنہ اور ان کو توشہ آخرت اور باقیات الصالحات میں سے بنادے۔

وانا الفقیر سراج الدین عفا اللہ عنہ

# تقریظ

## شیخ القرآن والحدیث استاذ العلماء مفتی محمد مسلم صاحب

(سلمہ اللہ)

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم

أما بعد: برادران اسلام وقارئين حضرات ، ستاسو په لاس کښې کتاب په عنوان دَ تحفة المسجون: مشتمل دې په مبادي اواصول تفسير باندې، دا زمونږه دَ خور او محترم رور مولانا مفتي مجتبي عامرصاحب "سلمه الله ورزقه الخلاص من الحبس والسجن (آمين)" درسي افادات دي چې دَ هغوي يو خوش قسمته شاګرد مولانا محمدابرار صاحب راجمع کړې دي او دَ افاده عام دَ پاره ئې شائع کوي، ما دَ خپل مصروفيت دَ وجې نه دَ مکمل کتاب کتلو اومطالعه کولو فائده حاصله نه کړې شوه، البته سرسري نظر باندې مِ عنوانات اوبعضې ځايونه مطالعه کړل، دَ هغې نه دا اندازه اوشوله، چې الحمدلله ډير بهترين مواد په بهترين ترتيب راجمع شوي دي، او بې شک دَ مشآئخو دَ افاداتو خلاصه ده ،چې دَ مدرسينو اوطلبآؤ ټولو دَ پاره ډيره مفيده ده، زه دَ زړه دَ اخلاص سره دَ الله نه دعا غواړم چې الله تعالي دې ته شرف قبوليت ورکړي، او دَ مفتي صاحب "سلمه الله" او دَ دې مواد دَ مرتب کونکو دپاره ئې الله تعالي صدقه جاريه اوګرځوي، اوکتونکو ته ترې الله تعالي فائده اورسوي.

كتبه الاحقر محمدمسلم نستوي عفا الله عنه

۹ محرم الحرام ۱۴۴۱ھ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

# تقریظ

## تقی الاتقیاء استاذ العلماء شیخ الحدیث ابوعبید مولانا عبد الرحیم صاحب (حفظه الله)

شیخ الحدیث مدرسه جواهر القرآن سلیم خان

بسم الله الرحمن الرحیم

**نحمده ونصلي علي رسوله الكريم ، اما بعد :**

دَ قرآن کریم دَ فهم دَ اساني دَ پاره اصول او اصطلاحات شیخ المشائخ مولانا حسین علي نور الله مرقده بیان کړي دي کوم چې دَ هغوي خصوصي او امتیازي طرز دې ، دَ هغوي روستو دَ هغوي شاګردانو لکه شیخ القرآن والحدیث مولانا محمد طاهر نور الله مرقده ، او شیخ القرآن والحدیث مولانا غلام الله خان نور الله مرقده وغیرهم ښه واضح کړي او تفصیلي کړي دي چې دَ هغې نمونه دَ پنج پیر شیخ صاحب ؒ کتاب العرفان في اصول القرآن او دَ پنډي دَ شیخ صاحب ؒ دَ تفسیر جواهر القرآن مقدمه ده ، زیر نظر کتاب هم زمونږ دَ شیوخو دَ طرز یوه نمونه ده ، چې هغه مفتي مجتبي عامر حفظه الله وانحاه دَ مختلفو استاذانو لکه شاه صاحب نیلوي ؒ ، شیخ القرآن قائد محترم مولانا محمد طیب طاهري صاحب ، کابلګرام شیخ صاحب ؒ ، شاه پور شیخ صاحب ؒ ، ویسه شیخ صاحب ؒ او شیخ عبد الشکور صاحب ، شیخ القرآن مولانا میر سمیع الحق افغاني

صاحب ، مفتي محمد مسلم صاحب ، وغيرهم ، دَ درسونو نه ډير په محنت سره راجمع کړي او انتخاب کړي دي، مفتي صاحب دغه اصول او اصطلاحات په پښتو ژبه کښې ښه تشريح کړې دي-

دَ اصطلاحاتو دَ وضاحت دَ پاره ئې آيتونه ،کله احاديث ، او کله کله مناسب اشعار ذکر کړي دي ، او اصطلاحات ئې په بهترين انداز او ترتيب ذکر کړي دي او واضح کړې دي ، دَ مفتي صاحب په ترتيب سره هغه ډير څرګنده ښکاري ، دوي په کتاب کښې دَ بيان شوو اصولو خلاصه په اخير کښې هم بيان کړې ده ، کتاب په اصل کښې طالب العلم محمد ابرار بارک الله في علمه وعمره دوران درس کښې قلم بند کړې وو بيا مفتي صاحب پرې هم دَ کتلو نه پس اضافه اوکړه-

دست بدعا يم چې الله تعالي دې دا کتاب مفيد عام اوګرځوي ، او الله رب العزت دې دَ مفتي صاحب او دَ هغوي دَ والدينو او استاذانو دَ پاره صدقه جاريه کړي - (آمين )

کتبه ابو عبيد عبد الرحيم الباجوري عفي عنه-

نزيل سليم خان صوابي

Maktaba Tul Ishaat.com

# " منظومه "

ته رحیم او ته رحمان ئې زما ربه
ته په هر چا مهربان ئې زما ربه

ستا ثناء دَ بل وینا محتاجه نه ده
ته په خپله ثناء خوان ئې زما ربه

بادشاهي او حکومت یواځې ستا دې
ته مالک دَ کل جهان ئې زما ربه

زه بنده ته مې مولیٰ زما الله ئې
ته حنّان او ته منّان ئې زما ربه

زما ژوند زما مقصد ستا معرفت دې
ته عیان په خپل قرآن ئې زما ربه

ستا دَ رحم لوئې مظهر دا لوئې کتاب دې
ته مالک دَ انس و جان ئې زما ربه

فضیلت ئې لکه نمر دَ نمرخاته دي
ستا کلام دې ته ئې شان ئې زما ربه

دَ غمژنو دردیدلو زړو دوا ده
اطمینان دې خوشحالي ده تسلیٰ ده

اخوت دي محبت دي روروليي ده
موعظة ده نصيحت دي خوشحالي ده

سمه لاره ده صراط مستقيم دي
برکت دي چې کلام دَ رب رحيم دي

هر کتاب دَ خپل مقصد نه معلوميږي
چې مقصد ئې څومره لوئې وي نو ځليږي

دَ قرآن مقصد توحيد او وحدانيت دي
دَ نظامِ اربعه ؤ معرفت دي

خالقيت او ربوبيت او برکت دي
څلورم آخر نظامِ مالکيت دي

دَ انسان مقصد دا نه دي چې جنت دي
دَ انسان مقصد دَ خپل رب عبادت دي

راشه اوګوره چې څه وائي قرآن
چاته ئې وائي او کوي څنګه بيان

دَ بيان نه پس اثر دَ قرآن څه دي
دا شکي هغه منيب دي زړه ئې ښه دي

دَ منيب دا انابت الله سيوا کړي
هدايت، استقامت ورته عطا کړي

Maktaba Tul Ishaat.com

په انوارو دَ قرآن چي منور شي
ربط القلب ئې نصيب شي بختور شي

همت غواړي بې همته کيدې نشي
دي مقام ته هر سړې رسيدې نشي

مينه غواړي عشق غواړي درديدلې
داسې درد چې غم ئې خوئي شي غم زپلي

دَ احساس په بام ولاړ لکه عمر وي
يو الله ته دَ دنيا نه مرور وي

دَ زړه تولي خاطري په زړه قربان کړي
لکه زړه چي څوک دَ زړه په کور ودان کړي

زندګي ئې د الله په نوم قربان شي
دَ جنان شي نو په خپله هم جنان شي

دا جنون چي څوک راواخلي ذي فنون شي
ابتلاء وربانديې راولي مسجون شي

امتحان وربانديې راولي نيک نام شي
چې دَ صبر غيږ ئې واخلي نو امام شي

انقلاب ورته آواز دَ جرأت اوکړي
جرأت مند ابن تيميه شيخ الاسلام شي

غزالي دَ زمانې شي نظرياب شي
لکه شاه ولي الله فکر ئې باب شي

لکه شيخ حسين علي په کلام پوئي شي
چې عبيد شي نو امام الانقلاب شي

دَ پنج پير شيخ القرآن پشان پيشوا شي
معزز شي محترم ولي الله شي

دَ همت سنام ته ورسي حبيب شي
قيادت اوکړې طيّب شي مقتدئ شي

ربه ته چې څوک دَ خپل قرآن خادم کړې
تاته خوښ شي ته ئې خوښ کړې مجتبئ شي

بل طرف ته شکي ضال شي په جدال شي
ختم القلب ئې مقدرشي ډير بدحال شي

طالب جان چې دا اصول دَ قرآن زده کړې
په علومو دَ قرآن به مالامال شي

دَ زاهد ارمان به خدائ کله پورا کړي
چې تيارې دَ هجر لرې شي وصال شي

( مفتي محمد جميل زاهد ) مدرس مدرسه جواهر القرآن سليم خان صوابي

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# "مقدمه"

**الحمد لله الذي هو الرحمن علم القرآن ، خلق الانسان وعلمه البيان والصلوة والسلام علي من ارسله بالحق بشيرا ونذيرا للانس والجان ، وجعلت أمته خير الأمم بالاسلام والفرقان ، وعلي آله واصحابه الذين رفعوا ألوية العلم والايمان وعلي الذين اتبعوهم باحسان سيما اشراف الامة حملة القرآن الذين نصروا الدين ونشروا القرآن فاستحقوا الرضوان ۔**

**اما بعد :**

الله تعالي چې کله آدم علي نبينا وعليه السلام دنيا ته دَ رالیږلو وعده فرمائيلي وه ، هغه هدايت په مختلفو وختونو کښې دَ مختلف انبياء کرامو عليهم السلام والتسليمات په ذريعه دَ مختلفو کتابونو په شکل کښې دنيا ته راتلو ، تابعدار دَ هغوي عزتمند او مستحق دَ نجات او دَ کامیابۍ ګرځولي کيدل او دَ هغې مخالف او دشمنان بې عزته ذليله او مستحق دَ هلاکت۔

آخر مونږ ته دغه هدايت دَ جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم په ذريعه دَ قرآن کريم په شکل آخري ، ابدي ، دائمي ، او عام هدايت دنيا ته راغې چې کامل رهنما دې دَ انسان دَ ژوند يو ځانګه ئې هم نه ده پريښودلې ،په هرې ځانګې دَ ژوند کښې ئې دَ انسان رهنماني رهبري کړې ده، کامل لار ښود دې ، تبيانا لكل شيئ او تفصيل كل شي ، چې تر څو پورې انسانيت وي او په کوم ځائې په مخ دَ زمکه انسانيت وي نو قرآن به

هدايت وي ، بل هدايت دَ راتلو واله نشته دي ، دا قران كريم وختي ، لساني ، علاقائي او موسمي ، پابندي نه لري ، دي لرهِ مقتدا او امام جوړونكي دَ الله تعالي رضا حاصلونكي جنتيان دي ، دَ دې شا ته غورځونكي لعنتيان او دوزخيان دي ، دَ " للعالمين نذيراً او " هدي للناس " عوندي صفات لرونكي كتاب دې ، دَ خلقو علاقو او دَ موسمونو په بدلون او تغير سره په ده كښې بدلون نه راځي ، څوک دا بدلولې نشي ، ده سره ځان برابرول دي دا نه چې په ديكښې به دَ ځان په خوښه او دَ دور په خوښه بدلون كوي، نا بلكه دې چې په كوم طرف ځي نو په هغه طرف تاويدل دي ، دا نه چې

چلو تم اُدھر ہوا ہو جدھر کی

حدیث بے خبراں ہے کہ تو با زمانہ بساز

زمانہ با تو نہ سازد تو با زمانہ ستیز

اوس په خلقو باندې دَ غير تقليد او اتباع دَ خواهشاتو غالبه شوې ده نو په ځان كښې بدلون نشي راوستلې ، نو دَ الله په كلام او ازلي قانون كښې تغير او تبديل راولي.

خود بدلتے نہیں قرآن کو بدل دیتے ہیں

ہوئے کس درجہ فقیہان حرم بے توفیق

دَ قرآن نه هدايت په قرآن فهمي حاصليږي چې پدې باندې په صحيح طريقه ځان پوهه كړې شي ، په هر يو دور كښې حق پرسته عالمانو دَ قرآن كريم خدمت په عجيبه عجيبه انداز كړې دې ، چې په هغې سره دَ خلقو اصلاح او دَ هغه وخت دَ فتنو او مرضونو علاج اوشي ، په موجوده دور كښې پداسې طريقه دَ قرآن كريم خدمت الله تعالي دَ شيخ المشائخ صوفي باصفا مولانا حسين علي الواني رحمة الله تعالي او دَ هغه شاگردانو په قسمت ليكلې وو، هغوي په عجيبه اسان طرز دَ قرآن خدمت اوكړو چې دَ شرک او بدعت ايوانونه په لړزيدو شو، او دَ هرې فتنې دَ علاج طريقه ئې اوخودله ، دَ هغوي درسونه دَ دنيا په كوټ كوټ كښې جاري دي ، او الله تعالي دې ، جاري او

Maktaba Tul Ishaat.com

ساري لري ، زمونږ درس قرآن هم دَ هغوي دَ درس يوه کړۍ ده ، صرف دَ هغوي دَ خبرو نقل دي ، نه درس کولې شو او نه دَ هغې لياقت لرو ، څو صرف دَ مصر دَ بوډۍ پشان خان په خريدارو کښې راوستل دي چې الله رب العزت مو صرف دَ قيامت په ورځ دَ خپل کتاب دَ خادمانو په خادمانو کښې حساب کړي او الله تعالى رضا شي ۔

احـــب الصـــالحين ولســـت مـــنهم

لعـــل الله يرزقنـــي صـــلاحاً

دَ درس په دوران کښې اصول مختصر بيان شوي دي محترم رور محمد ابرار راجمع کړي دي او بيا څنو محترمو او ګرانو ملګرو دَ چهاپ کولو زور اولګولو اګر چې دَ چهاپ کولو په حق کښې او مشوره کښې نه ووم ځکه چې ډير خدمت شوې دې او کيږي زمونږ دَ ليک څه حيثيت نشته دې ، چې په چهاپ کولو کښې څه نوې فائده وي سيوا دَ خلقو دَ سترې کولو او دَ مصنفينو په لړې کښې دَ راتلو نه ۔
ملګرو ډير اصرار اوکړو نو صرف په دې نيت دَ چهاپ کولو اراده جوړه شوه ، چې کيديشي په پښتو ژبه کښې دَ څنو اصطلاحاتو وضاحت وي ، او دَ څنو استاذانو دَ درس ملغلرې مخې ته کړې شي ، نو څه فائده به عامه شي ، او په مقاصدو کښې به ربط معلوم شي ، نو ملګرو ته درخواست دې چې دا په جيل کښې ګويا نوې اوليکلې شو نو ما سره کتابونه هم نه وو چې تصحيح ډيره اوکړې شي او حال مي د حال دَ تفتازاني عکس دې ۔ چې

فيوما بحـــزوى و يومـــا بـــالعقيق

وبالعـــذيب يومـــا و يومـــا بالخليصـــاء

کله په يو جيل کښې او کله په بل جيل کښې دَ کاغذ هم دا حال ، چې کله دَ دوائي په ډبي او کله په لفافه او کله په بل څه ، بس دَ الله نه دَ الله رضا غوارم او دَ خپلو ګناهونو معافي ، نو کتونکي ملګري دي په رحم او کرم په نظر سره او دَ مشقت او دَ محبت په

نظر سره اوکوري نه که دَ تنقید او په کړه سترګه ، اصلاح کونکي لره دې الله تعالي دَ هغه دَ نیت او دَ خبرولو اجر ورکړي۔

آخر کښې چې کومو رونړو دَ دې په چهاپ کولو کښې خواري کړې ده ، خصوصاً محترم رور محمد ابرار او محترم او ګران رور مولانا محمد آصف او محترم رور مولانا محمد اسحاق اور نور ملګري نو الله تعالي دې هغوي لره دَ دې اجر ورکړې ، دَ جیل په مناسبت دَ دې کتاب نوم تحفة المسجون لفهم کتاب الله المکنون کیښودلې شي چا ته چې موقع میلاو شي نو ما عاجز او زما مور او پلار رونړه خوئیندي ، بچې او زما استاذانو ته ضرور دعا اوکړې ۔ الله تعالي دا زما اولنې لیک دَ خپلې رضا ذریعه اوګرځوي او الله تعالي دَ خپل کتاب دَ خدمت او زده کړې دَ پاره ورته مقبولیت عامه نصیب کړي ، او الله تعالي دِ ټولو قیدیانو دَ پاره صدقه جاریه کړې ۔

الله تعالي ما عاجز او ټول قیدیان ته په خپل فضل کرم سره آزادي او رهائي دَ خپل دین دَ خدمت دَ پاره نصیب کړي ګناهونه دې زما معاف کړي او دَ ټولو مومنانو۔ آمین یا رب العالمین ۔

کتبه مجتبی عامر بن عبد المتین (کان الله له عوضاً عن کل شيء)

حالاً مسجون ومرجو الخلاص

۲۲ ذي القعده ۱۴۴۰ یوم الجمعه

Maktaba Tul Ishaat.com

# "مقدمه"

## "فضيلة العلم واهل العلم"

دَ علم فضيلت او شرافت په هيچا پټ ندي ، دَ انسان نور صفتونه لکه جرأت ، سخاوت، شفقت وغيره ، په ديکښې دَ انسان سره نور حيوانات شريک دي ، سوا دَ علم نه ، دا صفت دَ انسان ځانګړې صفت دې ، په ديکښې ورسره هيڅوک شريک نشته ، الله تعالي چې آدم عليه السلام لره فضيلت ورکړو نو هغه په صفت دَ علم سره ، چې

" وعلم آدم الاسماء كلها "

او فرشتو ته ئې حکم دَ سجدې دَ آدم عليه السلام اوکړلو. علم دَ دنيا او دَ آخرت دَ سعادت ذريعه ده ، دَ کوم علم او علماءو فضيلت چې مونږ ذکر کوو، دَ دې دَ پاره چې ځمونږ په دې خپل محنت اطمينان پيدا شي ، اول دَ هغه علم تعريف کوو چې دَ کوم فضائل ذکر کيږي.

## تعريف دَ علم

امام ابوحنيفه رح دَ علم تعريف داسې کوې.

**الفقه معرفة النفس ما لها وما عليها**

يعني حلال او حرام پيژندل ، امام محمد بن حسن الشيباني رحمة الله نه چا تپوس اوکړو چې په زهد کښې کتاب نه ليکې نو هغه ورته اووئيل ما په بيوع کښې کتاب ليکلې دې يعني زاهد هغه وي چې هغه په کسب کښې دَ حرامو ، مکروهاتو او شبهاتو نه ځان بچ کوي. دَ دې وجې نه عالمان وائي چې

**افضل العلم علم الحال**

يعني چې بنده کوم حال کښې دې نو ده له هغه علم زده کول ضروري دي۔

"والعلم فريضه علي كل مسلم"

هم دغه مقصد دې ، چې کوم عمل فرض وي نو دَ هغې علم فرض دې ځکه چې

ما يتوسل به الي اقامة الفرض يكون فرضاً وما يتوسل به الي اقامة الواجب يكون واجباً

يعني وسيله دَ فرض فرض او وسيله دَ واجب واجب وي ، نو چې کوم عمل سره دِ تعلق راځي نو دَ هغې متعلق زده کړه دَ شريعت او وحي په رڼړا کښې دا شرعي علم دې۔

امام مالک رحمه الله دَ علم تعريف داسې کوي۔

العلم نور يقذفه الله في قلب المومن

علم خو يو رڼړا ده چې الله تعالي دَ مومن زړه ته غورځوي۔

دا علم شرعي او په هغې دَ عمل اثر دې ، چې دَ معرفت الهي نور نصيب شي دَ زړه په ذريعه باندې اندامونه او بيا عالَم او جهان په ده سره رڼړا شي ، نو دَ ظاهر او باطن احوال دَ شريعت په رڼړا پيژندل، دَ باطن احوال ايمان ، توکل ، انابت ، محبت الٰهي ، خشيت الٰهي ، رضا وغيره ، پيژندل او دَ هغې حصول کوشش کول ، او دَ ظاهر احوال ،فرائض واجبات او حلال ، حرام وغيره پيژندل ، دا په قرآن او په حديث او فقه سره او په تصوف سره کيږي ، دَ دې وجې نه ديته علوم عاليه وئيلې شي ، دَ نورو علومو ثواب هله دې چې ديته ذريعه شي ځکه وئيلې شوي دي۔

العلم ما قال الله وقال رسوله
قال الصحابة هم اولوا العرفان

Maktaba Tul Ishaat.com

# دَعلم فضيلت دَقرآن نه

علم الله تعالي دَ انبياء صلوات الله عليهم والتسليمات صفت وئيلي دې او په دي باندې دَ هغوي فضيلت وئيلي دې ،

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ عِلْمًا ۖ وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾ سورة النمل 15

ترجمه : او يقيني ده چې ورکړې م وو داود او سليمان ته علم او هغوي وئيلي وو چې شکر دَ الله تعالي هغه ذات چې مونږ ئې غوره کړو ، په ډيرو خپلو بنديانو مومنانو .

﴿ يَٰيَحْيَىٰ خُذِ ٱلْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ ﴾ سورة مريم ١٢

ترجمه : اې يحي کتاب اونيسه په کلکه او ورکړې م وو ده له پوهه په ماشوم والي کښې ، نور هم ګڼړ آيتونه دي چې هغې کښې علم صفت دَ انبياء کرامو وئيلي دې .

دويم عالم او جاهل برابر نه دي .

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩﴾ ﴾ سورة الزمر 9

ترجمه :اووايه ورته چې آيا برابر دي هغه کسان چې پوهيږي او هغه کسان چې نه پوهيږي .

دريم الله تعالي دَ خپل شهادت سره دَ علماءو شهادت يو ځائې کړې دې .

﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ ﴾ سورة آل عمران 18.

څلورم علماء له ئې درجې وئيلي دي ،

﴿ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾ ﴾

سورة المجادلة 11.

ترجمه : اوچتوي الله تعالي هغه کسانو له چې ايمان ئې راوړې دې ستاسو نه او خصوصاً هغه کسانو له چې علم ورله ورکړې شوې دې درجې .

پنځم په عوامو باندې ئې تابعداري دَ علماء فرض کړې ده۔

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ ﴾ سورة النساء 59.

## دَ علم فضيلت دَ احاديثو نه

طالب العلم في سبيل الله دې ، يعني چې کوم اجرونه په جهاد في سبيل الله کښې په هر غير اختياري عمل ملاوېږي نو دغه شان طالب العلم ته په هر څه اجر ملاوېږي۔

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ العِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ حَتَّى يَرْجِعَ.[1]

۲- طالب العلم چې دَ علم په طلب کښې اوځي نو چې په لار ځي ، نو دا جنت ته لار آسانوي ،۔

وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ بِهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الجَنَّةِ»[2]

3- طالب العلم ته فرشتې وزرې خوروي۔

وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضَاءً لِطَالِبِ العِلْمِ[3]

4- دَ عالم دَ پاره هر څه دعاګانې دَ رحمت کوي ،۔

وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضَاءً لِطَالِبِ العِلْمِ[4]

۵- دَ طلباء او علماء باره کښې نبي عليه السلام دَ ښېګړې او ښه کولو وصيت فرمائيلې دې۔

---

[1] سنن الترمذي : باب فضل طلب العلم۔

[2] صحيح البخاري : باب " العلم قبل القول والعمل۔

[3] سنن الترمذي : باب ما جاء في فضل الفقه على العبادة۔

[4] سنن الترمذي : باب ما جاء في فضل الفقه على العبادة۔

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِنَّ رِجَالاً يَأْتُونَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الأَرَضِينَ يَتَفَقَّهُونَ فِي الدِّينِ، فَإِذَا أَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوا بِهِمْ خَيْرًا.[1]

6. علماء او نبيانو په مينځ كښې په آخرت كښې دَ يوې درجې فرق دې.

عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيَ بِهِ الْإِسْلَامَ، فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّينَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ»[2]

7. دَ علم دَ خودلو او بيانولو ثواب دَ اوښانو دَ صدقه كولو نه بهتر دې.

نبي عليه السلام علي رضي الله تعالي عنه ته وئيلي وو.

«لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ»[3]

8. دَ عالمانو سياهي دَ شهيدانو دَ وينې نه بهتره ده.

عَامِرٌ الْجُهَنِيُّ مَرْفُوعًا « يُؤْتَى بِمِدَادِ طَالِبِ الْعِلْمِ وَدَمِ الشَّهِيدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُفَضَّلُ أَحَدُهُمَا عَلَى الْآخَرِ» وَفِي رِوَايَةٍ فَيُرَجَّحُ مِدَادُ الْعُلَمَاءِ.[4]

9. عالمان دَ انبياء كرامو وارثان دي.

وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا، وَلَا دِرْهَمًا[5]

10. عالمان او دَ عالمانو سره ملګري خلق دَ لعنت نه بچ دي.

أَلاَ إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلاَّ ذِكْرُ اللهِ وَمَا وَالاَهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ.[6]

---

[1] سنن الترمذي : باب ما جاء في الاستيصاء بمن يطلب العلم.

[2] سنن الدارمي : باب في فضل العلم والعالم.

[3] فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل ؒ "فضائل علي رضي الله تعالي عنه"

[4] تفسير الرازي.

[5] سنن ابي داود : باب الحث علي طلب العلم.

[6] سنن الترمذي.

نور هم ډير احاديث دي دَ ترغيب دَ پاره دا کافي دي۔

## دَ علم باره کښې دَ عالمانو اقوال

۱۔ امام رازي رحمه الله وائي چې علم دَ انبياء دَ دنيا زينت او خائست دې۔

زينة الدنيا بخمسة اشياء علم العلماء، وعدل الامراء وعبادة العباد وامانة التجارة ونصيحة المحترفين۔

امام ماوردي رحمه الله فرمائي چې لذت دَ علم دَ هر څه نه اوچت دې۔

ان العلم عوض عن کل لذة وممنع عن کل شهوة ومن تفرد بالعلم لم توحشه خلوة۔

علم عوض دَ هر لذت دې، او منع کونکې د هر شهوت دې، او څوک چې ځانله شو علم ته نو خلوت به ئې او نه يروي۔ (کاتب)

۳۔ شيخ الاسلام امام برهان الدين فرمائي، چې علم ژوند دې، او جهل مرګ دې۔

وفي الجهل قبل الموت موت لاهله
فاجسامهم قبل القبور قبور
وان امرأ لم يحي بالعلم ميت
وليس له حين النشور نشور

يو بل عالم فرمائي۔

حياة القلب علم فاغتنمه
وموت القلب جهل فاجتنبه

Maktaba Tul Ishaat.com

٤. عالم چې په اصولو برابر وي نو څان له جماعت دی ،
لو أن فقيهًا واحدًا على رأس الجبل لكان هو الجماعة [1]

لـــيس علـــي الله بمســـتنكر
ان يجمـــع العـــالم فـــي واحـــد

٥. علي ؓ دَ علم او دَ مال فرق وائي نو فرمائي .
العلم افضل عن المال بسبعة اوجه ، .
الاول : العلم ميراث الانبياء والمال ميراث الفراعنة
والثاني : العلم لا ينقص بالنفقة والمال ينقص
والثالث : المال يحتاج الي الحافظ ، والعلم يحفظ صاحبه ، .
والرابع : اذا مات الرجل يبقي ماله والعلم يدخل مع صاحبه في قبره .
الخامس: المال يحصل للمومن والكافر والعلم لا يحصل الا للمومن .
السادس : وكل الناس يحتاجون الي صاحب العلم والعلم لا يحتاج الي المال .
والسابع : العلم يقوي الرجل علي المرور علي الصراط ، والمال يمنع .
دغه شان علي ؓ نه نقل دي چې

رضـــينا قســـمة الجبـــار فينـــا
لنـــا علـــم وللجهـــال مـــال
فـــان المـــال يفنـــي عـــن قريـــب
وان العلـــم يبقـــي لا يـــزال

څما استاذ ډېر صاحب حق صاحب فرمائي .

---

[1] مجلة المنار - فصل المقال في توسل الجهال .

العلـــــم نـــور والجهالـــة ظلمـــة

لا تســـتوي الظلمـــات والانـــوار

دَ ترغيب دَ پاره دا كافي ده نور دا مسئله مستقل ده په تصنيف سره ، الله تعالي دِ مونږ ته هغه علم نصيب كړي چي دَ الله تعالي دَ رضا سبب ګرځي آمين -

تمت المقدمة بمقام جيل سوات

Maktaba Tul Ishaat.com

# باب اول دَ قرآن کریم پیژندګلو او مقام

الحمد لله و کفي و سلام علي عباده الذين اصطفي امابعد :

فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾﴾ سورة البقرة269

ترجمه: ورکوي پوهه دَ دِين چاله چې ئې رضا اوشي اوچاته چه ورکړې شوه پوهه پس يقيناً ورکړې شو ورته خير ډير او پند نه حاصلوي مګرخاوندان دَخالصو عقلونو

دَ الله دَ ذات او دَ نعمتونو مناسب الله له حمدونه او شکرونه دي ، چې دَ هغه په مونږ باندې انتهائي زيات نعمتونه احسانونه دي ، په هغه احسانونو کښې دَ ټولو نه اولنې احسان دَ وجود او دَ ايمان نه روستو او دَ جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ امتي کيدلو نه روستو ، په ما غريب او په تاسو ټولو لوئې احسان دا دې چې مونږ او تاسو الله رب العزت قرآن کريم ته کينولو او دَ قرآن کريم تعلق او دَ تعلق دا شرافت الله تعالٰي مونږ ته نصيب کړو ،

اين سعادت بزور بازو نيست
تا نه بخشد خدائے بخشنده

دا نيک بختي او سعادت دَ متو په زور باندې نه حاصليږي، چې الله رب العزت دا مهرباني په چا اونکړي نو بل څوک دَ دې مهرباني کولو والا نشته دې ، نو قرآن کريم زده کول او دَ قرآن کريم ښودل دا يو لوئې دولت او عظيم نعمت دَ الله رب العزت دې ، زمونږه اساتذه او شيوخ عظام هغوي د ژوند لمحات او اوقات او ساعات دَ قرآن کريم لپاره صرف کړي او دَ قرآن کريم دَ پاره ئې خرچ کړي وو، دَ هغوي په طرز

او طريقه باندې دَ هغوي دَ سبق يادولو او اورولو په نيت مونږ او تاسو راجمع شوي يو.

اُنهی کی محفل کو سنوارا ہوں
اُنهی کی مطلب کا کہہ رہاں ہوں
اُنهی کی بات کہہ رہاں ہوں
زبان میری اور بات اُن کی

لکه چې خنګه الله مونږ ته دا راتلل او کيناستل اسان کړل نو الله دې اوريدل وئيل او زده کول او سرته رسول او په هغې باندې عمل کول، او دا بيا کل جهان ته رسول دا دي هم الله مونږ ته اسان کړي. آمین یا رب العلمین۔

## څمونږ انداز درس

دَ هر کتاب زده کولو يو انداز او دَ هر کتاب دَ بيان يو انداز وي، قرآن کريم دَ بادشاه کتاب دې، دَ قرآن کريم هم يو مزاج دې، او يو انداز دې، چې په هغه مزاج او انداز باندې کتاب اووئيلې شي، نو فائده ډيره حاصله شي، او په آسانه حاصله شي، لکه دَ کور دَ وتلو يو دروازه او ور وي، چې په هغې باندې ځې نو په اسانه باندې به لاړ شې، او زر به لاړ شې، لکه قرآن کريم فرمائي.

﴿ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ ﴾ سورة البقرة 189.

ترجمه : نده نيکي راتلل ستاسو کورونو ته دَ چتو نه، ليکن نيکي نيکي دَ هغه چا ده چې هغه اويريږي دَ الله تعالي نه او راځې کورونو ته دَ ورونو دَ هغې نه او يريږي دَ الله تعالي نه، کيديشي چې تاسو کامياب شئ.

امام برهان الدين زرکشي رحمه الله تعالي ذکر کوي،

Maktaba Tul Ishaat.com

باشروا الامور من وجوهها التي ينبغي ان تباشر ولا تعكسوها [1]

اوكړئ كارونه په هغه طريقه چې په كومه طريقه ڎ هغې كول پكار وي ، او الټه كوئ ئې مه .

نو ڎ هر يو كار ڎ باره يو ظاهري لار وي ، لكه ايمان دي ، نو ڎ ايمان ڎ زده كولو لار او طريقه قرآن كريم دي .

﴿ مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَن نَّشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ سورة الشورى 52

ترجمه : ته پته نه وه چې كتاب څه وي ، او نه درته ڎ ايمان پته وه (چې خلق په ايمان ته څنګه رابلم ) خو كړه موږ دي له رڼا لار ښايو موږ په دي سره هغه چاته چې اراده اوكړو او يقيني ده چې ته لار ښائي په طرف ڎ سمې لارې .

نو خذ عقيدتک من القرآن راشه څپل ايمان او عقيده ڎ قرآن نه زده كړه ، صحابه كرام وائي .

تعلمنا الايمان ثم تعلمنا القرآن فازددنا به ايمانا [2]

موږ اول په لنډو ايمان زده كړو بيا مو قرآن كريم زده كړو نو په هغې سره مو ايمان زيات كړو او كلک مو كړو . ځني خلق ڎ دې حديث غلط مطلب بيانوي ، او وائي چې ڎ قرآن زده كولو ته حاجت نشته دي .

كلمة حق اريد بها الباطل

اول ايمان زده كول پكار دي نو ايمان ڎ څه نه زده كوي ، كه چې صرف ايمان زده كول وو نو مكي ٨٦ سورتونه نازل شوي دي ڎ ايمان په زده كړې كښې قرآن ته ډير ضرورت دي .

---

[1] (البرهان في علوم القرآن ) .

[2] (ابن ماجه )

چې په قرآن جوړ شوي صحابه وو نو هغه یاسر رضي الله عنه او سمیة رضي الله عنها غوندې کلک وو او نبي علیه السلام دَ عمار رضي الله عنه باره کښې وائي ،چا ورته اووئیل ·

**ان عماراً قد ارتد**

نو نبي علیه السلام فرمائي·

**کلا ان عمارا ملیٔ ایمانا من قرنه الي قدمه واختلط الایمان بعظمه وبدمه**[1]

داسې نه ده عمار دَ مرتد کیدلو نه دې ، عمار خو دَ ایمان نه ډک دې دَ سر نه تر خپو او ایمان دَ هغه غوښې او هډوکې سره ګډ شوې دې ·

نو ایمان دَ قرآن نه زده کړه دَ دې حدیث یو مطلب دا دې ، چې مونږ اول په لنډو ایمان راوړو او زده مو کړو نو بیا دَ تفصیلي کولو او کلکولو دَ پاره مو قرآن شروع کړو، او دویم دا چې دَ قرآن نه مراد احکامات او عملونه دي، نو اول مونږ عقیده باندې محنت اوکړو هغه هم دَ قرآن په رڼرا کښې وو خو بیا اعمال شروع شو نو اعمالو سره ایمان زیات شو لکه دَ محدثینو مذهب چې دې ، چې اعمال جز دَ ایمان نه دي دَ هغې په زیادت سره ایمان زیاتیږي ·

نو دَ هر یو خیز یو لار وي چې په هغه طریقه زده کیږي دَ هر کتاب په مزاج ځان پوهه کړه ځمونږ شیوخو دَ قرآن دَ زده کولو او وئیلو هم یو انداز دې ·

## دَ شیوخو دطرز امتیاز

زمونږ اوستاذ شیخ صاحب دَ کابلګرام رحمه الله به فرمائیل ،چې دَ هرې صدې یو امتیاز وي زمونږ دَ دې صدې امتیاز دې په دې خصوصي طرز او طریقه باندې، دَ قرآن کریم تفسیر زمونږ دَ مشائخو چې کوم طرز امتیاز دې نو دَ خیرالقرون نه روستو داسې طرز

[1] أخرجه أبو نعيم في "الحلية" 139/1 من طريق أحمد بن المقدام، بهذا الإسناد. وأخرجه ابن أبي شيبة في "الإيمان" "93"، و"المصنف" 121/12.

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ چا نښته دي ، دا زما دَ استاذانو او مشائخو طريقه ده او وجه به ئې دا ذكر كوله دَ حضرت شيخ القرآن عليه الغفران دَ نيل السائرين په حواله باندې چې دَ هرې صدې او دَ قرن به كومه بيماري وه نو مفسرين رالګيدلي دي دَ هغه بيمارۍ علاج ئې كړې دې ، دَ هغه دور دَ فتنو او بيا دَ هغې دَ علاج په خپلو تفسيرونو كښې ليكلي دي ، دَ خپل دور دَ بيمارو مطابق هغوي تفسير كړې دې چا دَ معتزلو رد كړې دې ، چا دَ مرجئو، عرض چې په كوم دور كښې به كومه فتنه وه نو هغه به ئې رد كوله، زمونږ دَ شيوخو كرامو انداز امتيازي دې ، او ډير جامع انداز دې ، او دا انداز او طرز دا الله رب العزت دَ قافله حسينيه په قسمت كښې ليكلي وو، او دا سعادت الله اول هغوي له وركړې وو، چې دَ هغې سالار اول شيخ المشائخ سند المفسرين والمحدثين مولنا حسين علي الواني نور الله مرقده وو، بيا دَ هغه شاګردانو دَ هغه دَ طرز خدمت اوكړو، او په ټوله دنيا باندې ئې دَ هغه طرز خور كړو، داسې طرز په تفاسيرو كښې نه ملاويږي، شيخ صاحب دَ كابلګرام به فرمائيل چې دا طرز دَ تفسير دَ قرآن دا دَ بل چا سره نښته دې او كه چا سره وي نو هغه به زمونږ دَ مشائخ كرامو يا شاګرد وي، او كه نه وي نو يا به ئې دَ هغوي نه غلا كړې وي ، او يا به ئې دَ هغوي كيستې اوريدلي وي، او يا به ئې دَ هغوي كتابونه كتلي وي ، ګني داسې طرز دَ قرآن دا دَ بل چا سره نښته دې ، نو دَ دې انداز خپل خصوصيات او امتيازات دي، ـ

١ـ يو دَ هغې نه دا دې، چې دا طرز دَ قرآن كريم انتهائي اسان او عام فهم دې ، په دې طرز علماء څه چې عوام پرې پوهيږي ، او هغوي هم دَ قرآن كريم نه فائده اغستلې شي، په دې طرز باندې فائده اغستلې ده ـ

٢ـ امتياز دَ دې طرز دا دې چې قرآن دَ كوم مقصد دَ پاره راغلي دې چې هغه مقصد اصلاح دَ عالم ده ، نو په دې طرز سره دَ قرآن كريم اصلاحي انداز برحال خود پاتې كيږي، او دَ بيمارو اصلاح او علاج په دې طرز سره ښه كيږي،

٣ـ امتياز دَ دې طرز دا دې ، چې په دې طرز كښې دَ قرآن عموم برحال خود پاتې كيږي، قرآن دَ عالم اصلاح ده نو په دې طرز سره دَ قرآن اصلاحي انداز برحال خود پاتې

کیږي، قرآن دَ عالم دَ اصلاح دَ پاره راغلې وو، قرآن څه علاقې وطن او لساني کتاب نه دې ، چې دا کنې په یوې علاقې پورې خاص دې ، یا یو ژبې والو پورې خاص دې، بلکه قرآن دَ ټول عالم لپاره راغلې دې ، او دَ همیشه دَ پاره راغلې دې، په دې باندې ناسخ نشي راتللې ، بلکه دَ همیشه دَ پاره دې، او دَ ټولو انسانانو دَ پاره دې، نو دا هم په داسې انداز باندې وئیل غواړي، چې خلق پرې هم پوهه شي، او مقصد ترې هم واضحه شي، او عموم ئې هم خراب نشي ، دَ هغې دَ پاره زمونږ شیوخ کرامو څه اصول او اصطلاحات مقرر کړي دي چې هغه زده شي ، نو بیا به په آیتونو او سورتونو کښې څه اشکال نه پیدا کیږي، نو کوم اصول چې شیوخ کرام وائي په درسونو کښې نو هغوي خو ئې الحمد لله په اوږد انداز سره وائي ، لکه شیخ صاحب دَ پنج پیر او ویسه شیخ صاحب مدظله العالي ، او دَ خال شیخ صاحب مدظله العالي وغیره شو، خو مونږ به هغه اصول اجمالاً ذکر کوو، او لږ شان تفصیل چې راروان درس راته اسان شي، نو هغه اصول په څلور قسمه باندې دي ، ۔

۱۔ هغه اصول دي چې دَ ټول قرآن سره تعلق ساتي، ما یتعلق بفهم القرآن ، ۲۔ هغه اصول دي چې دَهر هر سورت سره تعلق ساتي، ما یتعلق بفهم السورة ۔

۳۔ هغه اصول دي چې دَ هر یو آیت کریمه سره تعلق ساتي ۔

٤۔ چې دَ کلمات فاذه یوې لوئې کلمې سره تعلق ساتي ۔

## اول هغه اصول چې دَ قرآن سره تعلق ساتي

کوم اصول چې دَ ټول قرآن سره تعلق ساتي نو هغه مونږ په لنډو په پنځو خبرو کښې راګیرؤو چې یادول ئې اسان شي ، اوله خبره تعارف دَ قرآن یعني قرآن کوم کتاب دې ؟

دویمه خبره قرآن کریم څه وائي ؟

دریمه خبره قرآن کریم خپله خبره چاته کوي ؟ یعني مخاطب دَ قرآن

څلورمه خبره قرآن کریم خپله خبره په کوم انداز کوي ؟

یعني څنګه ئې وائي ؟ انداز بیان دَ قرآن کریم ،

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځمه خبره چې قرآن خپله خبره اوکړي نوڅه به اوشي ؟ یعني اثر دَ بیان دَ قرآن کریم ، یعني قرآن کوم کتاب دې ؟ څه وائي ؟ او چا ته ئې وائي ؟ او څنګه ئې وائي ؟ او چې اووائي ئې نو څه به اوشي ؟ دا لنډ مختصر دَ یو قسمه اصولو خلاصه شوه نو اوس تفصیل کوو ، نو اوله خبره ،

# تعارف دَ قرآن

دَ قرآن کریم پیژندګلو چې قرآن کریم کوم کتاب دې دې کښې یو څو خبرې کوو، اول تعریف دَ قرآن ، قرآن کوم کتاب دې چې وې وایو نو څه به ملاؤ شي ؟ یعني فضیلت دَ قرآن ، دریم اسماء القرآن، کمالات دَ قرآن کریم ، څلورم مقصد دَ نزول دَ قرآن کریم چې څه له راغلې دې ، پنځم دَ زده کولو آداب دا په اول باب کښې مقام دَ قرآن په پنځو فصلونو باندې ذکر شوې وو ، دَ چا کتاب دې ؟ څه پرې ملاویږي ؟ څه کمالات لري ؟ څه له راغلې دې ؟ او څنګ به ئې راخلو ؟ دا خبرې لنډې وې اوس ئې تفصیل کوو۰

# اول فصل تعريف دَ قرآن کریم

تعريف دَ قرآن يعني دَ قرآن كريم پيژندل چې دا كوم كتاب دې چا راليږلې دې ؟ چا راوړې دې ؟ په چا راغلې دې ؟ په كومه ژبه كښې راغلې دې ؟

دا ځكه ضروري دي چې عظمت او قدر دا فرع دَ معرفت ده ، چې څوک پيژني نه ، نو عزت به ئې څه اوكړي ؟ لكه يو زميدار وي او هغه يو قيمتي راډو گهړئ په لاس كړې وي ، هغې سره اوبه خور ، لو، گوډ وغيره كوي ، پته ورته نه وي چې دا څومره قيمتي ده، خو چې څوک ئې خبر كړي چې دا قيمتي گهړې ده ، او په څلويښت ذره روپې ده ، نور صفتونه ورته بيان كړي ، نو بيا هغه زميدار هغه گهړې رومال كښې بنده كړي او جيب كښې ئې واچوي ، او جيب په بډه كښې اومنډي او حفاظت ئې كوي ، ځكه اوس ئې اوپيژندله .

كابلگرام شيخ صاحب رحمة الله عليه فرمائيل ، يوه ورځ دَ مدرسې نه راروان وو، نو واڼي دَ لركو پنډ راسره وو يو ميلمه راسره ملگرې شو، او رانه ئې تپوس اوكړو چې ته ولي الله مولوي صاحب پيژني ، روان شو راسره ، زمونږ دَ كلي يو دَ دمې ځائې دې هلته كيناستو دې پخې پخې خبرې كوي ، اوبهٔ مو اوڅكلې ما ته واڼي ځو نه ، ما ورته وې څه چې ځو، ما ورته وئيل دا پيټې خو راواړو بدبد ئې اوكتل ، خو راوائېروو ، روان شو چې زمونږه حجره كښې كيناستو ، ما ته واڼي تلوار اوكړه ، ما ورته وې ډوډې خورو نو بيا به څه كوو چې ډوډې ئې اوخوړه تو ما ورته وئيل وايه ستا څه كار دې ؟ نو وئيل ئې ولې ته مولانا ولي الله ئې ؟ ما وئيل آو !! نو څما نه ئې معذرت كول شروع كړل ، او واڼي معافي غواړم ، ما ورته وئيل ستا حق وو ته ميلمه ئې ، اول دې نه پيژندلم ، اوس دې اوپيژندلم ، نو دَ پيژندگلو نه بغير قدر او احترام نه كيږي ، نو تعريف دَ قرآن پيژندل ځكه ضروري وو نو

Maktaba Tul Ishaat.com

كِتَابٌ عَرَبِيٌّ أَنْزَلَهُ اللّٰهُ إِلَى مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم بِوَاسِطَةِ جِبْرِيْلَ الْمَكْتُوْبُ فِي الْمَصَاحِفِ الْمَنْقُوْلُ إِلَيْنَا نَقْلاً مُتَوَاتِرًا بِلَا شُبْهَةٍ،

# (تعریف دَ قرآن)

تعریف دَ قرآن یو اصولیین دي نو هغوي تعریف دَ قرآن کریم په دې بنیاد باندې کوي چې دا دَ احکاماتو دَ پاره دلیل دي، نو هغوي ئې په خپل انداز سره تعریف کوي، خو مونږ دَ قرآن تعریف دَ قرآن نه کوو، ځکه چې مونږه قرآن کریم زده کوو، نو دَ قرآن کریم تعریف سره دَ سند دَ قرآن نه اوګوره

﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾

سورة الشعراء 194.

ترجمه: او یقیناً دا قرآن، خامخا نازل کړې شوي دي، د رب د مخلوقاتو نه نازل کړې دي له روح امانتداره په زړه ستا باندې: چه شي ته د ویرونکو نه:

دا ئې مختصر تعریف دې چې دَ طرفه دَ الله نه راغلي دي، او دا چا راوړې دي نو روح امانتدار راوړې دي، چا ته ئې راوړې دي ؟

نو علي قلبک لتکون من المنذرین ، دا نه ده چې ګني چا ته ئې راوړې دي !وهغه پرې پوهیږي نه . بلکه پوهیږي پرې ، علي قلبک زړه ته ئې کوز شوي دي ، علي سمعک نه وائي بلکه علي قلبک وائي چې زړه ئې پرې اوبه ځکلي دي، دا نه چې صرف ئې اوریدلي دي ، نو فائده ئې څه ده ؟

نو فائده ئې دا ده ، چې لتکون من المنذرین ، بلسان عربي مبین ، او په ژبه دَ عربي کښې دي ، نو ... قرآن ... تعریف شو،

﴿ حمٓ ﴿١﴾ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٣﴾ وَإِنَّهُۥ فِىٓ أُمِّ ٱلْكِتَٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِىٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾ ﴾ سورة الزخرف 1-4

ترجمه: ګواه دي دا کتاب واضح بیانونکي: چه یقیناً دا قرآن رالیږلي دي مونږ په عربئ ژبه کښې:د دې دپاره چه تاسو د عقل نه کار واخلئ او یقیناً دا په اصل دَ کتاب (لوح محفوظ) کښې زمونږ سره خامخا اوچتې مرتبې والا دک حکمتونه نه دي:

په لوح محفوظ کښې زمونږ سره دَ لوئې درجې او دَ حکمتونو نه ډک دې ، داسې دَ مکې سورتونو په ابتدا کښې دَ قرآن تعريف ذکر دې .

﴿ حمٓ ۝ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ ۝ ﴾ فصلت: ١ - ٣

ترجمه : الله تعالې دَ دې په مراد باندې ښه پوهيږي ،نازلول دې دَ طرف دَ لوئې مهربان رحم کوونکې نه . کتاب دې جدا جدا بيان شوې دې آياتونه دَ دې، قرآن دې عربې ژبې والا دَ پاره دَ هغه قوم چې پوهيږي .

په حديثونو کښې هم نبي عليه السلام دَ قرآن وضاحت دَ قرآن کريم په صفاتو سره کړې دې ، لکه ورته حديث کښې حبل الله وئيلې دې ، او کله ئې دَ قرآن وضاحت کړې دې په اشراطو سره چې تاسو ورته رسوم وائې ، لکه حديث کښې راغې ،يو ځل نبي عليه السلام فرمائيل .

أَلا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ فَقُلْتُ: فَمَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " كِتَابُ اللَّهِ، كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ، وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ [1]

ترجمه: خبردار يقيني خبره ده چې فتنې به راځي نو وې وئيل دَ دې نه به دَ خلاصون ذريعه څه وي اې دَ الله رسوله !! نو نبي عليه السلام اووئيل دَ الله کتاب په ديکښې خبرونه دَ مخکښنو او روستنو دي .

چې په تير وخت کښې اثار او چهراو او تنزل او ترقي په څه راغلې وه ، نو دا قرآن بيانوي دَ مخوانو او دَ اوسنو حالات ، داسې نور حالات هم شته دې ، چې په هغې کښې دَ قرآن تعريف په اثر دَ قرآن سره ذکردې ، چې دا قرآن څنګه اثر کوي، دا وو تعريف دَ قرآن دَ قرآن نه ، او دَ حديثو نه .

---

[1] شرح السنة للبغوي : باب فضل تلاوة القرآن.

Maktaba Tul Ishaat.com

# دویم فصل

# فضیلت دَ قرآن کریم

دَ قرآن کریم دَ محنت مقام او دَ قرآن کریم دَ خدمت مقام دا پیژندل ضروري دي ځکه چې دا دور مادي دور دې، هر سړې غرضي دې، او حرص کوي.

## غرض کی دوستی مطلب کا زمانہ

زمونږ اوستاذ محترم حضرت شیخ الحدیث بادشاه صاحب رح به فرمائیل، چې نن صبا دَ خود غرضۍ او دَ مطلب دور دې، خلق تردې پورې چې تبسم او خندا چې کوي نو په دیکښې ئې هم څه عرض وي، نو په دې مادي دور کښې او دَ حرص او دَ هوا په دور کښې وخت فارغول او دَ دین محنت ته کیناستل خصوصا بیا طلب دَ علم او دَ قرآن خدمت ته کیناستل دا په نفس انتهائي ګران دي ځکه چې هر سړې چې نن قدم اخلي نو وائي چې یاره ماته به په کښې څه میلاویږي او کنه ؟

هرسړې دَ څه میلاویدو په طمع باندې دې، چې وائي، درځم نو څه به راله راکوې ؟ او چې راځي نو څه به راوړي، او څه به راوړم دور دې، نو دا دور مادي او دَ حرص خود غرضۍ، دور دې، په مونږ او تاسو دَ الله احسان دې، چې قرآن ته ئې کینولو نو چې مونږ ته دا معلومه شي چې زمونږ دا محنت بالا او بلند تر دې چې مونږ ته دَ دې قیمت معلوم شي نو وخت صرف کول، بدن صرف کول، مال لګول او خرچ کول، ګرمي یخني برداشت کول، خوب قربانول، دا هر څه به راته اسان شي، او که قیمت ئې نه وي معلوم فضیلت ئې نه وي معلوم نو کله کله په زړه او دماغو باندې بوج شي، نو دَ دې وجه نه دَ قرآن کریم دَ محنت فضیلت او غوره والي، دا پیژندل ضروري دي، نو اول

# فضیلت انقلاب قرآن

دَ قرآن کریم فضیلت چې معلومیږي نو دَ انقلاب دَ قرآن نه معلومیږي ، او دَ اثر دَ قرآن نه معلومیږي ، دَ قرآن محنت چې څوک معلوموي ، نو هغه دې دَ قرآن اثر معلوم کړي ، چې دَ قرآن اثر څه دي ، او نتیجه ئې څه ده ؟ یو دوائي وي نو دَ هغې قیمت او غوره والي او فضیلت هغه دَ هغې دوائي اثر نه معلومیږي، چې هغه دوائي اثر بنه کوي نو خلق دَ هغې دوائي صفت کوي، او چې کله داسې نه وي ، نو بیا خلق دغه دوائي نه خوښوي ، نو دَ قرآن اثر معلوم کړه ، چې دَ قرآن قیمت درته معلوم شي ، نو قرآن کمال کوي ښېل قیمت چې تاته ښائي ، په لنډو ټکو کښې تاته انقلاب ښائي ، دَ قرآن چې لنډ حالات اوګوري ، چې دَ قرآن نه مخکښې څه وو ؟

او دَ قرآن کریم نه روستو څه اوشو ؟ مختصر قرآن کریم دَ تاریخ یو باب په دووه ټکو کښې رابندوي ، دَ جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم چې کله تاسو دَ سیرت مطالعه کوي ، او دَ نبي علیه السلام دَ ژوند مطالعه کوي ، نو هر کتاب دَ سیرت هغې اولنې باب دا قائموي ، چې دَ نبي علیه السلام نه مخکښې حالات څه وو؟ که سیرت دَ ابن هشام دې او که دَ سیرت نور کتابونه دي، نو دا باب خامخا قائموي چې دَ نبي علیه السلام نه مخکښې حالات څه وو ؟ دا ولې ؟

نو دا دَ دې دَ پاره چې تاسو ته دَ نبي علیه السلام قیمت معلوم شي او تاسوته پته اولګي چې نبي علیه السلام په دنیا کښې کوم انقلاب راغلي وو ؟ ځنې علماء ښکلي عنوانات راوړي سیرت یو کتاب عنوان داسې لیکلي دي .

## قبل طلوع الفجر المحمدي

چې دَ نبي علیه السلام صب نه وه ختلي نو دَ دنیا څه حالات وو، نو دا باب ټول قرآن کریم په یو څو ټکو کښې رابندوي چې مونږ سره دَ قرآن قدر پیدا شي . .

دَ حضرت عمر ؓ قول به شیخ صاحب دَ کابلګرام نقل کوو، کتاب الاعتصام دَ شاطبي ؒ

Maktaba Tul Ishaat.com

دا نقل كړي دي ، چې عمر ؓ به فرمائيل .

**لينقضن عري الاسلام عروة عروة من نشأ في الاسلام ولم يعرف الجاهلية** [1]

اسلام به كړې په كړې ماتوي هغه كس چې دَ اسلام په دور كښې پيدا وي او دَ جاهليت دَ دور نه او دَ تيارو نه خبر نه وي، دوي سره دَ اسلام قدر نشته دې ، دَ دوي په اسلام باندې وينه څه ؟ چې خوَله ( پسينه ) هم نه ده توَيه شوې ، نو دوي سره دَ اسلام څه قدردې ؟ نو دا كس به اسلام كړې په كړې ماتوي او اسلام به دې بربادوي ځكه چې ده سره دَ اسلام قدر نشته دې ، او ده دَ جاهليت تيارې نه دي ليدلي .

دَ سـ ـيرلي د مـــازيگر قـــر هنـــو سره وي
چـــې سـ ـيرلي جـ له بـــاد وي دَ خـــزان مـ خ

چې جا له دَ خزان بادونږ مخ سيزلې تړ ، او د خزا، سبيرو باد:نو وهلې وي ،نو هغه سره بيـ قدر وي يو سړې ـې او هغه زمونږ په ملک كښې وخت تيروي ، او دَ لوږ شيدنک چپو وهلې وي ، نو چې بجلي راشي ، دَ هغه سره ئې قدر وي .

نو دغه شان دَ قرآن كريم فكر او قدر او غم هغه چا سره وي چې مخكښې ئې تيارې دَ جاهليت ليدلي وي مونږ نوي پنځپيريان يو مونږ سره ئې قدر نشته دې ، هغه كوم عشقي مزاج چې پكار وو، نو هغه نشته دې ، ځكه چې مونږ دَ ړينه مخكښې دَ عقائدو او دَ اعمالو دَ تيارو نه خبر نه وو، نو عمر ؓ به فرمائيل ، چې اسلام به هغه كس كړې په كړې باندې ماتوي چې نومسلم وي ، او دَ جهالت دَ تيارو نه خبر نه وي ، قرآن كريم دا باب ټول په دووه ټكو كښې رابند كړو،

﴿ وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾ سورة آل عمران 103

---

[1] مدارج السالكين لابن قيم ؒ .

ترجمه : منګولې اولګوئ په رسي دَ الله غونډ او مه جدا کيږي دَ دې نه او ياد کړي نعمت دَ الله تعالي په تاسو باندې کله چي وئ دشمنان نو مينه ئې واچوله په مينځ دَ زړونو ستاسو کښې نو اوګرځيدئ په نعمت دَ الله تعالي رونړه ، او وې تاسو په غاړه دَ کندې دَ اور پس خلاص ئې کړې تاسو دَ هغې نه ، دارنګې بيانوي الله تعالي آيتونه خپل دَ پاره دَ دې چي تاسو هدايت اوموميئ .

منګولې اولګوې په رسې دَ الله باندې، ځان بچ کړې دَ هرې فتنې نه ، په رسې دَ الله باندې ، عين ، ص ، ميم ، عصمت معصوم ، عاصم دا په معنې دَ بچ کيدو سره راځي ، نو واعتصموا ځان بچ کړې دَ الله په رسي باندې دَ هرې فتنې نه ، که دَ هرې نه بچ کيږې نو په قرآن باندې به بچ کيږې ، نو چې په کوم څيز باندې څوک ځان بچ کوي ، نو هغه کلک نيوې ، نو منګولې لګول ئې حاصل او لازم معنې شوه .

ولا تفرقوا ، او دَ دينه تس نس کيږې مه ،دَ دې رسې نه جدا کيږې مه ، چې دَ الله رسي پريږدې !! او وجه وړله ذکر کوي ،

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا

دوه څيزونه وي دَ انسان يو دنيا او بل آخرت ، څوک چې صرف دنيا مني ، چې صرف دا ده او بل څه ته زمونږ حاجت نشته دې ، نو دا سړي برباد دې او څوک چې دا وائي چې صرف آخرت دې ، په دنيا کښې دَ الله دَ حکم پابند نه يو، نو دا هم برباد دې ، نو که دنيا او آخرت دواړه سمول غواړې ، نو دا په قرآن کښې دې ، اوس دَ دنيا بربادې په بدامنې باندې ده اوس که يو سړې ووچه روټې خوري خو چې امن وي نو خوشحاله وي ، خو چې يو سړې چرګان خوري او په زړه کښې ئې کيدړ ناست وې ، يره وې ورسره ، چې دَ کوم طرف نه به راباندې راځي نو هغه ته چرګان ګدان او پولاوونه زهر شي .

امن دا يو لوئې نعمت دې ، او يو لوئې دولت دې ، نو امن دَ قرآن نه مخکښې نه وو، قيصر او کسرې په دنيا کښې اور دَ بدامنې بل کړې وو، په يثرب او مکه کښې اوور دَ بدامنې بل وو، يو هوښيار سړې او يو عقل مند سړې به هم په معاشره کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

تنکیدوځکه چې هغه معاشره کښې صرف ازارول وو او دردول وو ـ هر طرفته سیوا دَ ازارولو او دَ دردولو نه بل څه کار نه وو نو په عقلمند باندې به دنیا تنګیدله ، هغه دَ امن متلاشي وو او دا به ئې وئیل چې داسې پروګرام دې دنیا له پکار دي ، چې امن وي پکښې چین او سکون او ارام وي پکښې ، نو نه دَ قیصر سره هغه پروګرام وو او نه دَ کسرې سره هغه پروګرام وو، دا دَ وخت سپر طاقتونه لکه بش او توني بلیئر امریکه او برطانیه ، قیصر او کسرې هغوې دَ دې پروګرام نه عاجزه وو، چې دې دنیا ته ورکړې ، او دنیا دَ جنت نظیر شي ، او فساد ختم شي او بدامني ختمه شي او سکون او آرام دې دنیا کښې راشي ، نو قرآن کریم داسې یوه نسخه راوړه ، او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دا نسخه دنیا ته پیش کړه ـ

اتر کر حرا سے سوئے قوم آیا
اک نسخہ کیمیا ساتھ لایا

نبي علیه السلام دَ حرا نه کوز شو او ځان سره ئې دَ امن او دَ امان یوه نسخه راوړه ، هغه یو دنیوي حالت سمولو ته قرآن په دې یو ټکي کښې اشاره اوکړه ، واذکروا نعمة الله، دائي تیر حالت ته اشاره اوکړه دَ عربودَ تیر حالت خلاصه هغه عداوت وو، دَ تاریخ یو لوئي باب دَ عیسي نه روستو ژوند پنځه سوه اویا کاله ( ۵۷۰) یا (۶۰۰) هغه قرآن کریم په اعداء کښې رابند کړو ، دا دَ قرآن کریم اعجاز دې ، چې لنډ ټکې ذکر کوي ، او مقصد ئې انتهائي زیات وي ، دَ ډبر صاحب حق صاحب به دَ قرآن په مدح کښې فرمائیل ـه

کتـــاب مســـتبین مـــن علـــیم
وجیـــز الـــنظم للـــذکري یســـیر
فبحـــر للعلـــوم بـــلا نهایـــة
ولکـــن فهمنـــا عنهـــا قصـــیر

وائي چې دَ قران مقام څه دې ؟ نو کتاب دې واضحه دَ پوهه ذات دَ طرف نه دې ، تګې ئې مختصر دي ، خو نصيحت اغستو کښې اسان دې ، ځنې مختصر چې وي نو هغه ډير ګران وي ، لکه دَ کافيه ، او دَ سلم کتابونه ، نو کله داسې اختصار وي چې سړې پرې پوهه نشي ،

نو کله اختصار مخل شي ، سړي پرې نه پوهيږي ، دَ قرآن اختصار کامل دې

وجيز النظم للذکري يسير

نو انتهائي اختصار دې خو نصيحت اغستلو کښې انتهائي ډير اسان دې ،

فبحر للعلوم بلا نهاية ،

دَ علومو بې انتها سمندر دې ، خو لکن فهمنا عنها قصير ، خو زمونږ سوچ او فکر ورته نه رسي ، دَ قرآن کريم کمال دا وو، چې دَ قيصر تاريخ دَ کسري تاريخ او دَ هغوي جنګونه دَ اوس او دَ خزرج جنګونه هغه ټې په يو تګې کښې رابند کړي دي ، اعداء تاسو دشمنان وې دَ يو بل وينو ته تګي ناست وې او دَ عداوت هم قسمونه قسمونه او رنګونه رنګونه عداوت وو، عداوت نفسي ، دَ ځان او اولاد دشمني ، عداوت شخصي دَ يو بل سره دشمني ، عداوت قومي ، دَ قبيلې او خاندانونو دشمني او دَ عداوت ملي چې ملتونه او ملکونه دَ يو بل دشمنان شو - انقلاب قرآني اوګوره ، فالف بين قلوبکم دَ عداوت په ځائې تاليف راغې ، لري زړونه رانزدې شو، څومره رانزدي شو؟

نو انما ألمومنون کجسد واحد او دومره رانزدي شو ، انما المومنون اخوة ، دومره قرآن رانږدي کړل دا دَ قرآن دنيوي انقلاب دې ، نو که دنيا سمول غوړې او دنيا کاميابول غواړې نو فالف بين قلوبکم که دَ خپل ملک نه جنت جوړول غواړې ،

بهشت آن جا که آزارے نباشد
کسے به را کسے کارے نه باشد

چې جنت به هغه ځائې وي چې په هغې کښې دَ يو بل ازارول نه وي ، يو کس به بل

Maktaba Tul Ishaat.com

كس ته تكليف نه وركوي ، نن خو زمونږ دَ ملک حال دې ، او تاسو اوليدل چې ازارول دي څنګه ازارول دي ؟ نو دَ جمهوريت نتيجه خلقو اوليدله نه ؟

چې څنګه تباهي ئې برپا کړه په يوه ورځ کښې چهونتيس کسان په مختلفو ښارونو کښې په پولنګ ستيشنو کښې مړه شول ، انسان ورته هسې دَ تيېر سر ښکاري ، دَ شروع نه چې حساب اولګوې ، کله نه چې دا ووټونه شروع شوي دي ، نو څومره خلق مړه شول ، او دا هغه کسان چې څوک ئې په څه کښې حسابوي ، زما او ستا په شان کاش کدو کريلا نه ، دا خو څوک په څه کښې حسابوي هم نه ، دا نه په اخبار کښې راځي او نه په خبرونو کښې ، نو دا خدائي خدمتګاران به څومره مړه شوي وي ، دا ولې مري ؟

دا دَ قرآن نه دَ لرې والي وجه ده ، او خبره لا پاتې ده ، چا اوګټله او چا بائيله ، چا چې بائيلله نو په آرام کيناستل ،ا وچا چې اوګټله نو په تختونو باندې کيناستل ، خو زما او ستا او دَ ماما او خورئي جګړا خو د ختميدلو نه ده ، هغه خو به لا مونږه دَ يو بل سره راګاږو ، پيسې ئې رانه اغستې دي ، او ووټ ئې راله رانکړو ، بيج ئې لګولې وو، او ووټ ئې بل چا له ورکړې دې ، جهنډه ئې په کور لګولې وه ، او ووټ ئې نه دې راکړې ، دا دَ پښتو جګړې به درې څلور کاله جاري وي او چې کله په ختميدو شي نو بيا به وائي چې ووټونه دي دا دَ قرآن نه لرې والي دې ، نو

**فالف بين قلوبكم**

که رونړه رونړه دَ قوم نه جوړول غواړې نو په نسخه دَ قرآن عمل اوکړې ، نو دوي خو مسلمانان دَ يو بل نه ډېر ته کړل ، چې څومره اميدواران راشي ، او اوميدواره خو ښځه وي ، اوس دوي هم اميدواران شو ، نو چې څومره اميدواران دي نو دومره پارټي دي ، او چې څومره خلق دي نو دومره مختلف دي ، دشمني او تربګنې دي ، دَ دوي دَ خسران دَ پاره او دَ ضد دَ قرآن لپاره دَ قرآن دا يوه خبره کافي ده ، چې جمهوريت کښې دَ رونړو دَ يو بل سره نه لګي ، دَ پلار ځوئي سره نه لګي ، دَ پلار ځوئي دَ يو بل سره نا لګي وي ، په

ښاربو کښې دَ ښځې خاوند سره نه لګي ، ښځې ته به وائي ووټ به چاله ورکوې نو دَ ښځې خو یو ووټ وو !! چې خاوند ته ئې ورکړې دې بل ئې کوم ووټ دې ؟ نو فالف بين قلوبكم ، او بيا فاصبحتم بنعمته اخواناً دَ اعداء په ځائې اخواناً راغلې دې ، دا دَ قرآن انقلاب وو، او دا دَ قرآن کريم رورولي ده ، او بيا دَ اخواناً دَ لاندې دَ مدينې دَ مواخاة زندګي اوګوره چې دَ مهاجرينو او دَ انصارو رورولي څنګه راغلي وه ؟ او بيا اوګوره چې دَ يو مسلمان رور او خور لپاره خلقو څومره څومره محنتونه کړي دي ، يو حجاج بن يوسف څومره ظالم دې خو چې کله ښځې په هندوستان کښې اووئيل ، چې يا حجاج او هلته خبره قاصد يوړله ، چې دَ هندوستان دَ راجه داهر په جيل کښې تاته آواز کوي ، او حجاج هغه وخت کښې اووئيل لبيک !!

او دا ئې اووئيل چېخوري ! درغلم !!

او دَ هلته نه ئې لښکرې رواني کړې اوپه هندوستان باندې حمله کوي ، دَ يوې خور دَ مدد په برکت باندې سالم هندوستان پاکستان مسلمان شو ، او اسلام راغي نو فاصبحتم بنعمته اخواناً ، دا ځانله باب قرآن کريم راجمع کړو،اخوة ،د صحابه کرامو زندګي اوګوره او دَ تابعينو زندګي اوګوره ، دَ مسلمانانو زندګي اوګوره دَ مسلمانانو دَ بادشاهانو زندګي اوګوره ، چې دَ مسلمانانو دَ ژوند لپاره هغوي څه نه دي کړي ، نو دا به درته پته اولګي ، دا يو لوئې تاريخ قرآن په دې ځائې کښې راجمع کړې دې ، فاصبحتم بنعمته اخواناً ، دا دَ قرآن سياسي انقلاب دې استعماري سامراجي جوړخت او سموالي دي ، بيا اخوت هم دَ ځان هم دَ شخص ،هم دَ قوم هم دَ ملت دا تاريخ لږ اوګوره .

وكنتم على شفا حفرة من النار دا ئې دويم باب راجمع کړو باب العقائد دَ عقيدو باب دَ اعمالو باب چې دَ قرآن کريم نه مخکښې دَ هغوي څنګه حالت وو، چا به دَ اونو بندګي کوله او چا به دَ بوتو بندګي کوله ، چا به دَ قبرونو بندګي کوله ، دَ خلقو نه الله ورک وو، او الله رب العزت به خلقو په درګاهونو کښې کتلو، او په موم باتو کښې به ئې کتلو ، عقائد ئې خراب وو، چا به دَ نمر بندګي کوله ، او چا به دَ پيشو او چا به دَ لويو

Maktaba Tul Ishaat.com

بولو بندګي کوله ، او چرته دَ غوا بندګي وه ، تاريخ اوګوره نو پته به درته اولګي چې خومره لوئي ځيز قرآن کريم په دې کنتم علي شفا حفرة من النار کښې رابند کړې دې دا بيا راواخله چې دَ قرآن کريم نه مخکښې دَ خلقو دَ عقيدو څه حال وو؟ او دَ خلقو دَ اعمالو څه حال وو؟ قرآن کريم په لنډه باندې اووئيل چې دَ هغوي مړه کيدل ، او دوزخ ته تلل برابر وو، پښتانه وائي ،چې دَ فلانکې خو کيوتل او ښکته کيدل برابر دي، نو دَ هغوي ښکته کيدل او پريوتل برابر وو، بس مړه کيدل او دوزخ ته تلل دا ئې برابر وو، قرآن کريم هغه په يو لفظ کښې راوستو، چې

کنتم علي شفا حفرة من النار فانقذکم منها ، نو دا ئې دَ عقيدو او دَ اعمالو حال وو، ژوندې لونړه ئې ځخولې ، غلط اعمال او غلط رسومات او غلط عقائد ئې وو، هغه ئې په يو ټکي کښې راوستو ، قرآن کريم ترې څنګه خلق جوړ کړل ، نو

رضي الله عنهم ورضوا عنه

اولئک هم المفلحون اولئک هم الراشدون ، اولئک هم الفائزون ، اولئک هم خير البرية ، يحبهم ويحبونه ، اذلة علي المومنين اعزة علي الکافرين ، نو

دا دَ قرآن انقلاب وو، وکنتم علي شفا حفرة من النار ، نو دَ قرآن کريم قيمت چې معلوميږي ، نو هغه دَ قرآن کريم دَ انقلاب نه معلوميږي چې دَ هغې دَ وجه نه تيارې رڼړا شوې ، نو دَ قرآن کريم قيمت په لنډو کښې هغه دَ دنيا او دَ آخرت جوړول ، او کاميابي ده ، هم په دې باندې دنيا خائسته کيږي او دَ جنت نظير شي ، او هم په دې باندې آخرت خائسته کيږي ، نو په دواړو جهانو کښې به خائسته او کامياب شې چې کله دَ قرآن کريم محنت راواخلې ، نو دا انقلابي کتاب دې ، دا حيات راولي دا يو انقلاب دې ، دَ دې مختلفې طريقې دي ،

۱۔ يو انقلاب من العداوة الي الاخوة ، دا يو باب دې۔

۲۔ دويم انقلاب من الظلمات الي النور دا ئې بل باب دې۔

۳۔ دريم انقلاب من الموت الي الحيوة

٤۔ من النجاسة الي التزكية

٥۔ من النار الي الجنة چې سړي د دوزخ نه خلاصوي، او د جنت تلل والا ئې جوړوي، او لوئې انقلاب ئې يو دا دې۔

٦۔ من المخلوق الي الخالق دا ئې لوئې انقلاب دې، چې د مخلوق نه به دې نظر کټ کړي او په خالق باندې به دې نظر اولګوي، تعارف الهي الله به درته اوښائي، چې الله اوپيژنه، ځکه چې قرآن کريم د الله رب العزت کلام دې، او په هر کلام کښې متکلم پټ وي، نو الله رب العزت په دې کتاب کښې ميلاويږي، نو د قرآن کريم انقلاب باب د ختميدو نه دې، خو اجمالي مو اووئيل، او بيا به دې باندې تفصيل کوه، چې د قرآن کريم نه مخکښې څه وو؟ او بيا د هر باب لګ د تاريخ مطالعه اوکړه، نو پته به درته اولګي چې قرآن کريم ژوند څنګه ورکوي؟ مړه قومونه څنګه ژوندي کوي۔

خود نہ تھے جو راہ پر اوروں کے راہی بن گئے
کیا نظر تھی جس نے مردوں کو مسیحا کردیا

قرآن کريم خو د راهزنو نه او د ډاکوانو نه رهبران جوړوي، قرآن کريم خو مړه قومونه راژوندي کوي، دا د قرآن کريم انقلاب دې، نو اول فضيلت د قرآن کريم هغه انقلاب قرآن دې، په ديکښې ما او تا ته ادب دې چې د قرآن کريم انقلاب راولې نو چې زما او ستا په سينه کښې هم انقلاب راشي، چې مونږه هم په دې سره ځان کښې انقلاب راولو، انقلاب به دې سره هله راځي، چې کله دا زړه ته کوز شي، چې دا کله د ژبې تر حده پورې وي، زه ئې وايم او تاسو ئې اورې، او د ژبې او د غوږونو نه ښکته لا ړ نشي، زړه ته کوز نشي نو دا بيا په مونږ کښې انقلاب نه راولي،

**لا يجاوز تراقيهم**

Maktaba Tul Ishaat.com

حديث کښې راځي چې داسې خلق به وي چې

**قَوْمٌ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ، لَا يُجَاوِزُ حَلَاقِيمَهُمْ**

**يَخْرُجُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَخْرُجُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ**[1]

داسې خلق به وي دَ دين نه به داسې اووځي ، لکه چې څنګه غشې دَ ليندې نه اوځي ، قرآن کريم به لولي خو دَ مرکنډ نه په ښکته به نه کوزيږي صرف دَ ژبې تر حده پورې به وي ، نو چې صرف دَ ژبې تر حده پورې وي ، نو دا نقصان دې ، او چې زړه ته کوز شو نو تاسو دَ اقبال خبره اوريدلې ده ، چې هغه وائي ،

فاش گويم آنچه در دل مضمر است
اين كتابے نيست چيزے ديگر است
چوں بجاں دررفت جان ديگر شود
جان چوں ديگر شود جهان ديگر شود

اقبال وائي پاکه ئې درته وايم او صافه ئې درته وايم هغه خبره چې کومه زما په زړه کښې ده ، چې دا قرآن دَ نورو کتابونو پشان کتاب مه ګڼړه ، دا خو داسې انقلابي کتاب دې ، چې کله دا کتاب سينې ته وردننه شي ، نو دا په سينه کښې انقلاب پيدا کوي ، او هر کله چې دا په سينه کښې انقلاب راولي په سينه کښې انقلاب راشي ، نو دَ هغې دَ وجه نه په جهان کښې انقلاب راشي ، چې کله په يو کس کښې انقلاب راشي ، يو جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم وو خو دَ هغه دَ وجه نه په پوره عالم کښې انقلاب راغي ، يو سړې وي خو دَ هغه دَ وجه نه انقلاب راشي ، يو شيخ القرآن دَ پنډئ وو او يو شيخ القرآن دَ پنج پير وو او يو شيخ المشائخ مولانا حسين علي ؒ وو ، خو چې دَ هغوي په سينو کښې انقلاب راغلې ، نو دَ هغوي دَ وجي نه په عالم کښې

---

[1] صحيح مسلم ، باب الخوارج شر الخلق والخليقة.

انقلاب راغلي ، نو چې دنیا کښې چې کوم ځائې کښې چې خلق ناست وي نو هغوي دَ شیخینو رحمهما الله او دَ حسین علي نوم اخلي چې کوم ځائې دَ توحید محنت کیږي ، نو دَ هغوي نوم یادیږي دا ولې ؟

نو دا ځکه چې دَ هغوي په سینو کښې انقلاب راغلي وو، نو دَ هغوي دَ وجې نه په عالم کښې انقلاب راغے ، نو دا دَ قرآن کریم خبره ده ، او دَ قرآن کریم صدا او آواز دا به صرف دَ ژبې تر حده پورې نه وي ، دا به زړه ته او سینې ته کوزول غواړي او چې کله دا زړه او سینې ته کوز شو نو بیا به په زړه کښې او سینه کښې انقلاب راولي ، زمونږ عمل کښې به انقلاب راولي او چې داسې نه وي نو دا به ډیره ګرانه وي ، .

## دویم فضیلت القرآن خیر کثیر

قرآن کریم دا د الله لوئې خیر دې ، انتهائي لوئې خیر دې ، سالمه دنیا ، الدنیا بحزافیرها سره دَ مونږه کونډه او دَ هر څه نه سره دَ سرو سپینو او دَ لعلونو ملغلرو نه او سره دَ یاقوتو او مرجانو او سره دَ پیټرولو او ډیزلو نه او سره دَ ګیس او دَ بجلې نه دا دَ زمکې ټول معدنیات راواخله ، دَ ویخ نه تر اووم اسمان پورې دا هر څه نه ئې ډکه کړه ، دیته الله لګ وائي ، قل متاع الدنیا قلیل، ورته اووایه دا خبره چې دا پنګه دَ دنیا دا انتهائي لګه ده ، او قرآن باره کښې وائي .

﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾﴾ سورة البقرة 269 .

ترجمه : ورکوي پوهه دَ دین چا له چې ئې رضا ووشي او چاته چې ورکړے شوه پوهه دَ دین پس یقیناورکړي شو ده ته خیر ډیر اوپوهه نه حاصلوي مګر خاوندان دَ خالصوعقلونو.

دَ حکمت ګڼړې معاني دي خو دې ځائې ابن عباس معني کوي چې فهم القرآن ترې

Maktaba Tul Ishaat.com

مراد دي ، او حاصله معني ئې دہ ،

## اتقان العلم والعمل

پوخ علم او په علم باندې پوخ عمل ، چې علم او عمل مضبوط وي ، يعني قرآن كريم علماً او عملاً ميلاويدل ، چې علم په قرآن كريم باندې راشي ،

او عمل پرې راشي ، نو الله وائي دا خير كثير دې ، فقد اوتي خيراً كثيراً

قد ئې په ماضي داخل كړې دې نو معني قسميه فائده كوي ، نو دا دَ قسم معني ځان له شوه ، او خير كنبې صيغه دَ اسم تفضيل ځان له او ډبل زوورونه پكښې ځان له شو، او دَ كثيراً ماده ځان له شوه ، او ډبل زبرونه ځان له شو ، نو پانچ پير ، فقد اوتي خيراً كثيراً يقيناً وركړې شو دۀ ته انتهائي لوئې زيات خير، نو دا قرآن وائي چې وركړې شوه ورله لويه خزانه ، دا دې دَ پاره ، چې طالب جان چرته د احساس كمترۍ شكار نه شي ، چې اوګوره فلانكي سره غټ ګاډې دې ، او دَ فلانكي سره زبردست موبائيل دې ، ون ټو فايو موبائيل دې ورسره ، او فلانكي سره كمپيوټر دې ، او دَ دومره روپو او دَ دومره روپو ، نو دا دَ دې د پاره چې طالب جان دَ چا جامو موبائيل او بوټ وغيره ته او نه پسخيږي، چې واه " دا څه دي ؟

نو فقد اوتي خيراً كثيراً مخكښې اوګوره څه دي ؟ نو وانفقوا من طيبات مسئله دَ انفاق ده ، او روستو څه وائي ، وما انفقتم من نفقة او نذرتم من نذر مسئله دَ انفاق ده مخكښې او روستو ، او په مينځ كښې ومن يؤت الحكمة فقد اوتي خيراً كثيراً ، توجيه خو به دَ خپل ځائې موافق كوو، خو ويسه شيخ صاحب[رح] به فرمائيل ، چې دائې په مينځ كښې طالب جان لپاره راوړه ، چې مخكښې او روستو دَ انفاق مسئلې دي ،نو داسې نه چې طالب جان خفه شي ، چې الله وائي مال اولګوه ، او زمونږ جيب كښې خو خانله زمونږ نه پيسې روكيږي چې په كوم جيب كښې به مې پرتې وي؟

زمونږ سره څه دي ؟ خو خالي بينك آف پاكستان نو مونږ سره څه شته دې نه ، چې خيرات ئې كړو ، دا خيراتونه خو به هغه څوك كوي چې بې دريغه مال ورسره وي ، او

وائي چې ورکړه هلکه اتيا کروړه ورکړه ، او مدرسې له نې ورکړه او هر طرفته ئې لګوي ، لکه چې حديث کښې راځي هکذا وهکذا چې په هر طرف باندې ئې لګوي نو طالب جان دغه وخت کښې ارمان کوي ، نو الله ورته وائي ، چې طالب جانه ارمان مه کوه ،

من يؤت الحكمة فقد اوتي خيراً كثيراً ، تاله خو ما لوئې دولت درکړې دې ، حديث کښې دي نه دي ليدلي چې څوک يو آيت زده کړي، نو دَ يوې بلاربې اوښې هومره ثواب ئې دې ، چې صدقه ئې کړي ، او چې يو آيت يادول دَ سلو رکعاتو قبول شوو نه افضل دي سل رکعته خو اول څوک نشي کولي ، او که اوئې کړي نو دَ قبلولو ګارنټي به ورله څوک ورکړي ؟

نو په يو آيت باندې دومره ثواب ميلاويږي ، نو مړه سمه خزانه ده دَ عباداتو څکه خو علامه سيوطي رحمه الله په الاتقان کښې ليکي چې نبي عليه السلام به فرمائيل ، چې زما دَ امت افضل عبادت دَ قرآن لوستل دي ، دا نه چې ته به وائې چې زه ستړې شوم، نو دَ الله بنده څومره نيکې دې اوګټلې ؟

يو زميندار کاکا خان مړ کړي دَ فرورې نه راواخله ، سحر او ماښام په خان باندې يو کړي ، او په تمباکو کښې لګياوي خوارې کوي ، تر بادرو او دَ پشکال پورې په سخا ګرمي کښې پټي ته ځي ، پانړې کټ کوي او بنډل کوي ئې ، په ګرمي کښې په بهتې کښې وخت تيروي خو چې کله پيسې واخلي نو هر څه ئې بيا هير وي ، نو دَ الله بنده هغه دَ دنيا دَ پاره دومره هر څه کوي ،نو ته ئې د الله دَ پاره نشې کولې ؟ قرآن خو خير کثير دې ، دَ خير خزانه ده ، دَ خير ټکې راجمع کړه نو اندازه به درته اولګي ، چې قرآن کريم څومره دَ خير کتاب دې ،

﴿ وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا خَيْرًا لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ ﴾ سورة النحل 30

ترجمه :- او چه اووئيلې شي هغه کسانو ته چه پرهيزګاري کوي څه رالیږلي وو رب

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسو وائي خير دپاره دغه کسانو چه نيکي ئې کړې ده په دې دنيا کښې ښايسته
ژوند دې او يقينا کور دَ اخرت غوره دې اوښه دې کور دَمتقيانو.

دغه شان

﴿مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾﴾ سورة البقرة 105 .

ترجمه : نه غواړي کفران دَ کتابيانو نه او نه دَ مشرکانو نه چې نازل کړې شي په تاسو باندې څه خير دَ طرف دَ رب ستاسو نه ، او الله تعالى خاص کوي په رحمت خپل سره چا له چې اوغواړي او الله تعالى خاوند دَلوئي فضل دې .

نو قرآن کريم لوئي خير دې " هو خير مما يجمعون " دغه قرآن کريم انتهائي بهتر دې ، دَ څه نه بهتر دې ؟ مما يجمعون دَ هر هغه څه نه چې دوي ئې جمع کوي، او خير انتهائي بهتر دې ، انتهائي معني کوم او دا دَ تنوين معني ده ، او دَ څه نه بهتر دې ، نو ( مما ) او دَ (ما) دا خيته دا هم غټه ده ، نو مما دَ هر څه نه دَ مالونو نه ، دَ جائيدادونو نه ، او دَ وزارتونو نه ، او دَ ووټونو نه او دَ نوټونو نه او دَ سيټونو ډيکرو او کرسو نه ، او دا نه مړه دَ ايم پل نه ، چې دا وائي ده ايم پل کړې دې ، او ده ايم ، ايس ، سي کړې دې ، نو قرآن وائي څه چل اوشو ؟ که هر څه دې خو هو خير مما يجمعون ، دا قرآن لګ نه کنه ، بلکه انتهائي ډير بهتر کتاب دې ، دَ ټولو هغه څيزونو نه چې دا خلق ئې راجمع کوي ، او راغونډوي ئې ،

**•• ورحمة ربک خير مما يجمعون ، انا انزلنه في ليلة القدر**

نو دا قرآن کريم انتهائي لوئي خير دې ، ځکه خو حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي ،

لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ [1]

زما امتي نه دي هغه طالب جان او هغه ملا جان او هغه عامي کل چي خان ئي مالداره اونګنړو په قرآن باندې، او خان ئي مستغني نه کړو په قرآن کريم باندې، چې دَ قرآن کريم نعمت ورته نصيب شو او دا ئې او نه وئيل چې بس بس هر څه راته نصيب شو، بس هر څه ډير دي، الحمد لله !!

او بل حديث کښې راځي، نبي عليه السلام فرمائي،

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ هَدَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لِلْإِسْلَامِ وَعَلَّمَهُ الْقُرْآنَ، ثُمَّ شَكَا الْفَاقَةَ كَتَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ الْفَقْرَ بَيْنَ عَيْنَيْهِ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ» [2]

چا ته چې الله ايمان نصيب کړو، بيا ئې ورته قرآن اوښودو او بيا هم دې فرياد کوي دَ غريبي خلقو ته، نو کتب الله الفقر بين عينيه الي يوم القيامة نو الله به دَ ده دَ سترګو ترمينځه غريبي اوليکي ترقيامته.

بس لاس به ئې داسې نيولې وو کله اسقاط او کله ووټ ته، الله به د ده غريبي او محتاجي دا به ورله قسمت کړي، نو فقد اوتي خيراً کثيراً چې چا له قرآن ورکړې شو نو يقيناً ده ته انتهائي لوئې خير ورکړې شو،.

اقبال [3] هم يو ځائې کښې وئيلي دي.

ګفت حکمت را خدا خير کثير
هر کجا ايں خير را بيني بگير

الله دې حکمت ته لوئې خير وئيلې دې، نو چې کوم ځائې درته دا لوئې خير

---

[1] صحيح البخاري، باب قول الله تعالى: وأسروا قولكم أو اجهروا به:

[2] أمالي ابن بشران:

Maktaba Tul Ishaat.com

میلاویري نو راواخله ئې ،
نو قرآن ته ئې لوئې خیر وئیلې نو که خیر دي په څان سود شي نو دا قرآن راواخله ـ او بیا وائې ـ

جز به قرآن ضیغمی روباهی است
فقر قرآن اصل شهنشاهی است

دَ قرآن کریم نه بغیر زمریتوب گیدړ توب دې ، چې یو سړې څان ته زمري وائې ، دَ قرآن نه بغیر نو دا سړې په اسم تفضیل سره گیدړ دې ، او دَ قرآن ملنګي بادشاهي ده ، چې قرآن کریم ته ناست دې ، نو که ملنګ دې نو دا ملنګ بادشاه دې ، ده ته چې قرآن ملاو شو ، نو دا بادشاه دې ـ
مولانا رومي یو ځائې کښې ذکر کوي ۰

گفت مجنون تو همه نقش وتن
بیا بنگر تو برین چشمان من
این طلسم بسته مولی است این
پاسبان کوچه لیلی است این
این سگے کو گشته در کویش مقیم
خاک پائش به ز شیران عظیم

ترجمه : مجنون اووئیل ته ظاهر ته ګورې راشه دهٔ ته لږ زما په نظر اوګوره ـ دا دَ الله مخلوق او دَ لیلي دَ کوڅو څوکیدار دې، دا سپې دَ لیلې په کوڅو کښې اوسیدلې دې ، دَ دهٔ دَ خپو خاوري دَ غټو غټو زمرو نه بهتر دي ـ
نو چې طالب جان قرآن راواغستو ، نو دې کله چې دَ بادشاهانو او دَ هر چا نه بهتر دې ، نو دَ طالب جان خپې خکل کړه ، فتوې پرې مه لګوه ، او دَ تور په نومونو ئې مه یادوه نو دا قرآن کریم انتهائې لوئې خیر دې ، ومن یؤت الحکمة فقد اوتي خیراً کثیراً ،

# دریم فضیلت : القرآن سبب للالفة

دریم فضیلت او مقام دَ قرآن کریم نو هغه دا دې چې القرآن سبب للالفة چې قرآن کریم سبب دَ الفت دې ، او سبب دَ محبت دې ، تالیف بین القلوب دَ زړونو تر مینځه جوړخت راوستل او زړونه یو ځائې کول دا دَ قرآن کریم کار دې ، دَ دنیا هیڅ یو دولت او دَ دنیا هیڅ یو طاقت هغه دَ زړونو تر مینځه جوړخت او یو ځائې والې نشي راوستلې ، او که راولي ئې هم ، نو هغه به دَ څه اعراضو او مقاصدو لپاره وي ، چې کله اغراض او مقاصد ختم شي ، نو بیا به الفت ترې ختم شي ، او دَ زړونو تر مینځه به بیا نفرت او جدا والې راځي ، او چې کوم الفت قرآن راولي نو هغه دائمي او همیشه لپاره وي هغه دائمي الفت راولي دَ زړونو تر مینځه دا قرآن کریم ذکر کړې دې»

﴿ وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ إِنَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٦٣﴾ ﴾ سورة الانفال 63

ترجمه: او مینه راوسته (الله) په مینځ د زړونو د دوي کښې کچرې خرج کړې وې تا هغه چه په زمکه کښې دي ټول، مینه به نه وې پیدا کړې تا، او لیکن الله تعالیٰ مینه پیدا کړه په مینځ د دوي کښې یقیناً هغه زوراور حکمت والا دې ۔

نو چې الله ئې نه راولي او په بل مقصد باندې مینه راشي نو هغه به دائمي نه وي ، وقتي او غرضي به وي ، لکه دَ ووټونو والا مینه چې یوه جنازه نه قضا کوي تر څه وخته پورې وي چې پاس شي نو بیا به په اسلام آباد کښې ناوې شي، نو که دَ غرض دَ وجې نه مینه وي نو چې غرض پوره شي نو مینه هم ختمه شي ، او که دَ حسن دَ وجه نه مینه وي ، نو چې حسن لاړ شي نو مینه هم ختمه شي ، او که دَ ډلې او دَ پارټۍ دَ وجه نه مینه وي او محبت وي نو چې کله پارټي ختمه شي نو مینه به هم ختمه شي، او که دَ څه مقاصدو په بناء باندې څه منده تړه وي نو چې هغه مقصد پوره شي نو هغه مینه او محبت هم ختم شي ، نو دَ قرآن کریم محبت داسې نه دې چې وقتي او غرضي دې ،

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه دَ قرآن په ذریعه باندې چې کوم محبت راشي نو هغه مینه او محبت دائمي دې ، او دومره دائمي دې قرآن وئیلې دي ، چې دا مینه او محبت دومره دائمي دې چې قیامت کښې هم دا مینه نه ختمیږي په قیامت کښې به هره دوستي په دشمنۍ باندې بدله شي، خو دَ قرآن دَ پارټۍ مینه او دَ قرآن دَ عقیدې والا دوستي دا به په دشمنۍ بدله نشي بلکه هغه شان دوستان به وي ۔

دوستان به دَ یو بل دشمنان شي خو متقیان او دَ قرآن والا دوستان دَ دوي دوستي به په دشمنۍ باندې بدله نشي ، بلکه هغه شان دوستان به وي ، ا

﴿ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ سورة الزخرف 67 ۔

ترجمه: دوستان په دغه ورځ بعضې دَدوي نه دَپاره دَبعضو به دشمنان شي مګر پرهیزګاران:

دا دَ قرآن کریم په رسۍ باندې ترلي شوي وو،

﴿ وَٱعْتَصِمُوا۟ بِحَبْلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا۟ ۚ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِۦٓ إِخْوَٰنًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾ سورة آل عمران 103

ترجمه:- او منګلې اولګوئ په رسۍ دَالله ټول او مه جدا کیږئ دَدې نه ، اویاد کړئ، نعمت دَالله په تاسو باندې کله چې وئ تاسو دُشمنان ، پس مینه ئې واچوله په مینځ دَزړونو ستاسوکښې ، پس وګرځیدئ په نعمت دَالله ، ورونړه ، او وئ تاسو په غاړه دَ کندې دَ اور ، پس خلاص ئې کړې تاسو له دَ دې نه ،دغه رنګې :بیانوي الله تاسو ته آیتونه خپل دَپاره دَ دې چه تاسو هدایت اوموئ"

نو قرآن کریم سبب دَ الفت او محبت دې ، نو که څوک دَ محبت فضا پیدا کول غواړي او دَ نفرت دَ وحشت او دَ دهشت فضا او آواز ختمول غواړي نو قرآن دې راواخلي ، دا نه چې دَ قرآن خلاف کومه او دهشت ختمومه !! نو نا !!

په قرآن کریم راغستلو سره دا ختمیږي ، په خلاف کولو سره ئې دا نه ختمیږي ، اُور په

أور باندې نه مري ، تيارې په تيرو باندې نه ختميږي ، فساد په فساد او ظلم په ظلم سره نه ختميږي ، نو دا قرآن كريم راواخله او دا دَ محبت پيغام راواخله او نفرت پرې ختم كړه ، فساد پرې ختم كړه ، او دا دَ انصاف پيغام راواخله نو ظلم پرې ختم كړه ، او دَ نور پيغام راواخله تيارې پرې ختمې كړه ».

## ۴ - فضيلت صراط مستقيم

فضيلت دَ قرآن كريم چې دا صراط مستقيم دې ، هر يو سړې چې هغه يو مقصد ته روان وي ، نو ځان ته يو هدف كيږدي ، لكه تجارت سړې كوي نو مخې ته دا هدف او مقصد وي چې پيسې اوګټم او په اسانه ئې اوګټم او چې زر ئې اوګټم يعني چا چې ځان ته مقصد ايخې وي نو هغې ته ئې لاره ځان له كتلې وي او ګوري ، او بيا داسې لاره ګوري چې بې خطره هم وي او اسانه هم وي ، او رسائې ورته زر كيږي لكه پيښور ته درې لارې تلې دي ، يوه دَ مردان نه پيښورته ، او دويمه دَ جهانګيري نه پيښور ته او دريمه لاره دَ موټروې ده ، نو هر يو كوشش كوي چې زر ځم نو ماته دَ موټر وې لاره اسانه ده ، او دا سيدها تلې ده ، او بې خطره او نيغه هم ده ، او چوكونه پكښې نشته دي ، نو هر يو سړې چې مقصد ته لاره ګوري نو دا صفات به په لاره كښې وي چې اسانه وي نيغه وي او بې خطرې والا وي ، نو دَ ټول انسانيت مقصد دا دې چې دوې به الله خنګه حاصل كړي مونږ او تاسو ناست يو ديته چې قرآن زده كړو، خو قرآن برائې قرآن نه ، بلكه دې له ئې زده كوو، چې الله رانه راضي شي ، دَ الله حاصلول مو مقصود دي ، تعلق الهي مو مقصد دې ، اصل خبره خو دا ده چې الله راته ملاو شي ، نو دا يو اهم مقصد دې دَ ټولو انسانانو او بيا خصوصاً دَ مسلمانانو او بيا خصوصاً دَ علماءو او طلباءو چې دَ دوې به په هرزمان او هر مكان كښې دا مشن او مقصد وي چې الله به خنګه حاصليږي ، او مونږ به الله ته خنګه رسو؟

دَ سحر نه ټول خلق په خپلو كارونو پسې روان دي ، زميندار په خپله زميندارې پسې ،

Maktaba Tul Ishaat.com

او دوکاندار پخپله دوکانداري پسې ، دَ هر یو مقصد دنیا حاصلول دي ، او طالب جان دَ سحر نه قرآن راغستې دي ،دَ دې مقصد دَ پاره چې الله به څنګه حاصلوم، قرآن له روان دې او په دې مینه باندې ئې قرآن راواغستو،چې الله حاصل کړم نو قرآن کریم صراط مستقیم دې یو سالک وائي۔

هر سحرگاهی مردم به کاروبار میروند
عاشقان کوئے لیلی بسوئے یار میروند

دَ الله سره دَ ملاویدو او دَ تعلق الهي حاصلولو اسانه لاره او بې خطرې لار او مختصره لار ده ، دې قرآن ته ئې په قرآن کریم کښې صراط مستقیم وئیلې دي ۔

﴿ وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ ﴾

سورة الانعام ۱۲۶

ترجمه: او دا قرآن لاره دَ رب ستا ده نیغه یقیناً واضح بیانوؤ آیتونه د هغه قوم دپاره چه نصیحت قبلوي ۔

په دې مستقیماً کښې دا ټول صفات دي چې نیغه اسانه ، بې خطره لاره ده او په دې باندې الله ملاویږي ۔

﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ﴾ سورة الانعام 103

ترجمه:او یقیناً دا قرآن لاره زما ده نیغه، پس تابعداري ئې اوکړئ، او مه ځئ په دیرو لارو پسې ،پس تس نس به کړي تاسو لره، دَ لارې د هغه نه، دا حکم وصیت کوي تاسوته الله په دې سره ، د دې دپاره چه متقیان شي ۔

چې سړې روان شي نو هغه به مقصد ته اورسي ، که ظاهر رُوند هم په دې لاره باندې روان شي، نو مقصد ته به رسیدلې شي ، یعني دا قرآن ظاهري سترګې نه غواړي ، که دا هم نه وي نو بیا هم سړې مقصد ته رسي، نو الله رب العزت په دې لاره باندې ملاویږي

چې سړي دا قرآن علماً او عملاً خپل کړي نو سړي په دې مقصد حاصلولې شي، نو مونځ ګذاره کاکا په مونځ کښې وائي ، چې اهدنا الصراط المستقيم نو راشه کنه قرآن ته کينه -

## ٥ فضيلت سبب دَ رحمت خاصه

هغه دا دې چې دا قرآن سبب دَ رحمت خاصه د الله دي ، هر يو دا سوال کوي دَ الله نه چې اې الله په ما باندې رحم اوکړې ، او زما په اوستاذانو باندې رحم اوکړې ، نو دَ الله دَ رحمتونو دروازه چې پرې کهلاويږي نو هغه قرآن دې ، دا سبب دَ نزول دَ رحمت الهي دې-

﴿ وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥ وَأَنصِتُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ ﴾ سورة الاعراف 204

ترجمه : او په هغه وخت کښې چې لوستلې شي قرآن نو غوږ کيږدي ديته او چهپ شي کيديشي چې په تاسو باندې رحم اوکړې شي -

يو ده سمع او دويم ده استماع نو سمع وائي اوريدلو ته ، که اراده وي او که نه وي چې سړې په لاره روان وي، او دَ لوډ سپيکر آواز اوري ، چې فلانکې څه اووئيل خلقو ته وائي چې په لاره باندې روان ووم، او دا خبره مې واوريدله ،

او استماع چې سړې په ارادې سره دَ کور نه مسجد ته ځي ، او دا وائي چې زه به قرآن ته کينم او قرآن به اؤرم، نو **فاستمعوا له** ، دا مطلب دې چې په اراده باندې دا قرآن اؤري، او (تاء) ئې هم دې مقصد دَ پاره راوړې ده ، چې فاستمعوا له چې په اراده باندې قرآن اوري ، وانصتوا او چهپ شي او نور کارونه پريږدي ،او دا ولې ؟

لعکم ترحمون چې رحم درباندې اوکړې شي نو قرآن سبب دَ نزول دَ رحمت خاصه دَ الله دې دَ الله رحمتونه او برکتونه به درباندې راشي لکه حديث کښې راځي ،

وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ،

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِم السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ،[1]

ندي جمع شوي څه خلق په يو كور كښې دَ كورونو دَ الله تعالي چې دَ الله تعالي كتاب لولي او خپلو كښې ئې درس كوي خو په هغوي سكينه نازليږي او رحمت ترې چا پير شي او پټوي دوي له فرشتې او يادوي الله تعالي دوې لره دَ هغه چا خوا كښې چې الله تعالي سره وي۔

سكينه خپل خصوصي رحمت پرې الله نازلوي ، او ملائک ترينه چاپيريږي او الله دوي له يادوي په هغه مجلس كښې چې دَ الله خوا كښې دي يعني په لوئې مجلس دَ فرشتو كښې به الله چې فلانكې فلانكې زما كتاب اوري او زما كتاب ته ناست دي ، نن يو سړې ته اووايه چې ستا ذكر دَ ( ډي سي ، په دفتر كښې شوې دې نو كه په كنځلو باندې ولې نه وي ياد شوې خو بس دې به دومره خوشحاله وي چې په جامو كښې به دې دَ خوشحالي نه نه ځائيږي ، او دا به وائي چې بس اورسيدم زما نوم دَ ډي سي په دفتر كښې ذكر شوې دې ، نونن زمونږ زړونو كښې دَ دې خبرې اهتمام شته دې چې زما تذكره دَ ډي سي په دفتر كښې شوې ده ، اگر كه په كنځلو سره ولې نه وي، خو چې داراته څوک اووائي چې ته كله قرآن كريم راواخلې نو تا الله يادوي او الله دَ جبرئيل په مجلس كښې تذكره كوي ، چې زما فلانكې بنده قرآن راواغستو نو زمونږ زړه كښې دَ الله دَ تذكرې مقام نشته دې ، **ولذكر الله اكبر** مونږ دَ دنيا لالچ او حرص په مخه اغستي يو مونږ صرف دَ دنيا قائل يو۔

نبي عليه السلام ابي بن كعب ؓ ته وئيل ماته تلاوت اوكړه ، هغه ورته وائي ، چې حضرت په تا باندې نازل دې نو زه څنگه تا ته تلاوت اوكړم نبي عليه السلام ورته فرمائيل، چې الله فرمائيلي دي ، چې ورته اووايه چې ابي بن كعب ؓ تلاوت اوكړي نو

---

[1] صحيح مسلم ، باب فضل الاجتماع علي تلاوة القرآن۔

هغه اوونيل ،

آلله سمّاني !!

الله زما نوم اغستي وو؟ نبي عليه السلام ورته فرمائيل آو ! الله دي نوم اغستي دي ، نو هغه دَ خوشحالي نه په ژړا شو، او تلاوت ئي اوکړو، نو طالب جانه تا چي قرآن راواغستو نو دا يقين پوخ کړه چي الله جبرئيل ته زما نوم واغستو، دا مه وايه چي الله ته زما نوم نه دي معلوم الله ته دَ هر چا نوم معلوم دي ، نو قرآن کريم سبب دَ نزول دَ رحمت خاصه دَ الله دي ،.

## ۶- فضيلت حقيقي خوشحالي

شپږم فضيلت دَ قرآن هغه دا چي قرآن سبب دَ فرح حقيقي دي ، حقيقي خوشحالي په قرآن کريم کښي ده ، طبيعت دَ انسان په دي جوړ دي چي غم نه خوښوي دَ غم نه نفرت کوي ، دَ غم خبره دَ مصيبت خبره انسان نه غواړي ، چي زما په غوږونو باندي دي اولګي ، بلکه دَ خوشحالي خبري اوريدل دا دَ انسان طبيعت دي ، چي ما ته څوک دَ خوشحالي خبري کوي ، او زما طبيعت دي خوشحاله وي ، نو داسي خوشحالي چي دَ سترګو نه علاوه زړه هم خوشحاله شي او وروسي غم نه وي نو ديته فرح حقيقي وائي ، چي داسي خوشحالي وي چي روستو تري غم نه وي ،نو داسي خوشحالي په قرآن باندي راځي ، او په قرآن حاصليږي ، دي دَ پاره سبب قرآن کريم دي ،.

﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴾

28 سورة الرعد.

ترجمه :- دا هغه دي چي ايمان ئي راوړى دي :او تسلي اخلي زړونه دَدوي :په ياد دَ الله ،خبردار په ياد دَالله تسلي اخلي زړونه"

دَ الله په ذکر باندي زړه يخيږي او خوشحاليږي او تسلي ورته ملاويږي ځکه وائي چي

Maktaba Tul Ishaat.com

نہ دنیا سے نہ دولت سے نہ گھر آباد کرنے سے
تسلی دل کو ہوتی ہے خدا کو یاد کرنے سے

که یو سړي هر څومره مالداره شي او ښکلي محلونه جوړ کړي، خو هغه ته دَ زړه خوشحالي نه میلاویږي، دَ دنیا دَ مالدارو نه تپوس اوکړه په چا باندې څوړه بنده وي ، اکثر دَ شوګر بیماران وي ، او خوب ورله نه ورځي نو دا ئې کار وي چې عمري ګولۍ اچوي چې ما له خوب راشي ، نو دې ته خوشحالي خو نه وائي حقیقي خوشحالي هغه دَ زړه سکون دې او دا په قرآن باندې ملاویږي

تسلی دل کو خدا ہوتی ہے خدا کو یاد کرنے سے

﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾﴾ الرعد: ٢٨

تسلي دَ زړه دَ الله په یاد سره ملاویږي نو قرآن سبب دې دَ زړه دَ خوشحالي ، بادشاهانو ته په بادشاهت کښې وزیرانو ته په وزارت کښې ، او صدرانو ته په صدارت کښې سرور او خوشحالي نه ملاویږي ، سرور او خوشحالي په قرآن کریم کښې ده ، څکه علماء ذکر کوي.

لو علم الملوك وأبناء الملوك ما نحن فيه لجالدونا عليه بالسيوف [1]

قسم په الله که بادشاهانو ته ، او دَ هغوي ځامنو ته پته اولګیده، نو مونږ به ئې په تورو باندې مړه کړي وو، او اوس ورته پته لګیدلې ده ، څکه علماء وژني ، نو قرآن کریم سبب دَ فرح حقیقي دې ،

﴿قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾﴾ یونس ٥٨

ترجمه: اووایه په فضل د الله تعالیٰ او په رحمت د هغه سره، پس په دغه دې خوشحالي اوکړي دوي دا غوره دې ، د هغې نه چه دوي ئې را جمع کوي.

---

[1] ارشاد العباد للاستعداد لیوم المعاد.

نو ښکار دا ده چي سړي په دې باندې خوشحاله شي۔

## ۷ فضیلت سبب دَ نزول دَ برکاتو

اوم فضیلت دَ قرآن کریم دا دی ، چې قرآن سبب دی دَ نزول دَ برکتونو ارضیه او سماویه دَ زمکې او اسمانونو ټول برکتونه چې حاصلیږي نو دا په قرآن کریم باندې حاصلیږي۔

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾ سورة المائده ۶۶

ترجمه: او کچېرې دوی جاري کړي وې تورات او انجیل او هغه چه نازل شوي دي دوی ته دَ رب دَ دوی نه نو خامخا خوراک به کړی وې دوی دَ پاسه خپل نه او لاندې د خپو د دوی نه بعض د دوی نه ډله برابره ده، او ډیر د دوی نه بد دي هغه عمل چه دوی کوي۔

یعني خپل وخت کښې ئې اسماني کتاب او قانون نافذ کړي وې ، اوس وائي دَ بجلۍ بحران دی ، او دَ ګیس بحران دی ، دَ غنمو او دَ سي این جي وغیره دَ دې بحران دی ، کله دَ یو څیز او کله دَ بل څیز نو که څوک دا بحرانات ختمول غواړي ، نو اقاموا التوراة والانجیل وما انزل الیهم من ربهم ، اسماني او اسلامي نظام دې نافذ کړي ، نو لاکلوا من فوقهم ومن تحت ارجلهم ، اسماني برکتونه به راغلي وې ، او دَ زمکې برکتونه به حاصل شوي وې ، هر قسم برکتونه به الله ورکړي وې، خو دا برکتونه الله په دې شرط دَ اقاموا ورکوي ، چې کله جمع اودریږي نو خلق وائي جمع اودریده، نو دَ خلقو اودریدل دا دَ جمع اودریدل دي ، نو دَ الله آیت پروت وي نو چې پرې عمل راشي ، نو اودریږي ، نو دغه شان دا یو مونږ نه دي په قرآن کریم نور حدود هم دي ، او نور احکامات هم شته دي، هغه هم اودرول غواړي چې کله نافذ شي او اودریږي نو زمیني او اسماني برکتونه به راشي ، ځکه خو وئیلي شوي دي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

جب میں کہتا ہوں کہ اللہ میرا حال دیکھ
تو اوپر سے صدا آتی ہے اپنا نامہ اعمال دیکھ

شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدني صاحب یو کتاب لیکلې دې چې
: : برطانوی سامراج نے ہمیں کیسے لوٹا : :
چې دَ هندوستان حال دَ انګریز دَ راتلو نه مخکښې څنګه وو او چې قانون او سامراج دَ انګریز راغې نو څه اوشو په ټولو خبرو ئې بحث کړې دې .

## ۸ فضیلت کلام الله

اتم فضیلت دَ قرآن کریم هغه دادې، چې القرآن كلام الله ، قرآن کریم دَ الله کلام دې او الله دَ مسلمانانو محبوب دې ، والذين آمنوا اشد حباً لله ، مسلمانان په مینه دَ الله کښې ډیر سخت وي نو قرآن دَ الله کتاب دې ، او الله محبوب دَ مسلمانانو دې ، نو په قرآن کریم کښې اشتغال دا اشتغال دې په کلام دَ محبوب کښې او دَ محبوب خبرې خوند او مزه ورکوي محب ته ،
تهانويؒ به وئیل چې سړې دَ قرآن تلاوت کوي نو هغه دې په ذهن کښې دا خبره راوړي چې الله زما خبرې اوري ، او بنه يقين دې پرې پوخ کړي چې الله زما اوري ، چې دَ سړي يو محبوب وي درپرده ، چې دَ عاشق خبرې اوري نو صفتونه ئې کوي ، او په جذبه کښې وي ، نو هسې دا څومره خشوع خضوع سره خبرې کوي نو الله خو محبوب حقیقي دې ، نو ګوره ګوره کوه خُله به دې خوږه وي ، نو مینه مینه کوه يو ورځ به رشتیا شي .

ما به دروغ دروغ کنړله
دَ جانان مینه شوه رشتیا رنځور ئې کړمه

نو بس وایه چې الله زما محبوب دې ، نو یوه ورځ خو به رشتیا شي، زړه ته به یو ورځ کوزه شي ، نو دَ قرآن کریم اشتغال په کلام دَ الله او په کلام دَ محبوب کښې اشتغال دې،

او دَ محبوب په کلام کښې اشتغال محبوب من کل الوجوه وي ،
فاذکروني اذکرکم دَ الله دَ يادولو ذريعه قرآن دې ، نو الله به ستا ذکر کوي محکښې روايت مونږ ذکر کړو، ذکرهم الله فيمن عنده ـ هر کلام کښې دَ متکلم رنګ پټ وي او دَ هغه مينه پرې حاصليږي لکه زيب النساء مشاعرې ته غزل راوليږو نو عاقل تعجب اوکړو چې څنګه ښه غزل دې ، چې ليکونکې به څنګه وي ، نو زيب النساء بل ځل دَ غزل سره يو شعر اوليږلو چې

در سخن مخفی منم چوں بوئے گل در برگ گل
ہر کہ دیدن میل دارد در سخن بیند مرا

په خپلو خبرو کښې داسې پټه يمه لکه دَ ګل په پاڼړو کښې دَ ګل بوئې چې څوک دَ ليدلو شوق لرې نو ما دې په خپلو ليدلو کښې اوګورې.
نو په قرآن محبوب حقيقي ملاويږي.

## ۹ فضيلت دَ ژوند دَ ټيرولو مکمل نظام

الله تعالي چې آدم عليه السلام زمکې ته راليږلو نو هغه سره دَ هدايت وعده فرمائيلې وه چې تاسو ته به څما دَ طرفنه دَ ژوند دَ تيرولو رهبرې او طريقه درځي هغه هدايت موعوده په مختلفو وختونو کښې په مختلفو شکلونو راتلو خو هغه هدايتونه وختي وو دائمي نه وو ، هغه هدايت الله تعالي مونږ ته دَ قرآن کريم په شکل راوليږلو چې مکمل او دائمي هدايت دَ ژوند دې ، هيڅ يو شعبه ئې نه ده پريخودلې چې په هغې کښې دَ الله تعالي خودنه او تربيت نه وي راغلې ، که هغه عقيده ده او که عبادت او معامله ده او اخلاق او سياسي امور دي ټول ئې په عجيبه انداز بيان کړي دي ، دا پوره دستور او قانون دَ ژوند دې ، هيڅ طرف دَ ژوند ئې پريخودلې نه دې ، خو په هغې کښې ئې زمونږ رهنمائي کړې ده ، نن صبا خو خلقو يا خو صرف دَ ثوابونو او دَ تلاوت کتاب ګرځولې دې او که څوک ورته هدايت وائي نو هم وائي چې دا دَ هغه وخت دَ خلقو دَ پاره وو او

زمونږ دَ پاره نه دې اوس مونږ تعليم يافته يو، او كه څوک ئې دَ اوس وخت دَ پاره منې نو هم صرف دَ عبادت او اخلاقو دَ پاره دَ ژوند مكمل نظام ئې نه ګڼړي ، داسې نه ده ، قرآن دَ الله احسان ، مكمل دائمي نظام دې ، الله تعالي كله دا خبره په عنوان دَ الكتاب ذكر كړي د الكتاب مطلب دَ ژوند كامل مكمل مكمِل نظام كله په صفت دَ قيم ذكر كړي ، كله په صفت دَ هدي ذكركړي ، كله وائي تبيانا لكل شيئ كله وائي تفصيل كل شيئ

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَـٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ ﴿١٨٥﴾ ﴾ سورة البقرة185

ترجمه: مياشت دَ رمضان هغه ده چي نازل كړې شوې دې په هغې كښې قرآن چي هدايت دې دَ پاره دَ خلقو او ښكاره دليلونه دي دَ هدايت او دَ حق او باطل په مينځ كښې دَ جدائي دليلونه دي۔

﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾ سورة النحل 64۔

ترجمه:او مونږ نه دې نازل كړې تاته كتاب مګر دې دَ پاره چي ته بيان كړې دوې ته هغه څه چي دوې اختلاف كړې دې په هغې كښې او هدايت او رحمت دې دَ پاره دَ هغه قوم چي ايمان راوړي۔

﴿ لَقَدْ كَانَ فِى قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَـٰبِ ۗ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَـٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١١١﴾ ﴾ سورة يوسف 111۔

ترجمه: يقينا شته په بيان دَ دوې كښې لوئې عبرت دَ پاره دَ عقلمندو خلقو نه دې دا قرآن يوه خبره دَ ځان نه جوړه كړې شوې ليكن تصديق دې دَ هغه څه چي مخكښې دي دَ ده نه او تفصيل دَ هر څيز دې او هدايت او رحمت دې دَ پاره دَ هغه خلقو چي ايمان راوړي۔

دا دَ قرآن شرافت او قدر دې اقبال یو ځائې کښې وائې .

تو نه میدانی که آئین تو چیست
زیر گردوں سر تمکین تو چیست
آں کتاب زنده قرآن حکیم
حکمت او لا یزال است وقدیم

تا ته پته نشته دې چې ستا دَ ژوند دَ تیرولو طریقه څه ده ؟ او دَ آسمان دَ لاندې دَ آبادیدلو راز ستا څه دې ؟

دا ژوندې کتاب دَ حکمت نه ډک چې دَ دې قانون دائم او همیشه دې .

افسوس دا دې چې نن دَ دې راز نه څوک خبر نه دي ، دا قرآن دَ تعویذونو دَ پاره او دَ قسم دَ پاره راغستلې کیږي .

طاقوں میں سجایا جاتا ہوں، آنکھوں سے لگایا جاتا ہوں
تعویذ بنایا جاتا ہوں، دھو دھو کے پلایا جاتا ہوں
جزدان حریر اور ریشم کے، اور پھول ستارے چاندی کے
پھر عطر کی بارش ہوتی ہے، خوشبو میں بسایا جاتا ہوں
جب قول و قسم لینے کے لیے تکرار کی نوبت آتی ہے
پھر میری ضرورت پڑتی ہے، ہاتھوں میں اٹھایا جاتا ہوں
جس طرح سے طوطا مینا کو کچھ بول سکھائے جاتے ہیں
اس طرح پڑھایا جاتا ہوں، اس طرح سنایا جاتا ہوں
دل سوز سے خالی رہتے ہیں، آنکھیں ہیں کہ نم ہوتی ہی نہیں
کہنے کو میں اک اک جلسے میں پڑھ پڑھ کر سنایا جاتا ہوں

Maktaba Tul Ishaat.com

ہر بزم میں میرا چرچا ہے، کس بزم میں میری دھوم نہیں
پھر بھی میں اکیلا رہتا ہوں، مجھ سا بھی کوئی مظلوم نہیں

## لسم فضیلت القرآن فضل الله تعالی

## قرآن دَ الله فضل دے

دا لسم فضيلت دې چي قرآن کريم دَ الله تعالي لوئې احسان او فضل دې څمونږدَ بې غوښتو الله تعالي راکړې دې ،

﴿ قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾ ﴾

سورة يونس 58۔

ترجمه : اووايه په فضل دَ الله تعالي او په رحمت دَ هغه سره په دې دې خوشحاله شي خلق دا غوره دې دَ هغه مال نه چي جمع کوې ئې خلق ۔

﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾ ﴾

سورة فاطر ۳۲۔

ترجمه : بيا ورکړو مونږ کتاب هغه خلقو ته چي غوره کړي دي مونږ دَ بندګانو خپلو نه نو بعضي دَ دوې نه ظلم کونکي دي په ځان خپل باندې او بعضي دَ دونه نه ميانه روه دي او بعضي دَ دوې نه وړاندې کيږي په ښه کارونو سره په توفيق دَ الله تعالي سره دا چي دې فضل ډير لوئې دې ۔

نور فضائل به اسماء دَ قرآن کريم کښې راشي ۔

# فضیلت دَ قرآن من الاحادیث

جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم دَ قرآن کریم اولني استاد وو، او په هغه باندې قرآن کریم انهتائي ګران وو، قرآن هغه ته دَ هر څه نه بالا او بلند تر وو بې عزتي وهل ټکول هجرت کول کې کور پرېښودل دا ئې برداشت کړي وو خو قرآن ئې نه دې قربان کړې دَ وخت یو داسې پالیسي ئې نه ده اختیار کړې چې قرآن ئې پرې پرېښودې وي، دَ جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ترهٔ له جرګه راغله، ورته وائې چې ورارهٔ دې پوهه کړه! او چې دَ ورارهٔ دې څه ته ضرورت وي نو مونږ ئې ورله پوره کوو، خو دې به قرآن نه بیانوي، که فرض کړه بیمار وي او مازغه ئې ټهیک نه وي نو مونږ به ښه طبیب اوګورو او علاج به ورله اوکړو او که هلک وي او دَ ځوانې زور پرې وي او دَ جینکو شوق ئې وي نو زمونږ دَ قریشو لس قبیلې دي چې په کومه یوه جینې لاس ږدي نو منع ترې نه ده او که دَ مال دولت او دَ مشرت په چکر کښې وي نو مونږ به ورله پنه راجمع کړو او تاج به ورله په سر باندې کیږدو او سردار به ئې کړو خو شرط به دا وي چې دې به دا قرآن نه بیانوي، او زمونږ خدایانو ته به کنځل نه کوي، نبي علیه السلام هغه وخت نه وو چې راغې نو ابو طالب ورته وئیل، چې کاکاګان دې راغلي وو، او داسې خبره ئې کوله او مشوره ئې راسره کوله، اول نبي علیه السلام په ژړا شو او بیا ئې اووئیل.

**یا عم! والله؛ لو وضعوا الشمس في یمیني، والقمر في یساري، علی أن أترك هذا الأمر، حتی یظهره الله، أو أهلك فیه؛ ما ترکته.** [1]

---

[1] رواه: ابن إسحاق، ومن طریقه الطبري، والبیهقي في (الدلائل) بإسناد منقطع.

ولکن رواه: البخاري في ((التاریخ))، والطبراني في ((الکبیر))، وأبو یعلی في ((مسنده))، والحاکم في ((المستدرك))، والبیهقي في ((الدلائل))؛ کلهم من طریق طلحة بن یحیی عن موسی بن طلحة عن عقیل بن أبي طالب مرفوعاً، بلفظ: ((ما أنا بأقدر أن أدع ذلك [illegible] الشمس) شعلة)).

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي علیه السلام اوونیل قسم په الله دوې خو دَ زمکې حکومتونه وائي که دَ اسمان حکومتونه هم راکوي نو بیا هم خپل مشن نه پرېږدم

**حتى يظهره الله،أو أهلك فيه؛ما تركته**

چې یا زما مقصد سر ته اورسي او غالب شي یا په دې مقصد کښې مړ شمه ، ځنې خلق وائي چې نبي علیه السلام ځکه اووژړل چې یو تړۀ مي وو نو هغه مي هم مدد نه کوي او دَ دوې ملګرې شو ، او زما خلاف شو ، کابلګرام شیخ صاحب رح به فرمائیل چې دا خبره صحیح نه ده ځکه چې نبي علیه السلام تن تنها میدان ته رادانګلي وو په الله ئې بهروسه وه او په تړۀ ئې نه وه۔

کافر ہے تو شمشیر پہ کرتا ہے بھروسہ
مومن ہو تو بے تیغ بھی لڑتا ہے سپاہی

نو نبي علیه السلام په دې باندې نه وو ژړلي چې تړۀ زما خلاف شو ، بلکه په دې ئې ژړلي وو چې زما مشن ته به دا خیزونه ، مفت علاجونه ، مال دولت ، او جینکې دا به مخې ته راځي ، نو زما امتیان به ډیر ګمراهه شي او نبي علیه السلام ورته اوئیل زه خپل مشن نه پرېږدم نو دَ قرآن اولنې استاد دَ قرآن په رسولو کښې پوره توانائي خرچ کړې وه ، او دَ دې وجې نه دَ نبي علیه السلام دَ خلې مبارکې نه دَ قرآن ډیر فضائل نقل دي۔

۱۔ یو حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي چې

**فَضْلُ الْقُرْآنِ عَلَى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ الرَّبِّ عَلَى خَلْقِهِ** [1]

دَ قرآن فضیلت په ټولو کلامونو کښې داسې دې لکه دَ الله فضیلت په مخلوق ، لکه ځنګه چې دَ الله ذات اوچت دې ، نو دارنګې دَ الله کلام هم اوچت دې ۔ ځکه چې

---

وهذا إسناد حسن؛ فيه يونس بن بكير وطلحة بن يحيى بن عبيد الله؛ صدوقان.

[1] شعب الايمان : فصل في تعليم القرآن۔

## كلام الملوک ملوک الكلام [1]

۲- حديث كښې راځي نبي عليه السلام فرمائي ـ

**اَلْقُرْآنُ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ** [2]

چې قرآن الله ته دَ هر څه نه محبوب دې ، نو چې قرآن الله ته محبوب دې نو مسلمان شهزاده قرآن والا شه چې دَ الله محبوب شې ـ

۳- حديث كښې راځي ـ

**إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ مَأْدُبَةُ اللهِ، فَتَعَلَّمُوا مِنْ مَأْدُبَةِ اللهِ مَا اسْتَطَعْتُمْ** [3]

چې دا قرآن دَ الله دسترخوان دې ، نو څومره مو چې وس وي نو زده ئې كړې دَ الله دَ دسترخوان نه ، دَ انسانانو دسترخوان ته په منډه باندې ځې ، نو دَ الله دسترخوان ته هم په هيره باندې رامنډه كړه كنه مسلمان شهزاده ـ

٤- حديث كښې راځي نبي عليه السلام فرمائي ـ

**إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ حَبْلُ اللهِ، وَالنُّورُ الْمُبِينُ وَالشِّفَاءُ النَّافِعُ، عِصْمَةٌ لِمَنْ تَمَسَّكَ بِهِ، وَنَجَاةٌ لِمَنِ اتَّبَعَهُ** [4]

يقينا دا قرآن كريم دا رسې دَ الله ده ، دا نور دې شفا وركونكې ،عصمت دې هغه چا له چې په دې باندې ئې منګولې اولګولې، او نجات دې هغه چا له چې دې پسې روان شو ـ

٥- حديث كښې راځي نبي عليه السلام فرمائي ـ

**فَإِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ سَبَبٌ طَرَفُهُ بِيَدِ اللهِ، وَطَرَفُهُ بِأَيْدِيكُمْ فَتَمَسَّكُوا بِهِ، فَإِنَّكُمْ لَنْ**

---

[1] خزانة الادب وغاية الارب ـ

[2] مسند الدارمي : باب اذا اختلفتم بالقرآن فقوموا ـ

[3] شعب الايمان : باب تعظيم القرآن ـ

[4] مسند الدارمي : باب فضل من قرأ القرآن ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

تَهْلِكُوا، وَلَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ أَبَدًا "[1]

دا قرآن یوه رسۍ ده یو طرف ئې ستاسو لاسونو کښې دې ، او بل طرف ئې بید الله دَ الله په لاس کښې دې (کما یلیق بشانه ) نو

نو په دې باندې منګولې اولګوې تاسو به دَ دې نه روستو چرې هم هلاک او ګمراه نشئ.

٦. حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي.

أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالْقُرْآنِ، فَإِنَّهُ نُورُ الظُّلْمَةِ، وَهُدَى النَّهَارِ، فَاتْلُوهُ عَلَى مَا كَانَ مِنْ جُهْدٍ وَفَاقَةٍ»[2]

انتهائي غټه خبره ده دَ نبي علیه السلام وصیت دې ، په تقوي او په قرآن دا دَ تیارو رڼا ده ، نو سره دَ مشقت نه چې څومره مشقت ولې نه وي خو دې دَ پاره ئې برداشت کړې که ګرمي وي که یخني خو دا مه پریږدې طلب ئې کړې.

٧. حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي.

الْقُرْآنُ غِنًى لَا فَقْرَ بَعْدَهُ وَلَا غِنًى دُونَهُ[3]

قرآن داسې مالداري ده چې دَ دې نه روستو غریبي نشته دې ،.

٨. حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي.

حَمَلَةُ الْقُرْآنِ عُرَفَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ»[4]

دَ قرآن حاملین دَ جنتیانو سرداران دي.

٩. حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي.

---

[1] ... حبان : ذکر نفي الضلال عن الآخذ بالقرآن.

[2] فضل القرآن وتلاوته للرازي - باب في انه نور من الظلمة.

[3] شعب الایمان : فصل في رفع الصوت بالقرآن اذا لم يتاذ به.

[4] سنن الدارمي : باب في ختم القرآن.

إِنَّ لِلَّهِ أَهْلِينَ مِنَ النَّاسِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ هُمْ؟ قَالَ: «هُمْ أَهْلُ الْقُرْآنِ، أَهْلُ اللَّهِ وَخَاصَّتُهُ» [1]

دَ قرآن والا دَ الله خپل خلق دي .

۱۰ . حديث کښې راځي چې قرآن دَ فتنو نه دَ بچ کيدلو لار ده ، نبي عليه السلام فرمائي:

أَلا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ فَقُلْتُ: فَمَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "كِتَابُ اللَّهِ، كِتَابُ اللَّهِ فِيهِ نَبَأُ مَا قَبْلَكُمْ، وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ [2]

نبي عليه السلام وئيلي رو فتنې به راځي نو صحابه کرامو اووئيل چې خلاصي به ترې څنګه وي ، نو نبي عليه السلام اوفرمائيل . کتاب الله .

دَ الله په کتاب باندې به بچ کيږې . دَ قرآن والو فضيلتونه قرآن ذکر کړي دي

﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٢﴾ ﴾ سورة فاطر: ٣٢

ترجمه : بيا ورکړو مونږ کتاب هغه خلقو ته چې غوره کړي دي مونږ دَ بندګانو خپلو نه بعض دَ دوې نه ظلم کونکي دي په ځان خپل باندې او بعض دَ دوې نه ميانه روه دي، او بعض دَ دوې نه وړاندې کيږې په ښه کارونو سره په توفيق دَ الله تعالي سره دا چې دې دا فضل ډير لوئې دې .

الله فرمائي په ميراث کښې مي دا کتاب ورکړې دې ، او ميراث په مفتو کښې ملاويږي نو دا به نه وائي چې سحر وختي راغلم او چائې مي ندې څکلې اوکړي ده يځني ده چې دا هر څه ورسره هم وي نو بيا هم دا قرآن په مفتو کښې الله راکړې دې ، ته چې يو آيت زده کړې او الله کوم ثواب درکوي او ته ترې خبر شي نو ته به وائي چې دا

---

[1] سنن ابن ماجه : باب فضل من تعلم القرآن وعلمه .

[2] شرح السنة للبغوي : باب فضل تلاوة القرآن .

Maktaba Tul Ishaat.com

خو هسې دې ، يو آيت چې زده کړې نو دَ يوې بلاربې اوښې ثواب دې ، درې آيتونه چې زده کړې نو دَ درې بلاربو اوښو دومره ثواب دې چې صدقه ئې کړې ، قيامت کښې به هر څه ورکوې دنيا وما فيها خو يوه نيکي به نشي ګټلې او دَ قرآن په يو لفظ الله لس نيکئ ورکوي .

قرآن دلته وائي اصطفينا ، نو قرآن والا مصطفي شو نو مړه ! دا بس دې کنه اچې مصطفي شوي په قرآن ، که کروړ روپې اولګوې نو دا مقام نشې حاصلولې ، او په قرآن درته دا مقام ملاؤ شو ، نو نور څه غواړې ؟

ته به وائي چې دا ما راغستي دې نو نا مړه ! دا الله درکړو او الله مصطفي کړې .

نيکواں را است ميراث از خوش آب

چوں خدا گفته است اورثنا الکتاب

الله نيکانو ته دَ خوږو اوبو ميراث ورکړې دې ځکه چې الله وئيلي دي اورثنا الکتاب ، نو اصطفينا من عبادنا دَ الله ټول بنديان دي خو دې "عبادنا " کښې چې کوم مصطفي دي نو هغه قرآن والا دي دَ قرآن طالبان

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ

تاسو غوره دله ئې نو خير الاخيار هغه پکښې قرآن والا دي چې قرآن زده کوي او بل ته ئې ښائي .

۱۱. حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي .

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ [1]

په تاسو کښې غوره هغه څوک دي چې قرآن کريم زده کوي او بل چا ته ئې ښائي .

۱۲. حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي .

أَشْرَافُ أُمَّتِي حَمَلَةُ الْقُرْآنِ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ [1]"

---

[1] صحيح البخاري : باب من انتظر حتي تدفن .

غوره خلق او بزرگان زما په امتیانو کښې هغه دي چې قرآن ئې علماً ، عملاً ، او بیاناً اوچت کړي دي ، او دَ دې دعوت ورکوي۔

۱۳۔ حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي۔

يُؤْتَى بِحَمَلَةِ الْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنْتُمْ وُعَاةُ كَلامِي، آخُذُكُمْ بِمَا آخُذُ بِهِ الأَنْبِيَاءَ إِلا الْوَحْيَ [2]

دَ قرآن والا به دَ قیامت په ورځ راوستلې شي نو الله رب العزت به ورته فرمائي ، تاسو زما دَ کلام خیال ساتلو ، هغه معامله به درسره کومه ، کومه معامله چې انبیاءو سره کوم خو الا الوحي ځکه چې دَ انبیاءو درجه اوچته ده ، نو قرآن والا بهتر خلق دي۔

۱۴۔

إِنَّ اللَّهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ [3]

یقیني ده چې الله تعالی په دې سره ځنې قومونه اوچتوي او ځنې نور هغه پرې ښکته کوي ،

دَ قرآن عقیده او قانون راغستل سبب دَ عزت دې او پرېښودل ئې سبب دَ ذلت دې ،

ملا علي قاري ذکر کوي۔

فانه كالنيل ماء للمحبوبين ودماء للمحجوبين

دا پشان دَ دریائي نیل دی دَ محبوبانو دَ پاره اوبه او کافرو دَ پاره وینه ده ، او قابل للتعلي والتدلي اوچتیدل او غورځیدل په دې دي ، اقبال وئیلي دي۔

وہ معزز تھے زمانے میں مسلماں ہو کر
اور ہم خوار ہوئے تارکِ قرآں ہو کر

---

[1] شعب الایمان : باب تحسین الصلوة والاکثار منها لیلا و نهارا۔

[2] فضائل القرآن وتلاوته للرازي۔

[3] صحیح مسلم : باب فضل من یقوم بالقرآن ویعلمه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

# دريم فصل

## اسماء القرآن (نومونه دَ قرآن)

دَ قرآن كريم مقام او شرافت په عنوان دَ اسماء القرآن سره ، شيوخ كرام په درسونو كښې دَ قرآن كريم په نومونو يو لوئې عنوان قائموي دَ قرآن كريم نومونه په قرآن كريم كښې زيات ذكر دي ، او

### كثرة الاسماء تدل علي شرافة المسمي

چې نومونه زيات وي نو په شرافت باندې دلالت كوي، دَ دې مثال داسې دې چې يو سړې دې هغه ته حافظ صاحب هم خلق وائي، حاجي صاحب هم ورته وائي ، او قاري صاحب او مفتي صاحب هم ورته وائي، حافظ ورته ځكه وائي چې حفظ ئې كړې دې او قاري ورته ځكه وائي چې تجويد ئې كړې او حاجي ورته ځكه وائي چې حج ئې كړېدې، دغه شان كس ايم ، اين، اې ، دې او وزيرخوراک ورته هم وائي ، اووه او اته نومونه او دَ كلي دَ زكوة چيئرمين هم دې ، نو دا نومونهٔ ورته مونږ اخلو، چې دې نهه كارونو له ځانله ځانله كس پكار وو، خو دا يو سړې داسې دې چې دَ لسو كسانو كار كوي او دَ لسو كسانو صفات ئې ځان كښې راجمع كړې دي، نو چې څومره نومونه زيات شي نو دومره دلالت دَ هغه په شرافت او عزت باندې كوي ، نو دَ قرآن كريم نومونه زيات دي ، شيخ القرآنؒ په العرفان كښې ۵۷ نومونه ذكر كړيدي، او نور اوستاذان دَ ۷۵ پورې ذكر كوي ، يو دَ هغو نه دې ،

1. قرآن

او بل دې حبل الله، نو يو نوم ئې قرآن دې ، دا همزه په قرآن كښې څوک وائي دا اصلي ده ، بروزن فعلان دَ قرء يقرء نه په معني دَ لوستلو سره ، نو قرآن په معني دَ مقرو سره ،

يعني لوستلي شوي كتاب نو دا دَ لوستو كتاب دي ، او دا په دنيا کښې هم زيات لوستلي کيږي ، او دا قول اولیٰ دي ۔

دوېم قول چي دَ قرن نه دي په معني دَ پيوسته کيدلو سره ، نوقرآن هم دَ يو بل سره مربوط دي ، دَ يو زنځير پشان دي او يوه کړې ده ، دَ امام ابو يوسف رحمه الله قول به شيخ صاحب دَ کابلګرام نقل کوو، چي هغه به وئيل چي

القرآن كله كالكلمة الواحدة

چي ټول قرآن کريم پشان دَ يوې کلمې دي ، لکه يوه خبره ، او بل قول ئې دي ، چي

القرآن كله كلمة واحدة

کاف ئې ترې لرې کړو، چي دا بس يوه خبره ده ، کابلګرام شيخ صاحب رحمه الله به فرمائيل چي هغه په اول النظر سره اوکتل نو څه نه څه ربط سره ورته فصل هم معلوميدو خو چي ښه ئې اوکتلو نو کاف ئې ترې لرې کړو، چي دا خو ټول مربوط دي، نو ټول قرآن ترلي شوي دي، دَ يو بل سره ، دا ربط په قرآن کريم کښې پروت وو، خو ديته دَ هر چا ذهن نه رسي ، دا دَ شيوخو رحمهم الله ، دَ درس خصوصيت دي ، چي ټول قرآن مربوط وائي ،دلته يو څو نمونه دَ نمونې دَ پاره ذکرکولې شي ، القرآن ذکر شو

2. صراط مستقيم

يعني الله تعالي ته دَ رسيدو نيغه او اسانه لار ۔

﴿ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴾ سورة الفاتحه ٥

﴿ وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴾

سورة الانعام 116

3. الكتاب

دَ ژوند دَ تيرولو مکمل دستور او نظام دا دَ الکتاب معني په اصولو کښې خپل تعريف

Maktaba Tul Ishaat.com

زوتوه قرآن کښې ئې دا معني ده.

﴿ حمٓ ۝١ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ ﴾ سورة الزخرف 1

﴿ الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ۝١ ﴾ سورة يونس 1.

﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ۝١٠٥ ﴾ سورة النساء 105

## 4. هدی

رهنمائي کونکې او رهبري کونکې، روکو ته لار ښودونکې دَ ژوند په هره لار کښې رهنمائي کونکې.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٥٧ ﴾ سورة يونس 51.

﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ۝٢ ﴾ سورة البقرة 2.

## 5. الفرقان

بیلتون او جدائي راوستونکې، الله او مخلوق جدا کوي حق او باطل جدا کوي، حق پرست او باطل پرست جدا کوي، چې قرآن نه وو نو دَ حق او باطل جدائي نه وه او حق پرست او باطل پرست چا.نه پیژندل دا جدائي په قرآن سره اوشوه، دَ الله حق مخلوق لره ورکړې شوې وو او دَ مخلوق حق الله تعالي ته، قرآن کریم دا جدائي راوسته او فرقان معني دَ فیصلې کتاب هم دې کوم آسماني کتابونه چې فیصلې او حکومت لره راغلي وو، هغې ته فرقان وائي تورات ته هم فرقان وئیلې دې او یوم البدر ته هم فرقان وئیلې دې ځکه چې هغې کښې فیصله شوې وه، دا نوم ډیرو ځایونو کښې ذکر دې لکه

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ۝١ ﴾ سورة الفرقان 1.

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ ﴿١٨٥﴾ ﴾ سورة البقرة 185.

## 6. الذكر

او مبارك : دَ ذكر مختلفي معني دي يو پند نو دا دَ پند كتاب دې ، دويم دَ الله تعالي يادول نو دا بهترين ذكر دې ، دريم شرافت او عزت او قرآن عزت او شرافت دې ، څلورم يادداشت نو ځان سره دَ يادولو او دَ يادداشت كتاب دې ، دا نوم په مختلفو ځايونو كښې ذكر دې لكه

﴿ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾ سورة الانبياء 50 .

﴿ وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾ سورة الزخرف 44.

﴿ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ ﴾ سورة يوسف 104 .

نو ستا ياد به هم ژوندي پاتې شي چي په قرآن ژوندي پاتې شي چي په قرآن ژوندي شي نو دَ هغه ذكر پاتې وي هغه نه مري .

هرگز نه میرد آنکه دلش زنده شد بہ عشق
ثبت است برجریده عالم دوام ما

چرې نه مري هغه چي هغه دَ الله په محبت ژوندي وي په صفحه دَ عالم زما هميشوالي ليكلي شوي دي .

مشرق سے ابھرتے ہوئے سورج کی جبیں پہ
مرقوم تیرا نام ہے کچھ ہوکے رہے گا

Maktaba Tul Ishaat.com

6

## 7. حبل الله

دَ الله تعالي رسئ او الله تعالي ته دَ رسيدو ذريعه ، حديث کښې هم راغلي .

**كتاب الله هو حبل الله الممدود من السماء إلى الأرض** [1]

چي قرآن كريم دَ الله تعالي مضبوطه رسئ ده ، دَ آسمان نه زمکې ته راوګده کړې ده .

﴿ وَٱعْتَصِمُوا۟ بِحَبْلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾ ﴾ سورة آل عمران 103.

## 8. برهان

دَ عقيدې صاف او واضحه دليل چي عقيده دَ قرآن په دليل مدللة نه وه نو هغه عقيده نه ده .

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾ ﴾ سورة النساء 174.

## 9. نور

رڼا دَ زړه ، معاشرې او د ملک رڼا .

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾ ﴾ سورة النساء 174.

نور قرآن ته په ګڼرو ځايونو کښې وئيلي دي چي دا دَ عقيدې او عمل او ملک رڼا ده ، ملک روشن کول غواړې نو دَ قرآن رڼا راوله بيا به غل او قاتل نه پټيږي ،

﴿ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ ﴾ سورة المائدة ١٥.

﴿ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلْنَا ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٨﴾ ﴾ سورة التغابن ٨.

﴿ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلْنَٰهُ نُورًا ﴾ سورة الشوري .

---

[1] كنز العمال في سنن الاقوال والافعال : باب في الاعتصام بالكتاب والسنة .

10. موعظة

دَ زړه نرمونکي کتاب داسې نصيحت چې وائي اوري نو زړه پرې نرميږي خو چې پوهيږي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾ ﴾ سورة يونس 57.

11. شفاء

علاج او دارو او صحت

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾ ﴾ سورة يونس 57.

قرآن دَ هغه مرضونو علاج کوي چې دَ هغې دارو او علاج څوک نشي کولې، دَ ظاهري امراضو علاج خو طبيبان او ډاکټران اوکړي خو دَ باطني امراضو، شرک حسد، تکبر وغيره، او عالمي امراضو علاج چې عالم دَ فساد او بې حيائۍ نه پاک کړي دا بل څوک نشي کولې دا دَ قرآن کمال دې او چې په بل څه باندې علاجونه کوې نو

مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی

چې کوم زړه دَ قرآن نه منکر نو دَ علاج نه منکر نو مړ او چې قرآن سره دورنکي کوي نو مريض وي څکه دَ دارو سره دورنکي کوي.

12. رحمة

دَ الله تعالى خاص مهرباني، دا نومونه سورة يونس ٥٧ کښې ذکردي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾ ﴾ سورة يونس 57.

Maktaba Tul Ishaat.com

13. فضل

دَ الله تعالي خصوصي او فضل او احسان.

﴿ قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا۟ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٥٨﴾ ﴾ يونس ٥٨.

14. تصديق

﴿ وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ
ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾ ﴾ سورة يونس 37.

15. تفصيل

﴿ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١١١﴾ ﴾ سورة يوسف ١١١.

16. الحق: بالكل حق او رشتيا

﴿ الٓمٓر تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ ﴾

چي څنګه ئې وئيلي دي چي داسې شوې دي نو هغه شان شوې دي ، څه فرضي قصې ندې او چي څنګه وائي چي دغه شان به کيږي نو هغه شان به کيږي دا نه چي فرض يرول او فرضي دباوونه دي يا فرضي خائسته کول او خوشحالئ دي نودَ حق او حقيقت پسندې کتاب دا ورته په قرآن کريم کښې ډير ځايه وئيلي دي. الرعد ١.

17. مبارك

دَ خيرونو او برکتونو چينه ، دَ دنيا او دَ آخرت خيرونه په دې کښې دي او دَ دي خيرونو داعي دې. الانبياء ٥٠،

﴿ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾ سورة الانبياء 50 .

﴿ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾ ﴾

سورة الانعام ١٥٥ ۔

18. تنزيل ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ ﴾ سورة الشعراء 192.

﴿ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ ﴾ السجدة ٢ ۔

19. المبين:

سورة يوسف ١ ﴿ الٓر ۚ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴿١﴾ ﴾

خكاره كونكي لاري دَ رشد او هدايت ، او دَ جهانبانئ ۔

عربي : ژبه واضحه عربئ والا ۔

﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢﴾ ﴾ سورة يوسف ٢۔

20. احسن القصص خائسته بيان ،

﴿ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ ٱلْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ وَإِن كُنتَ
مِن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٣﴾ ﴾ يوسف ٣۔

21. عبرة يعني چي په هغي سره خپل انجام او دَ مقابل انجام معلومولي شي ۔

﴿ لَقَدْ كَانَ فِى قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١١١﴾ ﴾ سورة يوسف ١١١۔

22. ذكرى : سورة الانعام ٩٠

﴿ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٠﴾ ﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

23. حكم دَ فيصلې او دَ قانون كتاب.

ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ سورة الممتحنة 10.

24. مفصل

أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًا سورة الانعام 114.

دَ ايمان اصول واضحه بيانونكې.

25. منزل

﴿ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ﴿١١٤﴾ ﴾

سورة الانعام 114.

26. صدق، عدل

﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ ﴿١١٥﴾ ﴾ الانعام ١١٥.

27. علم

﴿ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ
ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾ ﴾ سورة البقرة ١٢٠.

نور خه ته خلق علم وائي دَ انګريزو خبرو ته، قاضي سلم ته، او ديته علم نه وائي، علم خو دادې،

﴿ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَشْهَدُونَ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ
شَهِيدًا ﴿١٦٦﴾ ﴾ النساء ١٦٦.

28. الحكمة

دَ عقل او هوښيارتيا خبري او نه بدليدونکي قانون.

﴿ رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ ﴾ سورة البقرة ١٦٩.

29. بلاغ

دَ رسولو كتاب تبليغي نصاب دا دي،

﴿ هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٢﴾ ﴾

سورة ابراهيم ٥٢.

30. خير: دَ خير لويه خزانه

﴿ يُؤْتِى ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِىَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾ ﴾ سورة البقرة ٢٦٩.

﴿ ۞ وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا۟ خَيْرًا ﴿٣٠﴾ ﴾ سورة النحل ٣٠.

31. علي: انتهائي دَ اوچتي درجې والا

﴿ وَإِنَّهُۥ فِىٓ أُمِّ ٱلْكِتَٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِىٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾ ﴾ سورة زخرف ٤.

32. حكيم

دَ حکمتونو او علمونو خزانه، محکم او مضبوط کتاب چي نسخ پرې نه راځي.

﴿ الٓر ۚ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١﴾ ﴾ سورة يونس ٢.

﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٢﴾ ﴾ سورة لقمان ٢.

Maktaba Tul Ishaat.com

33. بينة: واضحه او صاف بيان

﴿ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ﴿١٥٧﴾ ﴾ سورة الانعام ١٥٧،

34. الآيات

دَ الله دَ وحدانيت خكاره دليلونه او علامې ، او دَ شريعت احكام

﴿ قُلْ إِنِّى عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَكَذَّبْتُم بِهِۦ مَا عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦٓ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ﴿٥٧﴾ ﴾ سورة الانعام ٥٨.

35. القول

دَ الله تعالي مضبوطه وينا.

﴿ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا۟ ٱلْقَوْلَ أَمْ جَآءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ ءَابَآءَهُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ ﴾ سورة المومنون ٦٨.

﴿ ۞ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ سورة القصص ٥١.

﴿ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ ﴿١٨﴾ ﴾ سورة الزمر ١٨.

﴿ إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ ﴾ سورة المزمل ٥.

36. قول فصل

وينا جداكونكي واضحه ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ ﴾ سورة الطارق ١٣.

37. التذكرة

﴿ فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ ﴾ سورة المدثر 49 .

38. الوحی ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴿٤﴾ ﴾ سورة النجم 4

39. البصائر

﴿ هَٰذَا بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ ﴾

نور هم اسماء دَ قرآن كريم زمونږ شيوخ كرام ذكركوي خو دا مونږ مختصر يو څو نومونه ذكر كړل.

Maktaba Tul Ishaat.com

# څلورم فصل

# حکمة نزول القرآن

دَ قرآن مقام او شرافت دَ قرآن دَ مقصد نه معلومیږي ، حکمت نزول القرآن چې قرآن کریم دَ څه مقصد دَ پاره دنیا ته راغلې دې ، چې مقصد ئې غټ وي نو هغه خو به هم غټ وي ، دَ ارادې او دَ همت نه سړې پیژندلې شي ،

**قدر هر کس بقدر همت او**

دَ یو سړي شرافت دَ هغه دَ همت برابر وي، دَ زمیندار همت دومره وي چې فصل به ښنکه حاصل کړم نو دَ قرآن مقام او فضیلت دا دَ قرآن کریم دَ مقصد نه معلومیږي چې دَ قرآن کریم مقصد څه دې ؟ نو دَ قرآن کریم نزول مقاصد او دَ نزول حکمتونه او وجې هغه قرآن کریم ذکر کړي دي ، چې الله رب العزت دا قرآن دَ څه مقصد دَ پاره رالیږلې دې ؟

نو اول مقصد دَ نزول القرآن۔

# مقاصد دَ نزول قرآن

۱۔ التدبر الله قرآن کریم کښې فرمائي۔

﴿ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩ ﴾ سورة ص 29۔

ترجمه : کتاب نازل کړې م دې دې له تا ته دَ خیر او برکت نه ډک دې دَ پاره دَ دې چې دوی سوچ اوکړي دَ دې په آیتونو کښې او نصیحت واخلي دَ عقل خاوندان۔

لیدبروا نو اول مقصد دې ، التدبر سوچ او فکر کول ، په آیتونو دَ قرآن کښې۔

۲۔ التذکر

دويم مقصد چې دا قرآن راغلې دې دې له ، چې التذكر چې نصيحت ترې قبول شي او ولوستلې شي ، ځان پرې پوهه کړې شي ، او سوچ او فکر پکښې اوشي ، نو اوس به ترې نصيحت اخلي ـ وليتذكر اولوا الالباب ، چې عقلمند ترې نصيحت قبول کړي، نو دويم مقصد دَ نزول القرآن هغه دې التذكر ـ

٣ـ مقصد دې التبيان و البيان

چې خلقو ته خبره واضحه شي اوصاف صاف ورته بيان شي،

﴿ بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ ۗ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ

﴿٤٤﴾ سورة النحل ۴۴

ترجمه:په ښکاره دليلونو سره، او په کتابونو سره او رالېږلي دي مونږ تاته د نصيحت کتاب چه بيان کړې خلقو ته، هغه چه نازل کړې شوي دي دوي ته او د پاره د دې چه دوي فکر اوکړي.

دا چې ته صاف صاف بيان کړې ، ما هغه څه چې دوې ته نازل شوي دي نو چې بيان ورته اوشي ، چې عوامو ته مسئله واضحه شي،

﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾ سورة النحل 64

ترجمه:او ندي رالېږلي مونږه په تا باندې کتاب، مگر چه بيان کړې دوي ته هغه خبرې چه دوې اختلاف کړي دي په هغې کښې او هدايت او رحمت دي، د هغه قوم دپاره چه ايمان لري.

چې هغه مسئله ورته بيان شي ، چې دوې پکښې اختلاف کړې دي ، ـ

٤ـ مقصد الاخراج من الظلمات الي النور

دَ قرآن دَ نزول هغه دې الاخراج من الظلمات الي النور خلق په تيارو دَ شرک او بدعت او په تيارو دَ کفر او رسوماتو کښې او په تيارو دَ قانون دَ غير الله کښې او په تيارو دَ مغربي جمهوريت کښې دي ، نو دا نور دَ توحيد نور دَ اسلام او نور دَ سنتو او

Maktaba Tul Ishaat.com

نور دَ قانون دَ الله ته رايستل دي ،

﴿ الٓر كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ۝١ ﴾ سورة ابراهيم 1

ترجمه : الف لام را ، دا يو عظيم الشان كتاب دې چي مونږ دې لره نازل كړې دي تاته چي ته راوباسې خلق دَ تيارو نه رڼرا ته په حكم دَ رب دَ دوې لارې دَ هغه ذات ته چي زوروَر او ستائيلي شوې دې.

اوس طريقه دَ وتلو به څه وي ، نو

٥. مقصد : التحكيم : دَ قرآن كريم دې التحكيم ، چې دا قرآن كريم به فيصله كؤونكې وي، نو خلق به دَ تيارو نه رڼرا ته هله اوځي چې كله دوې قرآن حاكم كړي ،

﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ۝١٠٥ ﴾ سورة النساء 105.

ترجمه:يقيناً مونږه راليږلې تا ته كتاب په حقه سره د دې دپاره چه فيصله اوكړې په مينځ د خلقو سره په هغه طريقه چه ښودلې تا ته الله تعالیٰ او مه كيږه د خيانت گرو د پاره طرف دار.

چې الله درته ښودلې دي نو په هغې دَ خلقو تر مينځه فيصله اوكړه.

﴿ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُمۡ أَوۡ أَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡۖ وَإِن تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيۡـٔٗاۖ وَإِنۡ حَكَمۡتَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝٤٢ ﴾ سورة المائدة 43.

ترجمه:-اوريدونكي دي دَدروغو،ډير خوړونكي دي حرامو له ،پس كه راغلو دوې تا ته ، پس فيصله اوكړه په مينځ دَ دوې كښې ، او يا مخ واړوه دَ صُلحې دَدوې نه او كه مخ واړوې دَصُلحې دَدوې نه پس هيڅري ضَرر نشي رَسولې تا ته دَ څه شي ،اوكه

فيصله كوي، نو فيصله كوه ،ددوي په مينځ كښ، په انصاف سره،يقينا الله تعالى ،مينه ساتي ذ انصاف كونكو سره.

﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِى مَآ ءَاتَىٰكُمْ فَٱسْتَبِقُوا ٱلْخَيْرَٰتِ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ (٤٨) ﴾

سورة المائده ۴۸ .

ترجمه . اوراليږلو مونږ تاته كتاب، په حقه سره ،تصديق كونكي ذ هغوجه مخكښ ددي نه دي ،ذكتابونو نه ،او نګهبان دې په ذغو باندې، پس فيصله كوه په مينځ ددوي كښې ، په هغه چې راليږلي دي الله ، او اتباع مكوه ،ذخواهشاتو ددوي ،چه وابه روي تا له ذ هغه نه چې راغلي دي تاته ذحق نه ، ذ هر چا ذپاره مونږ ګرځولي دي ستاسو نه شريعت او لاره فراخه ،او كه غوښتلي الله خامخا ګرځولي به ئي وې تاسو ډله يوه ، ليكن چې امتحان اوكړي ستاسو په هغه څه كښې چې دركړي دي تاسو ته ،پس تلوار وكړي نيكو ته ذيو بل نه، الله ته واپسي ستاسو ده ټولو، پس خبر به دركوي تاسو ته ، په هغه چې وئ تاسو په هغه كښې چه اختلاف كوئ.

وان احكم او فيصله اوكړه بما په هغه قانون باندې چې الله نازل كړې دې ، ولا تتبع اهواءهم ، او مه روانيږه ذ دوي په خيالاتو پسې ، ذ دوي په فرسوده نظام پسې ، او په برطانوي او امريكي كوټ پسې مه روانيږه ،

﴿ وَأَنِ ٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَٱحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَنۢ بَعْضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ فَإِن تَوَلَّوْا فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ (٤٩) ﴾ سورة المائده ۴۹ .

ترجمه: او امر كوي تاته چه فيصله كوه په مينځ د دوې كښې، په هغه چه نازل كړي دي الله،او تابعداري مه كوي د خواهشاتو د دوي، او بريږه د دوې نه چه واړوي

Maktaba Tul Ishaat.com

تا له ، د بعض هغه نه چه نازل کړي دي الله تعالیٰ تا ته پس که دوی او ګرځېدهٔ نو پوهه شه چه اراده لري الله تعالیٰ، چه اورسوي دوی ته (عذاب ) په سبب د بعض ګناهونو د دوی، او یقیناً ډیر د خلقو نه خامخا فاسقان دي.

دغه شان په سوره المائدة ۵۰ کښې وائي ، افحکم الجاهلیة یبغون ، آیا دوی فیصله دَ جاهلیت لټوي او دَ الله قانون پرېږدي ، او په جاهلانو پسې ځي ، دَ الله دَ قانون نه علاوه ټول قوانین دا دَ جهالت دي ، دَ قرآن نه چې علاوه وي نو دا جاهلیت دې اګر که هغې له ئې نوم غټ اینښي وي .

ومن احسن من الله حکماً څوک دې ډیر ښائسته دَ الله نه په حکم کښې او په فیصله کولو کښې ، چې دَ بل په فیصلو پسې روان وي ،

﴿ أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِى حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًا ۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ ﴾

سورة الانعام114.

ترجمه: آیا پس دغیر دَ الله نه ولټوم زه فیصله کونکي ، او الله تعالیٰ هغه ذات دي، چه رالیږلي ئې دي تاسوته کتاب واضح بیان کړې شوي، او هغه کسان چه ورکړي وو مونږ هغوي ته کتاب پوهیږي چه دا کتاب نازل شوي دي ستا د رب دَ طرفنه په حق سره پس هیچرې مه کیږه د شک کونکو نه.

﴿ وَمَا ٱخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَىْءٍ فَحُكْمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّى عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴾

سورة الشوري10.

ترجمه: او هغه چه اختلاف کوئ تاسو په هغه کښې د هر شي نه نو فیصله د هغه حواله ده الله تعالیٰ ته، دغه ذات الله تعالیٰ رب زما دی، خاص په هغه باندې ځان سپارلي دي ما او خاص هغه ته رجوع کوم زهٔ.

وما اختلفتم فیه نو فیصله به ئې الله کوي ، نو لنډه ده چې پنځم مقصد دَ نزول دَ کتاب دَ الله هغه التحکیم چې ځان او جهان ټول الله ته حواله کول ، ځکه چې قرآن کریم دَ سړي ځان هم سموي او جهان هم سموي ، دا خو دَ بادشاه او دَ حاکم

كتاب دي ، دا تش دَ دي كتاب نه دي ، چې سورة يس ترې وايه ، نو حاجتونه به دې پوره شي ، او سورة الواقعة وايه نو لوږه به دې ختمه شي ، او مړي ته ئې وايه نو روح به ترې په اسانه اووځي ، دا تش دَ مړو او دَ ختمونو كتاب نه دې ، خلقو دَ دې حقيقت خراب كړې دې ، نااهلو ته ملاو شو نو دَ قرآن قدر ختم شو، ځكه خو چلاسي بابا وائي

كتاب الله بدست مومن خام
كه بدست طفل نادان گوہر است

دَ الله كتاب دَ كچه مسلمان په لاس كښې داسې دې لكه دَ ماشوم ناپوهه په لاس كښې چې ملغلره وي لكه څنگه چې دَ ماشوم سره دَ ملغلرې قدر نه وي نو دغه شان دَ كچه مسلمان سره دَ قرآن قدر نشته دې

گفتن نه دانم ہر چه گفتم
كه زرين تاج بر فرق خرے ہست

وائي په ډيرو باندې نه پوهيږم خو په لنډو درته وايم چې داسې دې دَ كچه مومن او نا اهله په لاس كښې ، چې دَ خر په سر تاج كيږدې ، دَ خر سره دَ تاج قدر نه وي او نه ئې په قدر پوهيږي نو نن مسلمان دَ قرآن كريم په قدر نه پوهيږي صرف دې له ئې وائي چې حاجت مې پوره شي ، او لوږه مې ختمه شي ، نن ئې قرآن صرف دې له كړځولې دې ، نو دا خو دَ حاكم كتاب وو.

دَ بادشاه سره يو باز وو، چرته ترې هغه الوتې وو، بې دركه شوې وو، نو دَ بوډيئ ابئ كره تلې وو، نو هغې اووئيل او هو !! دَ ده خو بانړه هم غټ شوې دې مخوكه هم او نوكونه هم لوئې شوې دي ، هر څه ترې واړه كړل چې كله بادشاه ته ملاؤ شو نو باز ته وائې څه درسره شوې دي ؟ نو دا ځكه چې دَ نا اهلو لاس له تلې وې ، نو نن هم قرآن كريم دَ نااهله مسلمان لاس له راغلې نو قطع وبريد گټ كُټ ئې پكښې اوكړو نو څه ترې جوړ شو.

## شپږم (۶) حکمت معرفت د توحید

قرآن کریم الله تعالي دې له رالیږلي دې چي الله تعالي د الله تعالي په خوبنه صحیح طریقي سره چي څنګه د الله تعالي د پیژندګلو حق دې نو اوپیژندلي شي ۰ لکه سورة ابراهیم آخري آیت

﴿ هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ۝٥٢ ﴾ سورة ابراهیم 52

ترجمه : دا قرآن پیغام دې خلقو د پاره او (دې د پاره ) چي اوبرولي شي دوې په دې سره ، او چي پوهه شي دوې چي بیشکه هم هغه (الله ) معبود دې یو او چي نصیحت واخلي صفا عقل والا ۰

د رسولو نصاب هغه دا کتاب دې خو چي رسوې نو د قرآن روح او اهمه مسئله هغه توحید دې ، چي د الله تعالي پیژندګلو خلقو ته په صحیح طریقه اوکړه ، نو چي کومو خلقو دا مسئله زده کړه ، او ستا د بیان نصبحت ئې واغستو ، نو دا عقلمند دې ۰

## اوم (۷) حکمت کلکول

قرآن کریم دې له راغلي دې چي مومنان پرې کلک شي یعني مومن ترې نه موړ نه دې هر چا ته فائده ورکوي ۰

﴿ قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ۝١٠٢ ﴾ سورة النحل102

ترجمه : اووایه چي راوړې دې دا قرآن پاک روح ستا د رب د طرف نه په حق سره دې د پاره چي کلک کړې هغه خلق چي ایمان ئې راوړې دې او هدایت او زیرې دې د مسلمانانو د پاره ۰

ورته اووایه چي نازلوې دې له جبرئیل د طرفه د پالونکې ستا نه د حق سره د دې د

پاره چي کلک کړي په دې سره هغه کسان چي هغوي ايمان راوړي دي او هدايت او زيرې دَ پاره دَ غاړه کيښودونکو. نو چي کله قرآن کريم بيان شي نو مومنان به کلک شي.

اوس لږ نظر اوکړه په مقاصدو کښې تکرار ترې لرې کړه او ربط پکښې اوايه. دَ قرآن کريم دَ نازلولو لوئې مقصد لتخرج الناس من الظلمات الي النور، خلق دَ تيارو نه رڼرا ته اوباسه. دَ تولو نه لويه تياره هغه شرک، جهل، دَ الله تعالي نه پيژندل دي نو ليعلموا انما هو اله واحد، دويم لام شو، اوس طريقه دَ اخراج او دَ الله دَ معرفت به څه وي ؟ چي لتبين، بلغ، بلاغ، چي کله بيان شي نو داعي او مبلغ به بيان اوکړي، نو بيان کولو له راغلې دې دا نه چي زده دې کړو نو ځان سره ئې خوندي کړه. نو اوس چي داعي بيان اوکړو نو دَ سامع او دَ اوريدونکي ذمه واري، ليدبروا، او ليتذکر، چي سوچ اوکړي او نصيحت قبول کړي دا دَ شاګرد ذمه وارې شوې نو که شاګرد دَ مخکښې نه موحد وو نو ليثبت هغه به نور هم په توحيد کلک شي نو دا درې لامونه په يو حساب کړه، نو څلور لامونه شول، اوس کله کله نور سره ظلمت ټکره خوري، او مقابلې ته راځي، نو تيارې به هم په دې باندې ختموې، حاکم به هم دا کتاب وي نورو ځيزونو نه به نه متاثره کيږې.

﴿لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ ۝١٠٥﴾ سورة النساء 105.

ترجمه : نو دا پنځه لامونه شول پانچ پير دا صرف دَ بصيرت زياتولو دَ پاره نور بغير دَ لامونو نه هم مقصدونه دَ نزول ذکر شوي دي هدي، رحمة، بشري، خو دغه مخکښينو ته ئې رجع کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

# پنځم فصل آداب دَ قرآن کریم

دَ قرآن فضیلت مونږ اوئیلو دَ قرآن او دَ حدیث نه ، نو دَ قرآن خو اوچت مقام دي خو چې څومره قرآن اوچت دې ، نو دومره ئې آداب دي ۔ دَ دي آدابو خیال ساتل پکار دي ، هسې نه چې سړې دَ قرآن دَ آدابو خیال اونه ساتي ، او دَ فائدې په ځائې نقصان زیات اوشي ، نو

## ادب څه ته وائی

ادب وئیلې کیږي ۔

" استعمال الخصلة المناسبة للقرآن "

دَ قرآن مناسب خصلت او خوئې استعمالول چې بنده ته قرآن په آسانه باندې ملاؤ شي۔

## دَ ادب اهمیت

عیسي بن معاذ فرمائي چې

" اذا ترک العارف ادبه مع معروفه فقد هلک مع الهالکین "

کله چې عارف خپل معروف سره ادب پریږدي نو دي هلاک شو سره دَ هلاکیدونکو نه ،

ذوالنون مصري ؒ ذکر کوي چې

" اذا خرج المرید عن استعمال الادب فانه یرجع من حیث جاء "

کله چې مرید ادب پریږدي نو چې دَ کوم حالت نه راغلې وو هغه حالت ته واپس لاړ شي ۔ یعني ده ته هیڅ فائده اونشوه ، او په زوړ حالت باندې پاتې شو ۔

صدر الشهید صاحب مدظله العالي فرمائي ۔ چې یوسړې د ادب دَ مرکز نه بې ادبه ځي، نو

"دخل حماراً صغيراً وخرج حماراً كبيراً"

کُوچې راغلې وو او خر لاړو۔

عبد الله ابن مبارک ؒ فرمائي۔

"نحن الي قليل من الادب أحوج الي كثير من العلم"

وائي علم ته چې څومره ضرورت دې نو دَ هغې نه زيات ادب ته ضرورت دې ، مشهوره مقوله ده۔

باادب بانصیب بے ادب بے نصیب

دې وجې نه رومي بابا وائي۔

از خدا جویئم توفیق ادب
بے ادب محروم ماند از فضل رب

چې دَ الله نه توفيق دَ ادب غواړم ځکه چې بې ادبه خو دَ الله دَ فضل نه محرومه وي، شيطان بې ادبه خو دَ الله دَ فضل نه محرومه وي ، شيطان بې ادبه ته نه ګورې ؟

بے ادب تنہا نہ خود را داشت بد
بلکہ آتش در ہمہ آفاق زد

بې ادبه صرف ځان نه خرابوي بلکه ټول جهان خرابوي، لکه شيطان بې ادبي اوکړه هم دَ خالق او هم دَ مخلوق ، دَ الله حکم ئې او نه منلو ، او په طرف دَ آدم ئې سجده اونکړه نو په ټول عالم کښې ئې اوور بل کړو ، او دَ ټول عالم دَ پاره ناسور جوړ شو، ځنې عالمانو فرمائيلي دي۔

ما وصل من وصل الا بالحرمة وما سقط من سقط الا بترك الحرمة

خوک چې يو مقام ته رسيدلي دي نو په ادب رسيدلي دي ، او کوم چې دَ يو مقام نه غورځيدلي دي نو په بې ادبي غورځيدلي دي ، دغه شان دا هم وئيلي شوي دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

"الحرمة خير من الطاعة الا تري ان الانسان لا يكفر بالمعصية وانما يكفر باستخفافها وبترک الحرمة

ادب دَ تابعدارۍ نه ښه دې، تا نه دي کتلي چي انسان په گناه کولو نه کافر کيږي او په سپک گڼړلو باندې کافر کيږي او په ادب پريښودلو باندې ۰ نو دَ قرآن دَ پاره مختلف آداب دي ۔

# آداب

## ۱ - النية

دَ ټولو نه اولنې ادب هغه نيت دې په نيت کښې څو خبرې پيژندل ضروري دي يو نيت څه ته وائي ؟ دويم دَ نيت اهميت ، دريم صحيح نيت کوم دې ؟ څلورم نيت کلکول ، پنځم نيت ځان ته حاضرول دَ هر يو لږ تفصيل ۰

اول نيت څه ته وائي ۰ نو نيت دَ زړه ارادې ته وائي ، دَ خلې وئيل سنت نه دې اصل څيز دَ زړه اراده ده ۰ دَ دې دپ وجي نه عالمان دَ نيت تعريف داسې کوې چي

" انبعاث القلب الي نحو ما يتمناه ويهوي"

يعني دَ زړه راپورته کيدل او راپاڅيدل په هغه طرف چي دا زړه ئې غواړې او خوخوې ، دويم تعريف

" ترجيح احد الممكنين " يا المباحين ته نيت وائي ۔

دوه جائز کارونه وي او ته پکښې يو غوره کړې نو په دې غوره کولو چي څه باعث دې نو هغه نيت دې ، اوس دي وخت کښې مونږ ډير کارونه کولې شو هغهٔ مو پريښودل او قرآن ته راغلو نو دَ دې باعث څه دې ؟ په څه وجه مونږ قرآن غوره کړو نو دا نيت دې ۔

# دَ نیت مقام او اهمیت

دَ نیت لوئي او لویه درجه ده نبي علیه السلام فرمائي چي

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى [1]

دَ عملونو تول او مدار هغه په نیتو باندې دي او یقیني خبره ده چي هر کس ته هغه ملاویږي چي هغه ئې نیت کوي۔

دغه شان حدیث کښې راځي اوږد روایت دې ، چي اول جهنم به په ریاکار عالم ، مجاهد، او سخي باندې کرمولې شي، علم ، جهاد ، سخاوت لوئې کارونه دي خو چي کله دَ الله دَ پاره اونه کړې شي ، نو هغه دَ جهنم دَ تلو سبب ګرځي۔

مَنْ طَلَبَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ لَا يُعَلِّمُهُ إِلَّا لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ» [2]

چا چي هغه علم چي په هغې باندې دَ الله تعالي رضا لټولې شوه دَ دې دَ پاره حاصل کړو چي دَ دنیا څه ورته ملاؤ شي نو دې دَ جنت بوئي به نه محسوسوي۔

کم من عمل یتصور بصورة أعمال الدنیا فیصیر بحسن النیة من أعمال الآخرة، وکم من عمل یتصور بصورة أعمال الآخرة فیصیر بسوء النیة من أعمال الدنیا فلتحذر۔ [3]

څومره عملونه ظاهر کښې دَ دنیا ښکاري خو په ښائسته نیت سره هغه دَ آخرت اوګرځي ، او څومره عملونه ظاهر کښې دَ آخرت ښکاري خو په غلط نیت سره هغه دَ اعمالو دَ دنیا نه اوګرځي۔

---

1 صحیح البخاري : باب کیف بدء الوحي الي رسول الله۔

2 ترتیب الامالی الخمیسیة للشجري : باب في الایمان وکلمة التوحید وصفة المومن۔

3 مسطلقات طالب العلم : المنطلق الاول "الاخلاص وصدق النیة۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قاضي شمس الدين صاحب رح په شرح دَ مشکوة شريف کښې ذکر کوي ، چې دَ نيت مثال دَ عمل دَ پاره هغه دَ ونې دَ پاره دَ تخم دې ۔

**ان حنطة فحنطة وان شعيرا فشعير**

که غنم وي نو غنم او که اوربشې نو اوربشې او بل مثال ئې ذکر کوي چې دَ کوهې دَ وېخ مثال لري ، که وېخ دَ کوهې پاک وي نو کوهې پاک او که وېخ پليت وي نو کوهې پليت دې ۔ نو نيت لوئې اهميت او مقام لري نو په نيت محنت ډېر ضروري دې ۔

اخلاص داسې دې لکه تمييز اللبن من الفرث والدم

لکه چې شوده بالکل ستړا درکوي نو عمل به هم بالکل خالص وي دَ دنيوي غرضونو نه او دَ غير الله دَ شائبې او شک نه ، موسي عليه السلام ته الله رب العزت فرمائي ، ولې ګړندې راغلې دَ قوم نه ، نو موسي عليه السلام جواب ورکوي ۔

﴿ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ ﴿٨٤﴾ ﴾سورة طه 84

او راګړندې شوم تاته ربه م دَ دې دَ پار چې ته خوشحاله شې ، نو په هر څه کښې دَ الله رضا مخې ته کول هر څه او هر غرض دَ الله دَ پاره قربانول او الله تعالي رضا راغستل او مخې ته کول دا اخلاص دې ،قرآن کريم صحيح نيت ته اشاره کوي نو وائي ۔

﴿ ۞ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ ﴾

سورة التوبه 122۔

ترجمه : او نه دي ښکار مومنانو لره چې اوځي ټول پس ولې نه ووځي دَ هرې ډلې دَ دوې نه څه خلق چې پوهه حاصله کړي په دين کښې او چې اويروي دوې خپل قوم کله چې وېس راشي هغوي ته دې دَ پاره چې دغوي ځان بچ کړي دَ ګناهونو نه ۔

يعني کمال في الدين او يرول دَ قوم خپل دا نيت صحيح دې چې دا نيت شو نو بشارت هم شو عالم دَ قرآن ته چې دَ نبي عليه السلام ذمه واري ورته ملاؤ شوه څکه

﴿إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٌۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ۝٧﴾ سورة الرعد 7.

ترجمه : بیشکه ته خو یره ورکونکي ني ، او دَ پاره دَ هر یو قوم یو لار ښودونکي دي

مشكوة كښي دَ حسن بصري ؒ قول ذكر كوي او نيت دَ علم ديته وائي چي اسلام پري ژوندي شي ليحي به الاسلام

علامه زرنوجي ؒ ذكر كوي ·

وينبغي ان ينوي المتعلم بطلب العلم رضا الله تعالي والدار الآخرة وازالة الجهل عن نفسه وعن سائر الجهال واحياء الدين وابقاء الاسلام .[1]

دَ الله رضا دَ آخرت كاميابي ، جهل دَ ځان او عوامو نه لري كول او دين ژوندي ساتل ·

دا صحيح نيت دي ·

## غلط نيت

څيزونه په ضد پيژندلي شي تعرف الاشياء باضدادها غلط نيت دي له اوپيژنه چي ځان تري بچ كړي ، ځكه چي څوك شر نه پيژني نو شر كښي غورځيږي.

عرفــت الشــر لا للشــر لكــن لتوقيــه

مــن لــم يعــرف الشــر يقــع فيــه

غلط نيت باره كښي نبي عليه السلام فرمائيلي دي ·

مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ أَوْ لِيُبَاهِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ فَهُوَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ .[2]

---

[1] تعليم المتعلم ص 12-

[2] سنن الدارمي-

Maktaba Tul Ishaat.com

چي چا علم طلب کړو دَ دې دَ پاره چي ځان اوچت کړې په عالمانو يا جهګړې بې وقوفو سره اوکړي او يا دَ خلقو مخونه ځان ته راواړوي نو الله تعالى به ئې اور ته دننه کړي.

**ولا ينوي به اقبال الناس اليه ولا استحلاب خطام الدنيا والكرامة عند السلطان وغيره [1]**

او نيت به نه کوي په دې سره دَ خلقو دَ توجه دۀ ته او نه دَ حاصلولو دَ خشاک دَ دنيا او نه عزت دَ بادشاه سره،.

**من طلب العلم للمعاد — فاز بفضل من الرشاد**

**فيا الخسران طالبيه — لنيل فضل من العباد**

څوک چي آخرت له علم طلب کوي نو دَ الله په فضل کامياب شو، تاوان دَ هغه طلب کونکو چي دَ مخلوق دَ فضل لتولو دَ پاره ئې طلب کوي.

چي کله صحيح نيت شو نو دَ هغه باره کښې وئيلې شوې دي.

**قال عليه السلام اقطع لسانك عن حملة القرآن وطلاب العلم**

چي دوې ته بد مه وايه دا دَ صحيح نيت والا باره کښې وائي. او دَ غلط نيت والا باره کښې وائي.

**لأنا من غير الدجال أخوف عليكم من الدجال . فقيل : وما ذلك ؟ فقال : من الأئمة المضلين "[2]**

زه په تاسو دَ دجال نه علاوه څيز باندې دَ دجال نه ډير يريږم اووئيلې شو هغه څه دي؟ نبي عليه السلام اووئيل من الائمة المضلين. نو په نيت محنت ضروري دې الله دِ مونږ

---

[1] تعليم المتعلم 12-

[2] احياء علوم الدين : هذا الحديث أخرجه أحمد من حديث أبي ذر بإسناد جيد

ته صحیح نیت نصیب کړي آمین۔

یوه تنبیه او خبرداري

دَ دې وجې نه چي نیت مو ندي صحیح نو علم او خدمت دَ علم پریخودل ندي پکار کله شیطان په دې وجه سړې دَ علم نه او دَ خدمت نه بند کړي لګیا اوسه یو ورځ به دَ الله دَ پاره شي۔

دَ بزرګانو وینا ده چي

**تعلمنا العلم لغیر الله فابي العلم الا إن یکون لله ۔** [1]

مونږ علم دَ الله نه علاوه له زده کړو خو مونږ علم ټخپله الله تعالي طرفته بوتلو۔
نو یوه ورځ به درته الله تعالي اخلاص نصیب کړي ، الله دِ مونږ ته نصیب کړي آمین۔

## نیت صحیح کول

نو اول نیت سمول پکار دي چي مونږ قرآن زده کوو نو دا څه له زده کوو ؟ صرف دې له ئي زده کوو چي یو توجیه به اوکړو او صرف ترجمه به زده کړو ، دَ دې څه فائده شوه ؟

دا نیت به کوو چي دا مونږ زده کوو دَ خپلې اصلاح دَ پاره او بیا به پرې دَ عالم اصلاح کوو او چي الله راضي کړو اول به پرې خپل ځان سم کړو عقیده او عمل به پرې سم کړو او بیا به ئي عالم ته بیان کړو ، خو دَ شهرت دَ پاره نه بلکه دا دواړه به دَ الله دَ پاره کوو، که ځان سمول دي ، او که جهان سمول دي ، نو دا دواړه به دَ الله دَ پاره کوو ، نو دا صحیح نیت دې چي زه خیر یوسم او دَ شر نه بچ شم ۔ او دیته اخلاص وائي چي انسان خپل نیت هغه صفا کړي۔

---

[1] (کیمیائي سعادت)

Maktaba Tul Ishaat.com

اگر دنیا سراسر باد گیرد
چراغ مخلصاں ہر گز نمیرد

که سالمه دنیا کښې طوفان دَ سیلۍ راشي خو دَ مخلصانو ډیوه چرته هم نه مري نو دا اخلاص دا ضروري څیز دې ، او اخلاص ما اووئیل چې خیر زده کړم ، خیر به یوسم، او دَ شر نه به ځان بچ کړم ، خپله عقیده او عمل سم کړم ، او دَ عالم دَ عقیدې او دَ عمل اصلاح به اوکړم ، خو خالصاً لوجه الله تعالي دَ دنیا دَ هیڅ مقصد دَ پاره نه، بلکه صرف دَ یو الله دَ پاره ۔

## نیت مضبوطول

۲۔ دا نیت مضبوطول دي، عمرؓ فرمائي ۔

### انما تاتي المعونة بحسب النيات

امداد موافق دَ نیت راځي ، چې نیت مضبوط وي نو امداد ډیر زیات راځي، او چې نیت کښې سستي وي نو امداد لږ راځي ،

### الغنم بالغرم

پښتانه وائي ، گهته په تاوان کیږي نو چې ته مضبوط نیت اوکړې ، نو امداد دَ الله به زیات راځي ، او که ته یو څه ته او بل څه ته سوچ کوې ، او وائي چې درس ته ځم، که خوند ئې اوکړو نو ښه په ښه او که خوند ئې اونکړو نو نه په ښه ، نو تا خو نیت ډوا ډول کړو، ته مضبوط نیت اوکړه چې که هر څه وي نو خپل مشن به نه پرېږدم، صاحب دَ هدایې سبق وئیلو نو دې له به خطونه راتلل، خو دوې به جمع کول چې کله چهتي به اوشوه، نو خطونه به ئې کهلاؤ کړل، نو دَ چا ماما او دَ چا کاکا مړ وو، نو اوبه ئې وئیل چې ۔
الحمد لله ستا شکر دې ، که دَ سبق مینځ کښې مي کتلې وې نو سبق به رانه پاتې

شوي وو، اوس خو طالب سره موبائيل وي او په موبائل کښي به ورته مسکالونه راځي، او ګوري به ئې، محکښي به خلقو دَ مونځ نه پس ذکر کولو اوس به زر موبائيل راواخلي ګوري به ئې، او وائي به چې چا دَ ده سرې خوني راته کال کړې دي، او وائي به چې دَ مونځ وخت ته نه ګوري، او مسکالونه به کوي، نو ته خو هم دَ مونځ وخت نه پيژني، چې موبائيل کهلاو ساتي، مونځ ته ئې بند کړه کنه!

ته به وائي که دَ بادامو ګادي ئې چليږي، او که موبائيل بند کړي نو بيا هغه غرقيږي، نو اوس طالب جان موبائيل ساتي چې بيا مونږ نه خبريږو، قسم په الله چې الله دي خبروي،ته موبائيل مه ساته هيڅ هم نه کيږي، ته چې نه ئې نو هم کارونه کيږي، نه خو ممکن ئې !!

ستا وجود او عدم خو برابر دي، نو ته چې ئې نو څه چل به اوکړې، او چې نه ئې نو څه به اوکړي ؟

نو ته خو ممکن ئې او واجب الوجود ذات خو الله دي، په تا باندې نه ورانيږي او نه درباندې ودانيږي، نو دا اسباب موبائيل، ميسيجونه، او مسکالونه دا نيت کمزوري کوي او سستوي، نو چې نيت سست شو نو بيا به مدد نه راځي، ته به وائي زما مقصد به دَ هر څه نه راجح وي، نو استحکام النية پکار دې، مضبوطه اراده پکار ده،

کابلګرام شيخ صاحب[رح] به فرمائيل چې نيت کلک کړه، د کلک نيت والا ته يقيني رکاوټونه ضرر نه ورکوي هغه ورته خيالي خکاره شي او چې نيت کمزوري وي نو هغه ته خيالي رکاوټونه يقيني شي او دَ خپل مقصد نه بند شي. مثال به ئې ونيلو چې که سړې په لاره ځي او نيت ئې کمزوري وي نو دِ ونې نه ورته بلا جوړه شي، دَ جاړې نه سپې او دَ لارې دَ کرځې نه ورته مار جوړ شي، او چې نيت مضبوط وي نو که سپې وي او که ونه نو وائي دا ګټه ده، او که مار اووينې نو وائي دا بړې دې، نو نيت مضبوطول ضروري دي، که هر څه راځي نو زه خپل مشن نه پريږدم.

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه وونه مستقیم په خپل مقام یم
که خزان رابانـدې راشي که بهار

چاروں طرف سے کانٹوں میں گرا ہے یہ پھول
پھر بھی ہنستا ہے عجب خوش مزاج ہے

# نيت ځان ته حاضرول

چې نيت دې مظبوط کړو نو اوس درنه هير نه شي او ذهول درنه رانشي نو ځان ته هر سحر چې درس ته کيني نو نيت مستحضر کوه چې دوړه پرې او نه غورځيږي.
کابلګرام شيخ صاحب رح به فرمائيل چې دا ځان ته په کاغذ باندې اوليکه او قرآن کنبې ځان ته کيږده چې کيني نوځان ته ئې يادوه ،چې ځما مقصد دا دې ، دَ يظنون انهم ملقوا ربهم يو مطلب دا هم ذکر دې چې هر وخت دې الله تعالي په خيال کنبې وي او ځان ته ئې مخې ته کوې ، نو غفلت مضر دې استحضار مفيد دې . نو نيت کنبې دَ دې دريو غټو خبرو خيال ساتل ضروري وو-

۱- تصحيح النية ، ۲- استحكام النية ، او ۳- استحضار النية

# ۲- ادب تسلسل

دوېم ادب دَ قرآن کريم هغه تسلسل دې ، په نيکو کنبې تسلسل ضروري دې، چې کله تسلسل نه وي په نيکو اعمالو کنبې نو هغه د خير نه بنده محرومويٍ ،

خير العمل ما قل وديم عليه

بهتر عمل هغه دې چې لږ وي خو هميشه وي - نو طالب جان ليټ راځي او يا پرې

خوب غالب شي، يا دا اووائي چې پاره نن مي کار دې هغه کول غواړي نو هغه کار دې دَ قرآن نه اوچت دې ، چې هغه کوې ؟

دا نه چې

هله به زاريږم چې دَ کاره اوزګاريږم

نو دا چرته دَ اوزګارخيلو کار دې ؟ ديته به ځان اوزګاروې ، نو تسلسل ضروري دې ، او چې انقطاع راځي نو بې برکتي راځي دَ اودس نه روستو صلوة التحية وي او بيا سنت وي او بيا فرض مونځ وي ، دا ځکه چې تسلسل راشي په نيکو اعمالو کښې ، او برکت ئې زيات شي ، نو دويم ادب دې التسلسل ـ مدخل کښې ابن الحاج ؒ ذکر کوي چې کوم طالب يوه ورځ سبق قضاء کړو نو داسې ده لکه چې هفته ئې قضا کړو، يعني پوره هفته به دَ دې قضائې نخوست او سپيره توب وي ، او چا چې دوه ورځې قضا کړو نو داسې ده لکه چې مياشت ئې قضا کړو يعني دَ يو مياشت پورې به ئې دَ سپيره توب اثر وي او چا چې درې ورځې قضاء کړو نو فلا خير فيه ـ په دې طالب کښې هيڅ خير نشته دې ، ځما مرشد محترم مفتي مسلم صاحب فرمائي چې دَ سبق قضا کولو خپل سپيره توب دې ولو کان جمعه يعني اګر که هغه جمعه ولې نه وې خو دَ خالي په ورځ دَ سرې سبق ته طبيعت نه کيږي ۔

## ۳ ـ ادب

ادب دَ تعلم ارکان خمسه دي ۔

۱ ـ العلم ، ۲ ـ المتعلم ۳ ـ المعلم ۴ ـ مركز العلم ۵ ـ آلة العلم

ا ـ العلم ، نو علم پوهې ته وائي ، دانستن ته ، دا نه چې تيرستن چې بس تير شو، امام ابوحنيفه ؒ فرمائي ـ

معرفة النفس ما لها وما عليها

چې دَ بنده هغه څه پيژندل چې څه دَ دهٔ دَ پاره دي او څه په دهٔ باندې واجب دي او دا

Maktaba Tul Ishaat.com

اصل علم هم دي ، امام مالک رح وائي،

**العلم نور يقذفه الله في قلب المومن ،**

نو علم صرف ديته نه وائي چې بس تير شو، حديث مو وئيلې دي ، چې ، لا يجاوز تراقيهم، داسې خلق به وي چې قرآن به ئې دَ مرکنډ نه ښکته نه کوزيږي ، نو دا به دَ اسلام نه اوځي ، نو دَ علم ادب دا دي چې دا به زړه ته کوزوې ،

علم را بر تن زني مارے بود
علم را بر جان زني يارے بود

علم چې صرف په ظاهر وي نو مار دې او چې علم دې زړه ته کوز کړو نو بيا يار دې ،

**بل هو آيت بينات في صدور الذين اوتوا العلم**

بلکه دا خو آيتونه دي په سينو دَ هغه خلقو کښې چې علم ورته ورکړې شوې وو،

﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ ﴾

سورة الشعراء192۔

راکوز کړې دې قرآن له جبرئيل په زړه ستا چې شې ته دَ ډېره ورکونکو نو في صدور وائي او علي قلبک وائي علي سمعک او علي جوالک نه وائي علم سينه به سينه وي، دا نه چې من جوال الي جوال دَ يو موبائيل نه بل موبائيل ته ، او بلوټوت ته ،

۲۔ **المعلم**، چې دَ استاذ ادب کول ، لکه څنګه چې دَ جسماني مربي ، يعني مور او پلار ادب کول دي ، نو دغه شان دَ روحاني مربي ادب کول هم پکار دي ، او دا ډېره ضروري دي، مثال ئې عالمان دا ذکر کوي چې دَ چا دَ وجې نه روح دَ آسمان زمکې ته راغلې وي نو دَ هغوي شان الله تعالي او حديثو څومره ذکر کړې دې يعني مور او پلار نو دَ هغه چا به څومره حق وي چې دَ هغه دَ وجې نه روح دوباره ملأ اعلي ته رسي يعني دَ استاذ په تربيت باندې روح دوباره بره ځي ، نو دَ هغه به څومره حق وي۔

دَ حضرت علي رضي الله تعالي عنه نه نقل دي هغه فرمائي۔

أنا عبد من علمني حرفا واحدا، وإن شاء باع، وإن شاء أعتق، وإن شاء استرق"[1]

زه غلام یم دَ هغه چا چي ماته یو حرف اوښائي ، كه دَ هغوي خوخه وي نو خرخ م دِ کړي ، او كه آزادوي م، او كه غلام م ساتي.

چي چا درته یو حرف اوښودلو چي دين كښي ورته محتاج وي نو هغه ستا ديني او روحاني پلار شو، دَ استاذ دَ عزت نخښه دا هم ده چي دَ هغه ونيلي شوي سبق ياد کړي ، ظاهري تعظيم دا چي مخكښي تري مه خه ، دَ هغه په ځائي باندي مه كينه دَ هغه دَ اجازت نه بغير دَ هغوي مخي ته خبره مه شروع كوه ، چي ستړي وي نو ستړي كوه ئي مه ، چي بي ضائع تيوسونه شروع کړي ،دَ هغه دَ خفكان او دَ غصي نه ځان ساتل، او بغير دَ معصيت نه دَ هغه خبره منل ، دَ هغه دَ اولاد تعظيم كول ، چي څوك دَ استاذ ادب او احترام نه كوي نو هغه ته رونق دَ درس او علم نه نصيب كيږي په دې دير واقعات دي په اوردو كتابونو كښي دې اوكتلي شي.

۳- دَ شاګرد خيال ساتل ، قرآن كريم چي دَ متعلمينو صفت کړې دې ،

﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلْقُلُوبُ وَٱلْأَبْصَٰرُ ﴿٣٧﴾ ﴾ سورة النور: ۳۷

ترجمه : سړي چي نه غافله كوي دوي له سوداګري او نه خرخول دَ ياداشت دَ الله نه او پابندي كولو دَ مونځ نه ، او دَ وركولو دَ زكوة نه ، ويره كوي دَ هغه ورځ نه چي كډوډ به شي په هغې كښي زړونه او سترګي.

دا ئي دَ طالبانو صفات ذكر کړي دي، او طالب صفات ئي په سورة عبس كښي ذكر کړي دي .

يو جاء طالب جان به راځي ، دا نه چي طالب جان به آرام فرما وي ،

[1] التربية الاسلامية اصولها وتطورها : باب " شروط تحصيل العلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

٢۔ يسعي طالب به كوشش او محنت كوي، دا نه چې دوډۍ خوري او په شا باندې لاړ شي او دا وائي چې الله ناپوهه علم مې نصيب کړې ،

اکلت دړې وشربت چاتې ولبست شړئ ثم لتحنړې ثم افر الي البارې

نو دا به نه وي ،

٣۔ يخشي چې طالب كښې به خشيت الهي وي، ( په اركان سبعه سره ) په ژبه به ئې خشيت الهي وي نو په غوږونو به ئې خشيت الهي وي ، او سترګي او خپې لاسونه دا به ئې يربړې ، خيتې ته حرام نه اچوي او دَ عورت خيال به ساتي، طالب جان كښې به خشيت وي ، درې صفات دَ طالب جان ذكر كوي ، سعي ، تواضع ، او مقصد پيژندل، نعبد كښې سعي ، نستعين عاجزي ، او په اهدنا الصراط المستقيم كښې مقصد پيژندل دې ، نو طالب به سعي او عاجزي كوي او مقصد به پيژني ۔

٤۔ مركز العلم كوم ځائې چې سبق وائي نو دَ هغه ځائې به احترام كوي

في بيوت اذن الله ان ترفع

سياست دَ فرعون دا وو چې ديني مركزونه به ئې ورانول، ابرهه هم ديني مركز ورانو، نو دَ مراكز دينيو به خيال ساتي ، او دَ دې حفاظت دَ پاره به دعاګاني كوې ، ديته چې كله كمپيوټر داخل شي نو دا بيا خرابيږي۔

٥۔ الكتاب نو دَ قرآن كريم احترام به كوې ، او دغه شان دَ قرآن كريم دَ متعلقاتو احترام ، دَ قلم كاپې وغيره ، او دغه شان رحيل ، دَ كتاب احترام دا هم دې چې هغه په ښي لاس كښې وي او پيزار وغيره په ګس لاس كښې ۔

ملا علي قاريؒ وائي چې

قد رأيت كثيرا من طلبة العلم الكتب في شمائلهم والنعال في ايمانهم فاما لجهلهم واما لتغافلهم ۔

# ۶- ادب

**ادب الاستماع والانصات ، قرآن کریم ته غوږ کینبودل او چهپ کیناستل ، سورة**

الاعراف ۲۰۴

﴿ وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥ وَأَنصِتُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ ﴾

سورة الاعراف 204

ترجمه : او کله چي لوستلي شي قرآن پس غوږ کیږدئ دي ته او چپ شي ﺩ پاره ﺩ دي چي په تاسو باندي رحم اوکړي شي.

**او په سورة ق ۳۷ کښي هم دا ادب ذکر کوي.**

﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى ٱلسَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ ﴾

سورة ق ۳۷

**ترجمه:**یقیناً په دي کښي خامخا نصیحت دي د هغه چا د پاره چه وي هغه له زړه او یا ږدي غوږ، او هغه حاضر وي.

﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا۟ عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ ﴾ سورة فرقان ۷۳

**ترجمه:** او هغه کسان دي چه کله نصیحت ورکړي شي په آیتونو د رب خپل نه پریوځي په هغوي باندي کاڼړ او ړانده.

﴿ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمْ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَـٰبِ ﴿١٨﴾ ﴾ سورة الزمر ۱۸

**ترجمه** : هغه کسان چه غوږ ږدي وینا ته نو تابعداري کوي د ډیر خائیسته د هغي دغه کسان هغه دي: چه هدایت ورته کړي دي الله: دغه کسان: هم دي خاوندان د عقل دي.

**یستمعون القول دي قرآن ته به غوږ اږدي ، او ترک المشاغل ، دا به نه وي چي کله**

Maktaba Tul Ishaat.com

جيب کښې ګوڼې وهي، او کله مسکالونه او میسیجونه، درس کښې ګوري،
شاه پور شيخ صاحب" به فرمائيل دَ طالب جان قبله يا استاذ دي او يا كتاب دي، دې
به نور څه ته نه متوجه کیږي، دَ دې وجه نه سعدي بابا وائي۔

چشم بند و گوش بند ولب بند
تا نيابي سر حق بر من بخند

سترګې بند کړه دَ فضولو کتلو نه، سترګي دې اوستاذ او کتاب ته متوجه کړه، بل څه
ته به نظر نه کوې، ځکه چې بل څه ته ګورې، نو زړه به دې هم بل طرفته متوجه وي،
ګوش بند، غوږونه دې بند کړه دَ فضولو خبرو اوریدلو نه، صرف قرآن به اورې
صرف،
لب بند، نورې خبرې به نه کوي، ګپ شپ به نه لګوې، دا خو سوچ اوکړه، چې مونږ
دَ چا کتاب ته ناست يو، الله خو مونږ ته ګوري،

## حفتهم الملائكة وذكرهم فيمن عنده

چاپیره درنه فرشتې وي نو چې دا اداب دې اختيار کړل، او بيا درته هم الله ملاو نه
شو، او دَ الله دَ میني حقيقت درته نصيب نه شو، نو بیا ما پورې اوخانده، دا چې مونږ
له فائده نه راکوي نو دا ځکه چې مونږ دَ ادابو خیال نه ساتو،

# ۵ - ادب التدبر

چې سرې سوچ کوي په عاقبت او انجام کښې چې زما نه دَ څه مطالبه ده؟ او دَ څه نه
مي منع کوي، او دَ څه ترغيب راکوي، نو دا تدبر دې، دَ نبي عليه السلام صفت په
حديث کښې بيانيږي، چې

" اذا مر بآية الرحمة نو سأل الرحمة "

او چې دَ عذاب آيت به وو نو پناه به ئې غوښتله، په البرهان کښې امام زرکشي"

فرمائي، چې

" تکره قرآءة القرآن بلا تدبر "

او امام نووي ذکر کوي،

" فالمطلوب من القرآن هو التدبر "

﴿ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٩﴾ ﴾ سورة ص ٢٩

ترجمه : دا کتاب راليږلي دي مونږ ده لره تا ته برکت والا دي دې دَ پاره چې دوې سوچ اوکړي په آيتونو دَ دې کتاب کښې او دې دَ پاره چې نصيحت ترې واخلي عقل مند خلق۔

حسن بصري فرمائي، چې

انما انزل القرآن للتدبر و جعلوه للتلاوة

حافظ ابن قيم وائي۔

تـــدبر القـــرآن ان رمـــت الهـــدي

فـــالعلم تحـــت تـــدبر القـــرآن

# ۶- ادب

التطهر من الانجاس الظاهرة و الباطنة، چې لا يمسه الا المطهرون، نو ظاهري طهارت بې دَ اودس نه لاس نښې اوړلې دغه شان حديث کښې راځي۔

" طَيِّبُوا أَفْوَاهَكُمْ بِالسِّوَاكِ، فَإِنَّهَا طُرُقُ الْقُرْآنِ "[1]

خلې خپلې صفا کړئ دا دَ قرآن کريم لارې دي۔

په کومه لاره چې بادشاه تيريږي، نو هغه لاره خلق صفا کوي، نو ښکار ده چې بنده

[1] شعب الايمان للبيهقي، فصل في السواك لقراءة القرآن۔

Maktaba Tul Ishaat.com

خله صفا کړي، او دَ باطني ګناهونو نه دې هم ځان ساتي ، چې سړې زړه دَ ګناه دَ محبت نه پاک کړي، په البرهان کښې امام زرکشي ؒ ذکرکوي ،

**" لو طهرت قلوبنا لما شبعت من تلاوة القرآن "**

که زړونه دَ ګناهونو نه پاک وې نو دا به نه مړېدل دَ قرآن دَ تلاوت نه ، قرآن پاک دې نو پاکي غواړي .

## ٧ - أدب

**الاجتناب عن التكبر** ، دَ تکبر نه ځان ساتل پکار دي په سورة الاعراف کښې الله رب العزت فرمائي .

﴿ سَأَصْرِفُ عَنْ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴿١٤٦﴾ ﴾

سورة الاعراف ۱۴۶

ترجمه : زر ده چې زه به واړوم دَ آيتونو خپلو نه هغه کسان چې تکبر کوي په زمکه کښې په ناحقه .

نو ځان عاجزه کړه ، ځان کښې عاجزي او نيمګړتيا پيدا کړه ،

تہی آ کہ پ شو پ آوی کے پ شوی

خالي راشه چې ډک شې او چې ډک راشې نو خه به ډک شې ، نو تکبر لوئي مانع دې ، ذاالنون مصري ؒ فرمائي .

**ابي الله ان يكرم قلوب البطالين بمكنون فهم القرآن**

الله تعالي دَ دې خبرې نه انکار کوي چې دَ باطل پرستو زړونه دَ قرآن په پټ رازونو باندې عزتمند کړي .

# ۸ - ادب

**الاجتناب عن حب الدنيا ، دَ دنيا دَ محبت نه ځان ساتل .**

﴿ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ ﴾ سورة الحجر : ۸۸

ترجمه : مه اوږدوه سترګی خپلي طرف دَ هغه مالونو ته چې مونږ پرې مزې ورکړې دي ، مختلفو قسمونو کافرانو ته د دوي نه او مه خفه کيږه په دوي باندې او ښکته کړه وزر خپل مومنانو ته .

ما درله قرآن درکړې دې نو اوس به دَ دنيا ګاډو او دَ دنيا موټرو او محلونو وغيره ته نه ګورې ، دغه شان صدارتونو او وزارتونو ته به نه ګورې ، سترګي به مړې کړې تاله الله لوئې دولت درکړې دې ،

ابوبکر صديق رضی الله عنه فرمائي .

" من أوتي القرآن فرءي ان احداً اوتي في الدنيا افضل مما اوتي فقد صغر عظيماً وعظم صغيراً "

چا له چې دَ قرآن کريم علم ورکړې شو او دهٔ اوکتل چې بل چا ته دَ دهٔ نه غوره څيز ورکړې شوې دي نو لوئې نعمت دَ الله ئې وړوکې اوګڼړو، او وړوکې ئې لوئې اوګڼړو، نو اصل توجه به قرآن ته کوې ، دَ دنيا دَ مفاداتو نه به ځان ساتې ،

هم خدا خواهی و هم دنیاے دون
ایں خیال است و محال است وجنون

هم الله غواړې او هم دنيا نو دا ليونتوب دې کنه ، **ما جعل الله لرجل من قلبين في جوفه** نو دنيا ته به توجه نه کوې ،

Maktaba Tul Ishaat.com

## ۹ - ادب

چې انقطاع دَ قرآن به نه کوې

### يكره قطع القرآن لمكالمة الناس

قرآن کريم به دَ چا دَ پاره نه کټ کوې.

## ۱۰- ادب

ويحرم توسده قرآن کريم ته ډډه لګول حرام دي، حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي چې توسد ډډه لګول قرآن کريم ته دا حرام دي ، دَ حديث مطلب ځنې عالمانو دا هم وئيلې دې چې قرآن کښې څه دي نو ديته ډډه مه لګوه يعني غفلت ترې مه کوه.

## ۱۱ - ادب

جعله علي کرسي قرآن په اوچت ځائې باندې کيښودل په زمکه کيښودل دا ئې بې ادبي ده.

## ۱۲- ادب

دا حرام دي چې قرآن ذريعه دَ حصول دَ دنيا اوګرځولې شي لوئې مقصد دې دَ قرآن چې هغه دي حصول دَ رضاء الهي ، او ته ئې په داسې ځائې کښې استعمالوې چې الله سره ئې هيڅ قدر نشته دې، نو ولې دَ قرآن ناقدري کوې ؟ حديث کښې راځي نبي عليه السلام فرمائي ،

" مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لِيَتَأَكَّلَ بِهِ النَّاسَ لَقِيَ اللهَ وَلَيْسَ عَلَى وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ. " [1]

الله به ئي عزتمند مخ ذليله كړي ځكه چي عزتمند قرآن ئي دَ ذليلي دنيا ذريعه كوځولي وه'.

## ۱۳- أدب

چي سړي درس قرآن ته راغي نو دې دي خپل اوقات دَ قرآن دَ پاره استعمال كړي ، او هغه داسي چي په درس كښې حاضري او په توجه سره اوريدل، ليكل او تكرار كول ، دا به لازمي وي ، خپل وخت دې نه ضائع كوي نور آداب ډير دي ، دا مسئله مستقل بالتصنيف ده ، مونږ دَ درس دَ پاره مختصر آداب ذكر كړل الله تعالي دې مونږ ته دَ عمل توفيق نصيب كړي.

[1] مصنف ابن ابي شيبة 5 جلد-

Maktaba Tul Ishaat.com

# دويم باب قرآن څه وائي ؟

## موضوع دَ قرآن

دا کوم اصول چي مونږ پنځو خبرو کښې رابند کړې وو نو دَ هغې نه يوه خبره چي قرآن کريم دَ الله کتاب دې ، دَ هغې وضاحت اوشو ، اوس دويمه خبره بيانوو چي قرآن کريم څه وائي ؟ يعني قرآن بحث دَ کومې مسئلې نه کوي ، دلته موضوع مقصد هم دغه دې چي چي مقصود بالبحث دې ، نور فن دَ قاطيغورياس ځان له زوتوه . نو قرآن چي اهمه مسئله بيانوي ، نو هغه سعادت دَ انسان دې او هغهٔ په توحيد دې .

ځما محبوب مربي او استاذ شيخ الاسلام علامه کابلګرامي رحمة الله الباري ، به فرمائيل چي موضوع دَ قرآن کريم انسان دې خو من حيث السعادة والشقاوة ، يعني نيک بختي دَ انسان په څه ده ؟ او بدبختي دَ انسان په څه ده ؟ ځکه هر څوک خپله مقصدي خبره په اول تقرير کښې ښکاره کوي، نو قرآن کريم هم خپله خبره په ښکاره کړې ده ،

﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝٣ ﴾

سورة العلق: ١ – ٣

ترجمه : اولوله (قرآن )په مدد دَ نوم دَ رب خپل، هغه ذات چي پيدا کړې ئې دې مخلوق، پيدا کړې ئې دې انسان دَ ټکړې دَ وينې نه ، اولوله هميشه ، او رب ستا ډير عزت والا .

## انسان څه شي دې ؟

دَ شيخ صاحب کابلګرامي رحمه الله تعالي دَ خبرې وضاحت دَ پاره ضروري ده چي مونږانسان اوپيژنو چې انسان څه شي دې ؟ انسان دَ غوخې او هډوکو ظاهري نوم ندې ، په دې غوخې او هډوکو کښې انسان دَ عامو ځناورو پشان دې دَ انسان حقيقت هغه

روح الهي دي كوم چي دَ برې نه راغلي دي ظاهري حيواني روح چي دي نو دا خاكي او عنصري دي دا ظاهري روح او زړه دا خو په حيواناتو كښې هم شته ، انسان ممتاز دي په روح الهي سره ، دا ظاهري بدن دَ روح الهي سورلي ده ، او خادم ئې دي ، الله تعالي دا روح الهي پدې كښې پيدا كړي دي چي په دې سره معرفت الهي حاصل كړي ، دا دَ انسان سعادت دي ، دا استعداد په روح الهي كښې دَ دې دَ پاره الله تعالي وسائل وركړي دي ، چي هغه حواس او عقل دي ۰ الله رب العزت داسې وائي ۰

﴿ وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾ ﴾ سورة النحل 78.

ترجمه : او الله راايستلي يئ تاسو دَ خيټو دَ ميندو نه ، چي نه پوهيدلئ تاسو په هيڅ خبرې اوګرځولي دي الله تاسو لره اوريدل او ستركي او زړونه كيديشي تاسو قدر وكړئ (يعني الله په دې اندامونو اوپيژنئ)

دا بدن دَ حواسو سورلي ده ، او حواس دَ عقل جاسوسان ، او عقل دَ روح الهي دَ حقيقي زړه ډيوه او چراغ دي چي دا پرې معرفت دَ الله اوكړي دا يئ دَ پيدائش مقصد دي ، ليعبدون ، نو دا ئې سعادت دي او چي الله تعالي او نهٔ پيژني نو دا ئې بدبختي ده ، دا حقيقي انسان دي ظاهري شكل نه دي ۰

گر بصورت آدمی انسان بدے
احمد و ابا جہل ہم یکسان بدے
ایں کہ ے بینی خلاف آدم اند
نیست آدم غلاف آدم اند

كه په ظاهري شكل انسانيت وي نو نبي عليه السلام او ابوجهل به يو شان وو ۰ دا چي كوم وينې چي دَ انسانيت نه خلاف روان دي ، نو دا انسانان نه دي صرف كسوره او

Maktaba Tul Ishaat.com

شكل دَ انسان دي.

دَ سورة العلق په اولنو آيتونو كښې هم دَ انسان ظاهري شكل بيا اكرام او سعادت ذكر كړي چې ظاهري صورت هيڅ شي نه دې په تعليم او قرآن مكرم او معزز شي.

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی
یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری

نو دَ انسان سعادت په توحيد وو، ځكه استاذان وائي چې موضوع دَ قرآن توحيد دي.

## دَ انبياء كرامو عليهم الصلوات والتسليمات

## اتفاقي مسئلې

انبياء كرام عليهم الصلوات والتسليمات چې راغلې وو نو هغوې چې مسئلې بيانولې نو هغه دوه قسمه وې.

## اول متفق عليها

۱. هغه وې چې هغه بدليدلې او رابدليدلې نه، متفق عليها دي، چې دَ ټولو انبياء كرامو په هغې باندې اتفاق وو، او دَ ټولو هغه يوه خبره وه، او دَ ټولو دسخط شده خبره وه، او د

## مختلفة فيها

۲. هغه چې په وخت وخت سره به بدليدې رابدليدلې، دَ كلمې دوه جزه دي، يو لا اله الا الله، او وريسې دَ دې كلمې دَ معلم، او دَ تعليم انداز نو دا اولنې جز دكلمې په هيڅ يو دين كښې او دَ هيڅ يو پيغمبر په وحي او كتاب كښې نه دې بدل شوې، دا دَ ټولو متفقه مسئله وه، او دا ئې پروګرام وو، خو دويم جز ښودونكې او دَ ښودلو انداز به بدليدو دَ خلقو مطابق تر جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم پورې، كله نوح نبي

الله، كله آدم صفي الله ، كله ابراهيم خليل الله ، كله موسي كليم الله ، كله عيسي روح الله دا به بدليدل دَ دې وجې نه نبي عليه السلام فرمائي -

وَالْأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ لِعَلَّاتٍ، أُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ [1]

انبياء كرام علاتي رونړه دي دَ دوې ميندې (فروغ) جدا جدا دي ، او دين يعني اصول هغهٔ ئي يو دې - چې مونږ علاتي رونړه يو، زمونږ اصول يو دي يعني اصل مو يو دې ، او فروع چې دي دَ تعظيم طريقې نو هغه بدليږې رابدليږې -

## مقاصد ثمانيه

نو دَ قرآن مقصد هغه اتفاقيات بيانول دي ، هغه امور متفقه نو هغه خبرې چې دَ تولو انبياء كرامو يو وې ، او بدل شوي نه وې، نو هغه اته خبرې دي ، اولني خبره ،

اصول ححه سو ابق

١- التوحيد تعارف الهي الله پيژندل ، دَ هغه دَ شان مناسب ،

٢- خبره صداقة الكتاب دَ دې مسئلې دَ توحيد حواله پيژندل ، چې دا مسئله دَ كوم كتاب په حواله كيږې نو دَ هغې صداقت ،

٣- صداقة الرسول ، دَ توحيد معلم او استاذ پيژندل ،

٤- الايمان بالآخرة ، چې دا تولې خبرې دَ آخرت په يقين اوشي ، بعث بعد الموت ،

٥- الجهاد في سبيل الله ، دَ دې مسئلې دَ پاره انتهائي كوشش او كړاو كول-

اصول عمه لواحق

٦- الانفاق في سبيل الله ، دَ دې مسئلو دَ پاره مال جان او وخت لگول ،

٧- التنظيم ، دې مسئلو ته يو كيدل دَ دې دَ خدمت دَ پاره يو موټي كيدل، او

٨- الاداب ، دَ دې مسئلو او په تنظيم كښې دَ مشر او دَ كشر خيال ، او ادب كول ، دا اته مسائل دي، دا هم تولو پيغمبرانو بيان كړي دي، او هم تولو اسماني كتابونو بيان

[1] صحيح البخاري : باب قول الله واذكر في الكتاب مريم-

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي دي، قرآن دا بیانوي او دَ دې لړ تفصیل کوي ، او دَ دې ټولو مسئلو رجعه هغه دې یوې خبرې ته کیږي، چې هغه ده مسئلة التوحید،

# فصل اول

## التوحيد

دا نورې ټولې مسئلې دَ توحید دَ ترقې او دَ خدمت دَ پاره دي، چې توحید به څنګه ښکاره شي ، او په عالم کښې به څنګه ترقي اوکړي ؟ نو دا نورې مسئلې دا دَ توحید پاره دي، نو دَ قرآن موضوع شیوخ کرام وائي چې هغه التوحید دَ الله تعارف الله پیژندل ، دَ الله دَ شان مناسب ، او دا نورې مسئلې دَ دې خدمت کوي،

زما محبوب استاذ شیخ التفسیر علامه مفتي محمد حسین نیلوي رحمه الله به فرمائیل دَ قرآن موضوع ده التوحید وما یتبعه ، چې مسئله دَ توحید دَ قرآن مرکزي مسئله ده ، او مرکزي دعوت ئې دې ، او هغه څیزونه چې دَ توحید تابع دي، نو دا دَ قرآن موضوع او مقصد دې ، او اصل مضمون ئې دې،

امام ابن قیم رحمه الله ذکرکوي په مدارج السالکین کښې چې

بل نقول قولاً كلياً ان كل آية في القرآن فهي متضمنة للتوحيد او شاهدة به او داعية اليه [1]

" بلکه مونږه یو اټله خبره کوو چې دَ قرآن هر آیت کریمه هغۀ په توحید مشتمل دي یا دَ هغې ګواه او یا ورته دعوت ورکوي "

یعني څه به پکښې دَ توحید خاڅا وي، یا به پرې شاهد او یا به توحید ته داعي وي، یعني یا به په توحید باندې شهادت کوي ، او یابه توحید ته دعوت ورکوي .

---

[1] (مدارج السالكين)

فالقرآن كله في التوحيد وحقوق اهله وثناءه وفي شأن ذم الشرك وعقوق اهله [1]

ان القرآن ما نزل الا لتقرير التوحيد [2]

چې قرآن دَ توحيد دَ ثابتولو دَ پاره نازل شوي دي، او په قرآن كښې هم وائي چې زه دَ دې مسئلې دَ پاره راغلې يم -

﴿هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٢﴾﴾ سورة إبراهيم: ٥٢

**ترجمه** : دا قرآن رسول دې خلقو ته، او دَ دې دَ پاره چې اويرولې شي په دې سره خلقو له، او دَ دې دَ پاره چې پوهه شي خلق چې يقيناً الله تعالى حقدار دَ بندګۍ دې يو دې ، او دَ دې دَ پاره چې نصيحت واخلي صاف عقل والا -

﴿الٓر ۚ كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ﴿١﴾ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۚ إِنَّنِى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ﴿٢﴾﴾ سورة هود 1-2

ترجمه: دا كتاب دې چه د حكمت نه ډک شوي ايتونه د دې: بيا تفصيل كړې شوې دي له طرفه د حكمت والا دې او خبر دار دې:چه عبادت مه كوئ سوا د الله تعالى نه: يقيناً زه تاسو له د هغه طرف نه: ويرونكي او زير وركونكي يم:

او دا په دې مسئله باندې راغلې دې چې الا تعبدوا الا الله -

امام رازي په دې ځائې وائي ، چې معلومه شوه چې مقصود دَ دې قرآن نه دا حرف دې .

هذا التاويل يدل علي انه لا مقصود من هذا الكتاب الشريف الا

---

[1] (شرح فقه الاكبر للملا علي القاري)

[2] (مرقات شرح مشكوة) -

Maktaba Tul Ishaat.com

## هذا الحرف الواحد [1]

چې صرف او صرف دَ الله بندګي اوکړي، او عبادت نوم دَ توحيد دي ، ابن عباس رضي الله عنه فرمائي ، چې کوم ځائي په قرآن کښې عبادت راشي ، نو توحيد في العبادة به ترې مراد وي، نفس عبادت خو ابوجهل هم کوو، دغه شان عتبه ، او شيبة ، هم کولو خو توحيد في العبادة ئې نه کولو صرف يو الله له ئې عبادت نه کولو.

﴿ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُواْ لَكُمْ فَاعْلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلْمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ

سورة هود ۱۶

ترجمه: پس که جرې قبولنيا او نکړه دوي تاسو له : پس پوهه شئ چه يقيناً نازل شوېدې په علم د الله تعالى سره: او نشته مدد ګار سوا د هغه نه: پس آيا تاسو حکم منونکې ئې؟

نو پوهه شي چې قرآن په دې مسئله باندې راغلې دې، چې ان لا اله الا هو، نو ټول قرآن دَ دې مسئلې خدمت کوي، او ټول مضامين دَ قرآن کريم دَ دې خادمان دي .

﴿ ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ ﴾

سورة الانعام 106.

ترجمه: تابع شه د هغه کتاب چه وحي کولې شي تاته ، د طرفه د رب ستا نه،نشته دې لائق د عبادت مګرصرف يو الله دې، او مخ واړوه د شرک کونکو نه .

نو ما اوحي څه شي دې ؟ نو هغه ده مسئله دَ لا اله الا الله ، چې نشته دې دَ عبادت مستحق مګر صرف يو الله دې ، دَ تعظيم الهي صفتونه صرف په الله کښې دي ، په بل چا کښې نشته دي، نو دې مسئلې دَ پاره قرآن راغلې دې، چې التوحيد، قرآن په دې مسئلې سره دَ انسان نه انسان جوړوي، او انسان دَ الله دربار ته رسوي، چې دا نه وي نو انسان انسان نه دې، صرف صورت دَ انسان دې .

---

[1] (تفسير كبير للرازي)

قرآن انسان ته انسانيت ښائي ، او دَ توحيد په ذريعه دَ دې انسانيت برقرار وي نو اول مخاطب دَ قرآن هغه انسان دې، او تبعاً ورسره جنات هم مخاطب دي، دَ انسان سعادت او شقاوت هم دَ توحيد په ذريعه باندې دې، دَ توحيد په ذريعه باندې انسان کامران شي، او دَ عزت په بام باندې اوخيژي، او چې توحيد او نه مني ، نو دَ ذلت په کنده کښې راګذار شي ، نوتباه او برباد شي.

﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ ﴾ سورة الحج 21.

ترجمه : او هغه څوک چې شرک اوکړي الله سره نو ګويا چې هغه راپريوتو دَ آسمان نه نو اوتښتوو هغه لره مارغانو يا راوغورځوو هغه لره هوا په يو ځائې ډير لرې کښې.

نو اکرام دَ انسان په توحيد دې ـ نو اصل مقصد دَ قرآن کريم هغه توحيد شو، او دا نور مسائل دا دَ توحيد خادمان دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

# دَ وما يتبعه وضاحت او ربط بين المقاصد الثمانية

اته مسئلې اتفاقي وي، دَ هغې اصل او محور هغه توحيد دې، او دا نورې مسئلې دَ هغې خدمت کوي، نو اوس دا ذکرکوو چې دا نورې مسئلې دَ توحيد خدمت څنګه کوي، نو هغه داسې چې اصل مقصود هغه تعارف الهي دې الله پیژندل دَ الله دَ شان مناسب ، دا مسئله به مونږ څنګه پیژنو؟ او کوم ځائې نه به مونږ ته دَ دې پته لګي ؟
نو الله په هر دور کښې دَ هغې دَ پاره يو کتاب رالیږلې دې، هغه دَ پاک الله کتاب دې ، نو پاک دې، ځکه چې دَ پاک ذات له طرفنه دې، نو په هغې باندې هر څوک نه پوهیږي، تر څو چې معلم دَ هغې نه وي نو الله په هر دور کښې دَ خپل کتاب سره معلم رالیږلې ، نو صداقة الرسول ، او دا درې واړه مسئلې چې دَ آخرت په رڼړا کښې اوشي، نو منل ئې اسان شي او نه منل ئې ګران شي، او په آخرت کښې به کامیاب شي او دَ رسوائې نه به بچ شي ، نو دا خو اهم مسائل وو داسې نه چې تا ځان له زده کړو او بيا په کوټ کښې کینه، دا دَ کوټ مسئلې نه دي، نو دا مسئلې به راواخلې او دا به نورو نه بیانوې، چې ډير شي او دعوت دَ دې مسئلو عام شي، نو دې له خواري او محنت اوکړه، او که څوک مقابل راځي نو خانده ورسره مه ، او مقابله ورسره اوکړه، نو الجهاد ،

او دا نه چې ګرځي او مسئلې خوروې، نو دا خو بغير دَ خرچ نه نه کيږي نو مال به لګوې نو الانفاق ، او دا نه چې مال لګوې او ځان ځان له ئې نو فائده ئې نه وي او دومره اثر نه کوي نو يو موتي شېئ چې آواز مو اثر اوکړي، نو التنظيم ، نو چې متحد شوې نو څه به کشران وي او څه به مشران نو کشر دې دَ مشر او مشر دې دَ کشر لحاظ او ادب کوي، نو الاداب - نو دا يوې طريقه سره ربط شو چې ربط دې ياد وي نو نو آيتونه به اسان وي ، نو اوس دا به خو په يو ترتيب نه راځي کله به دَ انفاق مسئله ځکښې ، توحيد وریسې يا دَ آخرت وغيره ، نو دَ بل طرف نه هم ربط ياد کړه چې دَ

آيتونو ربط درته اسان شي۔
نو دَ دې بل طرف نه ئې واورې ، دَ يو بل دَ ادابو خيال اوساتې ، او دَ احكاماتو خيال ساتې ، چې تنظيم مو ترقي اوكړي، او چې تنظيم مو ترقي اوكړي ، نو فنډ به مضبوط شي ، نو جهاد به درته اسان شي، او جهاد كښې خو ځان او يا بل شيندل وي، وينې تويول دي ، نو دا بغير دَ آخرت دَ يقين نه نه كيږي، نو په آخرت باندې يقين اوساتې ، نو چې په دې باندې مو يقين راغې ، نو پيغمبر منل او دَ قرآن منل ، او دارنګه توحيد منل دَ آخرت دَ لارې توخه ده نو دا ځان سره واخله۔

# السوابق واللواحق

نو اصل څلور مسئلې وې، دې اولنو څلورو مسئلو ته سوابق وائي، او روستنو څلورو مسئلو ته لواحق وائي
دويمه دا هم ده چې اولنو څلورو مسئلو ته اصول مهمه وائي ضروري او اهمې مسئلې او روستنو څلورو مسئلو ته اصول ممده وائي ، خدمتګارې مسئلې، نو مقاصد ثمانية دي، اولنو څلورو ته پكښې مقاصد اربعه عاليه وائي، او روستنو څلورو ته ممدات وائي ، اوس په دې مقاصد ثمانيه موږ لګ كلام كوو، دَ پيژندګلو دَ پاره ، چې قرآن كريم دا په كوم انداز سره بيانوي ،چې موږ ته آيت مخې ته راځي او پته راته لګي ، چې ديكښې دا مسئله ده ، نو تفصيل دَ اولنې مسئلې۔

# ۱- مسئله دَ توحيد

پديكښې دَ علم كلام والو اختلاف دې ، چې اولنې فريضه په انسان دَ طرفه دَ الله نه څه ده ؟ څنې وائي چې معرفت الهي دَ الله پيژندل ، او څنې وائي چې دَ دې دَ پاره طلب اولنې فريضه ده خو تطبيق دا دې ، چې په مقاصدو كښې اولنې فريضه معرفت الهي او په وسائلو كښې اولنې فريضه هغه طلب دَ دليل دې ، نو په انسانانو باندې اولنې

Maktaba Tul Ishaat.com

فریضه هغه معرفة الهي دې ، مونځ اولنۍ فریضه ده خو په مسلمانانو باندې ده ، الله دَ
الله دَ شان مناسب پیژندل دا دَ ټولو فریضه ده ، چې هر انسان به الله پیژني ، دَ دې دَ
پاره به محنت کړاو او کوشش کوي ، عقل به استعمالوي چې الله اوپیژني، صرف الله
الله وئیل فرض نه دي، بلکه الله پیژندل پرې فرض دي، یعني چې دې خپله الله داسې
او پیژني څنګه چې الله وئیلي دي، که یو سړي ته اووائې چې الله شته ؟ او هغه درته
اووائي چې الله شته دې ، او ته ورته اووائې ، چې تاته څه پته ده ؟ چې الله شته دې ؟
او هغه درته اووائي چې دا استاجي وائي نو دغه سړې لا الله نه دې پیژندلې، دا ئې
خوصرف الله وئیلي دې ، او که ته ورته اووائي چې الله سره څوک شریک شته دې ؟
او هغه اووائي نشته دې استاجي داسې وئیلي دي نو دا خو ده لا الله نه دې پیژندلې ، دا
ځان له مسئله ده چې تقلیدي ایمان معتبر دې او که نه دې ،
دَ امام رازيؒ دې ډله وائي چې تقلیدي ایمان نه دې معتبر، هغه وائي داسې کس کښې
هډو ایمان نشته دې ځکه چې ایمان خو دَ تصدیق قلبي نوم دې، او دې خو په خله
باندې وائي چې الله شته دې ، زړه ته ئې لا خبره نه ده کوزه شوې ، دې خو وائي چې
استاجي داسې وئیلي دي ، ده خو دَ بل په خله باندې الله موجود اوګڼړو، او ځنې وائي
چې دا تقلیدي ایمان به لګ معتبر کړو، دوې لکه ګذاري کوي چې بس خبره ئې لکه
زده کړه، چې استاجي وئیلي دي چې الله شته دې، نو اوس ئې زده کړه او زړه ته به ئې
کوزه کړي، نو معرفة دَ الله چې الله شته دې، او په ذات او صفاتو کښې یو دې، دا په
هر انسان باندې فرض دي،

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾سورة الذاريات ٥٦

ترجمه ـ او نه مې دي پیدا کړي پیریان او انسانان مګر دې له چې زما بندګي اوکړي
.

تفاسیر اوګورې په لیعبدون باندې، چې انسان پیدا دَ عبادت دَ پاره دې، نو چې لا
پیژندلې ئې نه دې ، نو عبادت به ئې څنګه اوکړي ؟ او چې اوپیژندو دې او عبادت ئې
نه کوي، نو دَ دې پیژندو مقصد څه دې ؟ پښتانه وائي ،

دَ داسې ليدلو نه ، نه ليدل بـه وو

نو چې عبادت ئې نه کوي نو دَ داسې معرفت نه ، نه معرفت بـه وو، نو عبادت بغير دَ معرفت نه نه كيږي.

لام تعليل يعبدون را واو

ياكلون را نكرو قطعاً ياد

نو انسانه ستا دَ پيدائش مقصد عبادت وو، لام دَ تعليل ئې په عبادت داخل كړې دې ، خيټه ډكول تشول، خو ستا دَ ژوند مقصد نه وو، نن انسان په خوراكونو كښې الله هير كړو، (بكسر الخاء او بضم الخاء ) په ديكښې ئې الله هير كړو، ځكه خو وائي ،

يا خادم البطن كـم تسـعي لخدمتـه

تطلب الـربح فيمـا فيـه خسـران

واه دَ خيټې نوكره تر كومه پورې به دَ خيټې خدمت كوې ، ته خو ګټه لټوې په هغه څه كښې چې په هغې كښې سراسر تاوان دې.

چې كوم څه دې خوړلي دي نو دَ هغې نه به بيا خپله پوزه پټوې ، نو دَ انسان دَ ژوند مقصد هغه دَ الله پيژندل دي، او دَ قرآن په اصطلاح كښې ديته توحيد وائي

ځكه چې دا دَ معرفت طريقه ده ، په دې سره به الله پيژندلې شي، ځكه چې معرفت به دَ اسماني وحي مطابق وي، پخپل سوچ باندې دَ معرفت دارومدار نه دې ، دَ دې وجې نه الله دَ خپل معرفت طريقه مقرره كړې ده ،

نو دَ الله دَ معرفت يو لاره ده ، اوس كه ته صوابي ته ځې ، او دَ منكورې په ګاډې كښې كينې نو سترې به هم شې او مقصد ته به هم او نه رسې

ترسم نه رسی بکعبہ اے اعرابی

کین راہ کہ تو مے روی بہ ترکستان است

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دَ الله دَ معرفت لار الله تعالي خپله ښودلې ده ، قرآن ئې دَ خپل معرفت دَ پاره رانيزلې دې او ځان ئې ښودلې دې ، ځکه وائې ،

خذ عقيدتک من القرآن

او نبي عليه السلام به هم فرمائيل چې

اللهم لا احصي ثناء عليك انت كما اثنيت علي نفسك

زه ستا صفت داسې نشم کولې ته خو داسې ئې لکه تا چې دَ ځان صفت کړې دې ، نو قرآن الله ته ښودلې دې ، فقهاء کرام هم دَ کتاب الطهارة نه شروع کوي ، ځکه عقيده قرآن پوره بيان کړې ده ، ايمانيات قرآن بيان کړې دې .

## تعريف التوحيد

اوس دَ توحيد معني کوو او تعريف ئې ذکر کوو، نه هغه توحيد دې ، توحيد دَ باب تفعيل مصدر دې ، وحّد يوحّد توحيداً ، صراح ئې معني کوي

يکے دانستن نہ يکے بودن

يو منل ، دا نه چې يو وئيل، چې ځنې دَ توحيد معني دا ده ،چې" هو" وئيل چې په خله باندې صرف دا وې چې الله يو دې ، نه بلکه دَ الله يو کيدل نا، بلکه الله يو منل ، دا نه چې بيا په درګاهونو کښې بوتې بويوې ،

دَ عقائدو عالمان معني دَ توحيد کوي، په شرح العقائد کښې علامه تفتازانيؒ معني کوي .

" هو اعتقاد عدم الشريک في الالوهية وخواصها"

دَ زړه نه دا عقيده لرل چې الله په ذات او صفاتو کښې يودې ، يعني

ليست كذاته ذات ولا كصفته صفة

نو دا دَ زړه نه منل دا توحيد دې ، په لسان العرب کښې هم دا معني کوي، چې

## التوحيد ايمان بالله تعالي وحده لا شريک له

په الله باندې ايمان لرل په داسې حال کښې ، چې الله ايکې يو دې، او لا شريک له ، اوګڼړلې شي؛ نو يو الله منل ديته توحيد وئيلې شي ، نو دَ دې تعريفونو نه معلومه شوه چې الله ته يو وئيل ديته توحيد نه وائي بلکه الله په ذات او صفات کښې يو ګڼړلو او منلو ته توحيد وائي.

﴿ فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ ﴿١٩﴾ ﴾سورة محمد 19.

ترجمه . نو پوهه شه په دې خبره چې نشته دې بل دَ عبادت او بندګۍ لائق بې دَ الله تعالي نه او بخښنه غواړه دَ خپل بوج دې او دَ مومنانو سړو او ښځو له او الله پوهيږي په ځائې دَ اوريدو ستاسو او په ځائې دَ پاتې کيدلو ستاسو.

﴿ هَٰذَا بَلَاغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴾

سورة ابراهيم ٥٢

ترجمه: دا قرآن رسؤلو والا دې د پاره د خلقو: او چه اويرؤلې شي دوې په دې قرآن او چه پوهه شي چه يقيناً الله تعالي يو دې او چه پند حاصل کړي خاوندان د خالصو عقلونو:

مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ»[1]

چا چې دا کلمه اووئيله داسې حال کښې چې دَ زړه نه کلک يقين کونکې وو په دې باندې، نو دې به جنت ته داخليږي،

نو په دې باندې پوهيدل ضروري دي، چې لا اله الا الله ، داسې پوهيدل چې زړه دې پرې اوبه اوڅکي، دا نه چې دا صرف زوتوئ لکه دَ زميدار کاکا دَ طوطي پشان ،

نو کله مونږ معني کوو الله الصمد خو په معني باندې ئې نه پوهيږو، چې الله بې نيازه

[1] سنن ابي داود : باب في التلقين.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي ، او بل طرفته ئې بې شماره نازولې منلې دي، نو دا ځکه چې په معنې باندې ئې نه پوهيږي، نو په دې باندې به ځان پوهه کوو، نو لا اله الا الله په خپله مورنې ژبه کښې زده کوو، او ځان به ئې په مقصد پوهه کوو، او که داسې نه وي ، نو هسې طوطيان به يو، دې وجه نه شيخ عبد القادرجيلاني" محبوب سبحاني فرمائي ۰

قل الله اکبر الف مرة بقلبک ومرة بلسانک اما تستحي ان تقول لا اله الا الله ولک الف معبود غيره [1]

وائي چې په زړه سره زر کرته الله اکبر وايه ، او په ژبه ئې يو ځل دَ اقرار دَ پاره کافې دي آيا ته شرميږې نه چې ته لا اله الا الله وائې او ستا دَ پاره زر معبودان نور دي، داسې نه چې په ژبه الله اکبر الله اکبر کوې او په زړه کښې دې دَ پارټې ليډر غټ وي،او دَ هغه هره خبره اورې او الله ورته پريږدې ، نو غرق شې ، تا دَ الله نه روتې لويه اوګنړله ۰ پير بابا ذکر کوي ، چې

محرد کلمه گفتن بدون علم وعمل بمقتضا آن فائده نه مي دهد [2]

صرف په خله کلمه وئيل بې دَ علم او دَ عمل نه په مقتضي دَ کلمې دا فائده نه ورکوي، حافظ ابن تيميه" ذکر کوي ۔

محرد اتيان بلفظ الشهادة من غير علم بمعناها ولا عمل بمقتضاها لا يکون به المکلف مسلماً بل هو حجة علي ابن آدم ۔ [3]

ترجمه ۔ صرف کلمه دَ شهادت وئيل په خله باندې بغير دَ هغې دَ معنې دَ پوهې نه ، او دَ هغې دَ مطالبې پوره کولو نه بغير په دې باندې مکلف انسان مسلمان کيدلې نشي بلکه

---

[1] (الفتح الرباني )

[2] (تذکرة الابرار والاشرار)

[3] غاية الاماني في الرد علي النبهاني

دا دَ الله تعالي دليل دي په بني آدم باندي"
چي په خله دي وئيله او زړه ته دي كوزوله نه، نو الله تعالي به ئي پرې نيسي . نو فكر پكار دي چي سړې په مقصد دَ كلمې باندې خان پوهه كړي نو دَ كلمي مقصد دا وو چي الله په ذات او په صفاتو كښې يو اوګڼړلي شي، چي ليست كذاته ذات ولا كصفته صفة

دا دَ توحيد حقيقت دي مطلب دا چي الله تعالي په ذات كښې هم يو دې داسې ذات بل نشته دي ،
لكه مجوس چي دوه خدايان مني ، او نه دَ الله دَ صفت په شان دَ چا صفت شته دي ،
لكه مشركان چي دَ الله صفت بل له وركوي .

سلب الشـــريك مـــع الظهيـــر مـــع ☐ الشـــفيع بدون إذن الخـــالق الـــديان
شريـــک مـــددګار او بـــې اذنــــه ســـفارشي دَ اختيارمند بدلي وركونكي ذات نه نفي كول

وكذاك سلب الزوج والولـــد الـــذي نـــسبوا إليـــه عابـــدو الصـــلبان
دغـــه شـــان بي بي او بچـــي نـــفي كـــول لكـــه چي دَ صـــليب بنـــدګي كونكـــو كړي دي

وكذاك نفي الكفـء أيضـــا والـــولي لنا ســـوى الـــرحمن ذي الغفـــران
دغـــه شـــان دَ الله برابـــر نـــفي كـــول زمونږ دَ پاره سيوا دَ مهربان او بخښنه كونكي ذات نه

والأول التنزيـــــه للـــــرحمن عـــــن وصف العيوب وكـــل ذي نقصـــان
اول پــــاكي بيــــانول دَ مهربانــــه بادشــــاه دَ هـــر قـــسمه عيـــب او نقصـــان نـــه

كالموت والإعيـــاء والتعـــب الـــذي ينفـــي اقتـــدار الخـــالق الـــديان
لكـــه مـــرګ ، ســـتړي كيـــدل هغـــه چـــي هغـــې سره دَ الله قـــدرت نـــفي كيـــږي

والنـــوم والســـنة التـــي هـــي أصله وغروب شيء عنه في الأكـــوان
او خـــوب او پرقـــالي چـــي دَ خـــوب اصل دي او غائب كيدل دَ يو څيز په عالمونو كښې

وكذلك العبث الذي تنفيـــه حكمتـــه التـــي حمـــد الله ذي الإتقـــان
او دغه شان عبث كار كول دَ الله نه نفي كول ځكه چي دي سره دَ الله صفت دَ حكمت نفي كيږي

وكـــذاك تـــرك الخلـــق إهمـــالا سدى لا يبعثـــون إلـــى معـــاد ثـــان
او دغـــه شـــان مخلـــوق بـــې كاره پريښـــودل چي بيا به نه راپورته كيږي دا هم دَ الله نـه نفي كول.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ئې دَ توحيد بيان کړې دي چې کمالات هغه له ونيل او عيوب نقصاناتو شريکانو وزيرانو سفارشيانو بې اجازته نه پاک ګنړل ، دا هم توحيد دې - يعني توحيد او تسبيح يو ځائې کول دَ هغه پشان ځوک نشته دې او هغه دَ چا پشان نه دې دا توحيد دې مختصر٠

# اقسام التوحيد

## 1. توحيد في الذات

يعني دَ الله تعالي پشان بل الله نشته٠ دويم

## 2. توحيد في الصفات

الله تعالي دَ کمالي صفاتو خاوند دې او په خپلو صفاتو کښې تن تنها دې ، لکه علم غيب ، تصرف ، خلق ، وغيره ، نورو صفاتو کښې الله تعالي يو ګنړل٠

## 3. توحيد في الافعال ،

الله تعالي کارونه کوي ژوندي کول مړه کول ، عزت ذلت ورکول روزي ورکول داسې نور کارونه څوک نشي کولې٠

## 4. توحيد في الاسماء

دَ الله تعالي اسماء حسني دي په هغه به هغه اطلاق کوې ، دَ ځان نه به الله لره نومونه نه جوړوې البته په خپله ژبه کښې دَ اسماء حُسني ترجمه کول ، لکه پالونکې ، فيصله کونکې دا جائز دي ، يوې ژبې والا دَ الله دَ پاره په خپله ژبه کښې نوم منتخب کړې په بل چا ئې اطلاق کفر ګنړي لکه ترکيان ، تنکري ، هندوان ، بهګوان ، انګلش والا ګاډ ، پښتو اردو ، فارسي والا خدا وائي نو دا الحاد نه دي البته ذکر او عبادت کښې به دغه نوم نه اخلي٠

# درجات دَ توحيد

شاه ولي الله رحمه الله حجة الله البالغة كښي دَ توحيد څلور مراتب او درجات ذکر کوي.

دَ توحيد ټول څلور مراتب دي .

واعلم ان للتوحيد اربع مراتب [1]

پوهه شه چې دَ توحيد څلور مرتبې دي ـ

## درجه اولى

توحيد في وجوب الوجود يعني وجوب الوجود او قدم دَ الله تعالي سره مختص منل دَ الله تعالي نه علاوه بل چا له وجود هم نشته دې ، او دَ عدم نه هم پاک نه دې،دَ الله تعالي او دَ هغهٔ صفاتو نه علاوه چې څه دي نو هغه ممکن فاني او حادث دي ، يعني اول هم نيش وو او بيا به هم نيش کيږي ، او دَ الله وجود داسې دې چې نه پرې مخکښې عدم وو او نه به پرې بيا عدم راځي ، دَ توحيد دَ دې درجې مقابل کښې شرک في وجوب الوجود دې يعني دَ الله تعالي دا قسمه صفت بل چاله ورکول ـ

احدها حصر وجوب الوجود فيه تعالي فلا يكون غيره واجباً [2]

اولنۍ درجه دا ده چې صفت دَ وجوب الوجود الله تعالي سره خاص کول او دَ الله تعالي نه علاوه بل څوک واجب نشي کيدلې ـ

﴿وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾﴾ القصص: ٨٨

---

[1] حجة الله البالغة ج 1 ص 119 .

[2] حجة الله البالغة ج 1 ص 119 .

Maktaba Tul Ishaat.com

**ترجمه** : او مه رابله سره دَ الله نه کارساز بل نشته مددګار مګر هغه هر شئ هلاکيدونکي دي مګر ذات ده الله ، خاص هغه له اختيار دي او خاص هغه ته به واپس کړې شي۔

دَ الله تعالي نه علاوه هر څيز فنا کيدونکې دې۔

**فان ما عداه كائنا ما كان ممكن في حد ذاته عرضة للهلاك والعدم** [1]

دَ الله نه علاوه چې څه دي نو په خپل ذات کښې ممکن دې او فنا کيدونکې دې۔

﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝٢٦ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ۝٢٧ ﴾ الرحمن: 27

**ترجمه** : ټول هر هغه څوک چې په زمکه دي نو هغه فنا کيدونکي دي او پاتې به وي ذات دَ رب ستا چې خاوند دَ لوئي او عزت دې۔

﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا ۝١ ﴾ الإنسان: ١

**ترجمه** : يقيني ده چې په انسان داسې وخت هم راغلې دې چې دَ ده نوم نشان هم نه وو۔

حديث کښې هم راځي۔

**قَالُوا: جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ هَذَا الأَمْرِ؟ قَالَ: «كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرُهُ»** [2]

**دوې اوونيل چې مونږ ستا خدمت کښې حاضر شوي يو چې دَ دې خبرې باره کښې تپوس اوکړو، نبي عليه السلام اوفرمائيل چې په (ابتدا کښې ) دَ الله وجود وو او بل هيڅ څيز هم نه وو۔**

**حاصل دا چې دَ الله تعالي نه سيوا څه دي نو دا فنا کيدونکي او ختميدونکي دي ټول**

---

[1] تفسير ابو السعود۔

[2] صحيح البخاري : باب ( وقال عرشه علي الماء )۔

څيزونه چې څه دي نو حادث دي ، باقي او قديم صرف الله تعالي دې ـ

## دويمه درجه

توحيد في الخالقية " والثانية حصر خلق العرش والسموات والارض وسائر الجواهر فيه لله تعالي [1]

دويمه مرتبه دَ توحيد هغه خالق او پيداكونكي د عرش او دَ اسمانونو او دَ زمكې او دَ تمامو جواهرو صرف الله تعالي دې ـ يعني دَ ټولو څيزونو خالق صرف او صرف الله تعالي دې ، دَ الله نه علاوه څه مخلوق چې دي نو هغه نه ذاتي طور سره او نه په عطائي طور سره خالقان دي ټول مخلوق دي دَ دې په مقابله كښې شرك في الخالقية دې ، دَ الله نه علاوه مخلوق په ذاتي طور يا عطائي طور بغير دَ اسبابو نه خالق منل دا شرك دې ـ

﴿أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٥٤﴾ الأعراف: ٥٤

**ترجمه** : خبردار صرف هغه الله تعالي له پيدائش او اختيار دې.

﴿ --- قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ۝١٦﴾ الرعد: ١٦

**ترجمه** : ورته اووايه چې الله پيدا كونكي دې دَ هر يو څيز او هغه دې الله ايک يو او زورور ـ

مخلوق ته چې كوم ځائې دَ خلق نسبت شوې دې ، نو هغه په معني دَ صنع يعني جوړخت دې او بل دَ ايجاد دَ اسبابو دَ لاندې لكه

اني اخلق لكم ، يا احسن الخالقين ـ نو دَ دې معني دَ جوړولو ده ـ

---

[1] حجة الله البالغة ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

## دریمه درجه

" توحيد في التصرف والتدبير"

والثالثة حصر تدبير السموات والارض وما بينهما فيه، لله تعالى[1]

دريمه مرتبه دَ اسمان او زمکې او دَ دې په مينځ کښې چې څه دي نو دَ دې ټولو تصرف صرف الله تعالي له منل ـ

مطلب دا چې دَ ټولو څيزونو اختيار او تصرف صرف الله تعالي له منل ، د الله تعالي نه علاوه بغير دَ اسبابو هيڅ مخلوق نه کلياً او نه جزئياً او نه ذاتاً او نه عطاءً متصرف منل، دَ دې مقابله کښې شرک في التصرف والتدبير دي ، چې بل مخلوق له دا صفت ورکړې ـ

﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ إِذْنِهِۦ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

سورة يونس ٣

**ترجمه** : يقيناً رب ستاسو الله دې هغه ذات چې پيدا کړې ئې دي اسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کښې بيا برابر شو ( هغه) په عرش باندې تدبير کوي دَ هر قسم کار ، نشته دې هيڅ څوک سفارش کونکې مګر پس دَ اجازت دَ هغه نه هم دا الله ستاسو رب دې نو بندګئ اوکړئ دَ ده آيا پس تاسو نصيحت نه اخلئ ـ

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ يُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ ﴿٢﴾ ﴾ سورة الرعد 2.

**ترجمه** : الله هغه ذات دې چې پورته کړې ئې دي اسمانونه بغير دَ ستنو نه چې تاسو

---

[1] حجة الله البالغة ـ

ئي وينې بيا برابر شوې دې په عرش باندې او تابع كړې دې نمر او سپوږمۍ هر يو چليږي تر يو نيټې مقررې پورې تدبير كوي د كار په تفصيل سره بيانوي آيتونه شايد تاسو به په ملاقات د رب ستاسو يقين اولرئ.

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٤﴾ ﴾ السجدة 4.

ترجمه: الله هغه ذات دې چې پيدا كړي ئې دي اسمانونه او زمكه او هغه څه چې د دې دواړو په مينځ كښې دي په شپږو ورځو كښې بيا برابر شوې دې په عرش باندې نشته ستاسو د پاره د هغه نه سيوا هيڅ څوك دوست او نه څوك سفارش كونكې آيا نو تاسو نصيحت نه قبلوئ.

﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ ﴾
سورة يونس ٣١

ترجمه: اووايه څوك رزق دركوي تاسو ته د آسمان او زمكې نه يا څوك مالک دې د غوږونو او د ستركو او څوك راوباسي ژوندي د مړ نه او روباسي مړ د ژوندي نه او څوك انتظام كوي د ټولو كارونو پس زر ده چې وائي به دوي چې الله نو اووايه پس آيا تاسو نه يريږئ.

## څلورمه مرتبه

"توحيد في الالوهية والمعبودية"

والرابعة انه لا يستحق غيره العبادة"

څلورمه مرتبه چې د الله نه علاوه نور څوك د عبادت مستحق نشته دې.

﴿ فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ

Maktaba Tul Ishaat.com

يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَىٰكُمْ ﴿١٩﴾ سورة محمد 19۔

ترجمه: پس پوهه شه چه یقیناً نشته حقدار د بندګۍ سوا د الله تعالی نه، او بخښنه غواړه د پاره د بوج خپل او ایماندار سړو او ایماندارو ښځو له؛ او الله تعالی پوهیږي په ځائي د ګرځیدلو ستاسو او په ځائي د اوسیدو ستاسو:

مطلب دا چې دَ عبادت ټول قسمونه او افراد صرف الله تعالی له منل دَ الله تعالی نه علاوه هیڅوک دَ هیڅ قسم عبادت په هیڅ قسم تاویل هم مستحق نه دي۔

# اهمیت دَ توحید

دَ توحید اهمه مسئله دَ دي دَ اهمیت دَ پاره موږ عنوانات کیږدو۔ نو دَ دي دَ اهمیت دَ پاره پنځه عنوانات دي۔

- التوحید رأس الطاعات کلها
- اول ما دعا الرسل الیه هو التوحید
- الکتب السماویة ما انزلت الا لتقریر التوحید
- سر تخلیقات الکائنات باسرها هو التوحید
- سر خلق الإنس والجن هو التوحید

## عنوان التوحید رأس الطاعات وملاک الامر

چې توحید دَ ټولو تابعدارو سر دي، او دَ ټولو معاملاتو دَ دین مدار په توحید باندې دي، هیڅ یو قسم عبادت که فرضي وي او که نفلي وي که مالي وي که بدني او که لساني نو هغه بغیر دَ توحید نه نه قبلیږي،

شاه صاحب په حجة الله البالغة کښې ذکر کوي چې

اصل اصول البر وعمدة انواعه هو التوحید

﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ۖ أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ٱشْتَدَّتْ بِهِ ٱلرِّيحُ فِى يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا۟ عَلَىٰ شَىْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴿١٨﴾ ﴾ ابراهيم: ١٨

**ترجمه** : مثال د هغه کسانو چي کفر ئې کړي دي په خپل رب باندې عملونو دَ دوي پشان دَ ايرو دي چي تونده شي په هغې سيلۍ په ورځ اوچه کښي دوي به قدرت نه لري د هغه چي دوي کړي دي په څه شي دغه هم دغه گمراهي ده لري دَ حق نه.

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِىٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ ﴾ سورة ~~النحل~~ ابراهيم 25.

ترجمه:آيا ته نه گوري چه څنګه بيان کړي دي الله تعالیٰ مثال د کلمې پاکې: پشان د ونې پاکې چه جرړې ئې ثابتې دي: او څانګې ئې په بره وي.
ورکوي ميوې خپلې هر وخت: په حکم د رب خپل سره: او بيانوي الله تعالیٰ: مثالونو له د پاره د خلقو : دپاره دَ دې چي دوي پند حاصل کړي.

نو دَ دې نه معلوميږي اصالت دَ توحيد ، چې توحيد دَ ټولو اعمالو جرړه ده.

﴿ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ ﴾ سورة الفرقان 23.

ترجمه: او قصد به اوکړو مونږه هغه ته چه دوي کړې: د څه عمل نه:پس او به ګرځوو مونږ هغې له : دوړه الوزولي شوې.

﴿ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ ﴾ سورة الغاشية 3.

ترجمه:عمل کونکي ستړې به وي.

عاملة ناصبة هسې به ستړې شي او دَ الله سره ئې هيڅ قدر نشته دي ،

هندو ستړي او الله ناراضه

Maktaba Tul Ishaat.com

او مالي عبادت ئې هم بغیر دَ توحید نه نه قبلیږي۔

﴿ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٧﴾ ﴾ سورة آل عمران 117۔

ترجمه ۔ مثال د هغه چه دوي لګوي، په دې ژوند نزدې کښې، پشان د سیلۍ دې چه وي دیکښې سخته یخني: چه ورسیږي فصل د یو قوم ته چه ظلم ئې کړي وي په نفسونو خپلو، پس هلاک کړي دغه فصل له ، او ظلم نه دې کړې په دوي الله لیکن دوي پخپلو ځانونو ظلم کوي۔.

نو اول عنوان وو چې دَ توحید نه بغیر عمل قبول عند الله نه دې۔

## اول ما دعا الیه الرسل هو التوحید

انبیاء کرامو چي دعوت ورکړې وو نو هغه توحید وو دې مسئلې ته ټولو انبیاو دعوت ورکړې وو، حدیث کښې راځي نبي علیه السلام فرمائي۔

أَفْضَلُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ [1]

اجماعي طریقي سره ئې دې ته دعوت ورکړې وو۔

﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾ ﴾ سورة النحل 36۔

ترجمه: او یقیناً لیږلي وؤ مونږ، په هر اُمت کښې استاذې، په دې چه عبادت وکړي د الله تعالې او ځان بچ کړې د بندګۍ د طاغوت نه، پس بعضې د دوي نه هغه څوک دي چه هدایت ورته کړې دې الله تعالې،او بعض د هغوي نه هغه دې چه ثابت شوې ده په هغه باندې ګمراهي، پس وګرځئ په زمکه کښې، پس اوګورئ څنګه وؤ، انجام د

[1] موطا امام مالك : باب ما جاء في الدعاء۔

تكذيب کوُنکو.

ولقد بعثنا في كل امة رسول ان اعبدوا الله واجتنبوا الطاغوت يعني دَ لا اله الا الله دعوت ئې ورکړې وو، او دَ دې دَ قانون دعوت ئې ورکړې وو، او دَ طاغوتي قانون نه دَ بچاو دعوت ئې ورکړې وو.

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٢٥﴾ ﴾

سورة الانبياء 25.

ترجمه: او نه دي رالیږلي مونږه مخکښې ستانه هيڅ يو پيغمبر مګر وحي کوله مونږه هغه ته چه شان دادي چه نشته حقدار د عبادت مګر زه يم پس خاص بندګي اوکړئ

خما:

﴿ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾

سورة الزخرف ۴۵

ترجمه: او تپوس اوکړه د هغه چانه چه راليږلي دي مونږه مخکښې ستا نه: د استاذو زمونږ نه: آيا مقرر کړيدي مونږ:سوا د مهربان نه مدد ګاران چې عبادت ئې کوُلي شي:

دَ هغوي دَ شريعتونو مطالعه اوکړه چې هغه څه وو؟ نو هغه دا وو چې اجعلنا من دون الرحمن آلهة يعبدون نو دَ ټولو انبياءو آواز دا وو چې لا اله الا الله ، دغه شان په انفرادي طريقي سره دَ هر پيغمبر دعوت موجود دې ، لکه يقوم اعبدوا الله مالكم من اله غيره سورة الاعراف، سورة هود ،او سورة الشعراء کښې دَ هر پيغمبر دعوت موجود دې ، چې واي يقوم اعبدوا الله مالكم من اله غيره ،

او فاتقوا الله واطيعون نو ټول انبياء دې مسئلي له راغلي وو، چې لا اله الا الله ،

Maktaba Tul Ishaat.com

# ۳- عنوان"

# الكتب السماوية ما انزلت الا لتقرير التوحيد

دَ ټولو مقصد او دَ ټولو مسئله هغه کلمه دَ توحيد لا اله الا الله وه، ټوله اسماني وحي په دې مسئلې باندې راغلې وه.

﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ (٦٤) ﴾ سورة آل عمران 64.

ترجمه: اووايه: اې اهل کتابو راشئ يوې خبرې ته، چه برابره ده زمونږه په مينځ کښې او ستاسو په مينځ کښې، چه بندګي به نه کوؤ مګر د يو الله تعالىٰ او نه به شريکوؤ هغه سره هيڅ شي له او نه به نيسي بعض زمونږ نه بعضو له پالونکي سوا د الله تعالىٰ نه، پس که دوي مخ واړولو، پس ووايئ چه ګواه شئ په دې باند چه يقيناً مونږ مسلمانان يو:

﴿ يُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ أَنْ أَنذِرُوٓا۟ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ (٢) ﴾ سورة النحل ٢

ترجمه: رالیږي ملائک په روح سره، د امر خپل نه، په هغه چا چه رضائې وشي، د بندګانو خپلونه، چه خبر کړي خلق، چه نشته لايق د بندګئ، سوا ځما نه، پس ويريږئ ځما نه.

دَ وحي فرشته هم الله په دې مسئله باندې راليږلې ده.

﴿ وَءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِى وَكِيلًا (٢) ﴾ سورة الاسراء 2.

ترجمه: او ورکړې وو مونږ موسیٰ ته کتاب او ګرزولي وو مونږ هغه هدایت دپاره د بني اسرائيلو، چه مه نيسئ ، سوا زمانه، کارساز.

دَ موسي دَ وحي خلاصه هم دا وه چې ان لا تتخذوا من دوني وكيلاً.

﴿ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ﴿١٤﴾ ﴾ سورة طه 14.

ترجمه: يقيناً څه، الله يم، نشته لائق د بندګۍ سوا څمانه، پس بندګي کوه څما، او اودروه مونځ، د پاره د ياد څما.

سورة هود کښې دَ قرآن خلاصه دا وه ، ان لا تعبدوا الا الله او په

﴿ أَمۡ لَمۡ يُنَبَّأۡ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبۡرَٰهِيمَ ٱلَّذِي وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾ ﴾ سورة النجم 36،37.

ترجمه:آيا خبر ندې ورکړې شوې ده ته،په هغه مضمون چه په صحيفو د موسيٰ کښې وو او د ابراهيم کښې هغه چه پوره کړې ئې دې حق.

نو دَ ټيرو صحيفو او دَ قرآن اتفاقي مسئله هغه توحيد وه، چې دا کارونه الله کولي شي، بل څوک ئې نشي کولې ، په سورة الاعلي ۱ کښې اول مسئله دَ توحيد ذکر کوي، سبح اسم ربک الاعلي او دَ دې سورت کښې آخر کښې وائي ، چې ان هذا لفي الصحف الاولي چې دا دَ توحيد او دَ فنا دَ دنيا مسئله چې ده ، نو لفي الصحف الاولي ، دا په اولنو صحيفو کښې هم وه، نو الکتب السماوية ما انزلت الا لتقرير التوحيد.

## ۴ - عنوان

## الكائنات لم تخلق الا لاظهار التوحيد،

اسمانونه او زمکې او دا ټول هر څه الله دَ توحيد دَ وضاحت دَ پاره پيدا کړې دي.

﴿ ... مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٥﴾ ﴾ يونس: ٥

ترجمه : نه دي پيدا کړي الله دغه مګر په حق سره ، تفصيل بيانوي آياتونه دَ هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

قوم دَ پاره چې پوهیږي۔

او هغه حق مسئله دَ توحید ده، چې دا ظاهر شي۔

﴿مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾﴾ سورة الدخان 39.

ترجمه:نه دي پیدا کړي مونږ، مګر دواړه په حق سره: لیکن زیات د دوي نه نه پوهیګي:

چې مسئله دَ توحید ظاهره شي، خو لکن اکثرهم لا یعلمون خو ډیر په دې حق نه پوهیږي نو وائي، چې

لولاک لولاک لما خلقت افلاک

او وائي چې دا دنیا دَ چا دَ مخه آباده ده، نو ویسه شیخ صاحب وائي، داسې مه وایه بلکه داسې وایه دا دنیا دَ الله دَ خوښې پیدا ده، چې هغه توحید دې؛ دا خو دَ یهودیانو شیعه ګانو او دَ نصارو تاثر وو، چې یهودو به وئیل چې لولا عزیر لما خلقت الافلاک او نصارې به وئیل چې لولا عیسي لما خلقت الافلاک، او شیعه ګانو به وئیل

لولا علي لما خلقت الافلاک

او زمونږ بریلیانو اووئیل چې

لولاک لما خلقت الافلاک

او دَ پښتو شاعرانو اووئیل چې

که صورت دَ محمد نه وې پیدا
پیدا کړې به خدائې نه وې دا دنیا

او دوي دَ لولاک لولاک لما خلقت الافلاک په باره کښې وائي،

قال الصعاني هذا الحدیث موضوع ومعناه صحیح

نو چې معنی ئې صحيح ده نو په فن دَ اصول حديث کښې دَ دې مطلب دا وي چې دَ دې حديث معنی په قرآن يا په بل حديث صحيح کښې راغلې ده، خو په دې الفاظو باندې نه ده ، نو په قرآن يا په صحيح حديث کښې اوښايه چې دا دنيا دَ نبي عليه السلام دَ مخه آباده ده ، نو په قرآن کښې هم نشته دې داسې او نه په ذخيره دَ احاديثو کښې داسې شته دې ، چې دا دنيا دَ نبي عليه السلام دَ مخه آباده ده ، دَ نبي عليه السلام شان مسلم دې چې افضل الخلائق دې ، خو دې له کمزورې حديث وئيل دا په شان دَ نبي عليه السلام کښې گستاخي ده ، دَ نبي عليه السلام دَ شان په باره کښې خو قرآن آيتونه او صحيح احاديث موجود دي، نو موضوعي حديث ته څه ضرورت دې ؟

قرآن ته نه گورې چې قرآن وائي

مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ يُفَصِّلُ ٱلْآيَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ (سورة يونس 5)

، او وائي چې مَا خَلَقْنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ

نو حاصل دا شو، چې **الكائنات لم تخلق الا لاظهار التوحيد،**

## ۵ - عنوان

## الجن والانس ما خلقوا الا لمعرفة التوحيد

انسانان او پيريان هم دې مسئلې له پيدا شوي دي .

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ سورة الذاريات 56.

ترجمه : ما نه دي پيدا کړي پيريان او انسانان مگر دې دَ پاره چې زما بندگي اوکړي .

نو عنوانات پنځه شو، نو پانچ پيرا او دا عنوانات شو لاظهار اهمية مسئلة التوحيد ،

Maktaba Tul-Ishaat.com

# جنګي مسئله توحيد وه

دَ توحيد مسئلې اهميت په مختلفو طريقو سره معلوم شو اوس دا بيانوو چې هم دا مسئله ده ، چې دَ مشرکانو دَ انبياء عليهم السلام سره اختلاف وو او په دې ئې جهګړه کوله، چې کله به يو نبي عليه السلام چې دَ توحيد مسئله به ئې نه وه بيان کړې نو هغه به په خپل قوم کښې محبوب وو او په درنه سترګه به ورته کتل، خو چې مسئله دَ توحيد ئې بيان کړه نو اختلاف ئې شروع کړو او فتوې او جنګونه به ئې شروع کړل.
جناب نبي کريم صلي الله عليه وسلم يو ځل په لاره باندې روان وو، يو سړي ورته وائي چې ته دَ کومې مسئلې دعوت ورکوې چې خلق ستا دشمنان دي ؟
نبي عليه السلام چې ورته دعوت ورکړو نو هغه ورته اووئيل.

## اذا تحاربک العرب العجم

چې ته کله دا دعوت ورکوې نو عرب او عجم به درسره جنګ کوي او بل يو هوښيار سړي ورته اووئيل، چې

## هذا امر تکرهه الملوک

دا يو داسې خبره ده چې دَ بادشاهانو بدې شي ، دا ئې ځکه وئيل چې دَ دې مسئلې په حقيقت باندې پوهيدل . اوس پوهيږي نه ، او ويونکې ئې هم صفا نه وائې نو ځکه څوک څه نه وائي ، نه هغه کلمه اووايه چې دَ نبي عليه السلام کلمه ده ژوندۍ کلمه اووايه ، نو بيا ګوره چې ځائې دې شته او کنه ؟ نو دا مسئله وه چې دَ انبيائې کرامو سره ئې پکښې جهګړه کوله . لږ دَ قرآن سفر کوو، او سوچ اوکړه نو دَ مشرکانو دَ نبي عليه السلام جهګړه هغه په ديکښې نه وه چې هغه کاذب وو يا ذاتي وه يا دوي الله نه منلو، يا نبي عليه السلام صرف قرآن وئيلو ، نه بلکه جهګړه په دې کښې چې نبي عليه السلام قرآن کښې دَ توحيد في الالوهية والعبادة مسئله بيانوله دَ توحيد دَ مسئلې سره دشمني لږ سفر دَ قرآن اوکړه.

﴿ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٧٠﴾ ﴾ سورة الاعراف ٧٠

**ترجمه** : اووئيل دوي آيا ته راغلې ئې مونږ ته دې د پاره چې مونږ بندګي اوکړو دَ يو الله تعالي او پريږدو هغه کسان چې بندګي کوله مشرانو زمونږ پس راوړه مونږ ته هغه عذاب چې ته يروې مونږ که ته ئې دَ رشتينو نه.

﴿ وَجَعَلۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۚ وَإِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِ وَحۡدَهُۥ وَلَّوۡاْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِمۡ نُفُورٗا ﴿٤٦﴾ ﴾ سورة بني اسرائيل ٤٦

**ترجمه** : او ګرځولي دي (پيدا کړي ) دي مونږ په زړونو دَ دوي باندې پردې منع کوونکې ، دَ پوهې دَ قرآن نه او په غوږونو دَ دوي کښې درونډ والي دې ، او کله چې ياد کړې رب په قرآن کښې په يو والي سره ، نو اوګرځي دوي په خپلو شاګانو باندې نفرت کونکې.

چې کله ورته دا اووائې، چې صرف دَ الله عبادت اوکړې ، نو دوي نفرت کوي ، دوي دَ "وحده" دَ ټکي نه منکر دي.

﴿ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمُنكَرَۖ يَكَادُونَ يَسۡطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۗ قُلۡ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرّٖ مِّن ذَٰلِكُمُۚ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٧٢﴾ ﴾ سورة الحج ٧٢

**ترجمه** : او کوم وخت چې اولوستلې شي په دوي باندې آيتونه زمونږ ښکاره به پيژنې ته په مخونو دَ هغه کسانو کښې چې کفر ئې کړې دې خفګان ، نيزدې دي چې حمله اوکړي په هغه کسانو باندې چې بيانوي په دوي باندې آياتونه زمونږ ، ته اووايه آيا خبر کړم تاسو په ډير ناکاره سره دَ دې نه چې اور دې ، وعده کړې ده دَ هغې الله تعالي دَ هغه کسانو سره چې کفر ئې کړې دې ، او بد دې ځائې دَ ورګرځيدو دغه اور.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا مسئله به پرې بده لګیده، چې کومه مسئله دَ وحدانیت دَ الله وه، چې ټولو کارونو ذمه وار یو الله اوګنړې، دَ وړو او دَ غټو ټولو کارونو ،او عبادت صرف دَ یو الله اوکړې ، نو دا مسئله به پرې بده لګیده، چې صرف الله رامدد کړې او صرف یو دَ الله دَ پاره خپل نذر او نیاز کوې ، او دا به ئې هم ډیر بد ګڼړل چې ورته به اووئیلې شو چې دَ یو الله تعظیم اوکړئ.

﴿ إِنَّهُمْ كَانُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾ سورة الصافات 35.

ترجمه : یقینا دوئ وو چې کله به اووئیلې شو دوي ته نیشته حقدار د بندګي سوا دَ الله تعالي نه ، نو دوي به لوئي کوله.

﴿ أَجَعَلَ ٱلْءَالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴿٥﴾ ﴾ سورة ق 5.

ترجمه : آیا ګرځولي دي ده ډیرو خدایانو لره خدائې یو بیشکه دا خو خامخا یو څیز دي ډیر عجیبه.

دارنګې په سورة الصافات ۳۵ کښې وائي.

﴿ وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحْدَهُ ٱشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ سورة الزمر ٤٥

ترجمه : او هر کله چې یاد کړې شي الله تعالي په یو والي سره ، تنګ شي زړونه دَ هغه کسانو چې ایمان نه لري په آخرت باندې او هر کله چې یاد کړې شي هغه کسان چې سوا دَ الله تعالي نه دي دغه رخت دوي ډیره خوشحالي ښکاره کوي.

دې مسئلې سره ئې زړه تنګیږي.

﴿ ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِىَ ٱللَّهُ وَحْدَهُۥ كَفَرْتُمْ ۖ وَإِن يُشْرَكْ بِهِۦ تُؤْمِنُوا۟ ۚ فَٱلْحُكْمُ لِلَّهِ ٱلْعَلِىِّ ٱلْكَبِيرِ ﴿١٢﴾ ﴾ سورة المومن ١٢

ترجمه : دا دَ دې وجې نه چې کله به بللې کیدې شو الله تعالي په یو والي سره نو تاسو به انکار کوو، او که شرک به کیدې شو دَ هغه سره نو تاسو به ایمان راوړو نو اختیار دَ یو

الله تعالی دي چي اوچت دي او لوئي دي۔

دا دَ دي وجي نه چي كله الله رابللي شي يكي يواځي چې صرف يو الله دَ بلنې مستحق دې، نو تاسو به انكار كولو نو په دې مسئله كښې جګهړه وه۔

علامه ابن قيم په قصيده نونيه كښې هم ذكركوي چي دا جهګړه په څه كښې وه ؟ او دا خلق په څه باندې مشركان شول ؟ نو هغه وائي كه صرف دا ايمان وي چې خالق صرف الله دې نو وائي بيا خو ډيرو مشركانو او كافرانو ته مومنان اووايه۔

قـــالوا و اقـــرار العبـــاد بانـــه

خلاقهـــم هـــو منتهـــي الايمـــان

دا اقرار كول چي الله خالق دې او دا منتهي دَ ايمان وي نو امام ابن قيم وائي چې بيا خو

والنـــاس فـــي الايمـــان شـــيئ واحـــد

كالمشـــط عنـــد تماثـــل الاســـنان

بيا خو ټول خلق په ايمان كښې برابر شو او داسې شو لكه دَ كومنزي غابونه څكه چې خالق خو هر څوک الله مني ، بيا وائي۔

فاســئل ابـــا جهـــل و شـــيعته و مـــن

والاهـــم مـــن عابـــدي الاوثـــان

دَ ابوجهل او دَ هغه دَ قبيلې نه تپوس اوكړه ، او دَ بتانو دَ بندګي كونكو نه هم تپوس اوكړه ،

وســـل اليهـــود وكـــل اقلـــف مشـــرك

عبـــد المســـيح مقبـــل الصـــلبان

دَ يهودو نه تپوس اوكړه او د هر ناسنته مشرک نه او دَ عيسي عليه السلام دَ بندګي كونكو نه ، او دَ صليب خكلونكو نه تپوس اوكړه او

Maktaba Tul Ishaat.com

واسئل ثمود وعاد بل سل قبلهم
اعداء نوح امة الطوفان

دَ عاديانو ثموديانو او دَ نوح دَ دشمنانو نه تپوس اوکړه چې په طوفان هلاک شوي وو،

واسئل ابا الجن اللعين اتعرف
الخلاق ام اصبحت ذا نكران

او دَ شيطانانو دَ پلار نه تپوس اوکړه چې ته خالق صرف الله مني او که انکار ترې کوې نو وائي۔

واسئل شرار الخلق اغلي امة
لوطية هم ناكحوا الذكران

هغه بدتريه مخلوق کښې دَ لوط عليه السلام دَ قوم نه تپوس اوکړه ، چې هلکانو سره به ئې بدفعلي کوله۔

واسئل كذا امام كل معطل
فرعون مع قارون مع هامان
هل كان فيهم منكر للخالق
الرب العظيم مكون الاكوان

په ديکښې دَ الله نه څوک منکر وو ؟ نو هيڅ څوک پکښې دَ الله نه منکر نه وو، نو که صرف دا ايمان وي نو بيا خو

فليبشروا ما فيهم من كافر
هم عند جهم كاملوا الايمان

نو بيا خو مبارک دې شي په ديکښې خو يو هم کافر نه دي تير شوي ، او دا خو دَ

جهميو په نزد باندي كامل ايمان والا دي، نو دا خو ذ كافرو هم عقيده وه ، چي الله ته به ئي خالق وئيلو، نو اصل جګهړه په كومه مسئله كښي وه ، نو په صفحه ٥٩ كښي وائي ،

و اذا ذكـــرت الله توحيـــدا
رأيـــت و جـــوههم مكســـوفة الالـــوان

اصل مسئله دا وه چي كله ته الله ياد كړي او دا اووائي چي صرف الله مستحق ذ عبادت دي ، او حاجتونه صرف الله پوره كوي او هرقسمه مشكلات الله ختموي نو بيا ذ دوي مخونه تک تور شي، .

بـــل ينظـــرون اليـــك شـــزراً مثـــل مـــا
نظـــر التيـــوس الـــي عصـــا الجوبـــان

داسي بد بد به ورته ګوري لکه چي چيلي ذ شپونکي همسا (ډنګوري ) ته بد ګوري چي دا دي اوس ئي راخلاصوي.

واذا ذكـــرت بمدحـــة شـــركائهم
يتابشـــرون تباشـــر الفرحـــان

او چي کله ذ دوي ذ شريکانو دروغ صفتونه شروع کړي نو سم خوشاليدونکي زيري اخلي - چي دا اووائي چي ياره ميرعلي بابا په ديوال باندي کيناستو، او ديوال روان شو، او چي کله دا اووائي چي لوئي خوان ابي ته اووئيل چي ولي ژاړي ؟ نو وئيل ئي ورته چي ذ خوئي جنج مي راتلو او دوب شوي دي ، او دولس کاله اوشو چي ناسته يم نو لوئي خوان پنړه اوويشته چي شابه روحونه راوړه!! وائي هغه په لاره کښي ملک الموت رالاندي کړو، هغه په دولس کاله کښي نه وو رسيدلي او ذ لوئي خوان پنړه په يو شغ کښي اورسيده ، او ورته وئيل چي شاپنګ بيګ ذ روحونو راواخله هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

اووئيل چې ما خو دَ الله په حکم اغستي دي نو وائي په هغې باندې ئې ورسره مناظره شروع کړه، نو وائي چې روحونه ئې ترې په زوره باندې واغستل او په دولس کاله کښې چې خومره مړي شوي وو هغه ټول راژوندي شو، او ډولې دَ درياب نه رابهر شوه، او ناوې رارووانه شوه، لوئې ځوان ورته وئيل ابئ خوشحاله شوې ؟

نو وئيل ئې ورته شاباش حق ئې پيره نعره سلطانيه ! نو چې دا قصې ورته کوې نو مزه ورله ورکوي، او وائي چې يو ځل ئې بيا اووايه، نو

وائي شمس تبريز بابا خلقو ته وئيل لړ اور راله راکړئ، زه پرې غوښه پخوم نو هغوي اور ورنکړو نو هغه نمر ته اشاره اوکړه، چې لږ راکوز شه، نو وائي هغه پرې غوښه پخه کړه، نو دې به دَ اوسپني وو نو ؟

چې دې پرې نه پخيدو ؟ خو دروغ وائي،

*دروغ گوراحافظه نه باشد*

او نمر ته ئې بيا وئيل چې ته په ملتان والو باندې يو نيزه ښکته چليږه ! نو چې دا خبره ورته اوکړي نو بيا

يتباشرون تباشر الفرحان دوي بيا سم خوشحاليږي . امام ابن قيم ؒ وائي .

**والله ما شموا روائح دينه**

**اعييت يا زكمة طبيب زمان**

وائي قسم په الله که دوي دَ دين دَ توحيد خوشبو بوئي کړې وي يعني دَ توحيد دَ خوند نه خبر ندي .

ستړي دي کړل هغه ټول ډاکټران دَ زمانې، ته خو ځانته موحد وائې خو موحد نه ئې تاخو پنج پيريان په دې بيان باندې ستړي کړل، خو چې ته په شرک نه ستړې کيږې نو دوئي په بيان دَ توحيد باندې هم نه ستړې کيږي.

دوئې ستا دَ نه منلو دَ وجې نه بيان هم نه پريږدي، پټې کښې چې ګوډ نه کوې نو بيا په هغې کښې ګنده بوټي او ډيله کيږي نو دوي دا مسئله نه پريږدي ، مشرکان خو

يتشكل باشكال مختلفة كه په يو انداز او كه په بل انداز ، قرآن ورته په مختلفو اندازونو باندې مسئله بيانوي، نو دا اصل خبره وه چې دوي توحيد في الالوهيت نه منلو ،او الله ئې دَ عبادت مستحق بواځې نه گڼړو،

Maktaba Tul Ishaat.com

# انداز بیان دَ قرآن کریم

دَ دې وجه نه چې دا اهمه مسئله ده نو دا قرآن په مختلفو اندازونو سره بيان کړې ده ، شیخ صاحب ؒ دَ پنج پير مدظله العالي به فرمائيل -

به هر رنگے که خواهی جامه می پوش

من اندازے قدت را می شناسم

که هر رنگ جامې واغوندې خو ماته دې دَ قد انداز معلوم دې ، تاسو په تلخيص کښې هم وائې ، چې علم بيان ديته وائي، چې ايراد دَ معني واحدې په طرق متعددو سره اوشي، لکه سخاوت چې وائي ، نو وائي دَ فلانکي ايرې سيوا دې ، سپي ئې دله گان دي او سخي ئې خوار دي، دَ ټولو نه مراد يو دې چې دَ فلانکي سخاوت بيانول دي، نو قرآن په مختلف اندازونو سره مسئله دَ توحيد بيانوي ، دې دَ پاره چې انداز ئې بدل شي، چې په سړي باندې بوج کيږي نه، او مسئله واضحه شي -

(۱) نو اولنې انداز مسئلة التوحيد بعنوان الالوهية لکه لا اله الا الله ، ما من اله الا الله ، الهکم اله واحد، چې دا په کوم آيت کښې وي نو ته به وائې چې ديکښې مسئله دَ توحيد ده په عنوان دَ الوهيت سره ،

(۲) مسئلة التوحيد بعنوان التحميد ، لکه الحمد لله ، فله الحمد ، وله الحمد في السموات والارض ، له الحمد في الاولي والاخرة چې دا په کوم آيت کښې وي نو ته به وائې چې دې آيت کښې مسئله دَ توحيد ده په عنوان دَ حمد سره ،

(۳) مسئلة التوحيد بعنوان التسبيح ، دا کله په صيغې دَ امر سره وي، کله په صيغې دَ ماضي سره او کله په صيغې دَ مضارع سره وي، او کله مصدر وي ، لکه سبحان الذي اسري بعبده ، سبح اسم ربک الاعلي ، سبح لله ما في السموات والارض ، يسبح لله ما في

السموات والارض ، دا چي په کوم آيت کښي وي نو ته به واي چي دلته مسئله دَ توحيد بيانيږي په عنوان دَ تسبيح سره ،

(٤)-مسئله دَ توحيد په عنوان دَ برکت سره، لکه تبارک الله احسن الخالقين ، تبارک الذي بيده الملک ، تبارک الذي نزل الفرقان علي عبده ، تبارک الذي جعل في السماء بروجاً ، تبارک الذي ان شاء جعل لک خيراً من ذالک ، دغه شان وبارک فيها وقدر فيها اقواتها، نو دا چي په کوم آيت کښي وي نو ته به واي چي دلته مسئله دَ توحيد بيانيږي په عنوان دَ برکت سره ،

(٥)-مسئلة التوحيد بعنوان التقدير

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَـٰلَمِينَ نَذِيرًا ۝١﴾ سورة سورة الفرقان 1-

ترجمه: ډير برکت والا دي: هغه ذات چه لږ لږ ئي رالیږلي دي فرق کوُنکي کتاب په بنده خپل باندې چه شي دپاره د مخلوقاتو ويرونکي:

(٦)-مسئلة التوحيد بعنوان التعوذ

لکه اعوذ برب الفلق ، اعوذ برب الناس، اعوذ بالله ان اکون من الجاهلين ، اعوذ بک من همزات الشياطين واعوذبک ربي ان يحضرون،

(٧)-مسئلة التوحيد بعنوان الملک

لکه له ملک السموات والارض ،بيده الملک ، سبحان الذي بيده ملکوت کل شيئ

(٨)-مسئلة التوحيد بعنوان "حسب"

حسبي الله ، حسبنا الله ، حسبک ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(٩)۔ مسئلة التوحيد بعنوان القدر و القضاء ، لکه و الله يقضى بالحق ذالک
تقديرا العزيز العليم ،

(١٠)۔ مسئلة التوحيد بعنوان الحکم ، لکه ان الحکم الا لله ، الا له الحکم وهو
اسرع الحاسبين ،

(١١)۔ مسئلة التوحيد بعنوان العبادة ، لکه اعبدوا ربکم ، لا تعبدون الا الله

(١٣)۔ مسئلة التوحيد بعنوان العلم ، لکه يعلم ما في السموات والارض ، يعلم
سرکم وجهرکم ويعلم ما تکسبون ،

(١٤)۔ مسئلا لتوحيد بعنوان الکفاية ، لکه اليس الله بکاف عبده ،

(١٥)۔ مسئلة التوحيد بعنوان الاستعانة لکه اياک نعبد و اياک نستعين
، والله المستعان علي ما تصفون ،

(١٦)۔ مسئلة التوحيد بعنوان الرحم ، كله مصدر وي او كله فعل لکه كتب علي
نفسه الرحمة ، الرحمن الرحيم ، الا ما رحم ربي ، الا من رحم الله ،

(١٧)۔ مسئلة التوحيد بعنوان الاجابة ، لکه اذا سالک عبادي عني فاني قريب
، اجيب دعوه الداع اذا دعان ،

(١٨)۔ مسئلة التوحيد بعنوان النافع والضار، لکه
ان يمسسک الله بضر فلا کاشف له الا هو، وان يردک بخير فلا راد لفضله

(١٩)۔ مسئلة التوحيد بعنوان السميع، چې دَ هر چا په هر زمان او مکان کښې دَ
هري ژبې والا بغير دَ اسبابو اوريدونکي صرف يو الله دي ، انک سميع الدعاء ، انه

هو السميع العليم ،

۲۰) مسئلة التوحيد بعنوان المعطي ،

﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ ﴿٥﴾ ﴾ سورة الضحى 5-

ترجمه: او خامخا زرده چه دربه کړي تا ته رب ستا نو ته به خوشحاله شي.

۲۱) مسئلة التوحيد بعنوان المنتقم هو الله ، لكه وما كان منتصراً

۲۲) مسئلة التوحيد بعنوان المعبود هو الله ،

۲۳) مسئلة التوحيد بعنوان الرقيب هو الله ،

۲۴) مسئلة التوحيد بلفظ الاحد، لكه هو الله احد، هو الله الواحد القهار،

۲۵) مسئلة التوحيد بعنوان رد الشفاعة القهرية لكه من ذالذي يشفع عنده الا باذنه ، ملک يوم الدين ، والامر يومئذ لله ، دغه شان لا يتكلمون الا من اذن له الرحمن

۲۶) مسئلة التوحيد بعنوان الاجارة ، لكه وهو يجير ولا يجار عليه ،

۲۷) دغه شان مسئله دَ توحيد په دي عنوان باندي چې المستغاث هو الله ، فريادرست صرف يو الله دي ، لكه فلا صريخ لهم ولا هم ينقذون ، .

## فضائل او ثمرات دَ توحيد

قرآن كريم دَ توحيد دَ اهميت دَ ښكاره كولو دَ پاره فضائل او ثمرات دَ توحيد ذكر كوي،

۱) توحيد سبب دَ دخول دَ جنت دي ،

۲) توحيد سبب دَ حرمة النار دي، ۳) توحيد سبب دَ تكفير الذنوب دي ، ۴) كلمه دَ توحيد طيبه ده نو موحد هم طيب دي ، ۵) كلمه دَ توحيد طيبه ده نو چې موحد مري نو

Maktaba Tul Ishaat.com

طيب به مري، او چې جنت ته ځي نو خوشخبري به ورله ورکولې شي.

﴿ وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ ﴾

سورة الحج 24.

ترجمه:هدایت شوي وو دوي ته: د پاکې وینا ته: او هدایت شوي وو دوي ته طرف د لارې دالله ستائلي شوي:

٦ كلمه طيبه سبب دَ حيوة طيبه دې.

﴿ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾ ﴾ سورة النحل ٩٧

ترجمه: چا چې عمل اوکړونیک، نارینه وي او که زنانه، او هغه مؤمن وي،پس ژوند به ورکړو، ژوند مزیدار، او خامخا یقیناً بدله به ورکړو دوي ته بدله د دوي، په عوض د ښۀ هغه عمل، چه دوي کوي.

٧ كلمې طيبې والو له مساكن طيبه او رضا دَ الله ده.

﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ

سورة التوبة 72.

ترجمه: وعده کړې الله تعالیٰ، د مومنانو سړو سره، او مومنانو ښځو سره، د باغونو، بهیږي به لاندې د هغې نه نهرونه، همیشه به وي، په هغې کښې، او ځایونو د وسیدو مزیدار، په باغونو د همیشوالي کښې، او رضا مندي د الله تعالیٰ ډیره لویه ده، دغه هم دغه، کامیابي لویه ده.

٨ دَ كلمې طيبې ويونكي اصدق ويونكې دې.

﴿ وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾ سورة الزمر 33.

ترجمه:او هغه څوک چه راوړې دې رښتيا: او تصدیق ئې اوکړه د هغۀ: دغه کسان:

دوي پرهيزګاران دي:

۰۹- دَ کلمه طيبې ويونکي ته به دَ صدق درجه ملاويږي، لکه

﴿ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَىٰ رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ مُّبِينٌ ﴿٢﴾ ﴾ سورة يونس ٢

ترجمه:آيا شته د خلقو د پاره تعجب: په دې خبره چه وحي مو اوکړه يو سړي ته: د جنس د دوي نه چه ويره ورکړه خلقو له : او زيرې ورکړه هغه کسانوته چه ايمان ئې راوړي دي دوي له مرتبه د رشتياؤ ده په دربار دَ رب د دوي کښې: وائي کافران يقيناً دا خامخا جادوګر ښکاره دي.

۰۱۰- دَ کلمې طيبې داعي احسن قائل دي.

﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ ﴾

سورة فصلت 33.

ترجمه:او څوک دې ډير خائسته په وينا کښې د هغه چا نه چه بلنه کوي الله تعالیٰ ته او عمل کوي نيک او وائي يقيناً زۀ د ډلې د مسلمانانونه يم.

۰۱۱- ژوند دَ موحد پاک دي،

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾ ﴾ سورة النحل 97.

ترجمه : څوک چې عمل اوکړي نيک نارينه وي او که زنانه او حال دا چې هغه مومن وي نو خامخا به ورکړو مونږ هغه ته ژوند پاکيزه (مزې دار) او خامخا به ورکړو مونږ هغوي ته اجر دَ هغوي ډير غوره دَ هغه عملونو نه چې دوي به کول.

## حقيقة الشرك

دَ توحيد دَ معرفت دَ پاره دَ شرک وضاحت ضروري دې ځکه چې تعرف الاشياء باضدادها ، چې دَ توحيد تحقق صحيح اوشي او دَ شرک نه ځان بچ کړې شي ځکه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

توحيد تر هغې پورې صحيح کيدلې نشي ترڅو پورې چې دَ شرک نه بائيکاټ نوي شوې ځکه ضدين جمع کيدلې نشي - نو اوس شرک څه ته وائي ، او دَ شرک حقيقت څه دې ؟

شرک په لغت کښې حصه دارئ او برخې ته وئيلې کيږي، خلق وائي چې فلانکې راسره په کاروبار کښې شريک دې ، يعني حصه دار دې راسره ،

الشر كة مخالطة الشريكين ، والشرك النصيب [1]

برخه او حصه ورکول ديته شرک وائي قرآن په لغوي معني هم استعمال کړې دې -

﴿ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي ٱلثُّلُثِ ﴿١٢﴾ ﴾ النساء: ١٢

ترجمه : پس دوي شريکان دي په دريمه حصه کښې -

﴿ فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ﴿١٣٩﴾ ﴾ الأنعام: ١٣٩

ترجمه : نو دوي په هغې کښې شريک دي -

﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾ ﴾ سورة الزمر ٢٩

ترجمه: بيان کړي دي الله تعالي مثال د يو سړي چه ديکښې شريکان مختلف وي او بل سړې پوره د پاره د يو سړي وي، آيا برابر دي دواړه په مثال کښې؟ ټول صفتونو يو الله له دي بلکه زيات د دوي نه، نه پوهيږي -

او په حديث کښې هم راځي چې

ان معاذاً اباح الشرک في اليمن

نو دلته لغوي معني مراد ده اصطلاحي معني نه ده مراد، په اصطلاح کښې دَ شرک تعريف عالمان داسې کوې -

---

[1] لسان العرب -

## اثبات الشريک لله تعالي [1]

**الشرک هو اثبات الشريک في الالوهية بمعني وجوب الوجود کما للمجوس او بمعني استحقاق العبادة کما لعبدة الاصنام [2]**

يعني شريک کول الله سره يا په ذات کښي لکه څنګه چې ذات دَ الله دې ، لکه چې مجوس دوه خدايان مني ، يا دَ الله دَ مختص تعظيم او عبادت مستحق بل څوک اوګڼړلي شي لکه چې بت پرستان ئي کوي ، دَ درګاهونو والو دا شرک وو،

**هو ان يثبت لغير الله تعالي شيئاً من الصفات المختصة به تعالي کالتصرف في العالم بالارادة [3]**

هغه دا چې دَ الله تعالي نه علاوه بل چا له دَ الله تعالي دَ مختص او خاصو صفتونو نه يو صفت ثابت کړې شي لکه په عالم کښي په ارادې سره تصرف کول شو.

شاه ولي الله رح دَ هندوستان عالم وو، نو په هندوستان کښي چې دَ شرک کوم بنياد وو، او کوم قسم شرک کيدلو نو دَ هغه په حقيقت باندې شاه ولي الله رح پوهيدو، حجة الله البالغة دَ شاه ولي الله رح بهترين کتاب دې ، په هغې کښي دَ شرک حقيقت ئي نقل کړې دې، په عنوان دَ حقيقة الشرک سره ،

""""""" حقيقة الشرك أن يعتقد إنسان في بعض المعظمين من الناس أن الآثار العجيبة الصادرة منه إنما صدرت لكونه متصفا بصفة من صفات الكمال مما لم يعهد في جنس الإنسان ، بل يختص بالواجب جل مجده لا يوجد في غيره إلا أن

---

[1] (مفردات القرآن للراغب ).

[2] (شرح العقائد)-

[3] (الفوز الكبير)-

Maktaba Tul Ishaat.com

يخلع هو خلعة الألوهية على غيره ، أو يغني غيره في ذاته''''''''''[1]

چې حقيقت دَ شرک دا دې چې دَ کومو عزتمندو مسلمانانو باره کښې دَ دې خبرې دا اعتقاد ساتلې شي، چې دَ دوي نه بعضې څيزونه صادريدلې شي، چې دَ هغې صادريدل الله سره مختص وي ، او دَ الله صفات په نورو کښې هله راځي ، چې الله پرې دَ الوهيت څادر واچوي، نو هغه له ترې حصه ورکړي نو ديته شرک وائي ،

که شرک یہ ہے کہ اللہ کی صفت کسی اور میں جانے مثلاً کسی کو یہ سمجھے کہ اس کو ہر چیز معلوم ہے، یا وہ جو چاہے تو کر سکتا ہے، یا ہمارا نفع و نقصان اس کے اختیار میں ہے، اور یہ کہ اللہ کے تعظیم اوروں پہ خرچ کرے، مثلاً کسی چیز کو سجدہ کرے، اس سے حاجت مانگے، اور اس کو مختار سمجھے، تو اس کو شرک کہتے ہیں۔[2]

نو دا شرک دې ، او دا ناروا دې ، نو دَ شرک حقيقت دا وو، چې دَ الله کوم صفات دي ، صفات مختصه دا په بل چا کښې اوګنړلې شي،۔

دَ توحيد دوه غټ قسمونه دي(۱) توحيد في الذات او(۲) توحيد في الصفات دَ توحيد في الذات مطلب دا دې چې الله په ذات کښې يک يو دې، تقريباً په دنيا کښې ډير کم خلق داسې دي چې دَ نشت برابر دي ،چې هغوي الله نه مني ، دهريان هم چې مجبوره کړي نو الله مني ، کميونسټ دَ الله ذات نه مني نورې تولې خطې دَ عالم الله مني ، ابوالحسن خرقاني رح وائي۔

نطفہ گوید کہ او موجود نیست
بود را نابود گوید بود نیست

---

[1] حجة الله البالغة ؛ باب في حقيقة الشرك۔

[2] (موضح القرآن تحت آية البقرة ۱۳۲)

وائي دَ نطفي ځاځكي ته اوګوره هغه هم وائي چې الله نشته دي ، دَ شته ذات باره کښې يو نشت شي راځي او دَ يو موجود ذات باره کښې يو معدوم شي وائي ،چې دا موجود ذات نشته دي ، نو ټول دي او بيا دَ الله دَ ذات دَ يو والي چې په ذات کښې الله يو دي ، دا تقريباً ټوله حصه دَ عالم مني ، سيوا دَ مجوسو او عيسايانو نه ، عيسايانو به وئيل ان الله ثالث ثلثة

او مجوس وائي يو خالق خير دي او بل خالق شر دې ، يو ته يزدان وائي ، او بل ته اهرمن وائي ، وائي يو دَ فرشتو ليډر دي او بل دَ شيطانانو ليډر دي ، دوي دَ الله سره په ذات کښې حصه دار منل، نوره اکثرة حصه دَ عالم هغوي الله يو ګڼري په ذات کښې ، نو دا توحيد في الذات دي ،

دويم دي توحيد في الصفات ، دَ دي مطلب دا دي ، چې لکه څنګه دَ الله دَ ذات پشان څوک ذات نشته دي ، نو دغه شان دَ الله دَ صفاتو پشان دَ چا صفات نشته دي ، دَ الله صفت خلق دي قدرت دي ، علم دي ، نو دَ الله دَ خلق پشان دَ چا خلق نشته دي ، او دَ الله دَ قدرت پشان دَ چا قدرت نشته دي ، او دَ الله دَ علم پشان دَ چا علم نشته دي ، دَ انسان به څه قدرت وي چې يوه خپه اوچته کړي نو چې بله اوچتوي نو راغورزيږي ، او دَ انسان به څه علم وي دَ خپل څټ دَ ويختو نه خبر نه دي ، پته ورته نشته دي ، او دَ انسان به څه اوريدل وي، او څه به ئي ليدل وي، اوريدل ،ليدل او طاقت چې دي نو دا دَ الله دي ، دَ الله پشان دَ بل چا داسي نشته دي، په صفاتو کښې مونږ اهل السنة والجماعت دا عقيده لرو،

١۔ يو دا چې دَ الله صفات مونږ منو ، ٢۔ چې څنګه الله وئيلي دي نو هغه شان ئي مونږ منو،

٣۔ دَ الله صفت مونږ بل چا له نه ورکوو،

٤۔ دَ مخلوق صفت په الله کښې نه منو، او

٥۔ دَ الله دَ يو صفت نه هم مونږ انکار نکوو، دَ الله په صفاتو کښې خلق متذبذب شوي وو، خو ښه خبره دا ده چې قرآن کښې څه وو نو آمنا وسلمنا الله چې څه وئيلي

Maktaba Tul Ishaat.com

دي نو زمونږ پرې ایمان دې ، لکه عام عبارت استاذان ذکر کوي،

**نثبت ما ثبت لنفسه وننفي ما نفي عن نفسه ونسكت ما سكت عنه من غير نسيان**

مونږ الله له هغه صفت ثابتوو چې الله تعالي ځان له ثابت کړي دي ، او نفي کوو دَ الله تعالي نه هغۀ څه چې الله تعالي دَ ځان نه نفي کړي وي او چې دَ کومو نه الله تعالي غلې شوې دې بغیر دَ هیریدلو نه نو دَ هغې نه مونږ غلي کیږو . نو صفات درې قسمه شو یو چې الله ځان له ثابت کړي دي ، لکه خالق ، رازق ، مالک ، او دویم چې الله دا دَ ځان نه نفي کړي دي چې لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا احد ، لا شريک له ، ليس كمثله شيئ ،

لا تاخذه سنة ولا نوم ،

او دریم چې الله چې دَ څه نه سکوت کړې دې ، نو مونږ الله له مشوره نه ورکوو، چې الله تا کښې دا صفت وو او تا نه دې ذکر کړې ، نو مونږ ئې تاله وایو ، لکه طبیب صفت شو، نو مونږ به سکوت اختیاروو، دَ هغه نه چې الله ترې سکوت اختیار کړې دې ، دا دَ صفاتو باره کښې خبره وه ، څنو ډلو انکار اوکړو، دَ صفاتو دَ الله نه ، لکه معتزله شو، او څنې راغلل نو هغوي دَ الله صفات دَ مخلوق پشان اوګڼړل او څنو دَ صفاتو دَ خالق او دَ صفاتو دَ مخلوق فرق اونکړو، نو دَ صفاتو منکر بغير دَ تاويل نه ، دا دَ قرآن نه منکر دې ، او دا هم دَ قرآن نه منکر دې چې څوک فرق نه کوي، په صفاتو دَ الله او دَ مخلوق کښې لکه دَ الله صفت سميع دې ، او بصير دې ، او دا صفت دَ انسان هم دې ، خو حقيقت کښې ئې فرق دې ، الفاظ ئې يو شان دي خو ديکښې دَ زمکې او اسمان فرق دې ، نو دَ الله صفات او دَ مخلوق صفات دا به يو شان نه ګڼړي بل دا چې دَ الله صفات به په مخلوق کښې هم نه ګڼړي، پیغمبر ،فرشته ، غوايه داسې امتي چې دَ الله صفت ورله ورکړي ، نو داسې به نه کوي ، ديته شرک في الصفات وائي

، او مونږ چې اووئيل چې يو الله له به ئې مني ، نو ديته توحيد في الصفات وائي ، په پاکستان او هندوستان کښې استاذانو توحيد في الصفات بيان کړې دې ، ځکه چې مقابل کښې مجوسيان نه وو ، چې شرک في الذات ئې کوو، بلکه مقابل کښې هغه وو چې هغوی شرک في الصفات کوو، دَ الله صفت ئې مخلوق ته ورکړې وو، نو هغوی شرک في الصفات کولو ، نو زمونږ استاذانو دَ هغې رد کړې وو، نو مونږ چې توحيد بيانوو نو توحيد في الصفات بيانوو، او چې رد کوو نو دَ شرک في الصفات رد به کوو، نو دا دَ توحيد او دَ شرک حقيقت وو، په مختصر انداز مو اووئيلو دې دَ پاره چې حقيقت دَ شرک او دَ توحيد اوپيژندلې شي -

## دَشرك سبب

دا شرک ئې دَ ضد او دَ عناد دَ وجې نه نه وو، او نه دوي ئې مستقل اختيارمند ګڼړل، بلکه دوي چې دا شرک کوو نو دَ دې وجې نه ئې کوو، چې دوي به وئيل په مخلوق کښې ځنې نيکان بندګان اولياءکرام دي چې دَ دوي دَ رياضت او دَ عبادت او د محنتونو دَ وجې نه الله په دوي باندې څه احسانات کړې دي، نو

۱ـ اول احسان ئې پرې دا کړې دې چې دوي يعني نيکانو بندګانو دَ الله تعالي عبادتونه کړي دي محنتونه او رياضتونه نو الله تعالي پرې يو احسان دا اوکړو چې دوي له ئې لږ اختيارات ورکړي دي او دَ ټولو کارونو اختيارات هم نه ،بلکه دَ ځنو کارونو اختيارات ئې ورکړي دي،الله ورته وئيلي دي چې تاسو به دې حصه کښې او په دې کارونو کښې څه فيصله کوې، نو زه به درنه تپوس نه کوم چې څه پکښې کوې نو کوې ئې ، نو الله ورله اختيارات ورکړې دي او دا چې دا دَ پير بابا علاقه ده او دا دَ پيرې ابي علاقه ده، او په هغې کښې دَ دوي اختيار چليږي ، يعني دا چې دَ زمکې لږه حصه او څه لږ جزوي اختيارات ئې ورله ورکړل چې ديکښې تاسو به تصرف کولو کښې خودمختاره ئي ، زه به ستاسو نه تپوس نه کوم چې څه کوې نو کوې -

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۔ دویم احسان ئې پرې دا کړې دې ، چې که دَ دې مجاهدو او دَ ریاضتونو عبادتونو دَ وجې نه دَ خپلو مریدانو او شاګردانو سفارش کوي نو اګر که زما طبیعت نه وي او زما مرضي نه وي نو زه به خپل طبیعت او اراده ستاسو دَ وجې نه بدلوم ، او ستاسو خوښه به کوم ، یعني دوي دَ عبادت او محنتونو دَ وجې نه یو داسې مقام ته اورسیدل چې دَ الله محبوبان شو اوس الله تعالي دَ دوي دَ خوښې دَ وجې خپله خوښه او اراده پریږدي ، او دَ دوي خوښه کوي۔

۳۔ انعام ئې دا کړې دې، که دوي دَ خپلو مریدانو او شاګردانو چې دَ دوي نذر او نیاز کوي او دَ دوي عبادت کوي او غلافونه اچوي دَ دوي په دربار باندې ، ځائې جارو کوي نو الله وائي که دَ دوي دَ درد او سُوک نه ځان خبروي نو الله وائي ما ورله لګ علم غیب ورکړې دې چې دَ مریدانو درد او حالت پرې معلوم کړي، او بابا ورته ځان اورسوي ، یعني دَ خپلې علاقې علم غیب ورله ورکړي۔

٤۔ انعام پرې دا اوکړي چې دوي دَ علاقې معبود شي او خلق بیا دَ دوي عبادت کوي او طواف ئې کوي، نذر ئې مني ، او حاجتونه ترې غواړي، نو په دې نظریه باندې دَ شرک بنیاد ایښوَدې شوې دې، دوي شرک دَ مینې دَ وجې نه کوو، دَ ضد او دَ عناد دَ وجې نه ئې نه کوو، چې دوي دَ الله عبادت کړې دې ، او دَ الله محبوبان شوي دي، نو دَ دوي سره چې مینه ساتې نو هغوي له دوي کارونه هم کوي ، الله ورله اختیارات ورکړي دي ، ابن قیمؒ په قصیده نونیه کښې ذکرکوي، تعریف دَ شرک ذکر کوي نو پدې انداز باندې ئې ذکر کوي، چې دوي دَ الله سره څوک شریک جوړ کړي وو، نو دا دَ وجې دَ حسد نه نه وو ۔

نو دا ئې دَ محبت دَ وجې نه الله سره شریکان جوړ کړي وو، چې دَ الله صفات ئې څه مخلوق ته ورکړي وو او رامدد شه به ئې ورته وئیلو۔

والشـــرک فهـــو توســـل مقصـــوده

الزلفـــي مـــن الـــرب العظـــیم الشـــان

بعبـــادة المخلـــوق مـــن حجـــر ومـــن
بشـــر و مـــن قبـــر و مـــن اوثـــان
فالشـــرک تعظـــيم بجهـــل مـــن
قيـــاس الـــرب بـــالامراء والســـلطان

ترجمه : شرک دا داسې ذريعه لټول دي چې لوئي رب ته سرې ځان نزدې کړې هغه ذريعه دَ مخلوق ( ګټې ، انسان ، قبر او دَ بتانو ) عبادت کول دي ، نو شرک دَ مخلوق تعظيم کول او په ناپوهي سره الله تعالي په بادشاهانو او مخلوق قياس کول.

دا دوي شرک ولې کوي نو وائي ځکه چې دوي په بادشاهانو الله قياس کړو، چې څنګه بادشاه ته واسطه پکاروي نو دغه شان الله ته وائي هم واسطه پکار ده،

په شرح المقاصد کښې اصل وجه دَ شرک دَ دوي ذکرکوي، چې دَ شرک اصل وجه دا نه وه چې دوي ضديان وو بلکه دَ دوي عقيده دا وه چې

ان نفوسنا نجسة لا تصلح لعبادة الاله الاعظم لا بد لنا من متوسط
ولا بد للمتوسط ان يري

وئيل ئې چې زمونږ نفسونه ګنده دي چرته مونږ او چرته دَ الله عبادت کول، دا مونږ کما حقه نشو کولې، نو واسطه راله پکارده او داسې واسطه چې مونږ ئې وينو، نو شرک ئې دَ ضد او دَ عناد دَ وجې نه نه وو، بلکه دا ئې عقيده وه چې واسطه پکارده ، دا ئې عقيده فاسده وه ، نو يو شرك په غلطه وسيله الله تعالي ته ځان نزدې کول او دويم دَ الله تعالي قياس په مخلوق باندې کول شو ، دا يو دَ ملیانو شرک وو او دويم نمبر دَ اميانو شرک وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

# اقسام دَ شرك

دَ شرک قسمونه هر چا په خپل انداز او طريقو سره ليکلي دي کليات ابي البقاء ځان له طرز دی ، مفتي کفايت الله صاحب په تعليم الاسلام کښې په بل طرز ليکلي دي ، زمونږ دَ شيوخو انداز اکثر طرز دَ تقوية الايمان دَ شاه اسماعيل صاحب رحمه الله نه نقل دي دَ خپل دور مطابق هغوي چي کوم ډير اقسام چي خلقو کوم شرکو کولو او جامع وو نو هغه ئې ذکرکړي دي ، مونږ دَ خپلو استاذانو په طرز باندې ذکر کوو چي شرک اول په دوه قسمه باندې دي۔

۱۔ شرک اعتقادي او

۲۔ شرک فعلي

# شرك اعتقادى

هغه ديته وائي چي په زړه کښې يو سړي او يو بنده دا عقيده لري چي دَ الله دَ يو صفت پشان صفت دا په مخلوق کښې هم شته دې ، لکه چي څنګه الله په غيبو باندې پوهيږي نو داسې په مخلوق کښې هم شته دې ، چي په غيبو باندې پوهيږي، او چي څنګه الله غائبانه بلنه اوري په هر وخت کښې دَ هر چا ، په هر ځائې کښې په هره ژبه کښې ، نو داسې عقيده لري چي داسې په مخلوق کښې هم شته دې ، چي واه پيره بابا !! رامدد شي !!

نو هغه ئې اوري نو دَ دې دَ زړه نه عقيده لرل ، که په خله ئې وائي ، او که نه ، نو دَ دې حکم دا دې ، چي داسې سړې داسې شرک کونکي قطعي کافر دې ، هيڅ عبادت ئې دَ الله په دربار کښې مقبول نه دې ، او بخښنه ئې دَ قيامت په ورځ که سره دَ شرک نه بغير دَ توبې تلې وو، نو بخشش ئې نشته دې۔

# شرك فعلي او عملي

دا دېته وائي چې هغه کار ظاهر کنبي داسې وي، چې دَ هغې نه دَ شرک بوئي راځي، اګر چې دَ هغه عقيده دَ شرک نه وي، مثال ئې، لکه يو سړې دې هغه خپل پير يا استاذ ته رکوع اوکړه، په وخت دَ لاس ميلاويدو کښې ټيټ شو، يا ئې ورته سجده اوکړه، ظاهر کښې دا کار دَ کفر او دَ شرک دې، ځکه چې سجده او رکوع عبادت دې ،او عبادت صرف دَ الله حق دې، او دې دَ الله سره دَ الله په حق کښې بل څوک حصه دار کړو نو ظاهر کښې دا کار دَ شرک دې، ځکه چې الله ته په دې عقيده سجده کيدله چې هغه ماته نفع او نقصان راکولې شي، که سجده ورته اوکړم نو نفع رارسوي بې اسبابو او که سجده ورته اونکړم نو ماته بې اسبابو ضرر رارسوي ،او الله زما کارساز او مددګاردې، نو په دې عقيده باندې سجده الله ته کوي،

نو که دې دَ پير يا استاذ ته سجده اوکړې او ته ورته اووائې دا دې ولې اوکړه؟

او هغه اووائي ځکه مې اوکړه چې هغه زما په نفع او نقصان باندې قادر دې بې اسبابو، نو دا دَ شرک فعلي سره شرک اعتقادي هم شو، نو اوس کافر شو، او که چرې دا اووائي چې هغه دَ نفع او نقصان اختيارمند نه دې، او کاروبار مې سمولې نشي، خو سترې مشي مې ورسره کول، او بس پوهه نه شوم، نو ښکته شوم، او دا عقيده ئې ورسره نه وه، چې ماته نفع او نقصان راکولې شي، نو دا بيا شرک فعلي شو، او مرتکب دَ ګناه کبيره شو، خو کافر نه دې، ځکه چې عقيده ئې ورسره تل نه ده، دَ شرک فعلي خپل حکم دا دې چې دا ګناه کبيره ده، خو سړې په دې باندې کافر کيږي نه، يعني ظاهري عمل دَ شرک دې خو عقيده ورسره نشته دې، نو دا شرک فعلي دې، که چرته دَ شرک عقيده ورسره وي نو بيا شرک اعتقادي ته ځي، خو فعلي هله وي چې عقيده ورسره نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

# شرك اعتقادي قسمونه

زمونږ استاذانو دَ تقسیم مطابق دَ شرک اعتقادي څلورقسمونه دي.

1. شرک في العلم
2. شرک في التصرف
3. شرک في العبادة
4. شرک في الدعاء

دَ زیات ضرورت دَ وجې پنځم قسم

5. شرک في الحکم والقانون

## ۱- شرك في العلم-

علم پوهې ته وائي دا یو دَ اسبابو دَ لاندې دي او بل دَ اسبابو نه بغیر، یو دَ ظاهري اسبابو لاندې لکه ټیلي فون او په نورو څیزونو باندې لکه په سینه دې بلغم وي ښکاري نه خو ډاکټر پرې څه شي کیږدي، او وائي ساه اخله نو وائي ستا په سینه خو بلغم دې نو دا علم دَ غیبو نه دې ځکه چې ظاهري اسباب شته دې، دغه شان ډاکټر تهرمامیټر کیږدي، او تبه معلوموي، په خوردبین باندې جراثیم معلوموي نو دا غیب نه دې ځکه چې دا دَ ظاهري اسبابو دَ لاندې دي دیته علم غیب نه وائي علم غیب دیته وائي چې هغې ته ظاهري اسبابو سره رسائي نه کیږي لکه دلته فرشتي موجود دي، خو په ظاهري اسبابو نه ښکاري، په دې زمونږ ایمان دې چې جنات شته دې، خو ښکاري نه، بڅپل صورت کنبې، البته دَ نورو څیزونو په شکل کنبې ځان ښکاره کوي، خو بیا ورته جن نه وائي، نو غیب پټو ته وائي چې هغې ته په ظاهري اسبابورسائي نه کیږي لکه ماته دَ سعودي نه کال راغلو چې دوه کسان مړه شو، نو ما تاسو ته اوئیل نو دیته علم غیب نه وائي، ځکه چې ما خو ظاهري اسبابو سره رسائي حاصله کړه، دیته

اطلاع علي الغيب وائي،

اوس كه يو سړې وائي چې غوا مي روكه شوه او يو پير څخه لاړم، او ما ته ئې وئيل چې دَ قبلې په طرف باندې ئې كوره، نو قبله خو انقطاع الارض پورې ده، كه وائي په تا چا څه كړي دي! څه پته ده يا ئې په تا تعويذ كړي دې او يا دا تعويذ تاكړي دي، نو په پتو صرف يو الله پوهيږي بغير دَ اسبابو نه، دا اختيار دَ علم صفت دَ الله بل چاته وركول دا شرک في العلم دي، دا چې قرآن بيانوي نو ديكښې شرک في السمع او شرک في البصر هم دي ،لكه اووائي چې حاضر او ناظر دې، نو الله دا علم ځان له ثابتوي، په سميع ، بصير، خبير، شهيد ، وغيره سره ، او دَ مخلوق نه نفي كوي، دَ انبياءو نه ، دَ جناتو نه ، دَ فرشتو او بيا خصوصاً دَ نبي عليه السلام نه ، چې نبي عليه السلام په غيبو باندې نه پوهيږي، الله رب العزت چې به ورله دَ څه خبروركړو نو هغه به ئې بيانوو، ديته انباء الغيب وائي نه كه علم الغيب ديته وئيلي كيږي شرک في العلم ـ دَ مشركانو دا عقيده وه چې دې نيكانو بندگانو له الله تعالي دَ يوې علاقې دَ غيبو علم وركړي چې په هغې سره هغه دَ خپلو مريدانو او ماتختو خلقو ضروريات معلوموي او بيا دَ هغوي حاجتونه پوره كوي نو چې څوک دا عقيده لري چې مكمل په غيبو بل څوک پوهيږي يا جزوي طور دَ يوې علاقې په غيبو څوک بغير دَ اسبابو پوهيږي نو دا شرک في العلم دي۔

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾﴾

سورة النمل ٦٥

ترجمه : اووايه نه پوهيږي هغه څوک چې دي په اسمانونو او زمكه كښې په غيبو باندې سيوا دَ الله نه ، او دوي نه پوهيږي چې كله به دوي پاڅولي شي۔

﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ ﴾ (٣٤) سورة لقمان 34.

ترجمه : بې شکه الله هم هغه سره دي علم دَ قيامت او هغه راوروي باران او پوهيږي
هغه په هغه څه چي په رحمونو کښې دي ، او نه پوهيږي هيڅ يو تن چي دي به څه
کوي صباء او نه پوهيږي هيڅ يو تن چي په کومه زمکه به دې مري ، بې شکه الله
ښه پوهه ښه خبردار دي .

﴿ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴾

(٢٢) سورة الحشر 22.

ترجمه : هغه الله هم هغه ذات دې چي نيشته دي لائق دَ عبادت سيوا دَ هغهٔ نه پوهه
دې په هر پټ او په هر ښكاره هم هغهٔ دي عام مهربان خاص مهربان .

## 2 - شرك فى التصرف

تصرف اختيارته وائي او واکدارې او اختيارمندې ته وائي ، دا بيا په دوه قسمه باندې
دې ،

**١. تصرف** سره دَ اسبابو او بل

**٢. تصرف** بغير دَ اسبابو نه ،

**١. تصرف** سره دَ اسبابونه الله بنده ته څه اختيارات ورکړي دي هغه لګيا وي دَ کسب
ترحده لکه ډاکټر دَ اسبابو دَ لاندې علاج اوکړي او بيمار صحت مند شي، بنده تا په
ډوډي باندې موړ کړي نو مړؤونکې الله تعالي دې ، خو ډوډې او خوړونکې ئې
سبب شو ، دويم بغير دَ اسباب چې هيڅ ظاهري اسباب نشته دي او نفع نقصان ورکوي
لکه دَ شپې مړې باندې کټ اړوي يا سړې اولاد ورکوي ، يا سرخوږې ښه کوي يا
بوساړې ساتي دا بغير دَ اسبابو دي نو سره دَ اسبابو څه فائده او نقصان دَ چا نه کنړل دا
شرک نه دي .

شرك في التصرف نو هغه بغير دَ اسبابو نفع او نقصان يا څه تصرف او اختيار دَ الله نه

علاوه بل چا له منل دا شرک في التصرف دي.

دَ مشرکانو دا عقیده وه چي دا نیکان بندیان دَ عبادت ، ریاضت، محنت او مشقت دَ وجې محبوبان دَ الله کرځیدلي دي نو الله تعالي ورلره دَ یو علاقې اختیار ورکړې دې چي دَ دې خلقو ضرورتونه پوره کوه ، او ضروریات ئې سر ته رسوه بغیر دَ ظاهري اسبابو نو قرآن په دې رد کوي ، نو دَ الله یو صفت دَ تصرف او دَ اختیار دې ، چې الله هر څه په هر وخت کښې بغیر دَ اسبابو نه کولې شي ، لکه قرآن کښې دَ ملک ، یا دَ اغتناء په صفت باندې یا 'له ، یا دَ 'لله 'په عنوان سره دا ذکر کړي دي ، لکه

**له ما في السموات والارض وما بينهما ، له ملک السموات والارض، يايها الناس انتم الفقراء الي الله ، والله هو الغني الحميد** ، نو اختیارات په هر څه کښې دَ الله چلیږي دا صفت بل چا ته ورکول دا شرک في التصرف دي ، بیا امور په دوه قسمه دي.

**۱۔ امور تکویني او**

**۲۔ امور تشریعي**

یو هغه امور چې هغه دَ کائنات سره دَ زمکې اسمان او دَ انسان دَ وجود سره تعلق لري ، لکه بیماري، صحت، عزت ، ذلت، بادشاهت ، بچي اوښځې ورکول ، باران ورول، اسمان شین کول ، وریځ راوستل بوتلل، دریابونه روانول او اوچول، دا ټول امور تکوینیه دي ، چې دَ ظاهر عالم سره تعلق لري.

**۲۔ دویم دي امور تشریعیه**

هغه امور چې هغه دَ شریعت او دَ عبادت حلال وحرام جائز او ناجائز او دَ ژوند تیرولو طریقي او قانون سره تعلق لري، دا زمونږ عقیده ده او دَ قرآن عقیده ده ، چې لکه څنګه په تکویني امورو کښې دَ الله سره څوک شریک حصه دار نشته دي، او په دیکښې الله سره حصه دار او شریک ګڼل شرک دي ، او داسې کونکي اتفاق

Maktaba Tul Ishaat.com

مشرک دي ، نو دغه شان دَ امور تشريعيه دَ ژوند دَ تيرولو قانون او نظام مقررونکي هم صرف الله دي، دَ هغه دَ حکم مطابق او دَ هغه دَ رضا مطابق به ژوند تيرولې شي، مونږ پخپل ژوند تيرولو کښې آزاد نه يو، دا اختيار دَ الله دې نو دَ زندگي دَ تيرولو دَ قانون اختيار بل ته ورکول هم شرک دې ، يا دَ دې څه حصه بل چا ته ورکول يا په ژوند کښې ځان آزاد گنړل دا هم کفر او شرک دې ، چې فلانکې حلالول او حرامول کوې بغير دَ ظاهري اسبابو ، ډاکټر دَ ظاهري اسباب دَ لاندې څه بند کړې ، چې دا مرض کښې ضرر ورکوې ، دا دَ ظاهري اسبابو دَ لاندې بغير دَ ظاهري اسبابو نه څوک حلالونکې او حرامونکې گنړل دا بل ته رب وئيل دي او دا ربوبيت دې ، نو داسې منلو سره هم سړې مشرک کيږي ځکه دَ الله حق ئې بل چا له ورکړو دا ظلم عظيم دې ۔

دا دَ رب قـــانون دې پکښــې نـــه کيـــږي تـــرميم
ان الشـــــرک لظلـــــم عظـــــيم

تکويني امور دَ کائنات کارونه کليتاً الله ځان له وئيلي دي او دَ مخلوق نه ئې نفي کړې دي ۔

﴿وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ
سورة البقرة ۱۱۶

ترجمه :او وائي دوي نيولې دې الله تعالي ولد، پاکې ده الله تعالي له ، بلکه هغه له هغه څه دي کوم چې په اسمانونو او په زمکه کښې دي ټول هغه ته دي عاجزي کونکي ۔

په بره اوښکته چې څه دي نو دَ الله اختيار کښې دي، دا په لفظ دَ قدرت سره هم ذکرکوي، او ځان له ئې الله ثابتوي او دَ غير نه ئې نفي کوي لکه ، ان الله علي کل شيئ قدير، يقيناً الله په هر څيز باندې قادر دې ۔

﴿ قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ

وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾ آل عمران ۲۶

ترجمه :اووايه اې الله اې خاونده دَ بادشاهي ورکوې بادشاهي چا له چې دې خوښه شي او اخلې بادشاهي دَ چا نه چې دِ خوښه شي او عزت ورکوې چا له چې دې خوښه شي او ذلت ورکوې چا له چې دې خوښه شي صرف ستا په لاس کښې ټول خير دې ، يقينا ته په هر شي باندې قدرت والا ئې .

ټول اختيارات دَ الله دي دَ دې امورو تکوينيه مالک صرف الله دې ، مشرکانو دا صفت بل چاته ورکړې وو، او په تلبيه کښې به ئې وئيل چې

## لا شريک لک الا شريکاً هو تملکه وما ملک

نو دَ تکويني امورو واکدار صرف يو الله دې ، يوسړې دا عقيده اولرې چې زما تبه او ټوخې شهيده ابې ښه کوي ، يا زما دَ فيل کيدو او پاس کيدو اختيار دَ جاړو بابا سره دې ، چې چيله به اولم که په مخ پريوته نو پاس او که اولته پريوتله نو فيل کيږم ، نو چې دا عقيده وي چې زما دَ بچو اختيار دَ پير بابا سره دې ، لاړ به شم اول به زانګو ته تال ورکړم ، اوزنګوم به ئې هسې ئې نه ورکوي ، يا فلانکې زيارت دَ جينکو ذمه دار دې ، بې وادو ته واده کوي ( نو دې به دلال وي نو ؟ )

يا فلانکې زيارت باران وروي نو دا تکويني امور بغير دَ اسبابو نه دَ الله نه بغير بل ته ورکوي ظاهري اسباب نه وي نو په ژوندي يا مړي دا ګمان کول چې دا زما کار کولې شي نو داشرک في التصرف دې ،

دغه شان دَ شريعت دَ امورو اختيار او قانون دَ ژوند مقررول، دا دَ الله اختيار دې ، حلالول او حرامول دا دَ بل چا نه دې ، څنګه چې دا نور اختيارات بل ته ورکړې شي ، نو دا شرک دې او دا سړې مشرک دې ، نو دا رنګې دا اختيارات بل له ورکول دا هم شرک دې ، او کونکې ئې مشرک دې ، چې دَ ژوند مکمل نظام او کنټرول دَ الله په اختيار کښې دې ، الله زمونږ دَ پاره چې څنګه قانون مقرر کړې دې، په هغې باندې به زندګي تيروو، او عقيده به پرې لرو، او عمل به پرې هم کوو، عقيده به هم رب چاهي

Maktaba Tul Ishaat.com

وي ، او عمل به هم رب چاهي وي ـ (يعني دواړه به دَ رب په خوښه وي )
دَ الله په خوښه باندې به هرڅه وي ، ضلع ، صوبه ، کور کلي، ملک وطن دا به دَ الله په اختيار وي لکه څنګه چې مونږ خان بيمار کولې نشو، او نه خان غورزولې شو، او نه بل څوک بيمار کولې شو، او نه بل چاته صحت ورکولې شو، نو دغه شان زمونږ په دې بدن کښې هم دَ نورو کارونو واکداري اختيارمندي نه ده ، چې ګنې مونږ آزاد يو، مونځ که زمونږ خوښه وي نو او به ئې کړو ، کنې نه به ئې کوو، دا اختيار زمونږ سره نه دې ، او نه ئې دَ کمولو او زياتولو اختيار لرو، بلکه الله چې څومره مونځونه او رکعتونه مقرر کړي دي نو هغه دومره به وي ، دوه رکعته درې کولې نشو، او څلورينځه کولې نشو، نو دا اجتماعي ژوند دَ جوړولو اختيار به هم دَ الله په خوښه وي ، الله دين مکمل کړې دې ، او مونږ ته ئې دين ښودلې دې ،

﴿ ----- ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا ----- ﴾ سورة المائدة ٣

ترجمه : نن کامل کړو ما تاسو له دين ستاسو او پوره مې کړو په تاسو باندې نعمت خپل او غوره مې کړو تاسو له اسلام دَ ژوند تيرولو طريقه -----

دين څه ته وائي ؟ نور الانوار کښې مو رئيلي دي چې

**هو وضع الهي سائق لذوي العقول باختيارهم المحمود الي الخير بالذات هو يشمل الاعتقاد والعبادات والمعاملات ـ** [1]

دَ الله تعالي مقرر شوی طريقه چې عقلمند ذاتي خير ته دَ هغوې په اختيار باندې رسوي او دا عقيدې عبادت او معاملاتو ټولو ته شامل دې ـ او ملاجيون ورسره وائي ، چې

بلکه هر څه ته دا خبره شامله ده ، الله ورله قانون مقرر کړې دې ، بنده خودمختار نه

---

[1] نور الانوار لملا جيون ۃ ـ

دې په دې يو ځيز کښې که څوک پکښې ځان خودمختاره ګڼړي نو دا بيا انسان نه دې ، بلکه په صورت دَ انسان کښې خر ، سپې ، او غوئې دې -

﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ المائدة: ٤٨

ترجمه : دَ هر چا دَ پاره مونږ کړخولي دي ستاسو نه شريعت او لاره فراخه

دَ هر يو لپاره ئې مقرر کړې دې شرعة دَ ژوند تيرولو ظاهره لار، او قانون ئې مقرر کړې دې ،نو په دې قانون باندې دَ تلو طريقه ئې هم مقرر کړې ده ،

شرعة قانون او منهاجاً او دَ اجراء دَ قانون لاره ئې هم مقرر کړې ده، منهاجاً دَ عمل کولو طريقه، نو په قرآن کښې ئې طريقه راوليږله ، نو نبي عليه السلام ئې ورسره معلم او استاذ راوليږو، چې خلقو ته اووايه چې قانون به مو دا وي ، او قانون الهي به په دې طريقه نافذ کوې، کار او طريقه کار به مو دا وي -

شرعة کار او منهاجاً طريقه دَ کار، دا دواړه دَ الله دَ طرفنه مقرر شوي دي ،

نو آيا په ديکښې دَ جمهوريت څه شته دې ؟ خير دې څوک دې اووائي که په دې اسلام کښې تصور دَ دې مغربي جمهوريت وي ، نو مړه !! ته شريعت غواړې او دَ شريعت خلاف ئې غواړې ؟

دا ته په کومه روان ئې ؟ دا خو ته دَ پرتوګ دَ پاسه اودس اوچوې !! نو دا غلطي مه کوه، شريعت اوغواړه خو دَ شريعت په طريقه باندې ئې اوغواړه، دَ شريعت په طريقه باندې صحيح خدمت اوکړه، نو ته بيا اوګوره چې الله شرعي نظام راولي او که نه راولي ! په دې ملک کښې ٦٦ شپږ شپيته کاله تقريباً اوشو، او محنت پکښې دَ شريعت کيږي خو په طريقه دَ شريعت نه دي خلاف دي دَ نبي عليه السلام دَ طريقې نه ، نو په شپږ شپيته کاله کښې ئې څه نتيجه راوته ؟ نه ، ځکه چې طريقه کار غلط دې ، شرعة ومنهاجاً الله دَ زندګۍ دَ تيرولو کار او طريقه کار او قانون مقرر کړې دې څه کمې پکښې نشته دې ، کار ئې هم مکمل او طريقه کار ئې هم مکمل ، هر څه ئې مکمل دي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾﴾ البقرة: ١٣٢

ترجمه : يقيناً الله تعالي غوره كړي دي تاسو له دين (توحيد) پس مه مره کيږئ مګر په دي حالت کښې چي تاسو مسلمانان يي.

نو طريقه کار الله مقرر کړې دې نو دا به نه وائي چي دا طريقه به پرېږدو او بله طريقه به راواخلو چي دا خو زمونږ خپل کار دې چي څنګه خلق به کومه طريقه سمېږي او فتې وي ورسره نو هغه شان قانون به ورله جوړ کړو، نو قانون ساز صرف يو الله دې.

﴿قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِ ۚ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ الْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾﴾ سورة الانعام ٥٧

ترجمه :اووايه يقيناً زه په ښکاره دليل يم د رب خپل نه ، او تاسو دروغژنتيا کوئ په هغې ، نشته دي ما سره هغه چي تاسو تلوار کوئ په هغې ، نشته دي اختيار مګر يو الله له ، بيانوي حق لره او هغه غوره د فيصله کونکو نه دي.

نه دې اختيار دَ فيصلې که حکم تشريعي دې او که تکويني دې ، نو دا حق صرف دَ الله دې.

﴿ثُمَّ رُدُّوا إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ ۚ أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ ﴿٦٢﴾﴾ الأنعام: ٦٢

ترجمه : بيا به واپس کړې شي الله ته چي مالک دَ دوي حق دي ، خبردار خاص الله له اختيار دي ، او هغه زر دَ حساب کونکو نه دي.

ضروري خبره اعلان واورئ خبردار !! له الحکم ، له جارمجرور مقدم شوې دې دَ پاره دَ حصر، نو مطلب دا چي بل چاله اختياز دَ قانون نه دې،صرف او صرف الله له دې اختيار دَ قانون.

﴿أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا ۚ وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾﴾ سورة الانعام ١١٦

ترجمه : آيا بغير دَ الله تعالي نه ، ولټوم زه فيصله کونکې ، او الله تعالي هغهٔ ذات دي

چې رالیږلې ئې دې تاسو ته کتاب ، واضح بیان کړې شوې ، او هغه کسان چې ورکړې دې مونږ هغوی ته کتاب پوهیږي چې دا کتاب نازل شوې دې ، دَ رب ستا نه په حق سره ، پس هیڅیرې مه کیږه ، دَ شک کونکو نه ـ

دَ عقیدې او دَ عمل او دَ معاملاتو دَ پاره زه بل څوک حاکم اولټوم سیوا دَ الله نه ؟ لنډه خبره چې دَ امورو تکوینیو سره دَ امورو تشریعیو اختیار هم صرف دَ یو الله دې ، او څنګه چې دَ امور تکوینیو اختیار بل ته ورکول شرک وو، نو دغه شان دَ امور تشریعیه اختیار بل ته ورکول هم شرک دې ،

ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئک هم الکافرون ، دغه شان ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئک هم الظالمون ـ

څوک چې دَ الله په قانون فیصله نه کوي نو دغه کافرون دي که غټ کافر په دنیا کښې ګوري، نو هم دغه دي چې دَ الله قانون نه مني ، او ژوند پرې نه تیروي نو فاولئک هم الکافرون ، انکار ئې اوکړو نو کافر شو، دویم لفظ ئې راوړو الظالمون حق دَ قانون دَ الله وو، او دوي حق دَ قانون غیر الله ته ورکړو، نو ظالم شو،

## وضع الشیئ في غیر محله ظلم

نو دا ظالم شو نو که دنیا کښې غټ ظالم ګورې نو هغه دادې ، او دریم لفظ ئې راوړو الفاسقون ، چې غټ فاسق دې ، فسق خروج ته وائي نو ده هم حد دَ بشریت کراس کړو، دې خو بشر وو حاکم نه وو، نو ده به دَ الله قانون نافذ کوو دا نه چې ده به قانون پخپله جوړوو، دې خو جوړونکې نه وو، او نن دې وائي چې زه قانون جوړوم ، نو الفاسق دې ، ده حد کراس کړې دې، نو الفاسقون ، دا وتونکې دې دَ حد دَ بشریت او دَ الله دَتابعداري نه ، نو یو دې امور تکویني او بل دې امور تشریعیه نو لږ وضاحت کوم ـ

﴿ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ ﴾ الأعراف: ٥٤ - ٥٥

ترجمه : خبردار الله له پیدا کول او اختیار چلول دي، برکت والا دې الله چې پالونکې

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ مخلوقاتو دي-

که امر تکویني دي او که امر تشریعي دي،

﴿ ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾ ﴾

سورة الشورى 18-

ترجمه : بیا مونږ قائم کړي ته په یوه ښکاره لار باندې دَ دین نو ته روان شه په هغې پسې او مه روانیږه په خواهشاتو دَ هغه خلقو پسې چې نه پوهیږي-

﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٨٥﴾ ﴾

سورة آل عمران: ٨٥

ترجمه :او څوک چې لټوي غیر دَ اسلام نه بل دین، پس هیڅرې به قبول نکړې شي دَ هغه نه، او دې به په آخرت کښې دَ تاوان کونکو نه وي-

اسلام دَ زندګي مکمل دستور وو، که دَ دینه بغیر سړې په بل څه زندګي تیروي، لکه یو سړي دي او هغه دَ قرآن په موجودګي کښې دَ تورات په یو حکم عمل کوي چې کلام الله دې، او په خپل وخت کښې قانون وو نو بیا هم دَ هغه عمل قبول نه دې، که دَ قرآن موافق وي او که مخالف ځکه چې اوس دور دَ قرآن دې، نو که یو سړې دَ تورات قانون راواخلي نو هغه ګناهګار دې، سره دَ دې نه چې کلام الله وو، او په خپل وخت کښې دَ الله قانون پاتې شوې دې، یا یو سړې دَ قرآن مقابله کښې دَ تورات قانون راواخلي نو او قرآن ته نسبت دَ انکار یا دَ نقصان اوکړي نو دا سړې کافر دې، نو اوس که یو سړې انګریزي قانون راواخلي، برطانوي کورټ او سول لاء راواخلي، دَ قرآن په مقابله کښې او وائي چې دَ قرآن لمن تنګه ده، زمونږ ضرورت پوره کولې نشي او یا قرآن ته دَ نقصان او دَ کوتاهۍ نسبت اوکړي، نو لاشک فیه چې دا کافر دې، دا دَ شرک في التصرف وضاحت وو،

# ۳- شرك في العبادت

چې دَ يو سړي دا عقيده شي چې فلانکې بابا يا زيارت زما دَ نفع او نقصان مالک دې ، او ورسره ئې دا عقيده راشي چې هغه زما په حال پوهه هم دې ، نو بيا دَ هغه دَ پاره څه تعظيم شروع کړي، لکه دَ قبر خزه خکلول، غلاف چړاو کړي سجده کوي، طوافونه ئې کوي ، رکوع اوکړي يواځې قبر ته نه ، بلکه هر معبود من غير الله ته سجده اوکړي دَ هغوي په نوم باندې نذر اومني دَ پاره دَ تقرب او دَ هغه تعظيمونه کوي هغه چې دَ الله سره مختص وي، لکه رکوع، سجده ، طواف کول ، ګټه خکلول، غلاف اچول دا ټول دا دَ الله په ځائې بيا بل چاته ورکړي، نو داشرک في العبادة دې، دا قرآن ډير په شور او زور سره بيان کړي دي ، کله امر په عبادت باندې اوکړي، او کله ترغيب الي العبادة او کله نفي دَ عبادت کوي دَ غير الله نه، او دَ غير الله دَ عبادت قباحتونه هم بيانوي .

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١ ﴾

سورة البقرة 21.

ترجمه : اې خلقو عبادت خاص کړئ دَ رب خپل هغه ذات چې پيدا کړې ئې تاسو او هغه څوک چې مخکښې ستاسو نه دي دَ دې دَ پاره چې تاسو پرهيزګاره شئ.

﴿ ۞ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ ﴾ سورة النساء 34

ترجمه : بندګي خاص کړئ دَ الله او مه شريک کوئ دَ الله سره هيڅ شې .

﴿ قُلۡ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشۡرِكَ بِهِۦٓۚ إِلَيۡهِ أَدۡعُواْ وَإِلَيۡهِ مَـَٔابِ ٣٦ ﴾

سورة الرعد 36

ترجمه : اووايه بې شکه ما ته حکم شوې دې چې زه عبادت اوکړم دَ الله او شريک دِ نه کړم دَ هغهٔ سره هيڅوک ، خاص هغه ته رابلم زه او خاص هغه ته ورتلل دي زما

Maktaba Tul Ishaat.com

# ۴ - شرك في الدعاء

دعا معني غوښتل ، نو دا هم يو دَ اسبابو دَ لاندي ده او بله دَ اسبابو نه بغير، چې کومه بلنه دعا دَ اسبابو دَ لاندې وي لکه يو سړي سره اوبه دي، او نه ورته وائي لرې اوبه راکړه، يا درسره دروند پيتې دې ، او نه چا ته اووائي چې دا پنډ راوچت کړه، مدد راسره اوکړه نو دا دَ اسبابو دَ لاندي ده ، دا دَ غير الله نه جائز ده ، او بله دعاء ده بغير دَ ظاهري اسبابو، نو بغير دَ ظاهري اسبابو مدد غوښتل او آواز کول غائبانه ظاهري اسباب نشته دې او دې آوازونه کوي چې واه پيره بابا " رامدد شه، دا قسم دعا عبادت دې ، الدعاء هو العبادة خو دا ئې دَ عبادت نه جدا ذکر کړو په شرک في العبادة کښې دا هم داخله وه خو دا ئې دَ هغې نه جدا ذکر کړه، دَ اهتمام دَ پاره ، ځکه چې مشرکانوبه دا شرک ډير کوو،

" رامدد شه لويه خوانه ! دَ بغداد شاهي ميرانه ما نيولي لمن ستا ده "

نو دا قسم شرک زيات وو او کله به ئې وئيل

" اې مړنيه ! په نيکې شه !!

نو دا قسم شرک زيات وو نو ځکه استاذانو دا جدا ذکر کوو،

﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ ﴾

ترجمه : خاص ستا بندگي به کوو مونږ او خاص ستا نه مدد به غواړو مونږ.

﴿ لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ ۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ۝١٤ ﴾ سورة الرعد 14.

ترجمه : خاص دَ هغه ( الله ) بلنه حقه ده ، او هغه څوک چې دوي ئې رابلي سيوا دَ الله نه هغوي جواب نه شي ورکولي دوي ته دَ هيڅ څيز مگر پشان دَ خورؤونکي دواړو لاسونو خپلو لره اوبو ته چې اورسيږي دَ ده خولې ته او نه دې هغه رسيدونکې ده ته ، او نه ده بلنه دَ کافرانو مگر په گمراهئ کښې .

داسې نور ډېر آيتونه دي قرآن کريم کښې چې په هغې کښې رد دې په شرک في الدعاء باندې.

## شرك في الحكم

اوس دَ "حكم" شرک ډېر دې چې خلق دَ قانون اختيار بل چا ته ورکوي او الله له ئې نه ورکوي، نو کله کله به شيخ صاحب دَ کابلګرام دَ شرک پنځه قسمه وئيل ، دَ شرک في التصرف شاخ شرک في الحکم به ئې جدا ذکرکولو دَ اهتمام دَ پاره ګڼې دا دَ شرک في التصرف قسم دې ، خو دا ځکه جدا ذکرکوي چې رد پرې جدا راشي نو دَ شرک في التصرف سره به ئې شرک في الحکم جدا ذکر کوو، نو دا پنځه اقسام دي دَ شرک اعتقادي او دَ دې اشراکو بنياد يوه عقيده وه چې هغې ته عقيده دَ شفاعت قهريه وائي.

## رد دَ شفاعت قهري

شفاعت سفارش ته وائي يو ځائې کولو ته وائي دوه رکعتونو ته شفع وائي ځکه چې يو رکعت دَ بل رکعت سره يو ځائې وي او شفعي ته شفعه هم ځکه وائي چې يوه زمکه دَ بلې زمکې سره يو ځائې کيږي،نو شفاعت ته شفاعت ځکه وائي چې ديکښې هم ادنې دَ اعلې سره يو ځائې کول وي ، دا شفاعت اولاً په دوه قسمه دې،

۱۔ **شفاعة اذني**

۲۔ **شفاعت بدون الاذن**

سفارش په اجازت او سفارش بغير دَ اجازت نه ،

۱۔ **شفاعة اذني** دَ دې مطلب دا دې چې دَ قيامت په ورځ الله انبياءو ته اولياءو ته ، عالمانو او حفاظو او شهيدانو ته يو انعام ورکړي چې تاسو خوارې او محنت کړې دې،زه ستاسو نه خوشحاله يم نو په اعمالو خو خلق هسې هم جنت ته ځي، خو زه تاسو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

سوائې انعام درکوم، او زه ستاسو عزت او اکرام کوم ، چې کوم ستاسو شاګردان او مريدان دي نو ځني مستحق دَ دوزخ دي عقيده ئې صحيح ده خو عمل کښې ئې کمزوري ده، نو قانون دَ دوزخ دَ داخليدو ورته متوجې دې، خو زه تاسو ته انعام درکوم، زه غواړم چې جنت ته ئې بوځم خو ستاسو په وينا باندې، نو که تاسو دَ دوي سفارش کول غواړې ، نو دوي زه بوځم، نو په ديکښې الله خپله مرضي او اراده نه پريږدي، الله خو ئې هسې هم جنت ته بوځي، خو وائي چې ستاسو دَ اکرام د پاره ئې ستاسو په وينا بوتلل غواړم نو سفارش ئې اوکړي، نو هغوي به سفارش اوکړي، نو په ديکښې څه دا نشته دې چې الله خپله اراده او مرضي پريخودله ، يا دَ قانون خلاف اوشو ځکه دَ شرک نه واړه ګناهونه الله معاف کوي يا پخپله يا په سفارش دَ چا باندې ۰

ويغفر ما دون ذالک لمن يشاء ،

چې الله دَ شرک نه علاوه ګناه که اوغواړي نو معاف کوي ئې ، فيصله خو به دَ الله وي دا به دَ دوي عزت اوشي ديته شفاعة اذني وائي۔

۲۔ شفاعة بدون الاذن

الله اجازت نه وي کړې او سړې عقيده اولري په چا باندې چې دابه زما يا دلته په دنيا کښې او يا په قيامت کښې سفارش کوي دا مطلب چې دَ خلقو يا دَ مشرکانو دا عقيده وه ، چې زمونږ خو الله سوال نه قبلوي خو چې مونږ ئې دې نيکانو ته وايو، نو دوي ئې الله ته وائي، او الله دَ دوي دَ وجې نه خپله مرضي پريږدي، او دَ د دوي اومني ، دَ دوي دَ ميني دَ وجې نه ، دَ دوي دَ اکرام دَ وجې نه، الله خپله اراده پريږدي، دَ دې مثال لکه يو SHO ايس ايچ او صاحب دې ، او هغه نه غواړي چې مجرم پريږدي ، او دَ قانون خلاف اوکړي نو په هغه پسې دَ کلي نه يو مشر سړې راغلې وي ، چې صاحب زمونږ دا سړې دې ، نو هغه اوکتل نو مخ ئې پرې دروند شو، او وائي چې نه مې پريخودو خو بس ته راغلې ئې نو، نو هغه خپله اراده پريخوده ، نو دَ ملک صاحب مخ پرې زورور شو، يا ملک صاحب راولګيدو او دَ بل طرفنه پرې راتاو شو، ميډم صاحبې له

ئې فروټ او چائې وغیره اوړله ، او یوه ګلداره جوړه ئې، چې په خدائې به شي او په تا به ٠
شي، خاوند ته دې اووایه چې دا سړې پرېږده ، واړه ماشومان ئې دي، 'ایس ایچ
او،صاحب چې راغې کورته ، نو میډم صاحب ورته هډو لفټ ورنکړو، نهٔ سلام او نه
کلام او نه ئې ورته اوبه پیش کړې ، صاحب حیرانه شو چې څه چل دې ؟
راته اووایه کنه ! هغه ورته وائې منې ئې نه نو ځله ئې درته اووایم ؟
هغه ورته وائې ته خو ئې اووایه کنه ! ولې به ئې نه منم، نو میډم ورته وائې اې سړیه دَ
فلانکې ځامن دې ګرفتار کړي دي او ماشومان دي هغه آزاد کړه، هغه اووئیل نه مې
پرېښودو او دَ قانون خلاف م نه کولو خو مجبوره شوم دَ محبت دَ میډم نه ، نو دا دَ محبت
زور دې ، سفارش اوشو مجرم آزاد شو نو دا سفارش قهري دې ، پښتانه وائې ،
ځنې منت دَ زوره بدتر وي، نو په دیکښې وجاهت او مینه غالبه شوه، خپله مرضي ئې
نه وه نو کلا وحاشا، دَ مشرک هم دا عقیده نه وه چې په الله څوک زورور شته دې ،
خو دا ئې عقیده وه چې په الله باندې دَ نیکانو مخ زورور شي، یا ئې مینه زوروره شي،
نو الله خپله مرضي او اراده پرېږدي، دَ دوي دَ مینې او دَ وجاهت دَ وجې نه دوي وائې،
دوي وائې چې مونږ چاته آواز اوکړو او چې چا ته رامدد شه اووایو ، نو دَ دوي دَ وجې
نه الله خپله مرضي پرېږدي نو دَ شرک بنیاد هغه عقیده دَ شفاعة قهري وه ، دَ اهل
السنة والجماعة عقیده دا ده ، چې شفاعة به په قیامت کښې کیږي ، خو روستو دَ اذن
دَ الله نه ، او بله دا چې شفیع او مشفوع له به دواړه موحد وي ، عقیده به دَ دواړو
روغه وي، نو سفارش به اوکړي ،دَ قیامت نه مخکښې شفاعة نشته ، او دومره ده چې دَ
ژوندي دَ ژوندي دَ پاره ،یا دَ ژوندي دَ مړي دَ پاره شته دې ، دَ ژوندي دَ ژوندي دَ پاره
چې ژوندې اووائې چې الله زما پلار په غلطه دې په سمه لار ئې روان کړې یا دَ
ژوندي دَ مړي دَ پاره چې الله زما والدین استاذان اوبخښې، رحم پرې اوکړي نو دا جائز
دي، خو دَ مړي دَ مړي دَ پاره، یا دَ مړي دَ ژوندي دَ پاره دا په اسلام کښې نشته دې ،
که یو سړې ځي قبرونو ته دَ سفارش دَ پاره ، نو قیامت کله قائم شو چې سفارش ئې
اوکړي ، او اجازت ورته کله میلاو شو، او بله دا چې هغه ستا اوري او که نه اوري ، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دَ چا دَ پاره جائز نه دي ، چېمرې دې دَ ژوندي دَ پاره سفارش اوکړي، دا خو دَ مشرکانو عقيده وه، چې مړې دَ ژوندي سفارش کولې شي، لکه په کښې ـ

﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾ ﴾ سورة يونس ١٨

ترجمه : او عبادت کوي دوي سيوا دَ الله تعالي نه د هغه چا چې نه ضرر رسولې شي دويته او نه څه نفع رسولې شي دويته ، او وائي دوي چې دا کسان سفارشيان زمونږ دي په نزد دَ الله ، اووايه آيا خبر ورکوې الله تعالي ته ، په هغه شي چې خبر يرې نه دې په اسمانونو کښې او نه په زمکه کښې ، پاکې ده الله تعالي له ، او لوئې دې دَ هغو نه چې دوي شريکوي دَ الله سره ـ

﴿ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾ ﴾ سورة الزمر ٣

ترجمه : خبردار ! خاص الله تعالي له بندگي خالصه ده ، او هغه کسان چې نيولي دي دوي سيوا دَ الله تعالي نه مددگاران ، وائي دوي چې يقيناً عبادت نه کوو مونږ دَ دوي ، مگر دَ دي دَ پاره چې نزدې کړي مونږ الله تعالي ته په نزديکت سره ، يقيناً الله تعالي به فيصله اوکړي په مينځ دَ دوي کښې په هغه شي کښې چې دوي پکښې اختلاف کوي ، يقيناً الله تعالي هدايت نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغژن او ډير ناشکره وي ـ

او په قصيده نونيه ۱۵۷ کښې ابن قيم ؒ وائي ـ

والشـــرک فهــو توســل مقصــوده
الزلفـــي مـــن الـــرب العظـــيم الشـــان

کړي دي ، خنزير ، سپي وغيره ئې حرام کړي دي ، او ځني ئې حرام کړي دي لکه زنا وغيره ، نو دا تحريمات الله دي ، ځني هميشه دَ پاره حرام دي او ځني وقتي پابندي دي لکه په حالت احرام کښې او په حرم کښې ښکار کول ديته تحريمات الله وائي ، دا مثل دا توحيد دې ، اوس دَ دې مقابله کښې مشرکان ځني خيزونه په ځان حرام کړي په عقيده دَ خير او شر نو دا تحريمات العباد دي لکه يو سړې دَ بنده دَ پاره څه اشياء حرام کړي چې دارنګ کپړې به نه اغوندم، دا به مونږ باندې نبي نه راځي، دَ ځان نه حرمتونه جوړول ديته تحريمات العباد وائي ، دا شرک دې او که دې سره عقيده تړل شوه ، چې دا کوم رنګونه وغيره مو دَ ځان نه بند کړل نو دا نفع او نقصان راکوي يا ورسره دا تړل شوه چې دا کوم پير او ملا چې مونږ لا دا خيزونه حراموي دے بغير دَ اسبابو زمونږ په نفع او نقصان قادر دې او دَ حال نه مو خبردار دې ، که دَ ده دا حرام په ځان باندې حرام نکړو، نو بيا ضرر رارسوي بغير دَ اسبابو نو دا بيا شرک اعتقادي شو بيا کفر دې . قرآن کريم دَ تحريمات العباد ډير رد کوي ، او په زور او شور سره رد کوي ، طريقه ئې داسې ده کله په لفظ دَ :کلو: سره رد اوکړي .

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ١٦٨ ﴾ البقرة: ١٦٨

ترجمه : اې خلقو خورئ (حلال ګنړئ ) دَ هغې نه چې په زمکه کښې دي حلال پاک او تابعداري مه کوئ دَ قدمونو (طريقو ) دَ شيطان يقينا دې ستاسو دَ پاره دشمن ښکاره دې .

کله په لفظ دَ احلت سره

﴿ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمۡ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦۗ وَأُحِلَّتۡ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱجۡتَنِبُواْ ٱلرِّجۡسَ مِنَ ٱلۡأَوۡثَٰنِ وَٱجۡتَنِبُواْ قَوۡلَ ٱلزُّورِ ٣٠ ﴾ سورة الحج: ٣٠

ترجمه : دا (ياد لرئ ) او چا چې تعظيم اوکړو دَ حرمتونو دَ الله تعالى نو دا غوره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

شريکانو دَ دوي ته، بد دي هغه چي دوي فيصله کوي۔

﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزْقِ ۚ قُلْ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلْإِثْمَ وَٱلْبَغْىَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾ الأعراف: ٣٢ - ٣٣

ترجمه : اووايه چا حرام کړي دي ډول دَ الله تعالي هغه چي حلال کړي دي بندګانو خپلو له او پاک حلال رزقونه، اووايه دا حق دي مومنانو دَ پاره په ژوند دنيوي کښي (په شرکت سره) يواځي به وي دوي له په ورځ دَ قيامت دغسي په تفصيل سره احکام بيانوو مونږ دَ هغه قوم دَ پاره چي پوهيږي۔

﴿ قُلْ أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَٰلًا قُلْ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ ۖ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾ سورة يونس: ٥٩

ترجمه : اووايه آيا فکر کړي دي تاسو چي څه پيدا کړي دي الله تعالي ستاسو دَ پاره څه رزق حلال نو جوړوئ تاسو بعضي دَ هغي نه حرام او بعضي حلال، اووايه آيا الله تعالي اجازت کړي دي تاسو ته ( دَ حرام حلال) بلکه تاسو په الله تعالي باندي دروغ جوړوئ۔

شرک فعلي په دوه قسمه دي، ۱۔ تحريمات العباد

۲۔ نذور العباد

# تحريمات العباد

الله تعالي رب دي، او دَ رب معني ده تربيت کونکي او خودمختاره، دَ انسان دَ تربيت دَ پاره ئي په خپل اختيار باندي ځني څيزونه حلال کړي دي او ځني څيزونه ئي حرام

كړي دي ، خنزير ، سپي وغيره ئې حرام کړي دي ، او ځنې ئې حرام کړې دي لکه زنا وغيره ، نو دا تحريمات الله دي ، ځنې هميشه دَ پاره حرام دي او ځنې وقتي پابندي دي لکه په حالت احرام کښې او په حرم کښې ښکار کول ديته تحريمات الله وائي ، دا منل دا توحيد دې ، اوس دَ دې مقابله کښې مشرکان ځنې څيزونه په ځان حرام کړي په عقيده دَ خير او شر نو دا تحريمات العباد دي لکه يو سړې دَ بنده دَ پاره څه اشياء حرام کړي چې دارنګ کپړې به نه اغوندم، دا په مونږ باندې ښې نه راځي، دَ ځان نه حرمتونه جوړول ديته تحريمات العباد وائي ، دا شرک دې او که دې سره عقيده تړل شوه ، چې دا کوم رنګونه وغيره مو دَ ځان نه بند کړل نو دا نفع او نقصان راکوي يا ورسره دا تړل شوه چې دا کوم پير او ملا چې مونږ لا دا څيزونه حراموي دے بغير دَ اسبابو زمونږ په نفع او نقصان قادر دې او دَ حال نه مو خبردار دې ، که دَ ده دا حرام په ځان باندې حرام نکړو، نو بيا ضرر رارسوي بغير دَ اسبابو نو دا بيا شرک اعتقادي شو بيا کفر دې ـ قرآن کريم دَ تحريمات العباد ډير رد کوي ، او په زور او شور سره رد کوي ، طريقه ئې داسې ده که په لفظ دَ :کلو: سره رد اوکړي ـ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ ﴾ البقرة: ١٦٨

ترجمه : اې خلقو خورئ (حلال ګڼرئ ) دَ هغې نه چې په زمکه کښې دي حلال پاک او تابعداري مه کوئ دَ قدمونو (طريقو ) دَ شيطان يقينا دې ستاسو دَ پاره دشمن ښکاره دې ـ

کله په لفظ دَ احلت سره

﴿ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمۡ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦۗ وَأُحِلَّتۡ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱجۡتَنِبُواْ ٱلرِّجۡسَ مِنَ ٱلۡأَوۡثَٰنِ وَٱجۡتَنِبُواْ قَوۡلَ ٱلزُّورِ ﴿٣٠﴾ ﴾ سورة الحج: ٣٠

ترجمه : دا (ياد لرئ ) او چا چې تعظيم اوکړو دَ حرمتونو دَ الله تعالى نو دا غوره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه په نيز دَ رب خپل او حلال كړي شوي دي تاسو له څاروي مگر هغه چي لوستلي كيږيشي په تاسو باندي پس دغه كوئ دَ پليتي نه چي بندگي دَ غير الله ده او دغه كوئ څخه دروغ وينا نه.

كه دَ حرمت نه استثناء اوكړي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِۚ أُحِلَّتۡ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلۡأَنۡعَٰمِ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّي ٱلصَّيۡدِ وَأَنتُمۡ حُرُمٌۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ مَا يُرِيدُ ١ ﴾سورة المائدة: ١

ترجمه : اې مومنانو پوره كړئ لوظونه ، حلال كړي شوي دي تاسو له څاروي مگر هغه چي لوستلي كيږي په تاسو باندي مه كيږي حلال گنړونكي دَ ښكار چي تاسو په حال دَ احرام كښي يئ ، يقيناً الله تعالي فيصله كوي هغه چي اوغواړي.

كه په لفظ دَ لا تحرموا.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ٨٧ ﴾ المائدة: ٨٧

ترجمه : اې مومنانو ! مه گنړئ حرام مزيدار (پاک ) هغه څيزونه چي حلال كړي دي الله تعالي تاسو له او زياتي مه كوئ دَ حد نه ، يقيناً الله تعالي مينه نه كوي دَ زياتي كونكو سره.

داسي عوندي آيتونه چي وي ، داسي قسمه آيتونو كښي رد دَ شرک فعلي وي.

## ٢ - نذور العباد

بنده دَ الله دَ ذات دَ پاره او الله ته دَ تقرب دَ پاره په ځان څه ضروري كړي، چي څلور ركعته نفل به كوم، الله توفيق دَ درس دَ ليكلو راكړو يا به شل روپي وركوم په نوم دَ الله باندي، نو دا دَ الله دَ محبت او الله ته دَ نزديكت دَ پاره ئي كوي، نو دا توحيد دي ديته نذور الله وائي. خو كه دغه شان يو سړي اولگي او دَ غير الله دَ نزديكت دَ پاره هغه ته ئي هيڅ فائده نه وي خو هغه ته ځان نزدي كوي، او هغه څيزونه چي الله تعالي ورله

يو عزت او احترام نه وي ورکړي ، او دې ئې په ځان ضروري کوي ، نو دا نذور العباد کښې راځي الله ځني ځايونو او ځنې ځناورو له عزت ورکړې دې

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ ------ ﴿٢﴾ ﴾ سورة المائدة: ۲

ترجمه : اې مومنانو! بې عزتي مه کوئ دَ نخو دَ الله تعالي او نه دَ مياشت دَ عزت او نه دَ قربانۍ او نه دَ اميل دار ځاروؤ او نه دَ قصد کونکو دَ کور دَ عزت والا ۰

﴿ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلۡكَعۡبَةَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ قِيَٰمٗا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَٱلۡهَدۡيَ وَٱلۡقَلَٰٓئِدَۚ ذَٰلِكَ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾ ﴾

المائدة: ۹۷

ترجمه : مقرر کړي ده الله کعبه ( شريفه) کور عزت والا سبب دَ ژوند دَ پاره دَ خلقو او مياشت عزت والا او هدئې او اميلونو والا ځاروي ، دا دې دَ پاره چې تاسو پوهه شئ ، (يقين اوکړئ ) چې بيشکه الله تعالي عالم دې په هغه څه چې په اسمانونو کښې دي او په هغه څه چې په زمکه کښې دي او يقيناً الله تعالي په هر څه باندې پوهه دې ۰

دا نذور الله دي او دا توحيد دې ، اوس دَ دې مقابله کښې مشرکان دَ خپلو آلهو په نوم باندې دَ هغوې دَ تقرب دَ پاره ځنې څيزونه ورکول په ځان ضروري ګنړي چې دا به دَ هغه په نوم ورکوم ، که قبر دَ پاره غلافونه اومني چې اخلم به ورله ، يا ورله مات پليتونه اومني، چې اوړم به ئې ورله ، يا حلوه ګاني يا ګوړه اومني ، يا دا نذر اوکړي چې بابا ته په کوخلهٔ کښې اوبه خيژوم ، دا نذر اومني بابا ته دَ تقرب دَ پاره نو دا نذور العباد دي دا شرک دې او شرک فعلي دې او کچرته دې سره ئې دا عقيده تړل شوه، چې دا زما دَ نفع او دَ نقصان واکدار دې ،که دا ګوړي يا صابن او اوبه په خله کښې وړم نو فائده راکوي او که نه ئې اوړم نو نقصان راکولې شي نو بيا خو دا شرک اعتقادي شو، نو ديته نذورالعباد وائي، نو شرک فعلي په دوه قسمه شو، تحريمات العباد او نذور

Maktaba Tul Ishaat.com

العباد ، دې سره استاذان دوه نورې مسئلې ذکرکوي، تحریمات الله دَ الله حرام کړي حرام دي او نذور الله ، نو دا دَ وضاحت دَ پاره ذکرکوي ، دا دوه مسئلې بعینه دا توحید دي ، او نذور العباد او تحریمات العباد دا شرک دې۔

## شرک فی البرکات

نو شرک فعلي دَ دې تحریمات العباد او دَ نذور العباد منشأ هغه شرک في البرکة وو،لکه څنګه چې دَ هغه اشراکو منشاء عقیده دَ شفاعت قهري وه، نو دغه شان دَ دې شرکونو منشأ هغه شرک في البرکة ده، چې دَ دوي عقیده دا وه، چې دَ غیر الله په نوم اغستلو او په تعلق جوړولو او دَ ده په نوم په څه منلو کښې دا زما په مال کښې خیر او برکت اچوي ، الله ئې اچوي خو دَ دوي په تعظیم سره ئې اچوي نو دیته شرک في البرکة وائي، قرآن مستقل دَ دې شرک رد کوي،

﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤ ﴾ المؤمنون: ١٤

﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١ ﴾ الملك: ١

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ١ ﴾ الفرقان: ١

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجٗا وَقَمَرٗا مُّنِيرٗا ٦١ ﴾ الفرقان: ٦١

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرٗا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَيَجۡعَل لَّكَ قُصُورَۢا ١٠ ﴾ الفرقان: ١٠

﴿ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ١٠ ﴾
فصلت: ١٠

دا ټوله مسئله دَ برکت چې خیر او برکت په ټولو څیزونو کښې اچونکې ذات صرف یو الله دې ، دَ هغې دَ پاره شرعي اسباب دي، غیر شرعي اسباب هغې دَ پاره لټول جائز نه

دي ، دا دَ شرک اقسام دي شرک اعتقادي او شرک فعلي ·

## دَ شرك فعلى نمونے

دَ زميدارو شرک په پټو کښې ئې ګوډې اودرولې وي نظرماتي دَ پاره، سپيلني دَ نظر ماتي دَ پاره، ناوې له په غيږ کښې هلک ورکول، چې اول بچې ئې هلک پيدا شي، په ناوې پسې داني شيندل چې وربشې ئې ډيرې شي، دَ ناوې په لوېټه پسې چښني غوټه کول چې ښځه خاوند خواږه وي، په محرم کښې واده نه کول، چې بيا غوښه په چړوقې شي، چرګ چې اذان اوکړي نو وائي حلالوې ئې، دې سپيره دې ، نو بيا خو ټول موذنان حلالوې ! دا لا څه خبره ده ؟

ګاډې يا دَ کور دروازې ته ئې دَ نظر ماتي دَ پاره چپله زوانړنده کړي وي، پېنسه ئې اولټه شي نو وائي څه ځل کيږي، کار ترې وران اوشي ، نو وائي نن په چپ طرف پاڅيدلې يم ، ماشوم دَ خانک نه پريوځي نو وائي ځوک راځي، کله وائي سترګه مې رپيږي جوړ ځوک جانان راځي، چې دَ سحر سپې يا خر وغيره اووينې نو وائي ورځ به مې خرابه وي، دَ زيارت مالګه ځتي وائي چې ذهين شم، اسمان چې اوکړېږي نو داني په کندو باندې شيندي، چې سيوا شي، کله وائي فلانکې مې په کور رادننه شوې دې، نو خاده ورځ مې نه ده ليدلې، داسې ډيرې نمونې شيخ صاحب دَ کابلګرام رح به په سورة المائدة کښې بيانولې ·

## قباحت دَ شرك

شرک الله تعالي بې دَ توبې نه ، نه معاف کوي ·

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ ﴾ النساء: ١١٦

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه ـ يقيناً الله تعالي نه بخښي چې شرک اوکړې شي دَ هغه سره او بخښي نور ګناهونه چې کوم دي دَ هغې نه چا له چې اوغواړي ، او چا چې شرک اوکړو دَ الله تعالي سره نو يقينا ګمراه شو په ګمراهي لرې سره .

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ ﴾ النساء: ٤٨

ترجمه : ـ يقيناً الله تعالي نه بخښي چې شرک اوکړې شي دَ هغه سره او بخښي نور ګناهونه چې کوم دي دَ هغې نه چا له چې اوغواړي، او چا چې شرک اوکړو دَ الله تعالي سره نو يقيناً جوړ کړو ده ګناه لوئې .

په مشرک جنت حرام دې .

﴿ لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾ ﴾ سورة المائدة 72.

ترجمه : يقيناً کافر شول هغه کسان چې وائي بيشکه الله دريم دَ دريو نه دې او نيشته دې هيڅ څوک لائق دَ عبادت سيوا دَ الله يو نه ، او که چرې منع نه شو دوې دَ هغه څه نه ، چې دوې ئې وائي نو خامخا او به رسي هغه کسانو ته چې کفر ئې کړې دې دَ دوې نه عذاب دردناک .

۰۳ دَ مشرک نيک عملونه برباد دي او نه قبليږي .

او چې څوک شرک کوي او نيک عمل کوي نو هغه نيک اعمال تباه او برباد دي دَ الله تعالي دربار کښې دَ قبوليت هيڅ مقام نه لري شرک سره دنيا کښې هم کړي عملونه بربادېږي .

﴿ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾ ﴾ سورة الأنعام: ٨٨

ترجمه :دغه هدايت دَ الله تعالي دي هدايت كوي په دي چا له چي اوغواړي دَ بندگانو خپلو نه ، او كچيري شرک كړي وو دوي خامخا برباد شوي به وو دَ دوي نه، هغه عملونه چي دوي كول.

﴿ وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٦٥﴾ ﴾ الزمر: ٦٥

ترجمه :يقيناً وحي كړي شوي ده تاته او هغه كسانو ته چي مخكښي ستا نه دي ،كچيري شرک اوكړو تا ،خامخا يقيناً برباد به شي عمل ستا او ضرور يقيناً شي به ته ، دَ تاوان كونكو نه.

او آخرت كښي هم اعمال تباه دي سورة ابراهيم ١٨، سورة الفرقان ٢٣، كښي چي دَ دي انسان بخشش نه كيږي.

﴿ مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا عَلَىٰ شَيْءٍ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾ ﴾ سورة إبراهيم: ١٨

ترجمه : مثال دَ هغه كسانو چي كفر ئي كړي دي په رب خپل ، عملونه دَ دوي پشان دَ ايرې دي چي والوزي په هغې سيلي ، په ورځ دَ تيزې سيلي كښي ، قدرت به او نه لري دَ هغه عملونو چي دوي كړي دي په هيڅ شي باندي دغه هم دغه گمراهي لري ده حق نه.

﴿ وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ ﴾ سورة الفرقان: ٢٣

ترجمه :قصد كړي دي مونږ هغه عمل ته چي دوي كړي دي ، پس گرځولي دي مونږ هغه دوړه آلوزولي شوي.

٤- مشرک بي عزته او ذليل دي.

﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ ﴾ سورة الحج 21.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او هغه خوک چي شرک اوکړي ذ الله سره نو ګويا چي هغه راپريوتو ذ آسمان نه نو اوتښتوو هغه لره مارغانو يا راوغورځوو هغه لره هوا په يو ځائي دير لري کښي .

د. مشرک الله ته کنځل کوي حديث قدسي دي .

قَالَ اللَّهُ تَعَالَى يَشْتِمُنِي ابْنُ آدَمَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَشْتِمَنِي وَيُكَذِّبُنِي وَمَا يَنْبَغِي لَهُ أَمَّا شَتْمُهُ فَقَوْلُهُ إِنَّ لِي وَلَدًا وَأَمَّا تَكْذِيبُهُ فَقَوْلُهُ لَيْسَ يُعِيدُنِي كَمَا بَدَأَنِي [1]

ترجمه : الله رب العزت فرمائي دَ آدم زوي ما ته کنځل کوي او دا ده سره مناسب نه دي ، چي ما ته بدي ردي اووائي ، او زما تکذيب کوي او دا ورسره مناسب نه دي .

---

1 صحيح البخاري : باب من انتظر حتى تدفن .

# دويم فصل

## دويم مقصد دَ قرآن صداقت

مسئله دَ توحيد قرآن بيانوي په حواله دَ وحي باندې نو دَ هغې دَ پاره دويم مقصد "صداقة القرآن " چې قرآن حق كتاب دې نو دا چې كومه خبره كوي نو هغه هم حقه ده نو دا توحيد دَ قرآن په حواله بيانيږي ،نو تاسو قرآن اومنئ ! دَ قرآن صداقت قرآن كريم په مختلفو اندازونو بيانوي -

۱- انداز

په اعجاز القرآن سره چې قرآن معجز كتاب دې څوک ئې مقابله كولې نه شي او په دې دَ قرآن دشمنان هم قائل وو، قرآن خپله دَ قرآن اعجاز بيان كړې دې ، لكه سورة البقرة كښې وائي -

﴿ وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ ﴾ سورة البقرة: ٢٣

ترجمه :او كه چېرې ئې تاسو په شک كښې دَ هغې نه چې (لږ لږ) نازل كړې دې مونږ په بنده خپل باندې نو راوړئې يو سورت پشان دَ دې قرآن ، او راوغواړئ مددگاران خپل سيوا دَ الله تعالي نه كه تاسو رشتيني ئې (په خپله دعوې كښې )

﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾ ﴾ سورة يونس ٣٨ -

ترجمه : آيا وائي دوي چې دا قرآن ئې دَ ځان نه جوړ كړې دې ،ته اووايه راوړئې يو سورت دَ ده پشان او را اوبلئې هغه څوک چې طاقت لرې سوا دَ الله تعالي نه كه ئې تاسو رشتيني -

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٣﴾ سورة هود 13.

ترجمه : آيا وائي دوي چې،دَځان نه ئې جوړ کړې دې دا قرآن ، ته اووايه نو راوړئ لس سورتونه پشان دَ ده دَځان نه جوړ کړي شوي او را اوبلئ هغه چا له چې ستاسو طاقت وي سوا دَ الله تعالي نه که تاسو رشتيني ئې .

﴿قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ٨٨﴾ سورة الاسراء 88.

ترجمه :ته اووايه که چرې جمع شي انسانان او پيريان په دې خبره چې راوړي پشان دَ دې قرآن نو نه شي راوړې دَ دې په شان اگر چې شي بعضې دَ دوي دَ بعضو دَ پاره مددگار .

﴿فَلۡيَأۡتُواْ بِحَدِيثٖ مِّثۡلِهِۦٓ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ٣٤﴾ سورة الطور 34.

ترجمه :نو دوي دې راوړي يوه خبره دَ دې پشان که چرې دوي رشتني وي .

قرآن دا چيلنجونه ورکړي دي خو يو مور راوړې دا نه دي قبول کړې .

وليد بن مغيرة ته خلق راغلل چې ته خو زمونږ مشر ئې او چې ته څه وائې نو مونږ به ئې منو که قرآن ته شعر وائې نو مونږ ورته هم شعر وايو، او که ته ورته کهانت وائې نو مونږ ئې ورته هم وايو ، نو هغه ورته اووئيل چې زه خو ورته شعر نه وايم او نه ورته کهانت وايم بلکه زه ورته وايم چې

والله ان لقوله لحلاوة وان عليه لطلاوة ( ښه چلن )

وان اعلاه لمثمر (څانگې ئې ميوه دارې دي )

وان اسفله لمغدق ( جرړې ئې مضبوطې دي )

وانه ليعلوا ولا يعلي عليه ( او يقينا دا قرآن به اوچتيږي او په دې څوک غالب کيدلې نشي ).

دا دَ وليد بن مغيره قول وو دَ قرآن باره كښې ، دَ ابوذر غفاري رور انيس غفاري هغه هم وئيلي وو چې دا خو دَ كاهنانو خبرې نه دي دَ شعر په وزن كښې مې اوكتلو نو شعر هم نه دي نو اووئيل ئې ·

والله انهم لكاذبون وانه لصادق

نو دَ قرآن چېلنج عام وو هم عربو ته هم عجمو ته ، او هم ټولې دنيا ته ،كه چا دَ قرآن مقابله كړې وه نو هغوي پورې خپلو خلقو هم خاندلي وو · مسيلمة الكذاب دَ نبوت دعوي كړې وه او دَ ادراك وما ادراك په طرز ئې دَ سورة الفيل مقابله كښې سورت جوړ كړې وو،

الفيل وما الفيل وما ادراک ما الفيل له ذنب قصير وخرطوم طويل

نو خپل امتي وريورې اوخاندل چې غرق شې ، داسې چرته بهر او نه وائي ، هغه ورته اوئيل ولې ؟ نو ده ورته وئيل چې ادري دَ امر عظيم باره كښې راځي چې عقل ورته نه رسې نو ته ئې اوس دَ هاتي په باره كښې وائې · او په جواب كښې ئې وائې · چې له ذنب قصير وخرطوم طويل ، او دَ سورة العاديات سورت په مقابله كښې ئې وئيلي وو چې

والطاحنات طحنا والعٰجنات عجنا والخابزات خبزا واللاقمات لقماً ان قريشاً قوم يعدلون

نو په مقسم او قسم كښې مناسبت نشته دي ، او اوګوره دوه څيزونه ئې ذكركړي دي، ښځه او روټې ، نو معلوميږي چې دَ بكسر الخاء او بضم الخاء سره ئې كار وو، (فرج او فم ) او دَ يو آيت په مقابله كښې ئې وئيلي وو · چې

انا اعطيناک الجماهر (لويه قبيله) فصل لربک وجاهر ( په جهر سره ئې كوه )

ان شانک هو الكافر نو دَ قرآن مقابله چې چا كړې ده ، نو شرميدلي دي ، نو دَ قرآن دَ صداقت يوه طريقه دا ده چې قرآن معجز كتاب دې ·

۲ طريقه دَ صداقت القرآن چې دا دَ الله دَ طرفنه راغلي دې ·

Maktaba Tul Ishaat.com

۳ طريقه چې قرآن كريم قرآن ته ترغيب او بشارتونه ذكر كوي.

٤. څلورمه طريقه چا چې شبهات كړي وو نو هغوي به جوابات كوي منه توړ. دا دَ صداقة القرآن مضمون دې. په قرآن كريم الفرقان ٥ او كله متصل سورتونه په صداقت القرآن راوړي لكه سورة القدر.

## طريقه دَ ربط

دَ ربط طريقه هغه دا ده چي دَ توحيد پسې دَ قرآن تذكره راشي نو دا به دليل دَ توحيد وي چي زه ئې دَ ځان نه نه وايم بلكه دَ قرآن كريم په حواله باندې ئې وايم ، يعني دليل وحي به وي او كه دَ صداقت رسول نه روستو تذكره دَ قرآن راشي نو دا به دليل وي دَ هغه دَ رسالت چي دا ځكه پيغمبر دې چي دا وحي ورته كيږي او كه دَ آخرت نه مخكښې روستو تذكره راشي نو دا په .... چي په دې به كاميابيږي او كه جهاد او انفاق كښې راشي نو دَ دې قانون دَ پاره جهاد او انفاق دې او كه تنظيم او آدابو كښې راشي نو دا ستاسو دَ جماعت او دَ تنظيم قانون دې ، په دې چي كلك ئې نو منظم به ئې ، او يو به ئې او اختلافات به دركښې نه وي.

# دریم فصل

## ۳ مقصد صداقة الرسول (رسالت)

دريمه مسئله دَ هغه مسائلو نه چي قرآن كريم ئي بيانوي نو هغه دَ پيغمبر تصديق دي چي پيغمبر رشتني دې او حق رسول دي او مقصد دَ قرآن هغه معتبر دې ، چي كوم نبي عليه السلام وئيلي دي دَ قرآن معلم او دَ توحيد استاذ الله راليږلي دې ، لا اله الا الله به مني نو دا به په تعليم دَ نبي عليه السلام باندې مني ! دَ كلمې دويم جز محمد رسول الله دې ، لا اله الا الله يو جزء دې نو دا به مني خو په تعليم دَ نبي صلى الله عليه وسلم باندې كه دَ نبي عليه السلام په طريقه نه وي نو معتبر نه دې ، لكه دَ معتزلو توحيد ، دي وجې نه شيوخ ذكر كوي ـ چې لا اله الا الله فكر زندگي ، او محمد رسول الله طريقه او طرز زندگي دې ـ قرآن دَ نبي عليه السلام صداقت په مختلفو طريقو سره بيانوي ـ

۱ـ طريقه دوئي ته وحي شوې ده ـ

۲ـ دا دَ پټو خبر وركوي اطلاع على الغيب وركوي دَ تيرو وختونو او دَ اوسنو وختونو او دَ آئنده وختونو ـ

۳ـ دا نبي عليه السلام واجب الاتباع دې ـ

٤ـ دَ دوي اطاعت دَ الله اطاعت دې ، ان كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ، اطيعوا الله واطيعوا الرسول ـ

۵ـ دَ دوي په اتباع باندې قرآن كريم بشارتونه اوروي ـ

٦ـ دَ دې نبي عليه السلام په نافرماني قرآن عذابونه اوروي ـ

۷ـ دَ دې نبي عليه السلام په نبوت قرآن شاهد دې ـ

۸ـ طريقه دَ دې نبي عليه السلام دَ نبوت انبياءو بشارتونه وركړي دي ـ او كله منفي

Maktaba Tul Ishaat.com

انداز سره ۰

۹. چې څوک اعتراضونه کوي په صداقة الرسول نو هغوي ته قرآن جوابونه کوي لکه په سورة بقرة کښې نهه اعتراضونه دي او دَ هغې جوابونه دي ، نو په هر انداز دَ نبي عليه السلام صداقت ذکرکوي ۰ او دَ قرآن کريم صداقت او دَ نبي عليه السلام دَ صداقت مضمون اکثر يو ځائې ذکر کوي ۰ او کله په صداقت دَ نبي عليه السلام باندې مستقل سورت راوړي لکه سورة الضحي ۰

## طريقه دَ ربط دَ مقاصدو سره

دَ توحيد په مضمون کښې چې دَ نبي عليه السلام دَ صداقت تذکره راشي نو ربط ئې دا دې چې دَ دې دعوت دَ پاره الله تعالي پيغمبر راليږلې دې ، دَ قرآن سره ربط ظاهر دې څکه قرآن دَ پيغمبر دَ پيغمبرۍ دليل دې او نبي عليه السلام ئې معلم دې ، او آخرت سره ئې ربط چې دَ دې پيغمبر په اتباع کښې په آخرت کښې کاميابي ده ، دَ جهاد او انفاق سره ئې ربط دا دې چې څوک دَ دې پيغمبر عليه السلام نه مني نو هغه سره جهاد مالي او بدني اوکړئ او دَ دې پيغمبر په تعليم کښې تنظيم او آداب دې يو به ئې او مضبوط نو دَ خپل مقتدئ عزت ساتئ ۰

# څلورم فصل

## ۴ مقصد دَ قرآن ایمان بالآخرة

څلورمه مسئله دَ اهمو مسائلو نه چې قرآن کریم هغه بیانوي نو هغه دې ایمان بالآخرت چې توحید منل قرآن منل او پیغمبر منل دا په یقین دَ آخرت باندې ، دا دَ عقائدو ضروریه نه ده دَ دې منکر کافر دې ، نو ایمان بالآخرة ذکر کوي . چې دا نور ایمانیات په دیکښې رابند شي ، نو چې آخرت ئې اومنلو ، نو اوس به هر څه دَ الله د یرې کوي چې الله به رانه تپوس کوي الله ته په اودریږمه نو څه به ورته وایم ؟

چې دا مې ولې کړي دې او دا مې ولې نه دي کړي ، په دنیا کښې هر سړې نن پسې سبا منې او دَ سبا دَ پاره تیارې کوي سکولې هم بسته بوټان برابروي زمیدار کاکا هم لور رمبې برابروي ، نو دَ دې صبا فکر ورسره وي او دَ صبا دَ پاره تیارې کوي ، قرآن قیامت ته صبا وئیلي دي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١٨ ﴾ سورة الحشر 18.

ترجمه : اې ایمان والو ! ویره کوئ دَ الله تعالي نه او فکر دې کوي هر نفس دَ هغه عمل چې لیږي ئې دَ صبا دَ پاره او ویره کوئ دَ الله تعالي نه یقیناً الله تعالي خبردار دې په هغه عملونو چې تاسو ئې کوئ.

ټوله دنیا نن ده او قیامت ئې صبا دې.

دا چې نن دي دا دَ نن دي صبا نشته
هغه ښه دي چې صبا لرم عقبیٰ ته

Maktaba Tul Ishaat.com

چي مې نه راځي په کار په هغو څه کړم
ليوني يم چي خوشحال شم بل ښکلا ته
(زاهد)

نو الله وائي چې دَ دنيا دَ صبا دَ پاره تيارې کوې زميداري کوې سکول ته ځې خو دَ دنيا دَ صبا چې قيامت دې دَ هغې دَ پاره مو څه تيارې اوکړو او که نه ؟
نو که مرې او که چوې خو قيامت به منې!
عبد المطلب ته يو کس دَ ظالم بادشاه دَ مرګ خبر راوړو ، نو دوي ورته اوئيل چې په خپل مرګ مړ دې او که چا مړ کړو نو هغه ورته وئيل چې په خپل مرګ مړ شو ، نو عبد المطلب اووئيل •

## اني لاعلم ان بعد هذا اليوم يوم يحازي فيه الظالم

چې کوره دا ظالم به خپل مرګ باندې مړ شو او چا ورته دلته په دنيا کښې دَ ظلم بدله ورنکړه نو داسې ورځ شته دې چې ده ته به پکښې سزا ورکولې شي ، دا کومه خبره ده ؟ چې ظالم دې ظلم کوي او بدله دې ورته نه ملاويږي ، يوه ورځ دَ بدلې شته دې •
قرآن چې اثبات القيامة کوي نو په مختلف اندازونو سره ئې کوي •
۰۱ چې دوباره پيدائش په اولنې پيدائش باندې قياس کړې ، چې اول دې پيدا کولې شي نو دوباره دې نشي پيدا کولې څه ؟
﴿ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا إِنَّهُۥ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلْقِسْطِ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٤﴾ ﴾ سورة يونس: ٤

ترجمه : خاص هغه ته ګرځيدل ستاسو دَ ټولو دي وعده کړې ده الله تعالي وعده حقه ، يقيناً هغه اول پيدا کوي مخلوق بيا به دوباره پيدا کوي هغه ، دَ دې دَ پاره چې بدله ورکړي هغه کسانو ته چې ايمان ئې راوړې دې او عملونه ئې کړي دي نيک په انصاف سره ، او

هغه کسان چې کفر ئې کړې دې دوی له څښتل دي دَ بشيدلو اوبو نه او عذاب دردناک دي په سبب دَ هغې چې دوی کفر کوي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ﴿٥﴾ ﴾

سورة الحج: ٥

**ترجمه** : اې خلقو! که تاسو ئې په شک کښې دَ دوباره ژوند نه، نو (واورئ دليل) چې يقيناً پيدائش شروع کړې دې مونږ ستاسو دَ خاورو نه بيا دَ نطفې نه بيا دَ ټکرې دَ وينې نه بيا دَ ټکرې دَ غوښې نه چې پوره اندامونو والا وي (او بعضې) کمو اندامونو والا وي دَ دې دَ پاره چې وضاحت اوکړو مونږ تاسو ته، او ساتو ئې په رحمونو کښې څومره وخت چې مونږ غواړو تر نيټې مقررې پورې بيا راوباسو تاسو له واړه، بيا (پالنه کوو ستاسو) دَ پاره دَ دې چې اورسيږې ځوانۍ خپلې ته، او بعضې ستاسو نه هغه دي چې مړه شي او بعضې ستاسو نه هغه دي چې اوګرځولې شي سپک عمر ته، عاقبت ئې دا شي چې نه پوهيږي روستو د. پوهې نه په هيڅ څيز باندې، او وينې ته زمکې له ووچه پرته پس کله چې راؤررو مونږ په هغې باندې اوبه، تياره شي دَ پاره د زرغونې او بوګه شي او راټوکوي دَ هر قسم بوټي تازه نه.

٢. په زمکه او اسمان باندې ئې قياس کړې چې يو ذات دا دومره لوئې اسمان او زمکه پيدا کولې شي نو اې پانچ فوتيه! ولې تا نشي پيدا کولې؟

﴿ ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ ﴾ سورة النازعات 27.

٣. کله ئې په تازګۍ او په زرغونې دَ زمکې باندې قياس کړې لکه دغه سورة الحج ٥ آيت دويمه حصه چې اوګوره زمکه اوچه وي او الله ئې تازه کړې نو ولې تا دوباره

Maktaba Tul Ishaat.com

نشي پيدا كولې٠

٠٤ كله ئې په استدلال دَ قدرت باندې ثابتوي لكه سورة ق كښې٠

٠٥ كله پرې الله قسم اوكړي٠ په سورة ق كښې الله څلور قسمونه كړي دي٠

﴿ ۞ وَيَسْتَنۢبِـُٔونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِى وَرَبِّىٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾

سورة يونس: ٥٣

ترجمه : او تپوس كوي دوي ستاسو نه آيا حق دې دا عذاب دَ قيامت ، ته اووايه آؤ قسم دې په رب زما يقيناً دا خامخا حق دې او نه ئې تاسو بچ كوونكي ځان له دَ دې عذاب نه .

﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ﴾

سورة مريم ٦٨

ترجمه : نو قسم دې ستا په رب باندې ضرور به يو ځائې كوو دوي لره او شيطانانو لره بيا به ضرور حاضره ؤو، دوي لره چاپيره دَ جهنم نه٠

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٣﴾ ﴾ سبا:٣

ترجمه : او وائي هغه كسان چې كفر ئې كړې دې نه راځي مونږ ته قيامت ، ته اووايه آو! قسم دې په رب زما راځي به تاسو ته قيامت ، عالم دې الله تعالى په ټولو غيبو باندې ، نشي پټيدلې دَ هغه نه په وزن دَ يو ذرې په آسمانونو كښې او نه په زمكه كښې ، او نيشته وړوكې دَ دې نه او نه لوئې مگر په كتاب ښكاره كښې دي٠

﴿ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَن لَّن يُبْعَثُوا۟ ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧﴾ ﴾

سورة التغابن: ٧

ترجمه : گمان كوي كافران چې دوي به هيچرې دوباره پيدا نشي ته اووايه آؤ قسم دې په رب زما ضرور به دوباره پيدا كړې شئ بيا به ضرور خبر دركړې شي تاسو ته دَ هغه

عملونو چي تاسو کړي دي ، او دا کار په الله تعالی باندي آسان دي .

حاصل دا چي کافر انکار کوي نو الله پري رد کوي او قسم پري خوري .

۰٦ او کله ئې په مختلفو الفاظو ذکر کوي ، لکه لقاء ، حشر ، يوم مجموع ، يوم الدين ، التغابن ، الحاقة ، القارعة ، وغيره دَ قيامت تقريبا قرآن کښي څه دَ پاسه اويا نومونه ذکر دي .

دا دَ قيامت په خطرناکۍ باندي دلالت کوي .

۰٧ کله دَ منکرينو دَ شبهاتو رد کوي چې هغوي وائي من يحي العظام وهي رميم . نو يحييها الذي انشاها اول مرة، نو چې يقين دَ آخرت راشي نو هر څه منل اسان شي .

مشرکانو قيامت نه منلو او بل ته به ئې وئيل چې دا خو هسي ګپ شپ دي ، يهودو او نصارو منلو خو په خپله خوښه ئې منلو هغوي به وئيل چې زمونږ مشران به مونږ له سفارش کوي هغوي ختنونه او عبادتونه کړي دي او افتخار باالآباء به ئې کوو ، او وئيل به ئې چې اول خو به مونږ جهنم ته ځو نه ،او که لاړ هم شو نو چکر دي او هغه به اولګوو ، نور خو

﴿ وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعۡدُودَةً ۚ قُلۡ أَتَّخَذۡتُمۡ عِندَ ٱللَّهِ عَهۡدًا فَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ عَهۡدَهُۥٓ ۖ أَمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٨٠﴾ ﴾ سورة البقرة:٨٠

ترجمه : او دوي وائي هيچري به او نه رسي مونږ ته اور مګر يو څو ورځي شمارلي شوي ، ته ورته اووايه آيا اغستي ده تاسو دَ الله تعالی نه وعده نو (بيا خو ) هيچري خلاف نه کوي الله تعالی دَ وعدي خپلي نه بلکه جوړوي تاسو په الله تعالی باندي هغه خبري چي تاسو پري علم نه لري ( په دليل سره ) .

جنت خو زمونږ تهيکه ده ، نو هغوي قيامت پخپله خوښه منلو نه دَ الله په خوښه . نو هلته خبره دَ حسب نسب نه ده .

هارون الرشيد ته امام ابو يوسف رح خط ليکلې وو او دا ئې ورته وئيلي وو چي

**فان ديان يوم الدين انما يجازي الناس باعمالهم لا باحسابهم ولا بانسابهم**

Maktaba Tul Ishaat.com

1.

دَ بدلې دَ ورځې بدله ورکونکې هغه به خلقو له په عملونو بدله ورکوي په نسبونو به نه ورکوي . هلته دَ عمل خبره ده وخت راروان دې ، تيارې اوکړه ، نو دا مسئله ذکر کوي زياته دَ دې دَ پاره چې مسلمان شهزاده کوتاهي اونکړي نو دَ تيري مسئلې منل به درته اسان شي ، او نه منل به ئې درته ګران شي ، که يقين په آخرت راغلو نو قرآن کريم اثبات القيامة کوي چې آخرت رامخې ته کړئ ، چې آخرت اومنې قيامت راروان دې

کله قرآن اثبات دَ قيامت مستقل راوړي او کله نورو مسئلو کښې تبعاً ذکر کړي ،کله پرې مستقل سورت راوړي لکه سورة ق ، القيامة ، وغيره .

## طريقه دَ ربط

دَ تيرو مسئلو سره ربط بيان هم اوشو او اسان هم دې چې دغه تيرې مسئلې اومنه چې آخرت کښې کامياب شې ، يا داسې کله د کافروا انکار دَ قيامت دَ دغه مقاصدو پسې ذکر شي ، نو ربط دادې چې دَ منلو وجه څه ده ؟ نو هغه انکار دَ آخرت دې که دوي آخرت منلې نو انکار به ئې نه کولو ، او جهاد او انفاق سره ربط دا دې چې جهاد بغير دَ يقين دَ آخرت نه نه کيږي نو يقين په آخرت مضبوط کړې چې جهاد اسان شي او انفاق کوئ چې دَ قيامت په ورځ اجر درکړي او نور به وي درله ، او دې سره به مو تنظيم مضبوط وي دَ قيامت په نظريه او په توحيد، چې يو ئې نو قيامت کښې به هم دوستان يئ .

نو دا څلور مسئلې مقاصد عاليه دي ، او مهمه دي او نوري څلور مسئلې ئې خدمتګاري دي .

دَ قرآن کريم اهم مقاصد او ضروري مقاصد چې کوم بيانيدل نو هغه اته وو، په هغې

---

[1] کتاب الخراج للامام ابو يوسف ؒ.

کښېږي اولني ځلور مقاصد عاليه او مهمه وو، او روستني ځلور مقاصد هغه لواحق وو، دَ اولنو مقاصدو خدمت ئې کوو، چې کله تا دا ځلور خبرې زده کړې ، نو اوس دا نه چې ته به په ارام باندې کېني ، نا بلکه دَ دې مسئلو دَ پاره به خواري او محنت کوي ، نو پنځمه مسئله دَ مقاصدو ثمانيه ؤ نه هغه دې، الجهاد في سبيل الله ٠

Maktaba Tul Ishaat.com

# پنځم فصل

## الجهاد فی سبیل الله

پنځمه او اهمه مسئله چې قرآن بیانوي دَ خدمتګارو مسئلو نه اهمه مسئله جهاد دې ، جهاد دَ جهد نه دې ، جهد انتهائي زيات کوشش ته وائي ، دَ يو کار دَ پاره خپل هر څه چې څومره دِ وس وي کوشش کول نو ديته جهاد وائي۔
مجمع البحار کښې دَ جهاد معنې کوي۔

استفراغ ما في الوسع والطاقة من قول وفعل

چې څه دَ بنده په وس او په طاقت کښې وي نو هغه خرچ کول او لګول قرآن کښې په لغوي معنې ځائې په ځائې کښې استعمال شوې دې۔ لکه سورة الانعام ۱۰۹ کښې وائي۔

﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا ٱلْـَٔايَـٰتُ عِندَ ٱللَّهِ ۖ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ ﴾ سورة الانعام ۱۰۹

ترجمه : او قسمونه کړي دي دوي په الله تعالي کلک قسمونه خپل که چرې راغله دوي ته معجزه نو خامخا ايمان به راوړي په هغې ، ته ورته اووايه ! يقيناً اختيار دَ معجزاتو دَ الله تعالي سره دې ، او څه پوهيږي تاسو کيديشي چې دا معجزې که راشي دوي ته نو دوي ايمان نه راوړي۔

دوي قسمونه کوي په الله پاخه پاخه قسمونه چې څومره ئې وس وي ، نو هغه دومره قسمونه پخوي ، او په اصطلاح دَ شريعت کښې جهاد دَ اعلاء کلمة الله لپاره هر قسم کوشش ته جهاد وائي ، خواه که مالي طاقت لګول وي او که بدني او که لساني که هر قسم وي نو دَ اعلاء کلمة الله دغه کوشش ته جهاد وائي ، جهاد په دې شرعي معنې باندې يعني په لفظ دَ جهاد سره په قرآن کښې دوه ديرش ځله ذکر دې۔ او آخرې درجه دَ جهاد هغه قتال دې نو په لفظ دَ قتال سره جهاد په قرآن کښې څلور شپيته ځله

راغلي دي ،٠ آله دَ جهاد به څه وي ؟

**ما به الجهاد** " نو قرآن چي دا په کوم انداز سره ذکر کوي نو مونږ ورته صرف اشاره کوو ، دَ جهاد مستقل مضامين په کتابونو کښې شته دي ، نو

١- جهاد باللسان : په ژبه سره جهاد کول لکه

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ﴿٦٥﴾ ﴾ سورة الأنفال: ٦٥

ترجمه : اې نبي (صلي الله عليه وسلم ) تيزي ورکوه مومنانو له په جنګ کولو باندې ٠ دا دَ ژبې جهاد دي ٠

﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا۟ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ ﴿٨٦﴾ ﴾ سورة النساء 86٠

**٢- جهاد بالنفس والمال ٠لکه**

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشْتَرَىٰ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلْجَنَّةَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ـــــ ﴿١١١﴾ ﴾ سورة التوبة: ١١١

ترجمه : الله تعالي اغستي دي دَ مومنانو نه ، نفسونه دَ هغوي او مالونه دَ هغوي په بدله دَ دې چي يقيناً دوي له به جنت وي،جنګيږي به په لاره دَ الله کښې پس وژني به کافرانو له او وژلي کيږي به٠

**دا جهاد بالنفس والمال قرآن ډير زيات ذکرکوي ٠**

**٣- جهاد بالدفاع** چي بنده دَ حفاظت دَ پاره جهاد اوکړي او خپله دفاع اوکړي دا فطري طور چرګه هم دَ ګيدړ نه دَ خپلو بچو دفاع کوي خو مسلمان نن پاتې دي ٠

﴿ وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ ﴾ سورةالبقرة: ١٩٠

ترجمه : او جنګ کوئ دَ پاره دَ اوچت والي دَ دين دَ الله تعالي دَ هغه کسانو سره چي تاسو سره جنګ کوي ، او دَ حد نه مه وتي ... يقيناً الله تعالي مينه نه کوي دَ حد نه دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

تيروتونكو سره.

چي جنګ درسره کوي نو جنګ ورسره اوکړه دَ سُوک جواب په سُوک باندې ورکړه..

۴. جهاد بالرباط

حفاظت دَ سرحداتو اوکړئ ، ذهني او ملکي سرحدات محفوظ کړئ.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱصْبِرُوا۟ وَصَابِرُوا۟ وَرَابِطُوا۟ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾

سورة آل عمران: ٢٠٠

ترجمه :اې ايمان والو صبر کوئ او وبنا دَ صبر کوئ ، او تياري کوئ (دَ جهاد ) او اويرېږئ دَ الله تعالى نه دَ دې دَ پاره چي کامياب شئ.

۵. جهاد بالقوة

قوت او طاقت تيارول کله کله منډه وهل په دې نيت چي صبا به جهاد ته ځم، په کافر پسې به منډه وهم ، په دې نيت نه چي دَ کافر نه به ځان ځنګه په منډه خلاصوم ، نو دا نه چي بيا دې ساه لنډه لنډه کيږي ، بلکه دَ منډې چل زده کړه.

شاه اسماعيل شهيدؒ به په سخت ژمي کښې سيند ته تلو ، او لامبو به ئې وهله ، چي داسې نه چي سبا په جهاد کښې دَ لامبو ضرورت راشي او ما ته لامبو نه راځي ، يو ځل انګريزان ورپسې شوي وو او شاه صاحب ترې پياده منډه وهله او هغوي سره اسونه وو او راګير ئې نکړو، او درياب ته ئې اودانګل ، او نهه ميله سفر ئې لامبو وهله او په يو لاس کښې ئې کتاب وو، نو

اعدوا لهم ما استطعتم من قوة

نو دا يو مضمون قرآن کريم ذکر کوي ، چي مابه الجهاد ، چي جهاد به په څه باندې کوې ؟ نو د هغې تياري اوکه.

۲ مضمون مع ائمة الکفر والذين يلونکم.

قرآن ذکرکوي مع من يجاهد دَ چا سره به جهاد کولې شي نو مع الکفار

﴿ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيْمَٰنَهُم مِّنۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُواْ فِى دِينِكُمْ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَٰنَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ ﴿١٢﴾ ﴾ سورة التوبة 12.

ترجمه : او كه مات كړل دوي قسمونه خپل پس د تلكوالي د هغي نه او طعن ئي كوو په دين ستاسو كښي نو جنګ كوئي د مشركانو د كفر سره ، يقيناً دوي نيشته هيڅ قسمونه د دوي دي د پاره چي دوي منع شي د كفر نه .

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾ ﴾ سورة التوبة 123.

ترجمه : اي ايمان والو ! جنګ كوئ د هغه كسانو سره چي نژدي دي تاسو ته د كافرانو نه او اودي مومي هغوي په تاسو كښي كلكوالي ، او پوهه شئ چي يقيناً الله تعالي ملګري د متقيانو دي .

٢. مع المشركين .

﴿ ... وَقَٰتِلُواْ ٱلْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمْ كَآفَّةً ۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾ ﴾ سورة التوبة: ٣٦

ترجمه : او جنګ كوئ د مشركانو تولو سره لكه چي جنګ كوي دوي تاسو تولو سره او پوهه شئ چي يقيناً الله تعالي ملګري د متقيانو دي .

٣. مع المنافقين

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾ ﴾ سورة التوبة 73.

ترجمه : اي نبي (صلى الله عليه وسلم ) جهاد كوه د كافرانو سره او منافقانو سره او سخت شه په مقابله د هغوي كښي او ځائي د دوي جهنم دي او بد دي ځائي د ورتلو ( دا جهنم ) .

Maktaba Tul Ishaat.com

۴. مع البغاة چې د اسلامي قانون نه باغي وي چې وائي مونږه اسلامي قانون منلو ته تيار نه يو

﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا۟ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا ۖ فَإِنۢ بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى ٱلْأُخْرَىٰ فَقَٰتِلُوا۟ ٱلَّتِى تَبْغِى حَتَّىٰ تَفِىٓءَ إِلَىٰٓ أَمْرِ ٱللَّهِ ۚ (٩) ﴾ سورة الحجرات ٩

ترجمه : او که چرې دوه ډلې ډمومنانو نه جنګ اوکړي نو روغه اوکړئ ډ دوي په مينځ کښې نو که چرې زياتې اوکړي يوه ډله په بله ډله باندې نو جنګ اوکړئ ډ هغې ډلې سره چې زياتې ئې کړې دې تر دې پورې چې راوګرځي فيصلې ډ الله تعالي ته نو که چرې راوګرځي نو روغه اوکړئ په مينځ ډ دوي کښې په انصاف سره او انصاف کوئې يقيناً الله تعالي مينه کوي ډ انصاف کوونکو سره.

۵. اهل کتاب يهودو او نصاري سره،

﴿ قَٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلْحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُوا۟ ٱلْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ (٢٩) ﴾ سورة التوبة ٢٩

ترجمه : جنګ کوئ ډ هغه کسانو سره چې ايمان نه لري په الله تعالي باندې او نه په ورځ ډ روستنې ( په شان ډ ايمان ډ صحابه کرامو ) او حرام نه ګڼړي هغه څيز چې حرام کړې دي الله تعالي او رسول (صلى الله عليه وسلم) ډ هغه او تابعداري نه کوي ډ دين حق ډ هغه کسانو نه چې ورکړې شوې دې ورته کتاب تر دې چې ورکوي به جزيه (ټيکس ) پخپل لاس سره او دوي به ذليلان وي.

۰۳. قرآن دريم مضمون ذکر کوي فضيلت ډ جهاد ، فضيلت ډ مجاهد او فضيلت ډ شهيد، او هغه ته تسلي ورکوي. ۰۱. ډ جهاد فضيلت ذکرکوي چې دا ډ ژوند مسئله ده په دې به ژوندې شئ.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱسْتَجِيبُوا۟ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ

أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَقَلْبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ سورة الانفال ٢٤

ترجمه : اې ايمان والو ا حكم قبلوئ دَ الله تعالي او دَ رسول كله چې راوبلي تاسو هغه څيز ته چې ژوندي كوي تاسو او پوهه شئ يقيناً الله تعالي پرده اچوي په مينځ دَ سړي او دَ زړه دَ هغه كښې او يقيناً خاص هغه ته به جمع كړې شئ تاسو۔

٤۔ په هر عمل درله ثواب دركوي تردې چې په غير اختياري عمل هم ثواب دركوي لكه

﴿ مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا۟ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا۟ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

سورة التوبة ١٢٠، ١٢١

ترجمه : نه ده مناسب مديني والو له او هغه چا له چې كير چاپيره دي دَ باندچيانو نه چې روستو پاتي شي دَ رسول (صلي الله عليه وسلم ) نه او نه دي غوره كوي خپل ځانونه دَ هغه دَ ځان نه، دا حكم په دې وجه دي چې نه رسي دوي ته تنده او نه ستړيوالي او نه لوږه په لار دَ الله تعالي كښې او نه كرځي دوي په يو لارې چې غصه كوي كافرانو له او نه حاصلوي دوي دَ دشمن نه څه څيز مكر ليكلې كيږي دوي له په بدله دَ هغي كښې عمل نيک ، يقيناً الله تعالي نه ضائع كوي ثواب د خائسته عمل كوونكو۔

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ ﴾ سورة التوبة 121۔

ترجمه : او نه خرچ كوي دوي څه خرچ لږ او نه ډير او نه سفر كوي دوي په يو ميدان كښې مكر ليكلې كيږي دوي له دې دَ پاره چې بدله به وركړي دويته الله تعالي ډيره ښائسته دَ هغي عملونو چې دوي ئې كوي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

# فضیلت دَ مجاهد

۲۔ فضیلت دَ مجاهد او دَ شهید ذکر کوي ، لکه

﴿ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ ﴾

سورة البقرة: ١٥٤

ترجمه : او مه وائي دَ هغه چا په باره کښې چې اووژلې شي په لاره دَ الله تعالي کښې چې دوي (عام) مړي دي بلکه دوي له يو قسم ژوند دې ليکن تاسو نه پوهيږئ (دَ هغوي په ژوند)۔

دا څه عام مرګ نه دې ، عبث نه دي مړه ، دوي خو ژوندي دي ليکن تاسو ئې په ژوند نه پوهيږي ، دا وينه بختوره اوګرځيده۔

اگر خونت فدائے یار گردد
ازو ہر قطرہ صد گلزار گردد
بمیدان میر اگر درخانہ مردی
مبارک خون تو بیکار گردد

که ستا وينه دَ يار او دَ الله دَ پاره قبوله شوه نو دَ هرې قطرې نه به الله باغونه پيدا کړي په ميدان کښې مړ شه ، که په کور مړ شوي نو ستا وينه بيکاره لاړه بختور شو هغه انسان چې دَ هغه وينه يا دَ هغه کړاؤ دَ الله دَ پاره قبول شو۔

۰۱ مضمون دَ قرآن ذکر کوي فرضيت دَ جهاد او دَ هغې اسباب ۔

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ﴿٢١٧﴾ ﴾

سورة البقرة ٢١٧

ترجمه : تپوس کوي دوي ستا نه په باره دَ مياشتو دَ عزت کښې ، په باره دَ جنګ کولو په هغې کښې ، ته اووايه جنګ کول په هغې کښې غټه ګناه ده او منع کول دَ خلقو دَ لارې

دَ الله تعالي نه او كفر كول په هغي او (منع كول ) دَ مسجد حرام نه او ويستل دَ حقدارو دَ هغي نه ، ډيره ګناه ده په نيز دَ الله تعالي او شرك كول ډيره غټه ګناه ده دَ قتل نه.

﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا۟ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ۗ ...... ﴿٤٠﴾

سورة الحج ٣٩، ٤٠

ترجمه : (اجازت ) اعلان كړې شوې دې هغه كسانو ته چې هغوي سره جنګ كيديشي ، ( دَ جنګ كولو) په دې سبب چې په دوي ظلم كړې شوې دې ، او يقيناً الله تعالي دَ دوي په مدد كولو باندې خامخا قدرت لري.

دا هغه كسان دي چې ويستلي شوي دي دَ كورونو خپلو نه بغير دَ جرم شرعي نه ، ما سوا دَ دينه چې دوي وائي رب زمونږ الله تعالي دي.

# فوائد الجهاد او مقاصد الجهاد

٥- مضمون ذكر كوي فوائد الجهاد او مقاصد الجهاد

﴿ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ ....... ﴿١٩١﴾ ﴾

سورة البقرة: ١٩٢

ترجمه : او وژنئ دوي له كوم ځائې چې وس بر شي ستاسو په دوي باندې او اوباسې دوي له دَ هغه ځائې نه چې ويستلي ئې دي تاسو له او شرك ډير سخت دي دَ قتل نه.

﴿ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾ ﴾

سورة البقرة: ١٩٣

ترجمه : او جنګ كوئ دَ دوي سره دَ دې دَ پاره چې نه وي اړول دَ مومن دَ دين اسلام نه او شي (غلبه ) دَ دين خالص الله تعالي له.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ سورة الانفال ٢٩

ترجمه : اې ایمان والو! که یره کوئ تاسو دَ الله تعالي نه نو دربه کړي تاسو له فتح او لرې به کړي ستاسو نه بدي ستاسو او بخښنه به اوکړي تاسو ته، او الله تعالي خاوند دَ فضل لوئې دې.

﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ ﴾ سورة النساء ٧٥

ترجمه : او څه عذر دې ستاسو چې جنګ نه کوئ په لار دَ الله تعالي کښې ( دَ پاره دَ خلاصولو ) دَ کمزورو دَ نارینو نه او زنانه او واړه بچې هغه چې وائي اې ربه زمونږ! اوباسې مونږ دَ دې کلي نه چې ظالمان دي اوسیدونکي دَ دې او مقرر کړه مونږ له دَ خپل طرف نه دوست بچ کوونکې . او مقرر کړه زمونږ دَ پاره دَ خپل طرف نه امدادي .

﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ ﴿٣١﴾ ﴾ محمد: ٣١

ترجمه : او ضرور ازمیښت کوو مونږ په تاسو باندې تر دې پورې چې جدا کړو مونږ جهاد کوؤنکي ستاسو نه او صبر کوؤنکي او ښکاره به کړو مونږ (حقیقت ) دَ خبرو ستاسو.

﴿ قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾ ﴾ التوبة: ١٤ - ١٥

**ترجمه** : جنګ کوئ دوئ سره عذاب به ورکړي دوي ته الله تعالي په لاسونو ستاسو او اوبه شرموي دوي له او امداد به اوکړي تاسو سره په مقابله دَ دوي کښې او شفاء به ورکړي سینو دَ قوم مومنانو ته. او لرې به کړي غصه دَ زړونو دَ کافرانو نه او مهرباني به

اوکړي الله تعالي په هغه چا باندې چې اوښي غواړي ( دَ توفيق دَ ايمان ) او الله تعالي پوهه دي حکمتونو والا دي.

٦- قرآن شپږم مضمون ذکر کوي.

# قبائح دَ ترك القتال

او دا ډير دي چې دا جهاد نه کيږي نو څه مصائب به راځي ، يو غټ سبب دا دي چې جهاد نه کوي ، نو مصائب به راځي او فتنې به زياتيږي.

﴿ ---وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ ﴾ سورة البقرة ٢٥١.

ترجمه : او که چرې نه وئ دفع کول دَ الله تعالي خلقو له بعضو له (کافران) په بعضو سره (مومنان) ضرور ورانه شوې به وئ زمکه او ليکن الله تعالي فضل والا دي په ټولو خلقو باندې.

﴿ -------- وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ وَمَسَٰجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا ٱسْمُ ٱللَّهِ كَثِيرًا ۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾

سورة الحج ٤٠

ترجمه : او که نه وې اړول دَ الله تعالي خلقو له بعضو له په بعضو سره خامخا نړولې شوې به وې ګرجې دَ راهبانو او عبادت خانې دَ نصارؤ او عبادت ګاهونه دَ يهوديانو او جماعتونه دَ مسلمانانو چې يادولې شي په هغې کښې نوم دَ الله تعالي ډير ، او خامخا مدد کوي الله تعالي دَ هغه چا سره چې مدد کوي دَ دين دَ هغه سره ، يقيناً الله قوت والا دي او زورور دي.

﴿ وَٱتَّقُوا۟ فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنكُمْ خَآصَّةً ۖ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ ﴾ سورة الانفال 25.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او خان بچ کړئ (په جهاد کولو سره ) دَ هغه عذاب نه چې نه رسي ظالمانو ته ستاسو نه يواځې ، او پوهه شي يقيناً الله تعالي سخت عذاب ورکونکې دې .

دَ دين ځايونه او مرکزونه به وران شي لکه سورة الحج ۴۰ کښې تير شو.

بل دا چې دَ ظالمانو تسلط به راشي .

﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ ﴾ سورة البقرة: ٢٥١

ترجمه : : او که چرې نه وې دفع کول دَ الله تعالي خلقو له بعضو له (کافران ) په بعضو سره (مومنان) ضرور ورانه شوې به وې زمکه او ليکن الله تعالي فضل والا دې په ټولو خلقو باندې .

چېپه اسلام سرې قربان شي جهاد ديته وائي
په ذکر تير چې رمضان شي جهاد ديته وائي
توره په لاس کفن په سر چې ځي ميدان ته دَ جنګ
چې شهادت دَ چا ارمان شي جهاد ديته وائي
دا ضروري نه ده چې خامخا دِ مړ شي سړې
چې دَ غزا په نيت روان شي جهاد ديته وائي
سړې که يو لويه ګناه په ناپوهې کښې اوکړي
زر چې په خپلو کړو پښېمان شي جهاد ديته وائي
په داسې حال کښې چې ماحول پکښې دَ کفر وي ټول
چې سلامت پاتې ايمان شي. جهاد ديته وائي
چې يو خواه عيش وعشرت بل خوا وي يره دَ رب
بنده چې بچ دَ نفس شيطان شي جهاد ديته وائي
اې نيک عمله که ژوند هر څومره بې لارې وي خو
وقف چې درس ته دَ قرآن شي جهاد ديته وائي

# شرائط او آداب دَ جهاد

۷۔مضمون شرائط او آداب دَ جهاد

یعني جهاد یو مستقل غټ کار دي نو دَ دې دَ پاره به نظام تهیک کول غواړي ، تنظیم به جوړول غواړي ، دَ هغې لپاره به انتخاب دَ امیر ، دَ امیر صفات، دَ امیر اطاعت ، دَ امیر اخلاق او صفات دَ مجاهدینو او هغه امور چې دَ کومو نه به مجاهد ځان بچ کوي ، دا مختلف مضامین دي ، نو دَ جهاد یو اهم مقصد دې ، دَ دې دَ پاره چې دا مخکښې مسائل په دنیا کښې خواره شي او په دنیا کښې ترقي اوکړي او دَ هغې سره سره حاکمان هم شي، توحید حاکم شي ، قرآن او پیغمبر حاکم شي ، نو دا بغیر دَ جهاد نه نه کیږي۔ پیغمبر بغیر دَ دې نه ندي کړي چې اخلاق ئې زما او ستا نه ښکلي وو کتاب ئې زما او ستا نه ښکلي وو ، نو ما او تا به ئې بغیر دَ جهاد نه دا مسائل څه حاکمان کړو، نو دا بغیر دَ جهاد نه نه کیږي۔ دَ دې ربط هغه دَ مخکښې او روستو سره آسان دې۔

Maktaba Tul Ishaat.com

# شپږم فصل

## ۶- شپږم مقصد "الانفاق"

شپږمه مسئله چي قرآن ئې بيانوې نو هغه دې انفاق في سبيل الله يعني مال لګول چې جهاد بغير دَ مال نه ترقي نه کوي نو دَ هغېدَ پاره مال ورکول يعني دَ الله دَ دين دَ پاره څه خرج کول ، او دَ خپل مِلک نه لرې کول ، څه به خرج کول غواړي ، په هر انسان الله څلور غټ نعمتونه کړي دي ۰

۱. نعمت دَ عمر او دَ وخت ۰ چې دا وخت دې دَ ترقي دَ دين دَ پاره اولګوه ، اوس تاسو ناست ئې ، دَ دين دَ پاره مو وخت ورکړې دې ، دَ الله دَ پاره ، نه دَ ووټ دَ پاره او نه دَ نوټ دَ پاره ، يا مجاهدينو وخت ورکړې دې ، دَ دين دَ ترقي دَ پاره يا تبليغيان وخت ورکوي نو دَ دين دَ ترقي دَ پاره ، نو الله دې ټول قبول کړي نو وخت دَ الله په دين باندې لګول غواړي نه په فيسبوک باندې ، او نه په نټ باندې ، او په کرکټو خپل وخت ضائع کول پکار دي ۰

۲ نعمت ځواني ده په دې عمر کښې يو دور دې چې شباب ورته وائي ، خلق ځواني په دنيا لګوي ، او په غلطو کارونو ئې لګوي ، نو دا ځواني چې چا درکړې ده هغه له ئې اولګوه ، ۰

کسی خاک پہ مت کر خاک اپنی زندگانی کو
جوانی کر فدا اس پہ کہ جس نے دی جوانی کو

کوم ذات چې ځواني درکړې ده نو دَ هغه نه ئې قربان کړه ،

شاب نشأ في عبادة الله ۰ نو هغه به دَ عرش دَ سورې دَ لاندې وي ، يعني ځواني ئې راغستې ده ، او دَ الله دَ پاره ئې خرج کوي ، نن صبا دَ خلقو ځواني په ووټونو کښې

اولګوله ، او په مندو ترړو او په کرکتونو کښې ، او دَ دنيا په ګټلو کښې چې دنيا اوګټم ، بهتر ځوان هغه دې چې هغه نه دَ کرکټ نه خبر شي او نه دَ ووټ نه خبر شو او دَ هغه ځواني په الله باندې دَ الله په دين باندې زړه شوه ، نو څه بختور ځوان دې .

خدايا رضا راکه ديدار راکه زاهد مي واخله
داسې مې ځوان که چې ځواني واخلم ځوانان جوړوم

دير زر شباب نه زلميتوب په پل راپورې وتم
آه مې له درده په دردونو باندې اوګرځوو

اول دې مست بيا دې ملنګ کړو اوس ئې بيا مستوې
زاهده وخت دې په وختونو باندې اوګرځوو
( زاهد )

۳ نعمت علم ، علم د الله يو لوئې نعمت دې ، نو علم دَ الله دَ پاره خرچ کړې خلقو ته ئې بيان کړې ، او کوم وخت کښې چې د کومې مسئلې ضرورت وې نو دې هغه بيان کړې که هر څومره تکليف مخې ته راځې نو دې دَ هيڅ پرواه نه کوې او ښه صاف صاف مسئله بيان کړې. دَ امام ابوحنيفه ؒ شاګرد وو چې فارغ شو نو نو وئيل ئې استاذجي !! زه ځم !

نو امام صاحب ؒ ورته اووئيل لږ صبر اوکړه .

اتفرغ لک !!

لا څه مه ! زه تاته اوزګاريږم .

نو هغه يوه هفته حصار شو،(اوس طالبان يو مينټ هم نه حصاريږي ) نو چې هفته تيره شوه نو امام صاحب ورته وئيل ، چې راشه بچپل سند ئې ورته حديث اووئيلو، چې نبي

Maktaba Tul Ishaat.com

عليه السلام فرمائي:
سَيِّدُ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ ، وَرَجُلٌ قَالَ إِلَى إِمَامٍ جَائِرٍ فَأَمَرَهُ وَنَهَاهُ فَقَتَلَهُ.[1]

دَ شهيدانو سردار حمزه وو او بل هغه سړي چې دَ بادشاه مخې ته اودريدو او دَ نيکې حکم ئې ورته اوکړو او دَ بدې نه ئې منع کړو تر دې چې بادشاه هغه قتل کړو.

کله چې شاګرد کلي ته لاړو نو مسئله بيانول ئې شروع کړو، تردې چې دَ بادشاه دربار ته ورسيدو هغه ته ئې مسئله بيانوله نو شهيد ئې کړو، امام صاحبؒ ته خبر راغې، چې هغه بله ورځ چې دې کوم شاګرد فارغ شوې وو نو هغه شهيد شو نو امام صاحب ورته وئيل.

**انا حدثته عن ابراهيم ...........**

ما ورته حديث بيان کړې وو، او عمل ئې پرې اوکړو، نو علم خرچ کول او بيا بيانول مرګ خو هسې هم راځي که ته حق بيان کړې او که نه؟ نو دا دې انفاق علمي.

٤. څلورم نعمت مال دې چې الله مال درکړو که مال لږ وي او که زيات نو يو خو فرض زکوة دې او بل دَ زکوة نه علاوه صدقات چې څه دې وس کيږي، نو دَ الله دَ دين دَ پاره ئې اولګوه، صحابه کرامو هغوي دين ته خپل کار وئيلو، نو لکه څنګه چې مونږ دَ کور دَ پاره مزدوري کوو، نو دغه شان هغوي به دَ دين دَ پاره مزدوري کوله، چې زه مزدوري اوکړم پيسې اوګټم او په دين ئې اولګوم، داسې ډير واقعات زمونږ مخې ته دي، چې صحابه کرامو په کوم عجيبه انداز سره انفاق کړې دې، نو انفاق مالي دا څلور واړه نعمتونه دي، او دا دَ الله دَ رضا دَ پاره دَ الله په دين باندې خرچ کول دي - قرآن مما، ميم زبر ما تکې وئيلې دې، **ومما رزقنهم ينفقون**

ميم زبر ما مطلب صرف مال نه دې بلکه هر څه مراد دي چې مال بدن علم او ځواني

[1] المستدرك للحاكم : كتاب معرفة الصحابة رضي الله عنهم.

خرج کوي ، قرآن انفاق في المال باندې زور ورکوي ، ځکه چې پيسې ذ جيب نه راويستل دا ګران وي په نفس باندې.

اگر سر خواہی تو حاضر است
و اگر زر خواہی تو تقاضہ دہ

مال واني ديته چې ما يميل اليه النفس ، الدنيا حلوة حضرة ، نوديته نفس ميلان کوي خوږرو له ېچان راځي ، او شنو له غوايان راځي ، نو په دنيا مئين يا مچ دې او يا غوټي دي ، ځکه الله واني ، چې مال اولګوئ که جماعت کنبې اووائي ، چې بهائي تول حصار شئ ذ جماعت ديوال نړوو ، نو تول حصاريږي خو چې ورته اووائي ،چې بهائي لس لس روپي راجمع کړئ ، جماعت له پرې سيمټ راوړو نو دې په رو غوندې روان شي ، نو وخت لګوي وخت ورکوي پلک وهي خو بس چې ذ پيسو خبره وي ، نو بيا په شا ځي ، نو ذ انفاق ترغيب زيات ورکوي ، چې که دا سړې کور ناست وي او مال لګوي نو هم پرې جهاد ترقي کوي او دين پرې ترقي کوي ، يو سړې دې کور ناست وي ، وخت دې نه ورکوي ، جماعت ته دې پلک نه اوړي ، خو چې يو لس زره روپې راوړي نو کار پرې کيږي هر څه به ورله پرې واخلي نو په انفاق باندې ذ جهاد او ذ ديني کارونو ترقي کيږي ځکه ديته زيات ترغيب ورکوي، او هر سړې خو ذ جهاد ميدان او محاذ ته تللې نشي ، څوک به محاذ والو سره مالي تعاون اوکړي نو جهاد به ترقي اوکړي ، نو دا ذکر کوي، په مختلفو اندازونو. نو يو

۰۱ انفاق ته ترغيب ورکوي نو

۰۲ دويم انداز کيفيت ذ انفاق هم ذکرکوي ، او

۰۳ دريم انداز شرائط ذ انفاق هم ذکرکوي وجودا او عدماً ، لا يتبعون ما انفقوا منا ولا اذي ، زيادنه نه ده پکار او تکليف ورکول نه دي پکار.

۰۴ انداز چې کوم موانع ذ انفاق ذ قبوليت دي نو هغه هم بيانوي ،.

۰۵ انداز ذ انفاق نه کولو سزاګاني هم بيانوي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

۰٦ انداز دَ انفاق مصارف هم بيانوي ،۰

۰۷ انداز ، انفاق ته په مختلفو اندازونو ترغيبونه ورکوي ، دَ مثالونو په ذريعه لکه سورة البقرة کښې ، او په سورة الحديد کښې په پنځه طريقو سره انفاق ته ترغيب ورکوي ، دَ دې دَ پاره چې دَ الله په دين مال اولګولې شي ، دا ګران کار وو،په دنيا باندې هر څوک په زرګونو مالونه لګوي ، ځکه چه هغه ورته خپل کار ښکاري او که دَ دين دَ پاره او يا دَ جماعت دَ بل دَ پاره چې ترې پيسې اوغواړې ، نو کله سنت اوړده اوکړي ، چې توبې مي په شا باندې تيره شي ، هسې نه چې په مخ مي تيره شي ، نو دين دَ پاره ئې مال لګولو ته سمې نه وي ،، دَ دې ربط هم دَ مخکښې مضامينو سره آسان دې چې دَ دې مقاصد دَ پاره مال اولګوې او که انفاق پسې ئې راوړې نو دا هغه مقاصد دي چې دَ دې دَ پاره مال لګولې شي ۰

# اووم فصل

## ۷ مقصد "التنظيم"

اوومه مسئله چي قرآن دَ هغي بيان کوي نو هغه دې التنظيم ځکه چي جهاد او انفاق په يواځي تن نه کيږي بلکه دَ دې دَ پاره دَ يوې عقيدې ملګري يو کيدل پکار دي دا تنظيم دې ۰ دا دَ نظم نه دې او نظم پيپلو ته وائي ملغلرې په تار کښې اچول ، تسبيح مرې وي يوه يو طرفته وي او بله بل طرفته وي ، نو په لاس کښې هم نه ځي او فائده ترې هم نشي اغستلې ، ذکر پرې نشي کولې ،او زينت ئې هم نه وي نو چي ته هغې ته ترتيب ورکړې په يو تار کښې او يو پکښې محراب کړې ، نو په لاس کښې خوند هم کوي او ذکر پرې هم کولې شي په اساني سره ، ملغلرې وي جدا جدا ، نو چي کله په تار کښې واچولې شي ، نو زنانه ئې په غاړه کښې اچوي، زينت او خائست ئې شي ، نو تنظيم ملغلرې پيېل ، نو موحدين هر يو ځان ځانله ملغلره ده نو که دوي څه يو ځائې وي او څه بل ځائې وي، نو کار به هم اونکړي، او فائده به ئې هم نه وي او قوت او طاقت به ئې هم نه وي ، يو ويښته دې نو مچ پرې هم نه تړلې کيږي، خو چي کله ګنړ ويښته راجمع کړي او دَ هغې نه پړې (رسې) جوړه کړې نو اوس پرې هاتي هم تړلې شي ، ځکه چې قوت ئې سيوا شو، نو دغه شان موحدين دَ دې مسئلو منونکي دا چي دي ، نو دا ملغلرې دي ، نو دا ګر ورکوه مه ، چې تهس نهس شي ، نا !! دا دَ يو بل سره نزدې کړه يو ځائي کړه يو پکښې سر کړه او نور ئې اندامونه کړه ، يو پکښې محراب کړه ، او دا نور ئې مقتديان کړه ، نو اوس چي دوي يوه خبره کوي نو يوه خبره به نه وي اوس به دَ يوې خلې په ځائې سل خلې لګيا وي نو مسئله به ترقي اوکړي ، او په ديکښې به قوت پيدا شي ، دوي ته به څوک اوس څه نشي وئيلې ۰

Maktaba Tul Ishaat.com

زِ اتفاق زنبور میشود شهد پیدا
خدا چه لذت شیریں در اتفاق نهاد

دَ مچو دَ اتفاق نه الله ګبین پیدا کړي الله څه ښکلې لذت په دې اتفاق کښې ایښي دې۔

فرد قائم ربطِ ملت سے ہے تنہا کچھ نہیں
موج ہے دریا میں اور بیرونِ دریا کچھ نہیں

مسلمان هر یو موحد دَ دوي وجود دَ څه دَ وجې نه دې ، ربطِ ملت سے ہے ، چې دَ دوي دَ یو بل سره ربط وي ، او دوي یو وي یواځې هیڅ هم نه دي ، دریاب چې دریاب وي ځکه چې په دې دَ ټولو اوبو اتفاق وي، څوک ورته څه نشي وئیلې ، خو دا دَ چپې اوبه دَ دریاب نه بهر کړه نو بیا هیڅ نه دي سخا شي ، نو دارنګې موحد او مسلمان چې څومره یو بل ته نزدې وي ، نو دومره به دَ دوي قوت سیوا وي ، او فائده به ئې سیوا وي ، او چې څومره لرې کیږي نو دومره به خرابیږي دَ دې وجې نه قرآن تنظیم ته ډیر زور ورکوي۔

انما المومنون اخوة

کور چې دَ رونړو مینځ کښې اتفاق وي نو رونړه وي او چې بې اتفاقي وي نو بیا دشمنان دي ، نو قرآن یو والي او اتفاق ته ترغیب ورکوي ، نبي علیه السلام فرمائي۔

الْمُؤْمِنُونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ [1]

او نبي علیه السلام فرمائي۔

لَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا [2]

اې دَ الله بندیانو مومنانو دَ یو بل سره بغض او حسد مه کوئ ، او دَ یو بل په غلطۍ

[1] صحیح مسلم : باب تراحم المومنین وتعاطفهم وتعاضدهم۔

[2] صحیح مسلم : باب النهي عن التحاسد والتباغض والتدابر۔

بسي مه لګيا کيږئ ، وکونوا عباد الله اخوانا ، رونړه رونړه شئي ، دا ئې يو والي ته ترغيب ورکړو ، دَ دې امت قبله يوه ، يو ئې رب ، يو ئې پيغمبر ، نو بيا مسلمان ولې يو کيږي نه ؟

منفعت ایک ہے اس قوم کا نقصان بھی ایک
ایک ہی سب کا نبی دین بھی قرآن بھی ایک
حرم پاک بھی اسلام بھی اللہ بھی ایک
کچھ بڑی بات ہوتی کہ ہوتے مسلمان بھی ایک

دَ غيرو دا کوشش وو چې مسلمانانو کښې اختلاف پيدا کړي ، نن حدبندي ئې جوړې کړې دي چې دا جدا قوم دې او دا جدا قوم دې ، او دا پاکستان دې او دا عربستان دې ، او دا کويت دې ، او دا افغانستان دې ، حدبندي ئې جوړې کړې دي ، او ستا تر دې ځائې پورې حکومت دې او زما تر دې ځائې پورې حکومت دې ، ته به ما سره کار نه لرې او زه به تاسره کار نه لرم ، دَ ټولو مسلمانانو به يو بادشاه وو ، نورې به صوبې وې ، او ګورنران به وو ، دَ يو حاکم دَ لاندې به وو ، دا ګنړ بادشاهان پکښې چا راوستل ، دَ پاکستان ځانله صدر ، او دَ ايران ځان له صدر دې ، دَ مسلمانانو به خو يو خليفه وو ، امير المومنين او خليفة المسلمين به ئې ورته وئيل ، او دا ئې لقب وو ، دَ هغه لقب نه صدر اعظم وو او نه وزير اعظم وو ، او ټول مسلمانان به دَ يو حاکم دَ لاندې وو چې دَ کله نه حدبندي جوړې شوې ، دَ مسلمانانو سرحدات جدا جدا شو ، نو دَ هغه وخت نه مسلمانان په تنزل شو ، بيا په يو ملک کښې اختلافات اوګوره ، پختونخواه ځان له پنجاب ځانله ، سِندهـ ځانله ، او بلوچستان ځانله ، خپلو کښې ئې دا اختلافات شو ، په علاقائي سطحه او په مذهبي سطح ئې څومره اختلاف شو ، نو دَ مسلمان خپل ټول قوت او طاقت هغه نن دَ مسلمان خلاف استعماليږي ، که مذهبي طاقت دې ، نو هغه هم دَ مذهبي طاقت خلاف استعماليږي ، مسلمان خپل قوت دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمان خلاف استعمالوي ، بريليان او شيعه ګان ئې پيدا کړل ، قاديانيان او پرويزيان ئې پيدا کړل ، نو دا هم يوه فريضه ده چې مسلمان دَ خپلو عقائدو حفاظت اوکړي ، دَ اسلام او دَ قرآن حفاظت اوکړه ، هغوي يو چال اوچلولو، او باطلې فرقې ئې پيدا کړې ، چې دَ دوي طاقت په هغوي خرڅ شي ، او مونږ ته اوزګار نشي ، هغوي دَ مسلمانانو اتفاق تهس نس کړو۔

قرآن ئې يو کوي قواعد ورله ذکر کوي ، دَ تأسيس الجماعة چې جماعت يو کړې او بنياد دَ جماعت په کومو مسئلو باندې راځي ، نو هغه بيانوي ، په سورة ال عمران کښې ، ينځه قوانين دَ هغې ذکر کوي ، بيا قواعد ذکر کوي دَ حفاظت دَ جماعت چې دَ دوي په خپل مينځ کښې اختلافات رانشي ، او خراب نشي ، نو په سورة الحجرات کښې ئې قوانين سبعه ذکر کړي دي ، دَ ترقي دَ جماعت دَ پاره ، او جماعت به دَ غير نه پاکيږي څنګه ؟

نو سورة المجادلة کښې دَ هغې قوانين ذکر کوي۔

نو قرآن دَ اتفاق طريقې هم ذکر کوي ، او مسلمانان يو کوي چې دوي دَ يو بل نه جدا نشي ، او په احاديثو کښې هم ترغيبات دي جماعت او دَ مسلمانانو وحدت ته ، کله نبي عليه السلام فرمائي۔

لا اسلام الا بالجماعة

چې دَ اسلام مدار په جماعت دې ، او حديث کښې دا هم راځي ، چې

مَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ بُحْبُوحَةَ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمِ الْجَمَاعَةَ [1]

چې څوک دَ جنت په مينځ کښې اوسيدل غواړي نو جماعت سره دې يو ځائې شي۔

او بل حديث کښې راځي۔

عن علي [عليه السلام] قال: إنما الايمان ثلاثة أثافي، الايمان، والصلاة،

[1] الجامع الصحيحين للسنن و المسانيد - باب التمسك بالجماعة۔

والجماعة[1]

دَ اسلام درې بنيادي تيکي دي ايمان ، مونځ او جماعت ۰
او نبي عليه السلام فرمائي۰

مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ [2].

چې څوک دَ جماعت نه يو لیشت هم جدا شي ، نو دَ اسلام رسۍ ئې دَ څټ نه اووتله ۰
او نبي عليه السلام فرمائي۰

مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَمَاتَ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً[3]

چې څوک دَ جماعت نه يو لیشت هم جدا شو او مړ شو نو دَ جاهليت په مرګ باندې مړ شو ، او نبي عليه السلام فرمائي۰

يد الله علي الجماعة [4]

دَ الله تعالي مدد دَ جماعت سره دې۰

او نبي عليه السلام فرمائي۰

إِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَأْخُذُ الشَّاةَ الْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ [5]

نو شرمخ په کندک حمله نشي کولې ، چې دَ جماعت نه جدا شي نو بس ځان له به کار اوګورې ، دَ شرمخانو به ښکار شي۰

---

[1] كنز العمال 1:277 ح1371 .عن علي [عليه‌السلام] قال: إنما الايمان ثلاثة أثافي ، الايمان، والصلاة، والجماعة، فلا تقبل صلاة إلّا بالايمان، فمن آمن صلي، ومن صلي جامع، ومن فارق الجماعة قدر شبر خلع ربقة الاسلام من عنقه.

[2] سنن ابي داود للسجستاني : باب قتل الخوارج۔

[3] صحيح البخاري : باب من انتظر حتي تدفن۔

[4] المستدرك علي الصحيحين للحاكم : كتاب العلم۔

"جزء السادس والثلاثون۔

Maktaba Tul Ishaat.com

زاهده بيل چې د رامې نه کرځي
هغهٔ چيلۍ به په ليوانو واوړې

جماعت دَ مسلمانانو اهم وو.قرآن وائي.

واعتصموا بحبل الله جميعاً

انما المومنون اخوة.

ایک ہو مسلم حرم کی پاسبانی کیلئے
نیل کے ساحل سے لیکر تا بخاک کاشغر

نن په صورت دَ جماعت كښې افتراق دې.

فرعوني سياست دا دې ، چې حزب تسد ، ډلې جوړې کړه او پارټې جوړې کړه ، او بيا پرې حکومت کوه ، دوي به په خپلو کښې ارم وي ، او ته به پرې حکومت کوې ، هغه فرعوني سياست اوس هم شروع دې ، دَ جمهوريت په شکل کښې ، ديندار خلق پکښې هم اخته دي ، ولې زمونږ دَ پاره قرآني سياست نه وو !!

چې مونږ مغربي سياست ته محتاجه شو، او په هغه طريقه به سرې کار کوي

ولې اسلامي طريقه نشته دې ؟

دَ قرآن په طريقه کار اوکړه کنه ! ته څه په دې خو پر نه ئې چې خامخا به په يوه ورځ کښې اسلامي نظام راولې ، ته ښځېل طريقه کار پرېئې ، په صحيح اسلامي طريقې سره کار اوکړه ، الله به دې يوه ورځ مخکښې بوځي ، لاړ به شي دا نه چې کله په يو کښې او کله په بله کښې ، اوپه يو بل دَ کفر فتوې لکوي.

دا دَ لن يدخل الجنة الا من كان هوداً او نصاري مسئله ده ؟

نو دا په غلطه طريقه شروع شي او په غلطه طريقه باندې کار کوي ، قرآني طريقه نشته دې په قرآني طريقه باندې کار شروع کړه ، بيا گوره چې الله څومره انقلاب راولي

نن دي ته اوګوره په پارتو کښې ئې پارټې پیدا کړې دي ، مسلمان ئې تهس نس کړل او دَ یو بل دشمنان ئې کړل ، نو دَ دې فرعوني سیاست نه رااوځه او دا ټول مسلمانان دا یو ځائې کړه ، او هغوي له دَ اسلام نظام دَ قرآني نظام دَ پاره دَ کوشش کولو تعلیم ورکړه ، ته په کوشش کولو باندې پړ ئې ، یو سړې دې هغه بچې غواړي نو هغه په واده باندې پړ دې او دَ واده په لوازماتو باندې پړ دې ، هغه په نتیجه باندې خو پړ نه دې چې خامخا به اوس دَ دې نه بچې پیدا کیږي - بچې ورکول دا دَ الله کار دې ، که ورکوي ئې اوکه نه ئې ورکوي، سړې دَ روټې په خوړلو باندې پړ دې ، په مړیدو ئې نه دې پړ ، مړول خو دَ الله کار دې ، نو دغه شان مونږ په طریقه کار پړ یو، په دې نه یو پړ چې ګنې خامخا دې اوس شرعي نظام راشي ، مونږ به دَ شرعي نظام دَ پاره په شرعي طریقه کوشش کوو کار به هم دَ شریعت وي او طریقه کار به هم دَ شریعت وي ، دا کومه خبره ده چې سړې به دَ غیر قومونو سیاست ته لاس اچوي او دَ انګریز په طریقه به کوشش کوي دې له چې زه به شریعت راولم ، دا طریقه دَ جمهوریت خو ئې دې له جوړه کړې ده ، چې په دې دَ شریعت بیخ اوباسي ، نو ته به په دې طریقه څه شریعت راولې ؟

په شپږ شپیته کاله کښې دې رانه وستلو، نو راشه اوس دا قرآني طریقه راواخله ، په دې تجربه اوکړه ، خیر دې ، دا څه خبره کیدې شي الله ئې په لس کاله کښې راولي، نو سمه طریقه نه خپلوي ، او اولته غلطي طریقې ته لا دین هم وائي نو دا ګناه یواځې نه ده بلکه انګریزي بدعت هم دې ، توبه نو دا تنظیم دې چې سړې مسلمان یو کړي فرعوني سیاست او مغربي بدعت دا مسلمانانو له خپلول نه دي پکار ، دَ فرعون کار دا وو، چې حزب تسد ، او

جعل اهلها شیعا

ډلې جوړول ، او حکومت پرې کول ، نو زمونږ په وطن کښې ئې هم ډلې جوړې کړې دي ، نو دَ دین اسلام دَ طریقې دَ پاره دَ جهاد او انفاق دَ ترقي دَ پاره تنظیم ضروري دې - نو چې مقاصدو پسې دَ تنظیم مسئله راوري نو ربط ئې آسان شي چې دَ دې مسئلو دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

پاره يو شئ جي دغه مسائل ترقي اوكړي.

# ۸اتم فصل

## اتم مقصد (الآداب)

اتمه مسئله چې قرآن بیانوي نو هغه آداب دي چې کله ملګري ګنړ شي نو خامخا چې لوبني دَ یو بل سره نزدې وي نو کړنګ کوي ، نو مشر به دَ کشر او کشر به دَ مشر خیال او آداب ساتي ، او په آدابو به ژوند تیروي ، نو فوائد او خواږه به ترې پیدا شي ، او که دَ آدابو لحاظ نه وي ، نو بیا تنظیم ترقي نه کوي ، نو قرآن آداب او احکامات ذکرکوي ، دَ عمل او دَ مال ځان له ، دَ توحید ځان له ، او دَ قرآن او دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم ځان له آداب ، دَ آخرت او دَ جهاد ځان له آداب ټولو آداب ذکر کوي ، او دَ تنظیم ځان له آداب ذکر کوي ، په دې انداز قرآن دا اته مسئلې بیانوي ۰

توحید ، صد اقة الکتاب ، صداقة الرسول ، ایمان بالآخرة ، جهاد في سبیل الله ، انفاق في سبیل الله ، تنظیم ، او آداب ، دا اصول وو ۰ دَ دویمې خبرې وضاحت چې قرآن څه وائي ؟ اوس دریمه خبره چې قرآن خپله خبره چا ته کوي ؟ یعني مخاطب دَ قرآن څوک دې ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

# دريم باب

# مخاطب دَ قرآن

دَ دووه خبرو وضاحت اوشو، يو چي قرآن كريم كوم كتاب دي ؟ دويم قرآن څه وائي ؟ كومې مسئلې بيانوي ؟ هغه اته مسئلې بيان شوې ، اوس دَ دريمې خبرې وضاحت چي قرآن چا سره خبرې كوي ؟ يعني چا ته ئي وائي ؟ دعوت چا لره وركوي ؟ مخاطب دَ قرآن څوک دي ؟ دَ قرآن كريم آواز صدا به صحراء نه ده بلكه مخاطب لري، دا دَ تدبر في القرآن طريقه هم ده چي مونږ په آيتونو كښې سوچ اوكړو چي خبره چا ته كوې ؟ او څه ورته وائي ؟ كه دَ مرض اصلاح ورسره كوي نو مونږ به اوگورو كه هغه مرض مونږ كښې وي نو دَ ځان نه به ئې اوباسو ، كه هغوي يو ښه عمل ذكركوي نو الحمد لله، او كه نه وي نو دَ هغې دَ حاصلولو كوشش كوو، نو دغت قرآن كريم دَ دووه قسمه خلقو سره خبره كوي يو چي منقاد دي تابعدار ، دويم غير منقاد چي هغوي نه وي منلې ، نو منقاد يعني منونكو ته مومنان او مسلمانان وائي ، دويم غير منقاد نه منونكي نو دَ نه منونكو شپږ ډلې دي۔

يو دهريه چي دَ سره الله نه مني، نو وحدانيت به ئي څه اومني ؟ ٢۔ مجوس چي هغوي دوه خدايان مني، خالق الخير او خالق الشر، اهرمن او يزدان ، ٣۔ مشركين ، ٤۔ نصاري ۔ ٥۔ يهود، ٦۔ منافقين دهريه او مجوس قرآن كريم ډير نه مخاطب كوي ځكه دَ قرآن كريم دَ نزول په وخت كښې دا ډير كم وو، نو ځان ته ئې مشهوره وي نه تاته چل ښائي چي كومه فتنه ډيره مشهوره نه وي نو ډير زور مه وركوه ، ستا دَ وجې نه چرته شهرت او نه مومي، او بل عربو كښې مشركان وو مونږ دَ تعارف دَ پاره دَ دوي تذكره كوو۔

نو ټولې اووه ډلې شوې چي قرآن ورسره خبرې كوي ، يو دَ منونكو او شپږ دَ نه منونكو ، دَ هرې ډلې تفصيل كوو ځكه چي دا هره يوه ډله دَ يو صفت نوم دې ، او

قرآن په صفاتو بيان کوي ، مومنان هم نو په صفت ذ ايمان خوښ دي ، او نه منونکو کښې مرضونه دي نو ذ هغوي اصلاح کيږي نو هغه پوره پيژندل ضروري دي ، چې ذ هغه مرضونو اصلاح اوشي ، اوس به هم هغه مرضونه وي ، شکل او ژبه به ئې بدله وي نور به هغه مرضونه موجود وي ، چې هغه وخت پرې اصلاح شوي وه ، نو اوس به هم اصلاح په دې باندې کيږي ، امام مالک رحمه الله تعالي فرمائي ۰ چې

لن يصلح آخر هذه الامة الا بما صلح به اولها

بالکل نشي سميدلې آخر دَ دې امت مگر په هغه نسخه چې اولنې پرې سم شوې وو ۰
نو دا مرضونه او فرقې ډلې پيژندل دَ هغې عقائد پيژندل ضروري دي ، په قرآن به هم پوهه شو، او دَ خان او دَ نورو اصلاح به هم اوشي ، دې باندې عالمانو کتابونه ليکلي دي هغه کتل هم ضروري دي دا نه چې هغه زړه به زوتوي اوسني کتابونه لکه المذاهب والتيارات دَ نور الدين المجاهد ، يا المذاهب المعاصرة ، وغيره ډير کتابونه دي ۰ لږ لږ تعارف دَ دغه ډلو کوو نور جديدې فتنې ورسره درس کښې ان شاء الله تعالي وايو اشاره به ورته کوو ۰ اول منونکي دي ۰
مومنان
دوي سره قرآن خبرې کوي نو کله دوي ته ذمه وارئ بيان کړي په ياايها الذين آمنوا يا بل لفظ سره ، کله ورته زيرې ورکړي کله ورته په سستي زورنه ورکړي او ايمان تفصيلي ورته هم ذکرکړي ۰ دَ نه منونکو ډلو تفصيل کوو ۰

## اول فصل "دهريان"

اوله ډله چې قرآن ورسره خبرې کوي هغه دهريان دي ، دهريان دوه قسمه دي يو دوري او دويم غير دوري ، دوري ديته وائي چې هغوي دَ سره دَ الله تعالي وجود نه مني ، او وائي چې هر څه کوي نو زمانه ئې کوي ، دا دَ صانع نه منکر دي ۰
دويم هغه دي چې دَ الله دَ وجود قائل دي خو ورسره به دې عقيده کښې مبتلا دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چې مصائب او په مرکونو کښې متصرف هغه زمانه ده، او دَ زمانې دَ تاثیر دَ وجې نه دا کار کیږي ، مشرکین مکه کښې هم لکه چې دَ ځنې تاثیراتو دَ بتانو نه ، قائل وو، نو دغه شان ځنې خلق پکښې دَ زمانې دَ تاثیر هم قائل وو،لکه

﴿ وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ ﴾ سورة الجاثية 24۔

او وائي دوي چې نه دې دا مګر ژوند زمونږ معمولي مړه کیږو او ژوندي کیږو او نه هلاکوي مونږ له مګر زمانه ،

قرآن کریم په دواړو باندې رد کړې دې ، اولنې قسم ډیر کم دي ، ځکه دا خالص دَ ظاهر څیز نه انکار دې ، کیف تکفرون بالله ، دغه شان وهم یکفرون بالرحمن ، داسې آیتونه دا په دواړو باندې رد وي دا دَ قرآن کریم اصطلاح ده ، مشرکین چې منکر دَ توحید وي نو دَ هغوي نه هم ، په کفر بالله ، او په منکر سره تعبیر کوي ۔ ځکه چې څنګه دَ الله تعالي دَ منلو حق وي او حق ئې دې او هغه شان او نه منلې شي ، نو دا هم دَ الله نه انکار دې ، چې کوم دَ سره دَ الله تعالي وجود نه مني نو دَ هغوي لږ بیان کوو، او چې کوم دویم قسم دي نو هغه به مشرکانو سره رد شي ۔

کمیونسټ چې دَ سره وجود دَ الله نه مني نو دوي خو دَ بدیهیاتو نه منکردي، دَ الله دَ وجود دلائل قرآن ذکرکړي دي، نو وائي، ذالکم الله ربکم ، په سورة الرعد او سورة النمل کښې دلائل عقلیه ذکردي، چې یو سړي سره لږ عقل هم وي او خالص دَ دوه خپو خر نه وي او زمکه او اسمان وېني نو هغه به هم دَ الله دَ وجود نه منکر نه شي، دَ دې وجه نه روح المعاني ذکر کوي ۔

ولـيس يصـح فـي الاذهـان شـيئ

اذا احتـاج النهـار الـى دليـل

وائي چې دَ ورځې دَ پاره هم دلیل وایو، نو بیا خو هیڅ موجود نه دي نو،

تامـــل فـــي نبـــات الارض وانظـــر

الـــي آثـــار مـــا صـــنع المليـــک

عيـــون مـــن لجـــين شاخصـــات

وازهـــار هـــي الـــذهب السـبيک

علـــي قضـــب الزبرجـــد شـــاهدات

بـــان الله لـــيس لـــه شـــريک

ترجمه ـ سوچ اوکړه په باغیچو دَ زمکه کښې او دَ بادشاه دَ جوړ ځ نخښو ته اوګوره سمې دَ سپینو زرو راوتلې چینې او غوټۍ.

بانده چې ته چا وئيلي وو، چې الله منې ؟ نو هغه اووئيل آو ! وې ! دليل درسره څه دي ؟ نو هغه پوهيدو وئيل ئې ،

ان البعرة لتدل علي البعير والروث علي الحمير وآثار الاقدام علي المسير، فالسماء ذات ابراج والارض ذات فجاج والابحار ذات امواج الا تدل علي الصانع اللطيف الخبير.

ترجمه ـ پچه په اوښ دلالت کوي او په خر او دَ قدمونو نخې په تګ باندې ، نو اسمان دَ برجونو والا، زمکه دَ پلنو پلنو لارو والا او دریابونه چپو والا دوي به ولې په صانع او جوړونکي خبردار ذات باندې دلالت نه کوي .

فيـــا عجبـــاً کيـــف يعصـــي الالـــه

ام کيـــف يجحـــد الجاحـــد

نو څه تعجب خبره ده چې څرنګې دَ الله نافرماني کولې کیږي ، یا انکار کونکي څنګه انکار کوي یقینا په هر څه کښې نخه ده چې هغه دا ښائي چې الله تعالي یو دي

Maktaba Tul Ishaat.com

ان فــي كــل شــي لــه آيــة
تــدل علــي انــه واحــد

زمیندار کاکا تخم اوکري نو تیغ نیغ راوخیژي او صدا دَ توحید لګوي چې زه خو زمیندار کاکا په خاوروکښې ورک کړې ووم ، يو الله راوخیژولم۔

ہر گیاہے کہ از زمین روید
وحدہ لا شریک لہ گوید

فمــن كانــت لــه فكــرة
ففــي كــل شــيئ لــه عبــرة

نو دا انقلابات دا چا راوستي دي،

انقلابات جہاں واعظ حق ہے غافل
ہر تغیر سے صدا آتی ہے فافہم فافہم

امام صاحب ماشوم وو، يو دهري تقرير اوکړو چې الله نشته دې، او درې اعتراضونه ئې وارد کړل،

۱۔ دا چې دَ الله نه مخکښې څه وو ؟

۲۔ دَ الله مخ کوم طرفته دې ؟

۳۔ چې الله څه کار کوي ؟

امام صاحب وړوکې وو، ورته ئې وئیل تا په منبر اعتراض کړې دې، نو راکوز شه، چې دَ منبر نه جواب درکړم، چې امام صاحب په منبر باندې کیناستو نو ورته ئې وئیل تا اول وئیلي وو ، چې دَ الله نه مخکښې څه وو؟ نو امام صاحب ورته وائي چې ته هندسي اووایه تا له نه درځي ، نو هغه 1، 2، 3، شروع کړل ، امام صاحب ورته وئیل دَ ۱ نه

مخکښې وایه ، نو هغه ورته وئیل دَ 1 نه مخکښې څه نشته دې ، نو امام صاحب ورته وئیل چې ستا دَ ایک نه مخکښې څه نشته دې ، نو زما دَ الله نه مخکښې هم څه نه وو،

۲۔ امام صاحب ورته اووئیل تا دویم اعتراض دا کړې ووچې دَ الله مخ کوم طرفته دې ؟ نو یو شمعه ئې بله کړه او ورته ئې وئیل دَ دې شمع مخ کوم طرفته دې ؟ نو هغه وئیل هر طرفته نو امام صاحب ورته وائې دغه شان زما الله هم اینما تولوا فثم وجه الله ،

۳۔ وئیل ئې ورته دا دریم اعتراض دا کړې وو چې الله اوس څه کوي ؟ نو الله دا اوکړل او دا کوي چې ستا په شان غټ دهرې ئې دَ منبر نه راکوز کړو او زما په شان وړوکې موحد ئې پرې اوخیژوو،

دغه شان امام شافعي رح سره دَ یو دهري مناظره شوه نو ورته ئې وئیل ته الله دَ څه نه پیژنې نو ورته وائې ، عرفت ربي بورق التوت ، ځکه چې دَ دوي عقیده ده چې دا هر څه طبیعت کوي ، نو امام شافعي رح اووئیل ، چې اګوره توت دَ پاڼړي طبیعت یو دې ، او تاسو وائې هر څه طبیعت کوي،نو دَ توت دَ پاڼړي طبیعت یو دې چې غوا ئې اوخري نو غوشان ترې جوړ شي ، او چې بیزه ئې اوخري ، نو پچې ترې جوړي شي ، او چې دَ ریښم چینجي ئې اوخري، نو ریښم ترې جوړ شي ، او چې دَ شهدو مچې ئې اوخري نو ګبین ترې جوړ شي، نو دا انقلابات چا راوستل ؟

نو فبهت الذي کفر،

امام احمد رح ته چا اووئیل چې تا الله دَ څه نه معلوم کړو ؟ وئیل ئې ورته یو مزیداره بنګله وه ، او بلکل بنده وه ، نه دننه هوا ورتله ، او نه نمر ، او ناڅاپه ئې یو طرف مات شو، او دَ هغې نه یو زنده حیوان رابهر شو، اګې ئې ورته یادوله چې دَ دې نه یو زنده حیوان راوځي ، نو دا انقلاب په دیګښې چا راوستو ؟ طبیعت انساني او فطرت انساني په دې جوړ دې ، چې دې دَ الله وحدانیت مني،

کل مولود یولد علی فطرة الاسلام

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان فطرة الله التي فطر الناس عليها لا تبديل لخلق الله، او حديث كښې راځي، نبي عليه السلام فرمائي، چي الله رب العزت فرمائي.

خَلَقتُ عِبَادِي كلُّهم حُنَفَاء [1]

بيا دا ماحول انسان خراب کړي.

دَ جعفر صادق رحمة الله تعالي عليه د يو دهري سره مناظره وه، نو دَ درياب غاړه ئې مقرر کړې وه نو امام جعفر صادق رحمة الله تعالي عليه دَ قصده لږ روستو لاړو، نو دهري شور جوړ کړو جعفرصادق رحمة الله تعالي عليه طالبانو ته اووئيل چي دې اونيسئ او درياب ته يې اوغورځوئ، هغوې اوترلو ده شور جوړ کړو چي مناظره نشي کولې اوس سرې غورځوئ، طالبانو ۱،۲،۳ وئيلو نو دي وائي دَ الله لحاظ اوکړئ ما پرېږدئ، جعفرصادق رحمة الله عليه پرېږدئ نو هغوي پرېخودو نو دهري شور شروع کړو نو هغه ورته فرمائي مناظره خو ما اوګټله څکه ستا آخرې تکې څه دې چي دَ الله لحاظ اوکړه نو چي ته منې نه، نو څنګ دې وئيل ؟ خو چي دَ ماحول نه کټ شوې نو خپله دې الله اومنلو، او چي ماحول سره دې تعلق وي نو بل بل څه وې.

امام مالک ته چا اووئيل چې ته الله په څه باندې پيژنې ؟ نو هغه وئيل په اختلاف الالسنة والالوان ،مې الله اوپيژندو، دغه شان دَ امام صاحب واقعه ده، دَ يو دهري سره مناظره وه هغه ليټ لاړو، نو دهري وئيل ما اوګټله ته په وخت باندې رانغلې!

نو هغه ورته وئيل ياره ! کشتي نه وه، يوه وونه ناله شوه بيا کټ شوه اره اره شوه، بيا کشتي شوه، او بيا پکښې زه راغلم، نو څکه ليټ شوم، هغه اووئيل دا څنګه ؟ هر څه خود بخود اوشو ؟

نو هغه ورته وئيل دا خود بخود پيدا کيدل نه منې نو دا دومره لويه دنيا څنګه خود بخود پيدا شوه ؟

ګورباچوب روسي ماهران ډاکټران کينولي وو، قيمتي دواياني موجود وې، استعمال ئې

---

[1] أخرجه مسليم (2865) من حديث عياض بن حمار المُجاشعي.

کيدو، خو

## مرض بڑھتا گیا جوں جوں دوا کی

نو هغه په آخر کښې اقرار اوکړو، چې داسې هستي شته دې ، چې هغه زما صحت نه غواړي ، هر څه شته دې ، خو معلوميږي چې داسې طاقت شته دې ، چې په هر څه غالب دې ،

﴿أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾﴾ سورة آل عمران: ٨٣

ترجمه : آيا په غير دَ دين دَ الله دوي طلب کوي بل دين او خاص هغه له تابعدار دي هغه څوک چې په اسمانونو او په زمکو کښې دي په خوشحالي او په زور او خاص الله ته به واپس کولي شي.

نو په مخالفينو دَ توحيد کښې يو دهريه دي، چې دَ الله ذات نه منکر دي، نو توحيد به ئې څه اومني ؟

سر بر آرد پیش دریائے حباب
ذره منکر ز نورِ آفتاب
نطفه گوید که او موجود نیست
بود را نابود گوید بود نیست

دَ لوئي درياب مخې ته بُربوړکې سر اوچت کړي ، او يوه ذره دَ نمر دَ نور نه انکار کوي ، او نطفه پاسي او وائي چې هغه (الله) نشته دي ، يو نيش څيز موجود لره نيش کنړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

# ۲دویم فصل

## مجوس

۲۔ مجوس دي ، دوه خدایان مني ، مجوس معرب دې ، دَ میخ گوش نه ، عرب چې یو لفظ خپلې ژبې ته راړوي، نو اول ئې پاکوي یعني دَ عجمیت هغه بوئي ترې لرې کړي ، نو مجوس ئې ترې جوړ کړو، په وزن دَ فعول باندې ، او دا دَ دوي دَ مشر نوم وو، زردشت به ئې ورته وئیل، دَ هغه غوږونه واړه واړه وو دَ میخ پشان ، نو میخ گوش به ئې ورته وئیلو، نو عربو ترې وزن دَ فعول جوړ کړو، نو مجوس شو، دوي به دوه خدایان منل یو خالق دَ خیر او بل خالق دَ شر، قرآن په دوي رد کوي، چې دَ هر څه خالق الله دې ، خالق کل شي ، دوي دَ توحید خلاف کوي، قرآن ډیره مخاطبه دَ مشرکانو سره کړې ده۔

# دریم فصل

## مشرکین

دریمه ډله چې قرآن ورسره خبرې کوي نو هغه مشرکان دي ،دَ قرآن دَ نزول په وخت کښې مشرکین زیات وو او بل عربو کښې شرک وو، او قرآن اول عربو ته نازل وو ، دهریان او مجوس په ټوله دنیا کښې کم وو، نو قرآن دَ مشرکانو سره مخاطبه ډیره کوي ، نور علاج دَ ټولو مریضانو او مخالفینو ترې معلومیږي اوس چې قرآن مشرکانو سره خبرې کوي ، نو په کوم انداز کوي ،دَ دوي تعارف کوو نو اول دا چې دا شرک دوي کښې څنګه راغلو؟ او دوي ته مشرکان ولې وئیلې کیدل ؟ او دوي څنګه شرک رائج کړو ؟ او کوم کوم څیزونه ئې الله سره شریکان کړي وو ؟

نو دَ جاهلیت دَ زمانې دوه قسمه امور وو،

۱۔ هغه امور چې هغه کښې مشرکان دَ موحدینو سره برابر وو، چې څه موحدینو هم

منل، او هغه مشرکانو هم منل وفقيات الجاهلية .

۲. هغه امور وو، چې په هغې کښې دَ موحدينو دَ مشرکينو سره اختلاف وو، يعني خلافيات الجاهلية نو په هغې کښې دَ دوي عقيده څه وه ؟ دوي کوم څيزونه الله سره شريکان ګرځولي وو ؟ دَ دې دَ پاره مختصر تاريخ دَ جاهليت هغه پيژندل پکار دي، چې په کومو طريقو او کومو څيزونو کښې دَ دوي اتفاق وو، او په کومو کومو کښې دَ دوي اختلاف وو، او چې دوي دا شرک کوو، نو الله سره ئې څوک حصه دار کول ؟ نو دَهغې بنياد او سبب څه وو ؟ نو چې کله تاريخ مطالعه کړې شي، نو يوه خبره دا راوځي چې دَ جاهليت دَ زماني خلق مذهبي خلق وو، سيکولر خلق نه وو، چې ګني دين مذهب ئې نه پيژندلو، او دَ دې تائيدات لکم دينکم ولي دين ، تاسو له ستاسو دين او زما له زما دين ،

وسمي دينهم دينا لانهم اعتقدوه وتلوه (قرطبي)

دَ دوي طريقې ته ئې دين اووئيل ځکه چې دوي دَ دغه دين عقيده لرله ، او تابعداري ئې کوله .

﴿مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧﴾ سورة ص: ۷

ترجمه : نه دي اوريدلي مونږ دا خبرې په دين روستني کښې نه دي دا مګر دروغ جوړ کړې شوي .

نه ده اوريدلې مونږ دا خبره په دين روستني يا بل کښې ، او دويمه خبره دا معلوميږي چې دوي به ځان دين ابراهيمي ته منسوب کوو، او دَ دې خبرې دليل چې ځان ته به ئې ابراهيميان وئيل قرآن دَ نبي عليه السلام دَ ابراهيميت بيان ډير کوي ، چې حقيقي ابراهيمي هغه نبي عليه السلام دي ، او دَ ابراهيم عليه السلام باره کښې وائي چې وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ بلکه يهوديانو او عيسايانو به هم ځان ته ابراهيميان وئيل نو الله تعالى دَ هغوي دعوي رد کوي ، نو وائي .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾﴾ سورة آل عمران: ٦٧

ترجمه : نه وو ابراهيم يهودي او نه فرنګي ليکن هغه وو صرف يو مخيزې تابعدار دَ الله او نه وو دي دَ مشرکانو نه.

علامه آلوسي رح فرمائي.

كالعرب الذين كانوا يدعون انهم علي دينه [1]

وقال ابن قتيبة لم تزل العرب علي بقايا دين اسماعيل عليه السلام. [2]

دَ دواړو عبارتونو مطلب دا چې عربو به ځان ته ابراهيميان وئيل او دَ ابراهيم عليه السلام نه څه پاتې طريقې وې په هغې باندې وو.

شاه ولي الله صاحب رح هغه هم ذکر کوي.

ويدعون اتباعهم ابراهيم صلوات الله عليه وسلم

او دوي به دَ ابراهيم عليه السلام دَ اتباع دعوي کوله. [3]

او دريمه دا خبره هم معلوميږي چې دوي دهريان نه وو چې ګني الله ئې بلکل نه منلو، بلکه دَ الله تعالي دَ ذات او دَ وجود قائل وو، دا دَ دوي په نيز دَ مسلماتو او دَ بديهياتو نه وه دوي ته چې انبياء کرام راغلي وو نو توحيد دَ دعوت او تعليم دَ پاره راغلي وو ځکه چې هغوي الله تعالي دَ محکنبې نه منلو، ځکه دَ هر پيغمبر دعوت هغه دَ لا اله الا الله وو ، دَ دې معني دا نه ده چې الله تعالي شته بلکه معني ئې د توحيد ده ، صاحب دَ هدائې ذکر کوي.

---

[1] روح المعاني.

[2] روح المعاني

[3] حير كثير 307.

والوثني لا يحلف الا بالله لان الكفرة باسرهم يعتقدون الله ـ [1]

او دغه شان سورة يوسف

﴿وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾﴾ سورة يوسف: ١٠٦

ترجمه : او ايمان نه راوړي زيات دَ دوي نه په الله تعالي مګر دوي حصه دار جوړوونكي دي دَ الله تعالي سره.

قاضي بيضاوي مطلب دَ ايمان دا ذكر كوي

فى اقرارهم بوجوده وخالقيته [2]

شاه ولي الله رحمه الله فرمائي.

وعقيده اثبات خداے تعالىٰ درميان ايشان ثابت بود [3]

دَ الله تعالي دَ وجود عقيده دَ دوي په مينځ كښي ثابته وه ـ

چي دا درې خبرې دې اوپيژندلې اوس دَ مشركانو حالت اوپيژنه نو پته به درته اولګي دَ مسئلې ، دَ توحيد د پاره دَ مشركانو حالت پيژندل ډير ضروري دي بلكه دَ قرآن كريم دَ تشريح دَ پاره احوال دَ عربو پيژندل ډير ضروري دي ځكه قرآن په احوالو دَ هغوي رد كړې دې ، نو چي پيژندلې دې نه وي نو رد به ئې څنګه كړې ـ

قال عمر بن الخطاب "إنما تنقض عرى الإسلام عروة عروة إذا نشأ في الإسلام من لم يعرف الجاهلية" [4]

دَ عمر فاروق رضي الله عنه حكمت څه رښتني وو چي اسلام به كړې په كړې ماتوي هغه كس چي په اسلام كښي پيدا شوي وي او دَ جاهليت دَ حالت نه ناخبره وي ـ

---

[1] هداية ج 3 ص 208 ـ

[2] بيضاوي ـ

[3] الفوز الكبير ـ

[4] مدارج السالكين ج 1 ص 359 ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

**ان كنت تريد النظر في معاني شريعة رسول الله صلي الله عليه وسلم فتحقق اولا حال الاميين الذين بعث فيهم التي هي مادة الشريعة.** [1]

كه دَ نبي عليه السلام دَ شريعت په حقائقو كښې غور كول غواړې نو اول دَ هغه ان پړهو خلقو په حالت كښې تحقيق اوكړه چې په كومو كښې دَ نبي عليه السلام بعثت شوې وو، دغه حالات دَ شريعت اصل دې. اوس دَ مشركانو حالات چې هغوې دَ توحيد دَ څنو درجو قائل وو، كه هغه مشركان دَ مكې او كه يهود او نصاري وو.

مخكښې مونږ درجات دَ توحيد بيان كړي وو نو مدار دَ نجات په ديكښې دې چې څلور واړه درجات اومنلې شي،

## مدار دَ نجات

څلور واړه درجات دَ توحيد منل دا نه چې څنې منل لكه چې مشركانو منل.

## حالات دَ مشركانو

## دَ مكې مشركانو حالات

اوس دَ مشركانو حالات چې هغوي دَ توحيد دَ څنو درجو قائل وو.

۱. توحيد في وجوب الوجود " نو دا ئې منله چې دَ الله دَ ذات پشان دَ چا ذات نشته دې، الله واجب الوجوب دې، او بل څوك داسې نشته دې ، دا اوله درجه دَ توحيد ده ، دا دَ مكې مشركانو منله لكه دَ لبيد مشهورشعر دې ، نبي عليه السلام دَ هغې باره كښې وائې، **احسن كلمة قالها لبيد.**

[1] حجة الله البالغة ج 1 ص 271 .

الا كـــل شـــيئ مــا خـــلا الله باطـــل
و كـــل نعـــيم لا محالـــة زائـــل

چې دَ الله نه علاوه هر شي فناه كيدونكي دي ، او هر نعمت خامخا زائله كيدونكې دې، نو دا دَ مكي مشركانو او دَ ټولو عقيده وه چې دَ الله دَ ذات پشان ذات نشته دي ، چې دَ نن زماني بريليان دا هم دَ توحيد دَ اولني درجې نه خلاف كوي، دَ دې درجې خو مشركان دَ مكې هم قائل وو، دا درجه به ئې منله، او بريليان دَ نبي عليه السلام باره كښې وائي۔

محمد مصطفیٰ ثانی نه وارو
نه وارو شان جسمانی نه وارو

او بيا روستو دا وائي ۔

ظهورش حادث ذاتش قديم
چوں ممكن لوث امكانی نه وارو

نو نبي عليه السلام ته واجب الوجود وائي چې ذات دَ نبي عليه السلام قديم دي، نو دوي دَ الله دَ ذات پشان دَ نبي عليه السلام ذات مني، نو دَ توحيد په اولني درجه كښې هم خلاف كوي، چې مشركانو دَ مكې پكښې هم اختلاف نه كوو۔

۲۔ درجه دَ توحيد چې توحيد في الخالقيت دي ، دَ دې هم ټول مشركان دَ مكي قائل وو، دائي منل چې دَ هر څه خالق الله دي كه بره وي كه په ښكته وي، كه په اوچه وي كه په لونده كه بري ده ، كه بحري ده، كه حيوانات دي كه جمادات، او كه نباتات دي، كه ارضي دي كه سماوي دي ، كه عرشي دي كه فرشي دي ، نو دَ دې ټولو خالق صرف يو الله دي ، دا ئې منله څكه چې قرآن دا دَ دوي نه دَ اعتراف او دَ دستخط په طور باندې دا نقل كوي، چې هغوي دَ دې خبرې قائل وو، چې خالق صرف يو الله دي ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ ﴾ سورة العنكبوت 61.

ترجمه: او کچرې تپوس وکړې تۀ د دوي نه چا پيدا کړي دي: آسمانونه او زمکه: او
پکار ئې لګولي دي:نمر او سپوږمۍ: خامخا يقيناً اوبه وائي دوي: الله تعالیٰ: پس کوم
خوا اړولي شئ د حق نه:

نوهغوي هم توحيد في الخالقيت منلو ، نو دا درجه دَ توحيد ئې هم منله.

۳. درجه دَ توحيد ، توحيد في التدبير والتصرف، دَ توحيد دا درجه به ئې هم منله چې دَ غټو کارونو (امورعظامو) تصرف او تدبير يو الله کوي بل څوک ئې نه کوي، دا چې قرآن سړې اوګوري نو قرآن دا وائي چې دوي دا منل چې دَ ورځې او شپې انقلابات باران ورول ، او دَ غوږونو او سترګو او دَ زړونو اختيارمند او دَ زمکې او اسمانونو اختيارمند او چې ديکښې څه دي، دَ هغې ټولو اختيار صرف يو الله سره دې ، دغه شان په دريابونو کښې دَ مصيبت لرې کولو اختيار دائې صرف يو الله له ګنړلو، په اوچه باندې چې کوم غټ غټ مصائب به راتلل نو دَ هغې مالک او متصرف به ئې هم الله منلو، او دا ئې عقيده وه چې دَ الله نه څوک خلاصول نشي کولې، دغه شان مدبر کل او مختارکل ذات ئې صرف يو الله منلو،

﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ ﴾ سورة العنكبوت ۶۱،

ترجمه : او کچرې ته تپوس اوکړې د دوي نه چې چا پيدا کړي دي اسمانونه او زمکه
او چا تابع کړي دي نمر او سپوږمې نو خامخا وائي به دوي الله پس کوم خوا ته واړولې
شو دَ حق نه.

﴿ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم

﴿ بِضِيَآءٍ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ
يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾ ﴾

سورة القصص ٧١،٧٢

ترجمه : اووایه خبر راکړي که چرې اوګرځوي الله تعالي په تاسو باندي شپه همیشه تر ورځ دَ قیامت پورې څوک دي واکدار سیوا دَ الله تعالي نه چي راولي تاسو لره رڼا دَ نمر آیا پس تاسو نه اورئ.

اووایه خبر راکړئ که چرې اوګرځوي الله تعالي په تاسو باندي ورځ همیشه ، تر ورځ دَ قیامت پورې څوک دي واکدار سیوا دَ الله تعالي نه چي راوړي تاسو ته شپه چي آرام به کوئ په هغې کښې آیا پس تاسو نه وینئ.

﴿ قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ
﴿٨٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ ﴾ مومنون ٨٤ تا ٨٦ .

ترجمه : اووایه چا له ده زمکه او هغه څوک چي په دیکښې دي کچرې تاسو پوهیږئ.

زرده چه وبه وائي دوي چه الله له، اووایه پس ولي نصیحت نهٔ قبلوئ تاسو.

اووایه څوک دي رب د اوؤ آسمانونو: او رب د عرش لوئي:

﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ
ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ ﴾

سورة یونس ٣١.

ترجمه : اووایه څوک روزي درکوي تاسو ته دَ آسمان او دَ زمکي نه او یا څوک اختیار مند دي دَ غوږونو او دَ سترګو او څوک راوباسي ژوندي دَ مړ نه او راوباسي مړ دَ ژوندي نه او څوک انتظام کوي دَ ټولو کارونو پس او به وائي دوي چي الله تعالي پس اووایه ته آیا پس ځان نه بچ کوئ دَ شرک نه .

اګر چي په دې درجه کښې اوسني بریلیان چي ځان ته مومنین وائي ، او ځان ته موحدین وائي ، اهل السنة والجماعة حنفیان ځانته وائي ، هغوي په دیکښې هم خلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

کوي، دَ مکي مشرکانو چې قرآني مشرکان دي ، هغوي هم الله په دې صفتونو کښې يو ګڼرلو او بريليان پکښې دَ الله سره حصه دار جوړوي، دَ احمد رضاخان بريلي کتاب دې حدائق بخشش په هغې کښې هغه وائي ـ

بندہ قادر کا بھی ہے قادر بھی ہے عبدالقادر
سر باطن بھی ہے ظاہر بھی ہے عبد القادر
ذی تصرف بھی ہے ماذون بھی ہے مختار بھی ہے
کار عالم کا مدبر بھی ہے عبد القادر

دا دَ ولي باره کښې وائي نو اتفاقي او قرآني مشرکان چې وو نو هغوي هم الله په دې صفتونو کښې يو ګڼرلو، او دوي ئې نه مني ، چې دَ الله سره په امور عظامو کښې حصه دار شته دې ، هغوي دا درې درجې دَ توحيد منلې ، يعني ددوه درجې دَ توحيد ئې مکملې منلې او دَ دريمې ډيره حصه ئې منله چې بره عالم ټول تصرف ئې الله تعالي له منلو ، او دَ اوچې غټې غټې کارونه ئې هم الله له منل ، او په درياب کښې به ئې هم الله تعالي رامدد کولو ، صرف دَ اوچې دَ امورو حقيرو تصرف هغه ئې غير له منلوهم دَ الله تعالي په ورکړه ،

﴿ قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ ﴾ سورة المومنون 84،85.

ترجمه : اووايه دَ چا په اختيار کښې ده زمکه او څوک چې به دې زمکه کښې دي که چرې تاسو پوهه لرئ. ځامخا دوي به وائي الله تعالي لره (اختيار دې )اووايه آيا پس ولې نصيحت نه قبلوئ.

بره عالم او خکته عالم کښې هم امور عظام ئې الله تعالي له منل او په لونده کښې کشتي کښې ئې هم صرف الله تعالي رامدد کولو.

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ
وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ
دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٢٢﴾
سورة يونس ٢٢

ترجمه : خاص الله تعالي هغه ذات دي چي گرځوي تاسو به اوچه او به دريابونو كسي تردي پوري كه وخت چي ئي تاسو په كښتو كښي او رواني وي دا كښتئ په دوي به هوا نرمي سره او خوشحاله شي دوي به هغي نو راشي هغي ته سيلئ تيزه او راشي دوي ته چپي ذ هر طرف نه او گمان اوكري چي دوي راگير كري شول به دي چيو سره بي الله تعالي لره خالص كوي هغه لره بلنه ( او وائي ) كه بچ كرو تا مونږ لره ذ دي مصيبت نه خامخا شو به مونږ ذ شكر گذارو نه .

صرف ذ اوچي ذ تصرف ذ وړو وړو كارونو باره كښي به ئي وئيل چي ذ دي اختيار الله تعالي دوئ له وركړي دي، ولهذا نائبان دي او

## الا شريكاً هو لک تملكه وما ملک

نو باؤ كم دري حصي توحيد ئي منلو، او سره ذ دي نه به ئي خه كارونه كول لكه او دا لا خه چي نيک كارونه به ئي هم كول، مونځونه به ئي كول، لكه مونځونه به ئي كول.

﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِندَ ٱلۡبَيۡتِ إِلَّا مُكَآءٗ وَتَصۡدِيَةٗۚ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ
بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٥﴾ سورة الأنفال: ٣٥

ترجمه : او نه وو مونځ ذ دوي به نزد ذ بيت الله مگر شپيلي او لاسونه وهل (تپول) پس اوڅكي عذاب به وجه ذ دي چي تاسو كفر كوو .

حج به ئيكولو ابو جهل كاكا دوه پنځوس حجونه كري وو، او ذ حاجيانو خدمتونه به ئي كول،

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ ٱلْحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ كَمَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْآخِرِ وَجَٰهَدَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسْتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾ ﴾ سورة التوبة: ١٩

ترجمه : آيا ګڼرئ تاسو اوبه څښول په حاجيانو او آبادول دَ مسجد حرام پشان دَ هغه چا چي ايمان لري په الله تعالي، او په ورځ روستني باندي او جهاد کوي په لاره دَ الله تعالي کښي، نه دي برابر دوي په نيز دَ الله تعالي، او الله تعالي نه ورکوي ثواب قوم ظالمانو ته.

نيک کارونه به ئي کول نو بيا هغوي ولې مشرکان شو، او دَ نبي عليه السلام سره ئي دشمني شوه، او دَ خپل خاندان سرېِ ئي دَ کلي نه اوشړلو، دَ نبوت نه مخکښي به ئي نبي عليه السلام ته صادق او امين وئيلو دا نه چي خائن او کاذب او نبي عليه السلام ورته لمن اوښودله چي زما لمن اوګورئ.

﴿ قُل لَّوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوْتُهُۥ عَلَيْكُمْ وَلَآ أَدْرَىٰكُم بِهِۦ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾ ﴾ سورة يونس: ١٦

ترجمه : ته اووايه که غوښتلي الله تعالي نو نه به وې لوستلي ما قرآن په تاسو باندي او نه به خبر درکړي وې الله تعالي تاسو ته په دې سره، نو يقيناً تير کړي دي ما په تاسو کښي ډير عمر دَ دې نه مخکښي آيا نو عقل نه لرئ تاسو.

ضديان او عناديان وو خو دَ نبي عليه السلام په لمن باندي ئي داغ پيدا نکړو، نو ولې هغوي سره ئي څه ذاتي اختلافات وو، دَ ټبر سرېِ وو، رور عزيز وو نو ولې دَ عزيزولي دَ وجي نه ئي خلاف کوو، نو داسې هم نه ده، قرآن دا مسئله حل کړه چي

﴿ قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾ سورة الأنعام: ٣٣

ترجمه : يقيناً پوهيږو مونږ چي يقيناً خفه کوي تاله هغه خبري چي دوي ئي وائي،

پس يقيناً دوي دروغژن نه کنړي تا او ليکن دا ظالمان دَ آيتونو دَ الله تعالی نه انکار کوي -

تاسره ئې ذاتي دشمني نه ده بلکه دَ قرآن آيتونو سره ئې دشمني ده ، مخکښې ئې ولې تاسره دشمني نه کوله ؟

نو هغه کومه خبره وه چې دَ نبي عليه السلام سره ئې دشمني پرې کوله ، او خلاف ئې کوو، نو هغه مسئله وه دَ څلورمې درجې توحيد ،

توحيد في الالوهية ، او دَ توحيد في العبودية چې هغوي اله يو الله نه منلو دا نه چې صرف او صرف نبي عليه السلام قرآن اووئيلو نو دَ قرآن دَ وجې نه خلاف شو، نو نا! بلکه په قرآن کښې يوه مسئله وه دَ هغې خلاف وو، دَ توحيد في الالوهية چې هغوي خدائي تعظيم صرف يو الله له نه کولو، بلکه نور ئې دَ الله سره په خدائي تعظيم کښې حصه دار کړي وو، او دَ څنو کارونو دَ دنيا دَ اوچې حصې دَ وړو وړو اختيارمند ئې نور څوک منل، بس دَ دې وجې نه مشرکان شوي وو، دريمه درجه دَ توحيد هغه دا وه چې تصرف او اختيار دَ غټو غټو کارونو صرف دَ الله ئې منلو، خو دَ وړو وړو کارونو اختيارمند ئې بل څوک منل، نو دَ دريمې درجې دَ توحيد ئې لګه حصه نه منله ، او توحيد في الالوهيت ئې بلکل نه منلو ، نو اګر چې دوه نيمې حصې توحيد ئې منلو، واجب الوجود ئې الله منلو، خالق ئې الله منلو ، او تصرف دَ غټو کارونو ئې الله له منلو، نو هغوي مشرکان شو، او ابدي جهنميان شو، او دَ پيغمبر او دَ قرآن دشمنان شو.

Maktaba Tul Ishaat.com

# تطبيق بر حال حاضرة

## پخواني او اوسني مشركان

او بريليان دا څلور واړه درجې دَ توحيد نه مني ، او هغوي بيا هم ځان ته اهل السنة والجماعة وائي ، هسې به ئې ځان ته وائي نو، اوله درجه توحيد چې وجوب الوجود وو مشركانو دَ مكې صرف الله تعالي له منلو، او اوسني بريليان دَ هغې باره كښې څه وائي ۔ دويمه درجه دَ توحيد چې خالق الله تعالي دې نو دَ هغې باره كښې دَ مشركانو عقيده وه ، دَ مكې چې صرف الله تعالي خالق دې اوس بريليان څه وائي ؟

دوي بل چاته پيدا كونكې وائي ، بريليان وائي ،

### بابا شاه جمال پتر دیوے رتا لال

وائي شاه جهان بابا سور بچې راكړه الله فرمائي ۔

﴿ لِّلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَٰثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ ﴾

سورة الشوري ٤٩، ٥٠

ترجمه: خاص الله له بادشاهي د آسمانونو او د زمكو ده پيدا كوي هغه چې وئې غواړي: بخښې د هغه چا د پاره چه خوښه ئې شي لونړه او ببښې د هغه چا د پاره چه خوښه شي نارينه اولاد۔

او يا دوه قسمه وركوي هلكان او جينكۍ او جوړوي چا له بې چه خوښه شي شنډ، يقيناً الله پوهه قدرت والا دې۔

دريمه درجه دَ توحيد چې تصرف او تدبير صرف الله تعالي دې ، دَ دې هم لويه حصه مشركانو الله تعالي له منله ، اوسني مشركان گوره چې څه وائي ؟ نو بريليان وائي ۔

یا رسول الله اسمع قالنا
یا حبیب الله انظر حالنا
اني في بحر الغم مغرق
خذ یدي سهل لنا اشكالنا

وائي زه دَ غمونو په درياب كښې غرق يم، زما لاس اونيوه او زمونږ مشكلات مونږ ته اسان كړه ـ بريليان وائي،

شہباز کرے پرواز تے جانے راز دلاں دے

وائي شهباز په رازونو باندې پوهيږي الله فرمائي ۰

﴿وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِۦٓ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٣﴾﴾ سورة الملك ١٣

ترجمه:او پټوئ تاسو خبره خپله او يا په زوره كوئ هغه يقيناً الله پوهه دې په رازونو د سينو باندې

بريليان وائي ،

جو بھی مانگنا ہے در مصطفیٰ سے مانگ

الله رب العزت فرمائي ـ

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾﴾ سورة مومن ٦٠

ترجمه:او ونيلي دي رب ستاسو : غواړي ځما نه قبولتيا كوم تاسو له : يقيناً هغه كسان چه ځان غټ كنړي: د دعا زما نه زړده چه داخل به شي جهنم ته ذليلان۰

بريليان وائي ،"" بھر دو جھولی میری یا محمد ""

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ ۖ إِنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾

سورة الانعام ٥٠

ترجمه: وُوايه نه وايم تاسو ته، چه ماسره،خزاني دَ الله دي،او نه پوهيږم په غيبوباندي،او نه وايم تاسو ته چه يقيني څه فرشته يم، تابعداري نه كوم مګر دَهغه چه وحي ئې كولې شي ماته، واويه ايا برابر دي ړوند اوبينا ؟ آيا وَلې فكر نكوې تاسو"

﴿ قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ ﴾ سورة الجن ٢١

ترجمه: اووايه يقيناًزه مالک نه يم تاسو له دَهيڅ ضرر،او نه دَ فائدې .

بريليان وائي ـــه

تیرے پلے میں تو وحدت کے سوا کچھ بھی نہیں
کچھ مانگنا ہے تو مانگ لیں محمد سے

الله فرمائي ، ﴿ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ ﴾ سورة المومنون ٨٨

ترجمه: اُووايه څوک دي چه په لاس دَ هغه كښ بادشاهي دَ هرشي ده :او هغه پناهي وركوي او پناهي نشي وركولې په هغه كچرې تاسو پوهيږئ .

﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾ ﴾ سورة الانعام ١٧

ترجمه : اوكچرې ورسوي تا ته الله څه تكليف ، نشته لرې كونكې هغه له مګر يو الله ،او كه رسوي تاته ،څه خير، پس هغه په هر شي باندې قدرت والا دې .

﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ لِفَضْلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾ ﴾ سورة يونس ١٠٧

ترجمه :او كه چيرې وُرسوي تا ته الله څه ضرر پس نشته لرې كؤونكې هغه له

مكر يو الله ، اوكه اراده اوكړي په تا دَ خه خير پس نشته واپس كوونكي .

بريليان وائي .

## تيرا كھاوا تيری گيت گاوا ں يارسول الله

﴿ إِنَّمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا وَتَخۡلُقُونَ إِفۡكًاۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ لَكُمۡ رِزۡقٗا فَٱبۡتَغُواْ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزۡقَ وَٱعۡبُدُوهُ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥٓۖ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿١٧﴾

سورة العنكبوت ١٧

ترجمه : يقيناً بندګي كوې تاسو دَ الله تعالي نه سيوا دَ شكلونو جوړو شوو او جوړوئ تاسو دروغ قصې ، يقينا هغه كسان چې بندګي كوئ تاسو (دَ هغوي ) سوا دَ الله تعالي نه وس نه لري تاسو له دَ روزې نو اولټوئ د الله تعالي سره روزي او بندګي خاص كړئ دَ هغه او شكر كوئ دَ هغه ، او خاص هغه ته به اوكرځولئ شئ .

بريليان وائي ، سارے نبي تيرے در كے سوالي شاه مدينه

﴿ ۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿١٥﴾ ﴾ سورة الفاطر ١٥

ترجمه : اې خلقو تاسو ټول محتاج ئې الله تعالي ته ، او الله تعالي خاص هغه بې حاجته ستائيلي شوې دې .

بريليان وائي.

## اے مولا علی اے شير خدا ميری كشتی پار لگا دينا

الله فرمائي .

﴿ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱلۡفُلۡكَ تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنۡ ءَايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ﴿٣١﴾ ﴾ سورة لقمان ٣١

ترجمه : آيا ته نه ګورې چې كشتۍ چليږي په سمندر كښې په نعمت دَ الله تعالي سره دې دَ پاره چې اوښائي تاسو ته دليلونه خپل يقينا په دې كښې دير دليلونه دَ توحيد دي هر دير صبرناك دير شكرګذار له .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ (٦٥) سورة العنكبوت ٦٥

ترجمه : نو هر كله چي دوي سواره شي په كشتئ كښې رابلي دوي الله تعالي له اخلاص كوي دَ هغه په بلنه كښې نو هر كله چي بچ كړي دوي له اوچې ته دغه وخت دوي شريک جوړوي دَ الله تعالي .

نو بريليان به هسې ځانته سره د دې عقائدو نه ، اهل السنة والجماعة وائي ، ځكه چي دَ مكې مشركان چي دنيا سل حصې كړي نو اويا حصه لونده ده ، او ديرش حصې وچه ده، نو دَ دنيا دَ لوندې حصې اختيارمند ئې الله منلو ، او دَ اوچې هم دَ ديرې اختيارمند ئې الله تعالي منلو ،او بريليان ئې په لونده حصه دَ زمكې كښې هم اختيار بل له وركوي او په كشتې كښې وائي .

بگرداب بلا افتاد كشتی
مدد كن يا معين الدين چشتی

، زمونږ پير خطيب اسلام عنايت الله شاه بخاري او دَ پنډي شيخ صاحب يو ځائې ته بيان له تلي وو ، واپس چي راتلو نو لار كښې سيند وو، كشتې كښې كيناستل ،ورځ دَ جمعې وه ، نو كشتې راگيره شوه ، نو كشتې والا آواز اوكړو چرته شين طوطې به وو نو وئيل ئې

يا شيخ عبد القادر شيئا لله

نو شيخ القرآن ورته وئيل هلكه دې سړې ته آواز مه كوه هغه وئيل ولې ؟ نو شيخ القرآن ورته وئيل دې خو سړې دولس كاله پس راوباسي او مونږ به دَ جمعې مونځ له ځان رسوو، نو اوس هم بريليان دا نعره لگوي ،

بهاوالحق ته بيڑا ڈهک، مولا علی كشتی پار لگادی !!

، نو دَ مكې مشركانو دَ لوندې حصې اختيارمند الله منلو، لكه

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾

او په اوچه کښې دَ غټو غټو کارونو لکه باران ورول ، اسمان شين کول بچي پيدا کول ، دَ دې اختيارمند ئې هم الله منلو ،

﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾﴾

دَ دې اختيارمند ئې هم الله منلو، رازق دَ سترګو او غوږونو ، او دَ زړونو اختيارمند ئې هم الله منلو، نو آخر هغوي مشرکان په څه شو؟ نو وجه دا وه چې دَ اوچې يو لږ غوندې اختيارمند ئې بل څوک منل ، او بيا ئې دَ هغوي اختيار دَ وجې نه دَ هغوي عبادت کوو، او دَ هغوي دَ قبرونو طوافونه به ئې کول، او دَ هغوي په نوم باندې به ئې نذراني کولې ، نو دَ دې وجې نه مشرکان شول، دا نه چې بس هغه مشرکان وو او اوس مشرکان نشته دې ، مونږ لږ اورد بيان ځکه اوکړو چې خبره واضحه شي ،

## دَ مشرکانو قسمونه

څکښې اقسام بيان شو دَ شرک ، اوس چې کوم کوم څيزونه ئې الله سره شريک کړي دي ؟ او دَ چا عبادت ئې کوو؟ هيڅ يو څيز الله سره شريک کول جائز نه دي نو مشرکانو کوم څيزونه الله سره شريک کړي وو، دَ تصرف ، علم ، او عبادت وغيره اختيار ئې چا له ورکړې وو، څنې خلق دا وائي چې بت پرستي شرک دې ، او دَ ګټو او يا دَ لرګو بتان جوړ شي او دَ هغې بندګي کيږي نو دا به شرک وي ، او که دَ دې نه علاوه که دَ نورو څيزونو بندګي کولې کيږي نو دهغې ته تعظيم دَ اولياء کرامو او دَ نيکانو وائي او شرک ورته نه وائي ، حالانکه خبره داسې نه ده کوم څيز هم چې دَ الله تعالې سره شريک او حصه دار کړې شي ، او دَ الله تعالې صفت ورکړې شي ، نو داشرک دې ، قرآن کريم چې دَ شرک رد کوي ، او عبادت دَ غير الله نفي کوي نو تعبير په عام

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ سره كوي، لكه

﴿ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا .......... ﴿٣٦﴾ ﴾ النساء: ٣٦

ترجمه: بندګي کوئ د الله تعالي او مه شريکوئ د هغه سره هيڅ شي.

عبادت اوکړي صرف د يو الله او حصه دار مه جوړوي د هغه سره هيڅ څيز هم.

﴿ قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا .......... ﴿١٥١﴾ ﴾

سورة الأنعام: ١٥١

ترجمه: ته ورته اووايه راشئ چې بيان کړم هغه شې چې حرام کړي دي رب ستاسو په تاسو باندې چې شريک مه کنړي د هغه سره هيڅ شي.

﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾ سورة آل عمران: ٦٤

ترجمه: أووايه اې کتاب والو! راشئ داسې کلمې ته چې برابره ده زمونږ او ستاسو په مينځ کښې (هغه دا ده) چې بندګي به نه کوو مګر د يو الله او شريک به نه جوړوو د هغه سره هيڅ څيز او نه به نيسي بعضې زمونږ بعضو له خدايان (اختيارمند د شرعي جوړولو) سوا د الله تعالي نه، نو که دوي مخ واړوو نو تاسو اووائې چې ګواه شئ چې يقيناً مونږ خو مسلمانان يو.

﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا ..... ﴿١٢﴾ ﴾

سورة الممتحنة: ١٢

ترجمه: اې نبي (صلی الله عليه وسلم) کوم وخت چې راشي تاته زنانه مومنې بيعت کوي تاسره په دې خبره باندې چې شريک به نه کنړي د الله تعالي سره هيڅ څيز.

﴿ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ لَنَا أَن نُّشْرِكَ بِاللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ مِن فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٨﴾ ﴾

سورة يوسف: ۳۸

ترجمه : او زه تابع يم د دين د مشرانو خپلو چي ابراهيم، اسحاق، يعقوب عليهم السلام دي جائز نه دي مونږ له چي شريک کړو د الله تعالى سره څه شي، دا توحيد فضل د الله تعالى دي په مونږ باندي او په خلقو باندي ليکن ډېر خلق احسان د الله تعالى نه مني.

﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا .......... ﴿٢٦﴾ ﴾

سورة الحج: ۲٦

ترجمه : او هر کله چي ځائي ورکړو مونږ ابراهيم عليه السلام ته په ځائي د بيت الله کښي، (اووئيل مونږ) چي شريک مه جوړوه ما سره هيڅ څيز.

کله لفظ د احداً سره يعني د عقل والا مخلوق کښي هيڅوک هم د الله سره مه حصه دار کوي او عبادت ئي مه کوي، شيئاً کښي د الله نه علاوه بتان وغيره هر څه داخل وو او احداً په عموم کښي ذوي العقول يعني د عقل والا مخلوق ټول داخل دي، هيڅ څه استثناء پکښي نشته دي، ځکه احد د ذوي العقول د پاره استعماليږي يکي،

وهو اسم لمن يصلح ان يخاطب [1]

﴿ قُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا۟ ۖ لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِۦ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِى حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ ﴾ سورة الكهف: ۲٦

ترجمه : ته اووايه الله تعالى ښه پوهه دي په هغه موده چي دوي پکښي حصار شوي وو خاص الله تعالى له علم د پټو خبرو د اسمانونو او د زمکي دي ښه ليدونکي او ښه اوريدونکي دي، نشته دوي له سوا د الله تعالى نه څوک مددګار او نه برخه ورکوي به خپلو اختياراتو کښي هيچا له.

﴿ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّىٓ أَحَدًا ﴿٣٨﴾ ﴾ سورة الكهف: ۳۸

ترجمه : ليکن زه وايم الله تعالى رب زما دي، او نه شريکوم د رب سره هيڅ څوک.

---

[1] صراح ۱۲۱

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّىٓ أَحَدًا ﴿٤٢﴾ ﴾ سورة الكهف: ٤٢

ترجمه : او راګير کړي شو مالونه ذ هغه ( په عذاب کښې ) نو شروع شول چې مړل ئې ورغوي خپل په هغه خرچه بسې چې کړي ئې وه په هغې کښې او هغه (باغونه ) راغورځيدلي وو په چتونو خپلو باندې او اوويل ده هائې افسوس دې چې شريک مې نه وې ګرځولې ذ رب خپل سره هيڅوک .

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴿١١٠﴾ ﴾ سورة الكهف: ١١٠

ترجمه : اووايه يقيناً زه بنده يم ستاسو په شان (محتاج ) او وحي کيديشي ماته چې يقيناً حقدار ذ بندګۍ ستاسو اله يو دې ، نو څوک چې اميد لري ذ پيش کيدلو ذ رب خپل ته نو عمل دې کوي عمل ذ سنت برابر او شريک دې نه جوړوي په بندګۍ ذ رب خپل کښې هيڅ له .

﴿ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾ ﴾ سورة الجن: ٢

ترجمه : هدايت کوي حق ته نو ايمان راوړې دې مونږ په دې (قرآن ) باندې او هيچرې به شريک نه جوړوو ذ رب خپل سره هيڅوک .

﴿ وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ﴿١٨﴾ ﴾ سورة الجن: ١٨

ترجمه : او دا (وحي ده ) چې يقيناً ځايونه ذ سجدې خاص الله تعالى له دې نو مه بلئ ذ الله تعالى سره بل څوک (مددګار ) .

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾ ﴾ سورة الجن: ٢٠

ترجمه : ته اووايه يقيناً زه بلنه کوم ذ رب زما او نه شريکوم ذ هغه سره هيڅوک .

مشرکانو چې ذ بتانو بندګي کوله نو دا صرف ذ بتانو او ګټو او لرګو بندګي نه وه ، چې کښې ذ جماد محض او ذ صرف ذ ګټو بندګي ئې کوله ، ځکه چې بيا ئې ترې شکلونه څه

له جوړول چې تمثال ورته وائي دَ چا شکل ئې ترې څله جوړوو ؟ که خکلي کول مقصود وو نو نور څه ګلونه به ئې پرې جوړ کړي وو، په دې کښې څه راز وو چې یا دَ باز او یا دَ زنانه شکل یا دَ ځوانانو وغیره شکل ئې جوړوو، او دَ دغه ګټو نومونه لات، عزي، ابراهیم، اسماعیل وغیره ولې کېښودل ؟ او دغه شان دَ ذبح او حلالي په وخت کښې به دَ دغه بزرګانو نومونه ولې اغستل، او دغه شان چې خپل نومونه به ئې کېښودل نو دَ عبد العزي، عبدیغوث په ځان عبدالحجر ولې نه کېښودل دغه شان چې نذرونه او منختې به ئې کولې نو داسې ئې ولې وئیل چې دا ګډ او چېلې دَ لات او منات په نوم، داسې ولې نه وئیل چې دا دَ ګټ په نوم باندې او دغه شان دَ نعبد اصناما په ځائې نعبد احجارا ولې نه وئیل، او دَ

اعل هبل په ځائې اعل حجر ولې نه وئیل ؟

دَ قرآن کریم نه دا هم معلومیږي چې په ټولو باطلو مذهبونو کښې باطل مذهب هغه دَ بت پرستو دې، دَ نوح علیه السلام دَ دور نه دَ مخکښې نه شروع شوې دې، او تر اوسه جاري دې، نو دا خبره عقل هم نه مني چې انسان چې عقل مند دې او اشرف المخلوقات دې، او هغه دا عقیده اولري چې یوه بې ساه ګټه هغه په غیبو پوهیږي او هغهٔ مشکل کشا ده او دَ لرې او نزدې چغې اوري او په مشکل کښې مرسته کوي او دَ الله تعالي دومره مقربه ده چې سفارشونه ورته کوي، دَ دې خبرې بطلان او غلطوالي دَ نمر نه زیات ښکاره دې، په داسې ښکاره او باطله خبره باندې څنګه دَ زرګونو صدو خلقو اتفاق راځي او سره دَ عقلي او نقلي دلیلونو نه او سره دَ نیکانو خلقو دَ دعوتونو نه او دَ معجزاتو دَ لیدلو نه خپله خبره نه پریږدي په دې خبره کښې ضرور بالضرور خامخا داسې څه تاویل شته اګر چې هغه تاویل جعلي او منګهړت دې چې دَ هغې غلط تاویل دَ وجې نه پکښې ساده انسان اوخلي، لنډه دا چې هر عقل مند او منیب انسان پکښې شک نه کوي چې دا بندګي صرف دَ ګټو نه ده، لکه امام رازي رحمه الله فرمائي.

Maktaba Tul Ishaat.com

انه لا يبعد ان يعتقد اولئك الكفار في المسيح والعزير والملائكة ان يشفعوا لهم عند الله أما ان يبعد من العاقل ان يعتقد في الأصنام والجمادات انها تقربه الي الله تعالي .[1]

دا خبره دَ عقل نه لرې نه ده چې کافران دَ عيسي ، عزير او ملائکو عليهم السلام باره کښې دا عقيده لرې چې دوي زمونږ دَ الله په دربار کښې سفارش کوي، خو دَ لږ عقلمند انسان دَ عقل نه دا خبره يقيني چې لرې ده چې صرف دَ بتانو او خالص ګټو باره کښې دا عقيده اولرې چې دا ګټي مونږ الله تعالي ته نزدي کوي .

وائي هغه تاويل څه وو؟ چې مشرکانو دَ دې شکلونو او دَ ګټو دَ تاويل په باره کښې کولو . نو هغه تاويل دا وو چې دَ مشرکانو اصلي معبودان هغهٔ نيکان بنديګان ، فرشتې او جنات کواکب وو، دوي ته به ئې مشکل کشا او غيب دان وئيل ، او دَ دوي دَ پاره به ئې تصرف تاثير منلو خو دغه معبودان دَ دوي دَ سترګو نه پناه وو نو دَ هغې په ځائې ئې دا شکلونه جوړ کړي وو ، او ټول تعظيمونه به ئې دې له کول ، مقصود دَ دوي په عبادت سره دغه بزرګان وو دا شکلونه ئې دَ دغه بزرګانو دَ پاره قبله ګنړله په دې باندې يو څو حوالې دَ اسلافو دَ کتابونو نه نقل کولې شي .

امام رازي رح فرمائي .

ويمكن أن يقال ان العاقل لا يعبد الصنم من حيث انه خشب او حجر فانما يعبدونه لاعتقادهم انها تماثيل الكواكب او تماثيل الارواح السماوية او تماثيل الانبياء والصالحين الذين مضوا ويكون مقصودهم من عبادتها توجيه تلك العبادات الي تلك الاشياء التي جعلوا هذه التماثيل صورا لها وحاصل الكلام لعباد

[1] تفسير كبير ج 26 ص 241.

الاصنام ان قالوا "ان الاله الاعظم اجل من ان يعبده البشر لكن اللائق بالبشر ان يشتغلوا لعبادة الاكابر من عباد الله مثل الكواكب ومثل الارواح السماوية ثم انها تشتغل بعبادة الاله الاكبر. [1]

دا خبره ممکن ده چې دا ونیلي شي، چې هيڅ يو عقل مند دَ بت بندګي دَ دې وجې نه نه کوي چې کني چې صرف کټه ده او يا لرګي دې، دَ دې نه علاوه بله خبره نشته دې چې دوي دَ دې بتانو بندګي کوله، نو هغه په دې عقيده وه چې دا شکلونه دَ دې ستورو او آسمان روحونو او يا دَ انبياء کرامو او نيکانو بنديانو په شکلونو چې کوم تير شوي دي، نو مشرکانو چې به دَ دې شکلونو عبادت کولو نو دا په اصل کښې دَ دغه بزرګانو عبادت کول مقصود وو چې دَ چا شکلونه ئې جوړ کړي وو،

دَ خبرې لنډه خلاصه دا ده، چې هغوي به ونيل چې معبود اعظم يعني الله تعالى دَ دې نه اوچت دې، چې عام انسان دَ هغه بندګي اوکړي، ليکن دَ بنديانو سره مناسب دا ده، چې هغوي دَ الله تعالى په بنديانو کښې کومې غټې هستې دي، نو دَ هغوي په عبادت کښې به مشغوله شي لکه ستوري او ارواح سماويه نو بيا به هغه غټې هستې دَ لوئي الله عبادت کوي.

دغه شان عبارت تفسير مراغي هم ذکر کوي هم دغه شان حافظ ابن تيميه په تفسير دَ سورة الاخلاص کښې ذکر کوي، شاه عبد القادر صاحب په موضح القرآن کښې ذکر کوي،،

مسلمانوں کو ان کاموں سے بچنا ضروری ہے کہ اپنے بزرگوں سے یہ معاملت نہ کرے، کافر جن سے معاملہ کرتے تھے تو یہ بزرگ ہی جان کر

---

[1] تفسير كبير ج 26 ص 471.

Maktaba Tul Ishaat.com

کرتے تھے۔

لیکن ان تصویروں کو معبود نہ سمجھتے تھے، بلکہ جہت قبلہ خیال کرتے تھے۔ (تفسیر حقانی)

حافظ ابن قیم ؒ په اغاثة اللهفان کښې هم ذکر کوي ، شاه ولي الله ؒ هم وائي چې

**فنحتوا علي اسمائهم احجارا وجعلوا قبلة عند توجههم الي هولاء**[1]

اوس دَ مشرکانو غټ قسمونه هغه څلور وو، په اعتبار دَ معبودانو چې کوم څیزونه وو، چې هغوي ئې دَ الله سره حصه دار جوړ کړي وو او شکلونه ئې ورله جوړ کړې وو .

## ۱- مشرکین بالعباد الصالحین

اولنې شرک چې دنیا ته راغلې وو نو هغه دا وو چې نیکان بندیان ئې الله سره شریک کړې وو امام رازي ؒ هم فرمائي .

اول شرک تطرق العالم

چې اولنې شرک چې دنیا ته راغلې وو نو هغه وو شرک بالعباد الصالحین دَ نوح علیه السلام په قوم کښې څه نیکان بندګان وو، نومونه ئې قرآن ذکرکړي دي، هغوي چې وفات شو نو خلق خفه وو، او ډیر پریشانه وو، شیطان محنت کوو او وسوسه ئې ورته اچوله او وئیل ئې چې ستاسو دَ عبادتونو هغه خوند او مزه اوس نشته دې، ستاسو مشران چې وو نو ستاسو دَ عبادت به جدا خوند او مزه وه، اوس هغه نشته دې، نو تاسو دَ هغوي فوټوان او تصویرونه جوړ کړې ، که دَ لرګي وي او که د کټې وي، هغه وخت کاغذ هم نه وو او نه کیمرې وې، ګنې دا به ئې ورته وئیلي وو، نو شیطان ورله مشوره ورکړه چې واړه واړه تصویران جوړ کړي دَ سرو نه ، یا دَ کټي نه او یا دَ لرګي نه ، نو

[1] حجة الله البالغة ج 1 ص 120.

هغه مخې ته اړدي ، او چې عبادت کوي نو هغې ته ګوري نو ستاسو په عبادت کښې به ډېره مزه او خشوع وي، دوي اوئيل چې دا خو ډېره ښکلې مشوره ده ، نو دوي راولګيدل تصويران ئې جوړ کړل ، چې يوه صدي تيره شوه ، نو دَ شيطان خو لوئې فلاننګ وو، او اوږد سوچ ئې وي، او اوږده سينه ئې وي نو يوه صدي بله اوشوه وئيل ئې خير دي اوبشي !!

دوي چې لاړل نو نوي خلق راغلل،نو هغوي ته ئې وسوسه واچوله، چې تاسو ته څه پته ده چې ستاسو مشرانو دا فوټوان دَ څه دَ پاره ايښي وو؟

ستاسو فکر نه دې چې ستاسو مشرانو به دَ باران سوال کوو، نو باران به کيدو، هغوي چې به څه وئيل نو هغه به کيدو، نو دا څه وجه وه ؟

وجه دا وه چې هغوي به دَ دې فوټوانو تعظيم کوو، دَ هغوي روحونه به ورته راتلل، دا فوټوان هسې نه دي پراته، نو بس هغوي له خو اشاره کافي وه، نو هغوي اووئيل چې مونږ ئې دويته وايو ، او دوي به ئې الله ته وائي، نو دَ دوي عبادت به کوو، دوي به خوشحاليږي نو بس شروع شو، دَ شيطان دَ دوه درې سوو کالو محنت وو،

حافظ ابن کثير ؒ ذکرکوي-

عن محمد بن قيس ويغوث ويعوق ونسر قال كانوا قوما صالحين بين آدم ونوح وكان لهم اتباع يقتدون بهم فلما ماتوا قال اصحابهم الذين كانوا يقتدون بهم لو صورناهم كان اشوق لنا الي العبادة اذا ذكرناهم فصوروهم فلما ماتوا وجاء آخرون دب اليهم ابليس وقال انما كانوا يعبدونهم وبهم يسقون المطر فعبدوهم۔[1]

دغه شان ابن قيم ؒ هم ذکر کوي۔

---

[1] ابن کثير۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قال غير واحد من السلف كان هؤلاء قوما صالحين في قوم نوح فلما ماتوا عكفوا علي قبورهم ثم صورو تماثيلهم ثم طال عليهم الامد فعبدوهم.

نو بيا به هغوي وئيل چې

﴿وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾﴾

سورة نوح 23.

ترجمه :او دوي اووئيل مه پرېږدئي معبودان خپل او مه پرېږدي ود ، او نه سواع ، او نه يغوث او يعوق او نسر له ،.

پنځه بابا ګان ئې وو او دَ هغوي شکلونه ئې جوړ کړي وو، نو دا نه ده چې صرف مشرکانو دَ کتو بندګي کوله،بلکه دَ دې شا ته يوه لويه فلسفه وه، چې هغه دا وه هولاء شفعاءنا عند الله دا به ئې وئيل

﴿أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾﴾ سورة الزمر: ٣

ترجمه : خبر شئ خاص الله تعالي له دين (بندګي) خالص دې ، او هغه کسان چې نيولي دې سيوا دَ الله تعالي نه مددګاران وائي بندګي نه کوو مونږ دَ دوي مګر دې دَ پاره چې نزدې کړي مونږه الله تعالي ته په نزدې کولو سره ، يقيناً الله تعالي به فيصله اوکړي دَ دوي په مينځ کښې په هغه څيز کښې چې دوي په هغې کښې اختلاف کوي ، يقيناً الله توفيق نه ورکوي هغه چاته چې ډېر دروغژن دې او ډېر کفر کونکې دې.

کوم ځائې چې قرآن دَ اصنامو رد کوي نو دا څکه کوي چې دا په مکه کښې ډېر وو، څکه چې لات منات او هبل بابا دا ټول نيکان بنديان وو، او دوي به دنيکانو اشکال جوړول او عبادت به ئې کوو، نيکان بزرګان که انبياء او که عام بزرګان وو دَ هغوي

شکلونه به ئې جوړول خو مقصود به هغه بزرګان وو شکلونه او بتان به نه وو ، نیکانو بندیګانو کښې يو انبياء نو هغوي خو يقيني خبره ده چې نيكان وو، دويم عام بزرګان او نیکان نو هغه دوه قسمه وو يو هغه چې واقعي نیکان موحدين وو ، دويم ګمراه او ګمراه کونکي وو ، نیکان نه وو خو خلقو به ورته نیکان وئیل او دَ هغوي عبادت به ئې کوو،

﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ عُزَيْرٌ ٱبْنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَـٰرَى ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ ٱللَّهِ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَٰهِهِمْ يُضَـٰهِـُٔونَ قَوْلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ قَـٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾ التوبة: ٢٩ – ٣٠

ترجمه : او وائي يهوديان عزير (عليه السلام ) ځوئې دَ الله تعالي دي ، او وائي نصاري چې عيسي عليه السلام ځوئې دَ الله تعالي دي ، دا وينا دَ دوي ده په خلو دَ دوي ( بې دليله ) يو شان والي كوي دَ دوي وينا دَ وينا دَ هغه كسانو سره چې كفر ئې كړي دي دَ دوي نه مخكښې ، لعنت دي اوكړي الله تعالي په دوي باندې څه رنګې اوړيدلي كيږي دوي دَ حق نه.

﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّـٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴿٢٠﴾ ﴾ النجم: ١٩ – ٢٠

ترجمه : آيا تاسو سوچ كړي دي په حال دَ لات او عزي او دَ منات چې دريم ئې روستو دي ،.

دا ټول نیکان بندیان وو دَ نوح عليه السلام دَ قوم پينځه نيكان بنديګان وو ، او دَ لات او منات ، هبل ،وغيره تاريخ هم محدثينو او تاريخ والو ذكر كړي دي ، چې دا نيكان بنديګان وو.

امام رازي ؒ ذكر كوي .

ورابعها انهم وضعوا هذه الاصنام والاوثان علي صور انبياءهم واكابرهم وزعموا انهم متي اشتغلوا بعبادة هذه التماثيل فان اولئك الاكابر تكون شفعاء لهم عند الله تعالي ونظيره في هذا الزمان

Maktaba Tul Ishaat.com

اشتغال كثير من الخلق بتعظيم قبور الاكابر علي اعتقاد انهم اذا عظموا قبورهم فانهم يكونون شفعاء لهم عند الله.

هغه ذکر کوي چې خلورم دا چې دوي دا بتان په شکل دَ انبياءو او اكابرو باندې ايښي وو او دوي دا ګمان کوو چې تر څو دوي دَ دې تصويرانو په عبادت کښې مشغول وي نو دا اكابر به دَ دوي دَ پاره سفارشيان وي په دربار دَ الله کښې، او بيا هغه ذكر كوي چې دَ دې نظير به دې زمانه کښې هغه اشتغال دَ ډيرو خلقو دې دَ خپلو اكابرو دَ قبرونو په تعظيم کولو باندې په دې عقيده چې کله دوي دَ بزرګانو دَ قبرونو تعظيم اوكړي نو دوي به ورله سفارشيان ګرځي الله سره. (از كاتب)

## ۲ - مشركين بالكواكب

دويم قسم هغه مشركان هغه مظاهر پرست وو، دَ نمر بندګي کونکي دَ سپوږمۍ او دَ ستورو بندګي به ئې کوله، نمر شعلې ته ئې کتل، مظهر ته ئې کتل، او مظهر ته ئې نه کتل، مظهر ترې هير وو، دَ ستورو او دَ سپوږمۍ پرق ته ئې کتل او هغه ذات ترې هير وو، چې کوم ذات دا خلنده کړي وو، چې دا څوک دي ؟ دا هم يوه مستقله نظريه وه، دا نه چې صرف دَ ستورو بندګي ئې کوله، كواكب ته به ئې متصرف وئيل، دَ مشركينو دَ ستورو باره کښې څه نظريات وو،

يو دا چې دا بې ساه مخلوق نه دي بلکه روح، ژوند او عقل والا دي،

دويم دا چې دوي ته الله علم غيب ورکړې دي او دومره چې دوي دَ خپل معتقدينو تکليف او راحت معلوموليې شي، او دَ هغوي بلنه او فرياد معلوموي.

دريم چې دَ مخلوق نيک بختي او بدبختي نفع او نقصان دوي ته حواله شوې دي،.

څلورم په دې شركي عقيده باندې دوي شكلونه او بتان جوړ کړي وو، او دَ هغې تعظيم ئې کولو، او دا حقيقت کښې دَ ستورو تعظيم وو، ابراهيم عليه السلام وخت کښې

دوي ډير وو دوي ته صابئين وائي .

قرآن كريم په دوي باندې رد كوي او عجز ئي ذكر كوي .

﴿ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًا قَالَ هَٰذَا رَبِّى فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْءَافِلِينَ ﴿٧٦﴾ فَلَمَّا رَءَا ٱلْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّى فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِى رَبِّى لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧٧﴾ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّى هَٰذَآ أَكْبَرُ فَلَمَّآ أَفَلَتْ قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٧٨﴾ ﴾ سورة الأنعام: ٧٦ – ٧٨

ترجمه : نو هر كله چې اوغوړيدله په ده باندې شپه وئې ليدلو يو ستورې ، ده اووئيل آيا دا زما رب دې ، نو هر كله چې پټ شو هغه نو اوئې وئيل دې زه نه خوښوم (ذَ پاره ذَ خدائيتوب ) .

پس هر كله چې اوليدله ده سپوږمې خليدونكې ، اوئې وئيل آيا دا زما رب دې ، نو هر كله چې پټه شوه ، ده اووئيل كه نه وې كړې ښودنه ماته رب زما ( ذَ توحيد ) خامخا وې به زه ذَ قوم ګمراهانو نه .

پس هر كله چې اوليدلو ده نمر خليدونكې ده اووئيل آيا دا زما رب دې ؟ دا لوئې دې ؟ نو هر كله چې پټ شو هغه ده اووئيل اې قومه زما يقينا زه جدا يم ذَ هغې نه چې تاسو څه شرك كوئ .

﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾ ﴾ سورة النجم 49 .

او يقيني ده چې هغه رب ذَ شعرې ستورې دې .

قرآن كريم ذَ كواكب عجز او فوائد ذكر كوي ، او په الوهيت ئې رد كوي ، امام رازي رحمه الله فرمائي .

وكثير من الناس يعبدون الشمس والقمر ويعتقدون فيها انها حية عاقلة ناطقة[1]

شيخ القرآن رحمه الله په العرفان كښې ذكر كوي چې په پښتو كښې دا رسم دې چې شمال ته

---

[1] تفسير كبير .

Maktaba Tul Ishaat.com

به خپې نه کوي په وخت دَ سملاستو کښې او په اودس ماتې کښې به هم دَ مخ کولو او شا کولو نه ځان ساتي ځکه چې دا دَ محکښنو قبله ده نو دا صحيح ده دا دَ صائبينو قبله ده ، چې دَ قطب شمالي سجده به ئې کوله بلکه مونږ دَ هغوي په تعظيم نه بلکه دَ هغوي په اهانت باندې مامور يو او بيت المقدس په قطب شمالي نه دې ځکه چې مونږ په اقليم رابع کښې يو، او بيت المقدس هم په اقليم رابع کښې دې ، نو څنګه شمال ته شو،.[1]

تـــدبر فـــي النجـــوم و لســـت تـــدري

و رب الـــنجم يفعـــل مـــا يريـــد

ته د ستورو دَ تدبير عقيده ساتې نو تا ته پته نشته دې ، چې دَ ستورو رب کوي هغه څه چې اراده ئې اوکړي ،. نو مستقله عقيده او نظريه ئې وه ، په دې چې هغوي نمر ته مدبر وئيلو او اله ئې ورته وئيلو او دَ نمر منازل او برجونه وو، نو ځني ځائې به ښه حالات وو او ځني ځائې به خراب حالات وو، دَ ستورو نومونه وو او دَ برجونو ، نو قرآن دَ دې رد کوي چې کوم ځائې سخر الشمس والقمر راشي ، چې دا خو تابع کړي دي الله ، نو ديکښې دَ الوهيت صفت څنګه راغلې، او د کوم ځائې نه دوي متبوع شو او اله شو، شيخ سعدي قصه نقل کړي ده چې يو نجومي کور ته راغې نو ښځې سره ئې پردې سړې ناست وو، نو شور شو ، غوبل شو ، او جنګ ئې جوړ کړو نو ، يو موحد او يو نيک سړې تيريدلو نو هغه اووئيل ،

تو براوج فلک چې دانی چيست

چوں ندانی که در سرائے تو کيست

ته به دَ اسمان دَ بره حالات څه معلوم کړې چې تا ته پته نشته دې چې ستا په کور کښې څوک دې ؟ (ګلستان )

---

[1] العرفان ص 37.

۳- مشركين بالملائكة ، دوي به الله سره فرښتې حصه دارې ګڼړلې دَ مكې مشركانو به فرښتو ته دَ الله لونړه وئيل نعوذ بالله ، لكه قرآن كريم دَ مشركينو عقيده ذكر كوي نو وائي·

﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ ﴾ سورة النحل ٥٧

ترجمه : او مقرره وي دوي الله تعالي لره لونړه پاك دي الله تعالي او وي دي دوي لره هغه څه چي دوي غواړي·

شاه انور شاه كشميري ؒ ذكر كوي·

دوي به وئيل چې فرښتې دَ الله تعالي لونړه دي او دَ الله په دربار كښې دَ دوي سفارش كوي· نو قرآن كريم په داسې خلقو باندې رد كوي ، نو دَ فرښتو عاجزي او دَ فرښتو دَ الله تابعداري ذكركوي، او رد كوي په مشركين بالملائكة·

﴿ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ ﴾ سورة التحريم 6·

﴿ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ ﴾
سورة الصافات 153،154·

﴿ وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ﴿٢﴾ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ ﴾ الصافات: ١ - ٣

ترجمه :قسم دي په ملائكو باندې چې صفونه جوړوي صفونه ، يا هغه چې شړونكي دي په شړلو سره ، بيا هغه چې لوستونكي دي ذكر لره ( په طريقې دَ شهادت سره ) ·

﴿ ۞ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ ﴿٢٦﴾ ﴾ سورة النجم: ٢٦

**ترجمه** : او ډير ملائك شته په آسمانونو كښې چې فائده نشي وركولي سفارش دَ دوي مگر روستو دَ دې نه چې اجازت به اوكړي الله تعالي هغه چا ته چې اوغواړي الله تعالي او رضائې شي·

Maktaba Tul Ishaat.com

# ۴ - مشرکین بالجن

دوي الله سره جنات او پیریان حصه دارکړي وو، وجعلوا بینه وبین الجنة نسباً ، دا دَ هغوي شرک وو، دَ مشرکانو دَ جناتو باره کښې څه نظرئې وې چې دَ جناتو دَ الله تعالي سره څه خصوصي رشته ده، دَ دې خصوصي رشتې دَ وجې نه دوي په دې دنیا کښې دَ ولي عهد او دَ نائب په طور کار کوي۔

دویم دا چې دوي غیب دان دي۔

دریم دَ اسبابو نه علاوه په نفع او نقصان قادر دي تر دې چې په زړونو بدلونو هم قادر دي۔

څلورم دَ دې شرکي عقیدې په بنیاد دَ پیریانو په نوم شکلونه ئې جوړ کړي وو۔

﴿ وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ ﴾ الصافات: ۱۵۸

ترجمه :او جوړې کړي دې دوئي په مینځ دَ الله او پیریانو کښې نسب ، او یقیناً پوهیږي پیریان چې دوي به خامخا حاضر کړې شي په عذاب کښې۔

﴿ وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾ ﴾ سورة الجن: ٦

ترجمه :او یقیناً وو سړي دَ انسانانو نه چې پناهي ئې غوښتله په سړو دَ پیریانو نه نو زیاتي کړه دوي هغوي له سرکشي۔

﴿ وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾ ﴾ سورة الأنعام: ۱۰۰

ترجمه :اوګنړي دوي الله تعالي له شریکان پیریان او پیدا کړي دي الله تعالي دوي ، او جوړوي ( په دروغه ) الله له خامن ، اولونړه بغیر دَ پوهې نه پاک دې الله تعالي او اوچت دي ، دَ هغې نه چې دوي ئې بیانوي۔

﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُم مِّنَ الْإِنسِ وَقَالَ أَوْلِيَاؤُهُم مِّنَ

ٱلْإِنسِ رَبَّنَا ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِىٓ أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾ سورة الانعام ١٢٨

ترجمه : او په كومه ورځ چي جمع به كړي دوي ټولو لره ( اوبه وائي ) اې ډلې دَ پيريانو يقيناً ډير تابع كړي دي تاسو په ځان پسي دَ انسانانو نه ، او وائي به دوستان دَ دوي دَ انسانانو نه اې ربه زمونږ فائدې اغستي دي بعضي زمونږ نه په بعضو سره او رسيدلي يو مونږ نيټې خپلې ته هغه چي تا مقرر كړې ده مونږ لره او به وائي الله تعالي اور ستاسو دَ اوسيدو ځائي دي هميشه به ئي په هغې كښې مګر هغه چي اوغواړي الله تعالي يقيناً ستا رب حكمتونو والا دي پوهه دي په هر څه .

قال ابن جرير كان الرجل في الجاهلية اذا ينزل الارض فيقول اعوذ بكبير هذا الوادي .

قال الحافظ ابن كثير عن عكرمة كان الجن يفرقون من الانس كما يفرق الانس منهم او اشد ، فكان الانس اذا نزلوا واديا هربت الجن فيقول سيد القوم نعوذ بسيد هذا الوادي فقال الجن نراهم يفرقون منا كما نفرق منهم فدنوا من الانس فاصابوهم بالحيل والجنون .[1]

عكرمه وائي چي پيريان به دَ انسانانو نه يريدل لكه چي انسان دَ دوي نه يريدل بلكه دَ دې نه سخت نو انسانان چي به كله په ځنګل او كنده بيابان ته راغلل نو پيريان به اوتختيدل نو انسانانو به وئيل چي مونږ دَ دې كندې دَ سردار په پناه كښې راځو نو جناتو اووئيل چي دوي زمونږ نه يريږي لكه چي مونږ تري يريږو ، نو دوي انسانانو ته نزدې شول او قسما قسم تكليفونه به ئي ورته رسول .

دارنګې ابن كثير دَ كردم بن السائب الانصاري واقعه هم ذكر كړې ده ، چي زه دَ څه

[1] (ابن كثير ).

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرورت دَ پاره دَ پلار سره دَ مديني نه اووتلم ، دا په هغهٔ وخت كښې چې اول اول دَ نبي عليه السلام په مكه كښې دَ راتلو تذكره شوې وه ، نو زمونږ په لاره كښې دَ يو شپونكي سره شپه راغله چې شپه نيمې له ورغله ، نو شرمخ راغلو او يو گډورې ئې اوچت كړو، نو شپونكي توپ كړو او اووئيل ئي -

يا عامر الوادي جارك فنادي مناد لا نراه يا سرحان ارسله

اې دَ كندې مشره دَ خپل پناه گير خيال اوساته نو يو آواز كونكي آواز اوكړو چې مونږ نه ليدلو چې اې شرمخه پريږده !!

نو هغه گډورې راغې او كندك ته وردننه شو او معمولي زخم پرې هم نه وو، مجاهد ، ابو العاليه سعيد ابن جبير ورسره ذكر كوي چې دا شرمخ به پيرې وو او خلق به ئي يرووُلو ، بيا به ئي ورته راواپس كړو چې خلق دَ دين نه اوباسي -

عزي چې وه نو دا هم پيرې وه نبي عليه السلام بيا خالد رضي الله عنه دَ هغې دَ ختمولو دَ پاره ليږلي وو او هغه ئې ختمه كړې وه ، او دَ عزي منجور وئيلي وو-

اعـــزي شـــدي شـــدة لا تكـــذبي
علي خالـــد القـــي الخمـــار وشـــمري
فانـــك اليـــوم ان لا تقتلـــي خالـــدا
تبـــوي بـــذلي عـــاجلا وتنصـــري

اې عزي په خالد سخته حمله اوكړه دروغ نه ، او دوپټه اوغورزوه او بډې اووهه ، كه نن دې خالد او نه وژلو نو يا به ذليله شې زر او يا به دې مدد اوكړې شي -

خالد رضي الله عنه پرې حمله اوكړه او اوئې وئيل چې

اعـــزى كفرانـــك لا ســـبحانك
إنـــي رأيـــت الله قـــد اهانـــك

عزې ستا انکار دې نه ستا پاکې ما لیدلې دې الله تعالې چې ستا سپکاوې بیان کړې دې . نو قرآن دَ جناتو عجز وغیره ذکر کوې چې په هغوې کښې دَ الوهیت ځائې نشته دې ، او اله نه دې .

چې دا خبره ښکاره شي ، چې په جناتو کښې دَ خدائې توب ځائې نشته دې

## شبهات دَ مشرکینو

مشرکین که هر څوک دې نو هغوې دَ خپل شرک دَ پاره شبهات کوې، هغوې ورته دلائل وائې، د دوې شبهات په توحید باندې ټول نهه دې،

1. انکار کول
2. خصومت او جدال
3. غلطې وسیلې او حیلې
4. دَ مشرانو تابعدارې
5. دَ ظن تابعدارې
6. غلط قیاسونه
7. په الله باندې افتراء (افتراء علي الله )
8. اتباع دَ کثرت
9. نائبان نیول

دا نهه دې او په مکه کښې دَ نبي علیه السلام دَ قبیلې نه علاوه نهه قبیلې وې .

﴿ وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾

سورة النمل: ٤٨

ترجمه : او وو په دغه ښار کښې نهه کسان ، چې فساد ئې کولو په زمکه کښې او اصلاح ئې نه کوله .

نو اول شبهه چې په انکار باندې وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ﴾ سورة الصافات: ٣٦

ترجمه :او دوي به وئيل آيا مونږ پرېږدو معبودان خپل دَ وجي دَ شاعر ليوني نه.

دويم خصومت

﴿ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ﴾ سورة ص: ٥

ترجمه : آيا جوړ کړي دي ده ډېر معبودانو له معبود يو ، يقيناً دا څيز ډېر نااشنا دې.

دې سورت کښې دَ خصومت تذکره ډېره ده لکه ٣، ١٢، تا ٢١،٢٠، ٥٩، څکه په سر کښې ص راوړې دې.

## دريم وسائل شركيه

﴿ وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾ سورة يونس: ١٨

ترجمه : او بندگي کوي دا خلق سوا دَ الله تعالي نه دَ هغه چا چي نه ضرر او نه نفع رسولې شي دوي ته ، او وائي دوي چي دا کسان سفارشيان زمونږ دي په دربار دَ الله تعالي کښې اووايه ته آيا تاسو خبروئي الله تعالي ته په هغه څيز چي نه ئي پيژني الله تعالي په اسمانونو کښې او نه په زمکه کښې (يعني موجود نه دې ) پاک دې الله تعالي او لوئي دې دَ هغې نه چي دوي شريکوي.

﴿ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ﴾ سورة الزمر: ٣

ترجمه : خبر شئ خاص الله تعالي له دين (بندگي) خالص دې ، او هغه کسان چي نيولې ئي دي سوا دَ الله تعالي نه مددگاران (وائي ) بندگي نه کوو مونږ دَ دوي مگر دې دَ پاره چي نزدې کړي مونږه الله تعالي ته په نزدې کولو سره ، يقيناً الله تعالي به فيصله

اوكړي په مينځ د دوي كښي په هغه څيز كښي چي دوي په هغې كښي اختلاف كوي ، يقيناً الله تعالي توفيق نه وركوي هغه چا ته چي ډير دروغژن دي ډير كفر كونكي دي .

﴿ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً ۖ بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ۚ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾ ﴾ سورة الأحقاف: ٢٨

ترجمه : نو ولې مدد نه كوو د دوي سره هغه كسانو چي دوي جوړ كړي وو سيوا د الله تعالي نه د پاره د نزديكت (الله تعالي ته ) معبودان بلكه هير شو د دوي نه او دا دروغ د دوي وو او هغه خبري وې چي دوي د ځان نه جوړولي .

## څلورم غلط قياس

﴿ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ ﴾ سورة النحل: ٤٧

ترجمه : يا به اونيسي دوي له په حالت د ويرولو ،نو يقيناً ستاسو رب ډير شفقت كونكي رحم كونكي دي .

﴿ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ ﴾ سورة يس: ٧٨

ترجمه : او ذكر كړي دي زمونږ د پاره يو اعتراض او هير كړي ئې دي پيدائش خپل،وائي څوک به ژوندي كړي هډوكي او حال دا چي دا به ذري ذري وي .

## پنځم اتباع الآباء

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۗ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ ﴾ سورة البقرة: ١٧٠

ترجمه : او هغه وخت چي اوونيلې شي دوي ته تابعداري اوكړئ د هغه څه چي نازل كړيدي الله تعالي دوي وائي نه بلكه تابعداري كوو مونږ د هغې طريقې چي موندلي دي مونږ په هغې باندې مشران خپل اگر چي وو دا مشران د دوي داسي چي نه پوهيدل په هيڅ څيز باندې او نه ئې لار موندلې وه .

## شپږم د گمان تابعداري

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾ ﴾ سورة الأنعام: ١١٦

ترجمه :او كه ته تابعداري كوئ دَ ډيرو دَ هغه چا چي په زمكه كښې دي نو وابه روي تاله د لارې دَ الله تعالي نه ، دوي نه كويِ تابعداريِ مگر دَ گمان او نه دي دوي مگر په اټكل (توک ) كارونه كوي.

﴿ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ ۗ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ شُرَكَاءَ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾

سورة يونس: ٦٦

ترجمه : خبردار يقيناً په اختيار دَ الله تعالي كښې دي هغه څوک چې په آسمانونو كښې دي او هغه څوک چې په زمكه كښې دي او نه كوي تابعداري هغه كسان چې بلې سوا دَ الله تعالي نه شركاؤ له تابعداري ، تابعداري نه كوي دوي مگر دَ گمان او نه دي دوي مگر په اټكل كارونه كوي.

اووم اتباع الكثرة

﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾ ﴾ الأنعام: ١١٦

ترجمه :او كه ته تابعداري كوې دَ ډيرو دَ هغه چا چې په زمكه كښې دي نو وابه روي تا له دَ لارې دَ الله تعالي نه ، دوي نه كوي تابعداريِ مگر دَ گمان او نه دي دوي مگر په اټكل كارونه كوي.

اتم ، الافتراء علي الله

﴿ وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ ۖ أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ ﴾ سوره الاعراف ٢٨

ترجمه : او كله چي اوكړي دوي څه بدكار دوي وائي موندلي دي مونږ په دې باندې مشران خپل او الله تعالي حكم كړي دي مونږ ته دَ دې اووايه يقيناً الله تعالي تعالي حكم نه كوي دَ بدكار آيا جوړوئ تاسو په الله تعالي باندې هغه خبرې چي تاسو پرې نه پوهيږئ.

نهم ، اتخاذ الولد

﴿وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَـٰنَهُۥ ۖ بَل لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَـٰنِتُونَ ﴿١١٦﴾﴾

سورة البقرة ۱۱۶

ترجمه : او دوي وائي چي نيولې دې الله تعالي څوئي (نازولې ) (نه ) پاک دې الله تعالي بلكه هغه له اختيار دې دَ هغه څه چي په آسمانونو او زمكه كښې دي دا ټول هغه ته تابعداري كونكي دي.

نو قرآن كريم دا ټول رد كوي، دا دَ مخالفينو دَ توحيد او دَ قرآن يوه ډله وه، چي مشركين وو په دې مرض دَ شرك كښې ورسره يهود او نصاري هم شريك وو،

## څلورم فصل يهود

## څلورمه ډله يهود

څلورمه ډله چي قرآن ورسره خبرې كوي نو هغه يهود دي، اوس وخت كښې يهود ، اسرائيل ، صيهون، دا ټول نومونه ئې دي ، يهوديان ځان موسي عليه السلام ته منسوب كوي، چي په موسي عليه السلام مو ايمان دې ، او موسي عليه السلام آخري نبي گڼي، او تورات آخري كتاب گڼي، روسته نه بل كتاب مني ، او نه بل نبي ، دَ يهودو اصل هغه مداهنت ، كتمان حق ، ترك عمل ، او تحريف وو، قرآن كريم په دې باندې رد كوي، په دې امت كښې به هم دَ هغوي تابعدار وي

لتركبن سنن من كان قبلكم

Maktaba Tul Ishaat.com

يهود په عربو کښې اوسيدل او په غير عربو کښې يهود ډير وو، په قبائلو کښې خواره شوي وو ـ په مدينه منوره کښې ئې بيت المدراس جوړ کړې وو ، تورات ئې ترجمه کړې وو او اوس او خزرج ته به ئې نصيحتونه کول ـ طبري ذکر کوي چې په عربو کښې اولنې چې يهودي شوې وو، هغه سعد ابو کرب وو بيا ئې تابعدار ډير شو، يهود اکثر دَ حرم نه لرې وو نو دَ دې وجې نه مکي سورتونو کښې دَ دوي تذکره نشته دې ، په مدني سورتونو کښې تذکره زياته ده ـ

تورات عبري لفظ دې او معني ئې قانون او شريعت دې ، په پنځو حصو ئې اطلاق کيږي ،

۰۱ سفر التکوين :د عالَم دَ مبدا تذکره ، او دَ آدم، حوا ، نوح او ابراهيم عليهم السلام تذکره وه پکښې ـ

۰۲ سفر الخروج : دَ موسي عليه السلام او دَ فرعون تذکره وه پکښې ـ

۰۳ سفر الاخبار : دَ حلالو او حرامو تفصيل

۰٤ سفر العدد : دَ قومونو شمير او دَ بني اسرائيلو دَ خروج ذکر او دَ قومونو سره جنګ ـ

۰٥ سفر الاستثناء : دَ احکامو جزئيو او قواعدو تذکره ، او نور دَ دې تورات شرحې او تفسيرونه ليکلي وو ـ

قرآن يهودو ته دعوت ورکوي دَ ايمان چې ستاسو دين منسوخ شوې دې، اوس وخت کښې واجب الاتباع دين دين اسلام دې ، قرآن په درې طريقو سره ، دوي ته دعوت ورکوي،

۰۱ طريقه قرآن ورته احسانات بيان کړي، چې اذکروا نعمتي التي انعمت عليکم ما درباندې احسانات کړي وو نو تاسو هم احسان اوکړې او ايمان راوړې ـ

۰۲ طريقه الله ورته قرآن کريم کښې عذابونه پيش کړي چې مخکښې الله په وجې دَ نافرماني عذاب درکړې وو، نو اوس هم درله په وجې دَ نافرماني باندې عذاب درکولې شي، نو ايمان راوړې او نافرماني مه کوئ ـ

۰۳ طريقه قرآن کريم دَ دوي قبائح ذکر کوي دې دَ پاره چې خلق پرې دهوکه نشي چې

باره دا خو هم ملا دي، چې يهودي داسې کوي نو دا به تهيک وي، دَ نبي عليه السلام دَ وخت يهوديان دومره خطرناک نه وو، لکه چې ځومره اوسني يهود دير خطرناک دي، دَ اوسنو يهوديانو منصوبې او نظريات دا دي ،.

## منصوبې دَ يهوديانو او نظريات

۱. چې دَ يهوديانو نه علاوه په ټولو قومونو کښې اختلاف پيدا کول ، لکه نن ئې چې په جمهوريت سره پاکستان اولس اتلس فرقې کړو، او پارټې ئې جوړې کړې.

۲. منصوبه اثارة الفتن فتنې راوچتول،

۳. فتنه دهشت پيدا کول په خلقو کښې چې ټول خلق دَ زندگۍ نه نااميده شي، او دَ اعتقاداتو په باب کښې درې غټ مقاصد لري،

۱. اشاعة النظريات الالحادية ، داسې عقائد خورول چې دَ قرآن او سنت نه خلاف وي ،.

۲. الهتک عن کرامة رجال الدين ، چې کوم خلق دين اسلام ته منسوب وي ، طالب مدرسه او جماعت ، مجاهد دا دَ خلقو په نظر کښې سپک بنکاره کول،

۳. محاربة الاسلام

دَ قانون اسلامي خلاف کول په اوس وخت کښې ئې دا نظريات دي ، خدمت ئې کوي خو مسلمان پرې نه پوهيږي، دا فکرمند او علمي خلق دي نو په علمي انداز سره گمراهي خوروي، شاه ولي الله رح وائي چې که ته وائې چې دَ يهودو نمونه اوگورم، نو وائي .

### فانظر الي علماء السوء

چې کوم خلق دَ قرآن علم زده کونکي دي هغوي ته اوگوره چې هغوي علم دَ دنيا ذريعه گرځولې وه ، دَ دې وجې نه سفيان وائي،

Maktaba Tul Ishaat.com

**من فسد من علماءنا ففيه شبه من اليهود**

## " النصارى "

پنځمه ډله چي قرآن ورسره خبرې کوي نو هغه نصارئ دي دوي بې تحقیقه کار ډیر کولو، پیرپرست وو، علمي خلق نه وو، دوي دَ پیرې په جامه کښې وران وو، عیسي علیه السلام به ئې آخري پیغمبر منلو، او انجیل به ئې آخري کتاب منلو، قرآن دویته هم دعوت دَ ایمان ورکوي، او دَ دوي خباثتونه ذکرکوي، ځکه چي پیران وو او خلق پرې دهوکه کیږي ، او قرآن دَ دوي دَ مرضونو علاج کوي، اوس وخت دوي دَ یهودو سره نظریه یو کړې ده ، اسلام او دَ مسلمان خلاف ، او یهودو ورته وئیلي دي چې ستاسو خلاف چي زمونږ کومه نظریه ده هغه مونږ پریښوده نو اکثر یهودیان شوي دي ، نو دواړو دَ اسلام او دَ مسلمان خلاف اتحاد کړې دې او نظریه ئې یو کړې ده ، دوي امیان وو بغیر دَ سند او تحقیق خبرې به ئې منلې عیسایانو تورات منلو او "العهد العتیق " به ئې ورته وئیلو ، دَ یهودو او نصارو خباثتونه اکثر شریک دي، تحلیل او تحریم به ئې دَ ځان نه کولو دَ دوي ذکر هم په مدني سورتونو کښې دې.

## " المنافقین "

شپږمه ډله چي قرآن ورسره خبرې کوې نو هغه "المنافقین "دي.

منافق دَ نفق نه دې ، نفق سورنګ ته وائي ، او هغه سوړي دَ خادمې ته وائي ، چې ایمرجنسي وي، دَ خادمې یو ایمرجنسي سوړه وي ، چې دَ خطرې په وخت کښې ئې پکاریږي، دَ خادمې دوه سوړې وي،په یوه ښکاره شي نو ښکاري ورته ګوري، دا سر ښکته کړي نو ښکاري په انتظار وي ،چې بیا به راپورته کیږي او که نه ، او هغه ترې په ایمرجنسي سوړه باندې تلې وي ، چې ته انتظارکوه او زه لاړم.

**اذ یخرج الیربوع من نافقاته**

نو منافق هم خپله عقیده ایمرجنسي سوره کرځولي وي، ته به وائي چې دې مسلمان دې ، چې کله سخته په کافرو باندې راشي نو دَ مسلمانانو سره به اولاړ وي، او چې کله سخته په مسلمانانو باندې راشي، نو دَ کافرو سره به په صف کښې اولاړ وي، نو دَ ده عقیده دَ مفادو تابع وي،

## یخالف قوله فعله ویخالف سره علانیته

دَ منافق نقصان زیات دې نو دَ دې وجې نه ورسره قرآن په سخته لهجه باندې خبره کوي ، دَ ده پلیتي انتهائي سیوا ده ، نو قرآن ئې په ډیرو سورتونو کښې بیانوي، شاه ولي الله ؒ وائي که دَ منافقانو آیت درته مشکل شي ، نو دَ بادشاهانو تالي څټو ته اوګوره اشکال به دې ختم شي، دا اوسني تالي څټي به ترې لا تیز وي دَ هغه منافقانو نه ، نو دا وو نافرمانه خلق ،

تابعدارو له الله لقب دَ المومنین ، او دَ المسلمین ورکړې دې ، ایمان دَ زړه سره تعلق لري ، په ظاهره ختمیږي او په اندامونو ظاهریږي ، او اسلام دَ ظاهر نه شروع کیږي ، او په زړه ختمیږي ، نو په اعتبار دَ ابتداء سره جدا جدا دي ، او په اعتبار دَ انتهاء سره یو شي دې ۔ نو مومنانو او مسلمانانو سره چې قرآن کلام کوي ، نو کله ورته خوشحالي او بشارتونه اوروي ، او کله ورته دَ کلکون حکم کوي ، او کله ورته شجاعت او کله ورته امتحانات ذکرکوي، او کله ورته احکامات بیانوي په مختلف اندازونو ورسره کلام کوي ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

## څلورم باب

# انداز بيان دَ دې مسئلو

دا خبره بيان شوه چې قرآن څنګه خبرې کوي نو اوس څنګه ورته کوي ؟ دَ څلورمې خبرې وضاحت چې قرآن دې اته مقاصدو ته دعوت ورکوي، نو دَ دعوت مختلف اندازونه دي او بيا دَ دعوت نه پس دَ دعوت څه اثر وي، نو دعوت په درې قسمه دې ،

﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥ ﴾ سورة النحل ١٢٥

ترجمه : بلنه کوه دَ رب لارې ته په کلکې طريقې سره او په ښائسته وعظ سره او جواب کوه دَ دوي دَ خبرو په ښه طريقې سره يقيناً ستا رب هغه ښه پوهه دې په هغه چا چې واوړي دَ لارې دَ هغه نه او هغه ښه پوهه دې په هدايت والو.

الدعوة بالحكمة ، په دليل باندې خبره کول ،

الدعوة بالموعظة په ترغيب او ترهيب سره خبره کول.

الدعوة بالجدال ، وجادلهم بالتي هي احسن ،

نو چې ته کله دعوت ورکوې ، نو ستا مخاطبين به عموما په درې قسمه باندې وي ،

۱. قسم عوام خالي ذهن والا نو هغه ته چې معمولي ترغيب او فضائل بيان کړې يا ئې اويروې نو په لږ لالچ هم کارکيږي او که يره وي ورسره نو چې يروې ئې نو دَ هغوي په زړونو باندې اثر اوشي او مسئله اومني.

۲. قسم هغه خلق وي چې لږ سنجيده وي پوهه خلق وي نو په زړه کښې ئې څه شکوک شبهات وي ، او دَ نور چا نه ئې هم څه خبرې اوريدلې وي ، نو دوي ته به دليل وائې ، نو دوي په دليل خبره مني.

۳. قسم هغه خلق وي چې هغوي ستا دَ خبرې مخالف شبهات واردوي اعتراضات کوي

وائي به درته چې په تا باندې خو دا اعتراض واردېږي فان قيل ، نو قلت ، اعتراضونه وي پکښې نو دَ هغوي دَ اعتراضونو جوابونه به کوي ، نو دا درې طريقې دَ دعوت دي . سورت هغه دعوت ورکوي يوې مسئلې طرفته ، نو په سورت کښې اولنۍ خبره پيژندل ، هغه ده دعوي دَ سورت ، چې دعوي اوپيژندلې شي ، دَ سورت دَ پاره دعوي داسې ده لکه تخم دَ ووني دَ پاره ، دَ تخم اثر په تنه کښې هم موجود وي ، په څانګو کښې هم موجود وي ، او په پاڼړو او ميوو کښې هم موجود وي ، نو دغه شان دَ سورت په هر آيت کښې به دَ دعوي څه اثر موجود وي . يا به په دې سورت کښې دَ دعوي دَ اثبات دَ پاره خبره ، دعوي به پرې ثابتيږي، داسې آيتونه به وي چې دعوي به پرې ثابتيږي، او يا به داسې آيتونه وي چې په هغې باندې به دعوي واضحه کيږي ، او يا به داسې آيتونه وي چې په هغې کښې به دعوي دَ سورت ته ترغيب وي ، منلو يا بيان ته ئې ، او يا به دَ بيان نه روستو اثرات پکښې ذکر وي ، نو که په دې باندې پوهه شوې نو اوس په سورت کښې به څه اشکال درته نه راځي .

آيت کريمه ته به اوګورې ، چې ديکښې څه دي ؟ نو که دليل وي نو دا دَ دعوي دَ اثبات دَ پاره دې ، او که آيت کښې مثال وو او يا ادخال الهي وو، يا تنوير وو، نو دا به دعوي واضحه کوي ، او که په آيت کښې څه دَ جنت يا دَ دوزخ يا دَ امتحاناتو تذکره وه ، يا دَ صبر تلقين وي نو دا به داعي ته وائي ، چې نر شه بهادر شه !

او خلقو ته بيان اوکړه ، چې ګورې په دې دعوي عمل پکار دې ، نو ترغيب به وي منلو ته ، او بيانولو ته ، او که دَ نه منونکو تذکره وي يره به وي تحذير به وي ، نو دا به دَ بيان نه روستو اثر وي ، نو چې په دې سورت کښې دَ دعوي دَ اثبات دَ پاره خبره کيږي، دعوي ثابتيږي نو دا په څلورو طريقو سره ، او څلورو څيزونو سره ثابتيږي ديته دعوت بالحکمة وائي .

Maktaba Tul Ishaat.com

# فصل اول "" الدعوة بالحكمة ""

قرآن خپله خبره ثابتوي نو دَ اثبات دَ پاره څلور طريقې دي ، اول په دليل ، دليل لار ښودونكي ته وائي چې لار ښائي دَ دعوې په طرف دا په څلور قسمه دي ۰ ۱۰ دليل عقلي ۲۰ دليل نقلي ۳۰ دليل وحي ۴۰ په قسم سره ، دا څلور طريقې دي ، دَ پاره دَ اثبات دَ دعوې ۰

۱۰ دليل عقلي دا په دوه قسمه دي ، ۱۰ دليل عقلي محضه ، ۲۰ دليل عقلي اعترافي ۰

دا دي دَ پاره راوړي چې زما دا خبره دا دَ عقل نه خلاف نه ده ، او چې دَ چا معمولي عوندي عقل هم وي نو هغه په دې باندې پوهيږي ۰ يعني ستا دَ مخالف دا اعتراض دفع كوي چې هغه ستا دا خبره زما دَ عقل نه خلاف ده ، عقل ئې نه مني نو قرآن كريم په دلائلو عقليو سره دَ هغې جواب ذكر كوي

۰

﴿ اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُم بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ (٢) وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ (٣) ﴾ سورة الرعد 3

ترجمه : الله تعالى هغه ذات دې چې اوچت كړيدي آسمانونه بې دَ ستنو نه تاسو ئې وينئ بيا برابر شويدې دَ عرش دَ پاسه او تابع كړې دي دَ حكم خپل نمر او سپوږمئ هر يو چليږي تر نيټې مقررې انتظام كوي دَ ټولو كارونو جدا جدا بيانوو مونږ دليلونه دَ دې دَ پاره چې په ملاقات دَ رب ستاسو يقين اوكړئ ۰ او الله تعالى هغه ذات دې چې راښكلې ئې ده زمكه او پيدا كړې دي په هغې كښې پاخه غرونه او سيندونه او دَ هر قسم ميوو نه پيدا كړې دي په هغې كښې جوړې دوه اغوندوي شپه ورځ ته يقيناً په دې كښې ډير دليلونه دَ توحيد دي هغه قوم لره چې فكر كوي ۰

دویم دلیل عقلي اعترافي یعني دَ مخالف نه تپوس اوکړه نو کله دَ هغه جواب وي او کله نه وي نو که مسکت دَ خصم وي چي دَ هغي جواب نه وي لکه سورة الانعام کله دَ هغې جواب نقل وي لکه

﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣١﴾ ﴾

سورة یونس ۳۱،

ترجمه : اووایه څوک رزق درکوي تاسو ته دَ آسمان او زمکي نه یا څوک مالک دي دَ غوږونو او دَ سترګو او څوک راوباسي ژوندي دَ مړ نه او روباسي مړ دَ ژوندي نه او څوک انتظام کوي دَ ټولو کارونو پس زر ده چي وائي به دوي چي الله نو اووایه پس آیا تاسو نه بریږئ.

﴿ قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾ ﴾

سورة المؤمنون:

ترجمه : خامخا دوي به وائي الله تعالي له (اختیار دي ) اُووایه آیا نو ولې نصیحت نه قبلوئ، اووایه څوک دي اختیارمند دَ اوؤ آسمانونو او اختیارمند دَ عرش لوئي شان والا. خامخا دوي به وائي الله تعالي لره اختیار دي اووایه آیا پس څان نه ساتئ دَ شرک نه. ته اووایه دَ چا په لاس کښې پوره بادشاهي دَ هر څیز ده او هغه پناهي ورکوي دَ هر مصیبت نه او پناهي نشي ورکیدي دَ هغه په مقابله کښې که چرې تاسو پوهیرئ. خامخا دوي به اووائي الله تعالي لره (اختیار دي ) اووایه پس څرنګ اړولي شئ تاسو ( دَ حق نه )

بیا دلائل عقلیه کله دَ بره عالم ، کله دَ بنکته کله دَ فضاء او کله دَ بنده د خپل نفس ، په

Maktaba Tul Ishaat.com

دي نولو كسي د الله د وحدانيت نحي موجود دي.

## ۲ - دليل نقلي

دي د پاره راوړي چې مخالف اعتراض کوي چې نه په دې خبره کښې بواځې ئي، ستا ملګري نشته دي، نوې مسئلې دې راوړې دي.

﴿ مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ﴿٧﴾ ﴾ سورة ص: ٧

ترجمه: نه دي اوريدلي موږ دا په دين روستني کښې، نه دي دا مګر دروغ جوړ کړي شوي.

نو دا نه نوې مسئلې کوې او دروغ وائې، نو د هغې د پاره نقلي دليل پيش کړي کله نقل د پيغمبرانو نه، يا ئي تري په جمع رانقل کړي او يا ئي د يو يو نه رانقل کړي، او کله نقل د فرشتو نه چې ما سره خو په دې مسئله کښې فرشتې ملګري دي.

﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾ ﴾
سورة الأنبياء: ٢٥

ترجمه: او نه دي ليږلي موږ ستا نه مخکښې هيڅ رسول مګر وحي کوله موږ هغه ته چې نشته خدار د بندګي سوا زما نه نو پس بندګي خاص ماله کوئ.

دَ فرشتو قول او حال رانقل کړي، چې فرشتې هم په دې ګواه دي.

﴿ وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ﴿٢﴾ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ ﴾ سورة الصافات: ١ - ٣

ترجمه: قسم دي په ملائکو باندې چې صفونه جوړوي صفونه، يا هغه چې شړونکي دي په شړلو سره، بيا هغه چې لوستونکي دي ذکر له (په طريقې د شهادت سره)

او کله د تيرو عالمانو او نيکانو نه نقل کوي چې واه! ما سره خو مخواني عالمان ملګري دي.

﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٢١﴾ ﴾ سورة البقرة 121.

ترجمه : هغه كسان چي وركړي دي مونږ هغوي ته كتاب لولي هغه په لائق لوستلو سره ، دغه كسان ايمان لري په دې باندې او چا چي كفر اوكړو په دې پس دغه كسان خاص دوي تاوان والا دي .

كله نقل دَ جناتو نه كوي چي ما سره خو په دې مسئله كښي جنات هم ملګري دي .
دا مسئله خو جنات هم مني .

﴿ قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا ﴿١﴾ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ﴿٢﴾ ﴾ الجن: ١ - ٢

ترجمه : ته اووايه وحي كړي شوې ده ماته چي يقيناً غوږ ايښي دي يوې ډلې دَ پيريانو نه نو دوي اووئيل يقيناً مونږ اوريدلي دي قرآن نااشنا (مضمون والا) . هدايت كوي حق ته نو ايمان راوړي دي مونږ په دې قرآن باندې ، او هيڅري به شريک نه جوړوو دَ رب خپل سره هيڅوک .

او كله نقل دَ وحوش او طيورو نه چي دا مسئله خو هدهد مولوي صاحب هم منلې وه ، او دا مسئله خو شيخ الحديث ميږي هم منلې ده . نو ته ئې نه مني ؟
دَ ميږي نه كم عقل ئې ، او دَ ميږي نه كم عقله !! ته پوهه نه شوې .

﴿ إِنِّي وَجَدتُّ ٱمۡرَأَةٗ تَمۡلِكُهُمۡ وَأُوتِيَتۡ مِن كُلِّ شَيۡءٖ وَلَهَا عَرۡشٌ عَظِيمٞ ﴿٢٣﴾ وَجَدتُّهَا وَقَوۡمَهَا يَسۡجُدُونَ لِلشَّمۡسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ فَهُمۡ لَا يَهۡتَدُونَ ﴿٢٤﴾ أَلَّا يَسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخۡرِجُ ٱلۡخَبۡءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ۩ ﴿٢٦﴾ ﴾
سورة النمل 23---26.

ترجمه : يقيناً ما موندلې ده يو زنانه چي بادشاهي كوي دَ دوي او وركړي شوي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

هر هغه ضروري څيزونه دَ بادشاهئ او هغې لره دې تخت لوئې شان والا( قيمتي ) .
اوموندله ما هغه او دَ هغې قوم چې سجدې ئې كولې نمر ته سيوا دَ الله تعالي نه ، او ښولې كړې دي دوي ته شيطان عملونه دَ دوي نو منع كړې دي دوي لره دَ حق لارې نه ، پس دوي لار ( دَ حق ) نه مومي .
چې سجده نه خاص كوي الله تعالي لره ، هغه ذات دې چې راوباسي پټ څيزونه په آسمانونو كښې او زمكه كښې او پوهه دې په هغه څيزونو چې تاسو ئې پټوئ او هغه چې تاسو ئې ښكاره كوئ . الله تعالي نشته حق دار دَ بندگې سيوا دَ هغه نه مالک دَ عرش ډير لوئې شان والا دې .

# دليل وحي

دا دې دَ پاره راوړې چې كله معترض اعتراض كوئ چې ته په دې خبره كښې دروغژن ئې ، دَ ځان نه ئې وائې نو دليل وحي راوړې شي چې زه په دې مسئله كښې دروغژن نه يم ، او دَ ځان نه لگيا نه يم ، او دا خبره به ورسره ياده ساتې چې كوم ځائې دليل وحي وي ،كله امرت او كله نهيت سره ذكر كوي او كله تنزيل سره ذكر كوي .
﴿ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلۡبَلۡدَةِ ٱلَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ شَيۡءٖۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ۝٩١ ﴾ سورة النمل 91.

ترجمه : يقيناً امر كړې شوې دې ماته چې خاص بندگي ډِ اوكړم دَ مالک دَ دې ښار هغه ذات چې عزت ئې وركړې دې او دَ هغه اختيار كښې هر څه دي او ما ته امر كړې شوې دې چې څه شم دَ تابعدارئ كؤونكو نه .
ما ته خو وحي شوې ده نو حاصل كه وائې چې ياره ستا په دې خبره زمونږ سر نه خلاصيږي ، مونږ په دې نه پوهيږو، نو جواب دَ عقل نه خلاص شې ، دا خو چې دَ چا معمولي عقل وي ، نو هغوي پرې هم پوهيږي، نو ديكښې څه خبره پاتې ده ، او چې وائي يواځې ئې پكښې نو جواب نقلي او چې وائې چې ته ئې دَ ځان نه وائې نو وحي .

# " الحلف "

دَ دعوې دَ ثابتولو دَ پاره څلورم څيز هغه قسم او حلف دې ، دَ حق او دَ دعوې دَ ثابتولو دَ پاره قسم معروف دې ، لکه

فــــان الحـــــق مقطعـــــه ثـــــلاث
يمــــــين او لقــــــاء او جـــــلاء

دَ حق پريکونکي څيزونه درې دي قسم کول ، مخامخ کيدل ، او يا وطن پريښودل .
دغه شان يو شاعر وائي .

حلفــت فلـــم اتـــرک لنفســـک ريبـــة
ولـــيس وراء الله للمـــرء مطلـــب

قسم مې اوکړو او ستا دَ نفس دَ پاره مې څه شک پاتې نه کړو دَ الله نه علاوه خو دَ بنده مقصود نشته دې ، دَ قسم قسمونه او دَ هغې لنډ بيان دا دې چې اول دَ قسم دوه قسمونه دي، يو قسم دَ عبادت او دويم قسم دَ غير عبادت او دَ خبرې دَ مضبوطيا دَ پاره .

۰۱ قسم دَ عبادت ديته وائي چې قسم کؤونکي دَ چا په نوم قسم کوي نو هغه له عالم الغيب او کارساز متصرف ګڼري چې که زه دَ دې کار خلاف اوکړم نو دا چې زه دَ چا په نوم قسم کوم نو هغه زما دَ حال نه خبردار دې ، او ماله بغير دَ ظاهري اسبابو نفع او نقصان راکولې شي ، په دې عقيده قسم کول دا عبادت دې ، او عبادت دَ الله نه علاوه بل چا له کول دا شرک دې ، دا قِسم قسم دَ الله تعالي په نوم کول دي . لکه سورة الانبياء

﴿ وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ ﴾ سورة الأنبياء: ٥٧

ترجمه : او قسم په الله تعالي چل جوړومه ستاسو معبودانو ته روستو دَ دې نه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

اوګرځئ تاسو شا کوونکي۰

مشرکانو به دَ خپلو آلهو په نوم کله دَ کعبې په نوم قسم کولو یا پختانه وائي دَ لوڼي ځوان قول راکړه دا شرک دې نبي علیه السلام فرمائیلي دي۰

من حلف بغیر الله فقد اشرک

چا چې دَ الله تعالي دَ نوم نه علاوه دَ بل چا په نوم باندې قسم اوکړو نو هغه شرک اوکړو۰

دَ دي حدیث نه هم دا قسم مراد دې۰

دویم قسم چې دَ قسم کونکي دا عقیده نه وي بلکه خبره مضبوطوي او یا بل مقصد وي نو دا قِسم قَسم دَ الله په نوم هم کیږي او دَ غیر الله په نوم هم کیږي ، دا قِسم قسم په عربو کښې دیر زیات وو، قرآن کریم کښې هم دا ډیر استعمال شوې دې ، دا اول په څلور قسمه دې ، په اعتبار دَ مقصود دَ قسم کونکي سره۰

۱۰ چې مقصود دَ قسم کونکي هغه رحمت وي چې کله قسم کونکي الله وي۰

﴿ لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿٧٢﴾ ﴾ سورة الحجر ٧٢

ترجمه : قسم دې ستا په ژوند یقیناً دوي په خپله نشه کښې دي پریشانه۰

او چې کله قسم کوونکې بنده وي نو مقصود دعاء دَ رحمت وي لکه لعمر زید ، ولعمر ابي " یعني دَ زید او یا زما دَ پلار عمر دې ډیر شي "۰

۲۰ چې مقصود دَ قسم کوونکي بددعاء او خیرې وي ، هغه چا ته چې دَ چا په نوم باندې قسم کیږي لکه حسان ؓ فرمائیلي دي۰

ثکلت بنیتي ان لم تروها
تثیر النقع من طرفي الکداء

زه دې په لونړو باندې بور شم که تاسو او نه لیدو دې له چې اوچتوي به ګردونه دَ

كداء په طرفونو - مطلب زه په اولاد غمژن شم -

۳- چې دَ قسم کونکي مقصود هغه ګواهي او دليل پيش کول وي په خپله مدعي باندې يعني چې په کوم څيز باندې قسم کوي نو په هغې کښې دَ دې خبرې ثبوت او دليلونه پراته وي نو دا په خپله خبره او دعوې باندې ګواه کوي لکه فارسي بان شاعر وائي -

قسم به لب ميگونِ تو وزلفِ شب گون تو
که تو محبوب دلربائی

يعني ستا په شرابي شونډو قسم او ستا په تورو زلفو چې دَ محبت قابل ئې
يعني دا شونډې او زلفې په مينه باندې ګواه کوي لکه سورة الصافات ٤ پورې

﴿وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ۝١ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ۝٢ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ۝٣ إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ۝٤﴾

سورة الصافات: ٤

ترجمه : قسم دې هغه ملائکو باندې چې صفونه جوړوې صفونه ، بيا هغه شړونکي دې په شړلو سره ، بيا هغه چې لوستونکي دي ذکر لره ( په طريقې دَ شهادت سره په دې خبره باندې ) چې يقيناً حقدار دَ بندګي ستاسو يو ذات دې -

دا قرآن کښې ډير وي او ديکښې مقسم به او دَ جواب قسم مينځ کښې مناسبت لټول ضروري وي -

٤- کله مقصود دَ قسم کونکي دَ يو کار او دَ واقعې غټ والي ښکاره کول وي نو په دې کښې جواب قسم ته ضرورت نه وي لکه سورة الدخان ٢

﴿وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢﴾ سورة الدخان: ٢

ترجمه : قسم دې په کتاب واضح بيان کونکي -

دلته د قرآن کريم غټ والي ښکاره کول دي جواب ته ضرورت نشته دې - دا قسم به کله دَ مقاصدو اربعو دَ پاره کيږي لکه دَ توحيد دَ پاره

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ﴿١﴾ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ﴿٢﴾ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا ﴿٣﴾ إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿٤﴾ ﴾
الصافات: ١ - ٤

ترجمه : قسم دي په ملائکو باندي چي صفونه جوړوي صفونه ، یا هغه چي شړونکي دي په شړلو سره ، بیا هغه چي لوستونکي دي ذکر له ، په طریقه دَ شهادت سره.

کله په حقانیت دَ قرآن لکه

﴿ فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ ﴿٧٥﴾ ﴾ سورة الواقعة: ٧٥

ترجمه : داسي نه ده زه قسم کوم په ځایونو دَ ستورو باندي.

﴿ إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ﴿٧٧﴾ ﴾ سورة الواقعة: ٧٧

ترجمه : یقیناً دا قرآن دي عزتمند. کله دَ اثبات دَ رسالت دَ پاره

﴿ يس ﴿١﴾ وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٣﴾ ﴾ يس: ١ - ٣

ترجمه : الله تعالي دَ دي په مراد باندي ښه پوهه دي ، قسم دي په قرآن حکمتونو والا باندي. چي یقیناً ته ضرور دَ رسولانو نه ئي.

کله دَ قیامت دَ اثبات دَ پاره

﴿ ۞ وَيَسْتَنْبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾
سورة يونس ٥٣

ترجمه : او تپوس کوي دوي ستا نه آیا حق دي دا عذاب دَ قیامت ، ته اووایه هاؤ قسم دي په رب ځما یقیناً دا خامخا حق دي او نه ئي تاسو بچ کوونکي ځان لره دَ دي عذاب نه.

کله په حالاتو دَ انسان لکه سورة اللیل ابتداء

﴿ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ﴿١﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣﴾ ﴾ سورة اللیل: ١ - ٣

ترجمه : قسم دي په شپه باندي کله چي را اوغوړیږي ، او قسم دي په ورځ باندي کله چي روښانه شي. او قسم دي په هغه ذات چي پیدا کړي دي نارینه او زنانه.

كله په غلطو اوصافو دَ انسان سورة البلد ابتداء كله په خه صفتونو دَ انسان لكه سورة التين ابتداء

﴿ وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ۝١ وَطُورِ سِينِينَ ۝٢ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ۝٣ ﴾ التين: ١ - ٣

ترجمه : قسم دي په اينځر او په خونه باندې ، او په طور تک شين (يا رڼرا والا) باندې ، او قسم دې په دې ښار امن والا باندې .

## "وضاحت دَ دعوی"

قرآن كريم دَ وضاحت دَ پاره مثالونه بيانوي قرآن كريم دَ عربو په لهجه باندې نازل شوې دې ، هغوي به مثال ذكر كوو نو قرآن هم مثال ذكر كوي ، قرآن كريم كښې تقريباً ٤٤ مثالونه ذكر شوي دي نو كه مثال راغلې وي نو دَ پاره دَ وضاحت دَ مسئلې به وي، نو هلته به اعتراض كونكي اووائي چې پاره دا مسئله مونږ ته څه خره عونته كښې ښكاريږي ، مونږ پرې سم نه پوهيږو ، جواب ته اوګوره داسې مثال چې داسې داسې شي نو منې ئې ! نو زمونږ دا هم اومنه كنه ! دا څه دومره ګرانه خبره نه ده ،

﴿ تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ۝٢٥ ﴾ سورة إبراهيم: ٢٥

ترجمه : وركوي ميوې خپلې هر وخت په حكم دَ رب خپل سره او بيانوي الله تعالى مثالونه خلقو له دَ دې دَ پاره چې نصيحت ترې واخلي .

﴿ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۖ وَمَا يَعْقِلُهَآ إِلَّا ٱلْعَٰلِمُونَ ۝٤٣ ﴾

سورة العنكبوت: ٤٣

ترجمه :او دا مثالونه بيانوو مونږ دَ پاره دَ خلقو او نه پوهيږي په دې باندې مګر عالمان .

﴿ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ۝٢٧ ﴾ سورة الزمر:

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او يقيناً بيان كړي دي مونږ خلقو ته په دې قرآن كښې دَ هر قسم وعظونو نه دَ دي دَ پاره چي دوي نصيحت قبول كړي.

# ادخال الهی

وضاحت دَ مسئلې دَ پاره إدخال الٰهي او كله مثال راوړي ، كله چې آيتونه اوګوري يوه واقعه به شروع وي په مينځ كښې به داسې يوه جمله راوړي چې مخكښې او روستو سره به څه جوړ نه وي ،دا به دَ مسئلې دَ وضاحت دَ پاره دَ الله دَ طرفنه خصوصي فرمان او خطاب وي چې استاذان ورته ادخال الهي وائي ، او نحاة ورته جمله معترضه وائي زما محبوب او محترم استاذ علامه نيلوي صاحب به ورته فرمان شاهي وئيلو . لكه سورة العنكبوت ١٦ نه واقعه شروع ده دَ ابراهيم عليه السلام او مينځ كښې فما كان جواب قومه ٢٤ آيت ادخال الهي دي.

فما كان نه واقعه ده او مينځ كښې ادخال الهي دي ، سورة المومن ٢٨ ان الله لا يهدي ....... دا ادخال الهي ٣٠ ومن يضلل الله سره ادخال الهي.

# " القصص "

دَ واقعې دَ وضاحت دَ پاره ځكه قصص بيان كړې چي دَ هغې نه معلومات اوكړه ،قرآن كريم دَ تيرو واقعات دَ مختلفو مقاصدو دَ پاره بيانوي ، تاريخ كتلو ته ترغيب وركوي چي په دې واقعاتو كښې ځان اوګوره دَ واقعاتو فائدې ته اشاره كوي.

﴿ وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾ ﴾، سورة هود ١٢٠.

ترجمه : او هر يو لره بيانوو مونږ په تا باندې دَ خبرونو دَ رسولانو نه هغه چي ټينګوو په هغې سره زړه ستا او راغلي دي تاته په دې قصو كښې حق بيان او نصيحت او

يادداشت دَ پاره دَ مومنانو .

﴿ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ۗ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١١١﴾ ﴾

سورة يوسف ١١١،

ترجمه : يقيناً شته دَ دوئ په دي بيان حال کښي لوئي عبرت پوره عقل والو لره ، نه دي دا قرآن خبره دَ ځان نه جوړه کړي شوي ليکن ( نازل کړي شوي دي ) دَ پاره دَ تصديق دَ هغه کتابونو چي مخکښي دَ دي نه وو او دَ پاره دَ وضاحت دَ هر ضروري خبري او دَ پاره دَ هدايت او دَ رحمت هغه قوم لره چي ايمان راوړي .

دَ دي ځائي پوري هغه خبرې بيان شوې چي دَ کومو سره دَ دعوې اثبات او وضاحت راتلو ، اوس هغه خبرې چي يو داعي دعوت دَ مسئلې ورکوي نو هغه ته دَ څه خبرو ضرورت راځي نو هغه څو څيزونه دي ، تشجيع ، امور مصلحه ، تسلي امتحانات ، طرق دَ تعليم ، اوس دَ هر يو لړ لړ وضاحت اول

## التشجيع

کله به آيت کښي ترغيب وي ، بيان دَ دعوې دَ پاره چي داعي ته وائي شابه نر شه !! بهادر شه او دا مسئله بيان کړه ، او که خوک دي مني نه ، نو نه دې مني ستا دي سره څه کار نشته دي ، که مني نو اومني دې ، ګني نو نه دي مني .

عرفی تو می اندیش زِ غوغائے رقیباں
آواز سگاں کم نکند رزق گداراں

اي عرفي !! دَ رقيبانو دَ شور څه فکر مه کوه ، دَ سپو په آواز سره دَ فقير په رزق کښي کمې نه راځي . ستا کار آواز کول دي ، ته خو خپل آواز لګوه ، دا خو نه ده چي سړې آواز لګوي او دا وائي چي فلانکي کور والا رانه څه نه اخلي . نو زه به دې کوځي ته نه راځمه . بنجاري په آواز کولو باندې پړ وي ، که خوک څه اخلي او که نه ئې اخلي .

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ته هم په آواز باندې پرېږي - نو آواز اولكوه.

چلاکی آنچه حق بنی بیان کن
نه هرگز فکر آواز سگاں کن
که از فطرت سگ او این بخواهد
که آواز خوش داری بیان کن

وائي چلاسي چې كومه خبره درته حق ښكاره شي نو بيان ئې كړه دَ سپو آوازونو فكر مه كوه ، ځكه چې دا دَ سپي په فطرت كښې پرته ده ، دا خبره چې ستا خو دير ښكلې آواز دې ، نو دا ښكاره كړه ، نو دَ خلقو دَ اعتراضونو او دَ نه منلو فكر مه كوه ، مسئله صاف صاف بيان كړه.

نو داعي ته چې دَ بيان ترغيب وركوي نو تشجيع ، بهادر كول ، نر كول دَ هغې دَ پاره كله نمونې بيان كړي -

﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ نُوحٍ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُم مَّقَامِى وَتَذْكِيرِى بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوٓا۟ أَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً ثُمَّ ٱقْضُوٓا۟ إِلَىَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿٧١﴾ ﴾ سورة الاعراف 71.

ترجمه : او بيان كړه په دوئ باندې خبر دَ نوح (عليه السلام ) كله چې اووئيل هغه قوم خپل ته اې قومه ځما كه ګران وي په تاسو باندې اودريدل ځما او بيانول ځما آيتونو دَ الله تعالي لره پس په الله تعالي باندې ځان سپارلې دې ما په پس كلك كړئ تدبير خپل ، او راوبلئ شريكان خپل بيا دِ نه وي تدبير ستاسو په تاسو باندې پټ بيا تكليف راكړئ ما ته ځامخ او مهلت مه راكوئ ما ته .

## امور مصلحه

او امور مصلحه ذكر كوي ، چې نيك اعمال كوه هسې نه چې زړه دې دوا دول شي ،

خکه چې تکالیف زیات شي نو زړه کنبې ورسره خفکان راځي نو چې تعلق الله تعالی سره وي نو زړه مضبوط وي نو په نیک عملونو زړه مضبوطیږي نو کله درمیان کنبې دا ذکر کړي.

﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴿١٥٣﴾ ﴾ سورة البقرة ۱۵۲، ۱۵۳.

ترجمه : پس یادوئ ما لره زه به یادوم تاسو او احسان منئ زما او ناشکري مه کوئ خما. اې ایمان والو امداد حاصل کړئ په صبر کولو او مونځ کولو یقیناً الله خاص ملګرې دَ صبر کوؤنکو دي.

## التسلیة

او کله ورته تسلي ذکر کوي چې هغه مونږ ته پته ده، چې ډیر تکلیف دې درته خو درد زمونږ دَ وجې نه دې خیر دي، زما دَ وجې نه درد برداشت کړه، دنیا دار ئې دنیا له برداشت کوي نو ته ئې زما دَ پاره برداشت کړه، نو داډګیرنه ورکوي، لکه

﴿ قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾ سورة الانعام ۳۳

ترجمه : یقیناً پوهیږو مونږ چې خامخا خفه کوي تا لره هغه خبرې چې دوي وائې پس یقیناً دوي دروغژن نه ګنړي تا او لیکن ظالمان دَ آیاتونو دَ الله تعالی نه انکار کوي.

## بیان دَامتحاناتو

چې کله داعي بیان کوي نو په ده باندې تکالیف او امتحانات راځي نو قرآن ده ته ښائي چې په تا باندې به امتحانات راځي هغه امتحاناتو ته شیخ القرآن عقبات وائي، عقبه غونډې ته وائي، هغه شپږ امتحانونه دي نو دا شپږ غونډې به پار کول غواړي په

Maktaba Tul Ishaat.com

دې به ختل غوارې هغه په سورة الانعام کښې ذکر کوې په لفظ دَ کذالک سره چې دا همیشه قانون دې چې په حق پرستو باندې راځي ،شیخ صاحب ؒ دَ پنځې به ورته وجوه د انکار ونیل عقبات به ترتیب سره ،

اول امتحان دَ استهزاء تر حده چې ته نن ملا شوې او مسئله کوې ۰

﴿ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾ سورة الأنعام: ٥٣

ترجمه : او دغه شان همیشه ازمایو بعض دَ دوې په بعضو سره عاقبت دا چې اووائي دوې (منکرین) آیا دا هغه کسان دي چې احسان کړې دې الله تعالې په دوې باندې دَ مینځ زمونږ نه ، نو آیا نه دې الله تعالې خه پوهه په شکر کونکو باندې ۰

دویم امتحان چې یواځې دا مسئله دې زده کړې ده ، بله مسئله چرته بیان کړه لکه

﴿ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٥٥﴾ ﴾ سورةالانعام ٥٥۰

ترجمه : او دغسې (همیشه ) تفصیل کوو مونږ دَ آیاتونو (دَ توحید) (چې ښکاره شي حق ) او ښه ښکاره شي لار دَ مجرمانو۰

دریم امتحان دَ استاذ پورې دَ خنده پورې چې دا مسئله دِ دَ چا نه زده کړې ده۰

﴿ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ وَلِيَقُولُواْ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾ ﴾
سورةالأنعام: ١٠٥

ترجمه : او دغسې قسما قسم بیانوو مونږ آیاتونه (دَ توحید دَ پاره دَ دې چې پوهه شي دوې ) او دوې وائي تا لوستلې دي (دَ فلاني نه ) او دَ پاره دَ دې چې بیان کړو دا هغه قوم ته چې نه پوهیږي۰

څلورم امتحان ، اوس به ملیان او پیران راجمع کوې مناظره به کوې۰

﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾ ﴾ سورة الأنعام: ١١٢

**ترجمه** : او دغسې گرځولي دي مونږ هر پیغمبر له دشمنان شیطانان دَ انسانانو او پیریانو وسوسې اچوي بعض دَ دوي بعضو ته (دروغ) ډولي کړي شوي خبري دَ پاره دَ دهوکه کولو، او که غوښتي رب ستا (ایمان دَ دوي ) نو دوي به دا کار نه وي کړي نو پريږده دوي سره دَ هغې چې دوي ئې دروغ جوړوي ۰

پنځم امتحان ،دَ کلي ملکان، مشران ، به راجمع کوي چې دَ ده غم پکار دي ۰

﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾ ﴾ سورة الأنعام: ١٢٣

**ترجمه** : او دغسې گرځولي دي مونږ په هر کلي کښې غټان خلق مجرمان دَ هغې (کلي ) دي دَ پاره چې چل ول کوي په هغه کلي کښي ( په خلاف دَ حق کښې ) او نه کوي چل ول مکر په ځانونو خپلو او دوي نه پوهیږي ۰

شپږم امتحان اوس به حاکمانو ته رپورټ کوي چې دې شر خوروي او ملک کښي جنګ روا کړي ۰

﴿ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾ ﴾ سورة الأنعام: ١٢٩

**ترجمه** : او دغسې ملګري کوو مونږ بعض ظالمان دَ بعضو سره په سبب دَ هغه عملونو چې دوي ئې کوي ۰

آخري تقرير دَ مبلغ په ١٣٥ کښې ذکر کوي تفصيل ئې درس کښې راځي ۰

# "طریقی دَ تعلیم"

ښکلي انداز سره بیان کوه **قولا له قولاً ليناً** وائي (دواړه ) ده ته وینا نرمه ، مسئله کرمه کوه خو په نرم انداز سره ۰

﴿ ٱذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِى وَلَا تَنِيَا فِى ذِكْرِى ﴿٤٢﴾ ﴾

لهجه نرم مسئله کرم ، په ښکلي انداز بیان اوکړه ، نو طرق دَ تعلیم هم بیان کړي ، دا

Maktaba Tul Ishaat.com

مكي سورتونو کښې زيات وي په لفظ دَ قل سره اکثر زيات وي .
دَ دغه خبرو ضرورت داعي ته وو ، کله داعي خلقو او عوامو ته دَ څنو خبرو ضرورت راځي دَ دې دَ پاره چې دوي خبره اومني نو داعي کله ترغيب ورکوي کله منع دَ مينې دَ دنيا نه ، او کله دَ غلط ماحول نه منع کوي او دَ خو ملګرو ترغيب ورکوي اوس دَ دې خبرو وضاحت اول ،

## "الترغيب"

دَ ترغيب مطلب دې يعني شوق او مينه راپورته کول قرآن کريم کله اوريدونکو ته ترغيب ورکوي ،منلو ته ترغيب ورکوي چې اومنه کنه ! هغه درته لګيا دې او غريب بيان کوي ، او تاسو غوږ منګي ئې ، دَ تس نه مس کيږي نه .
دَ سپي لکې ئې ، چې ټول عمر په سانچه کښې پرته ئي او چې رابهر ئې کړي نو بيا هغه شان کږه وي . دا مو ځان له څه کار کتلي دې لکه خبره خو اومنې کنه ! الله به درله دا درکړي.

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾ سورة المائدة: ٦٦

**ترجمه** : او که دې خلقو عمل اوکړو په تورات او په انجيل او په هغه کتاب چې نازل کړې شوې دوي ته دَ طرفه دَ رب دَ دوي نه خامخا خوراک به کړي وې دوي دَ پورته دَ دوي نه او لاندې دَ خپو دَ دوي نه . بعض دَ دوي نه ډله حق پرسته ده ، او ډير دَ دوي نه بد دي هغه عملونه چې دوي ئې کوي .

## التزهيد من الدنيا

دريم رکاوټ په منلو کښې دنيا ده نو قرآن کريم دَ الله تعالي کتاب دې ، او الله تعالي دَ خلقو په مزاج او په طبيعت پوهيږي په دين کښې لوئې رکاوټ او ديوال هغه دَ دنيا

محبت دي ، كله چې يو عالم بيان نه كوي نو هم هغه ورته ركاوټ شي او چې كله خوک نه مني نو هم دنيا ورته ركاوټ شي، نو دَ نه منلو يو وجه دنيا ده نو قرآن دَ دې بيان كوي .

## لا تغرنكم الحيوة الدنيا

نو قرآن دا يو مضمون ذكر كوي او ديته تزهيد من الدنيا وائي ، يعني دَ دنيا نه زړه مړول نو تزهيد من الدنيا ذكر كوي.

## بائيكاټ دَ دشمنانو نه

دَ نه منلو بله وجه غلط ماحول اوغلط ملګري دي نو دَ شيطان دَ ملګرتيا او دَ شيطانانو ملګرو دَ ملګرتيا نه منع كوي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٥ ﴾ سورة فاطر(٥)

ترجمه : اې خلقو يقيناً وعده دَ الله تعالي حقه ده نو نه دې دهوكه كوي تاسو له ژوند دنيوي او نه دې دهوكه كوي تاسو په الله تعالي باندې دهوكه دركوونكې .

﴿ وَإِذَا رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَلَا تَقۡعُدۡ بَعۡدَ ٱلذِّكۡرَىٰ مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٦٨ ﴾ سورة الانعام ٦٨

ترجمه : او كله چې ته اووينې هغه كسان چې (ناروا) بحث كوي په آياتونو زمونږ كښې نو مخ واړوه دَ دوي نه تر دې چې مشغوله شي دوي په نورو خبرو كښې او كه چرې هير كړي ستا نه شيطان نو مه كينه روستو دَ ياداشت نه دَ قوم ظالمانو سره.

## ترغيب ملګرتيا دَ نيكانو ته

نو دَ غلطو ملګرو نه خان بچ كړه او ترغيب ذكر كوي ملګرتيا دَ موحدينو ته لكه سورة الكهف ٢٨ ترغيب الي موالات الموحدين .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَٱصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ وَلَا تَعْدُ
عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُۥ عَن ذِكْرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ
أَمْرُهُۥ فُرُطًا ﴿٢٨﴾ ﴾ سورة الكهف: ٢٨

ترجمه : او ټينګ کړه خان خپل دَ هغه کسانو سره چې حاجتونه پيش کوي رب خپل ته صباني او بيګاني غواړي دوي رضامنتيا دَ الله او وادې نوړي سترګې ستا دَ دوي نه چې غواړې ته ډول دَ ژوند دنيوي او خبره مه منهٔ دَ هغه چا چې غافل کړې دې مونږ زړه دَ هغه دَ ذکر زمونږ نه او روان دې په خواهش خپل پسې او دې کار دَ هغه دَ حد نه تيريدل۰

نو دا وائي چې شيطان مو دشمن دې ، دَ دوستې لاس مه ورکوه ، دَ کافرو او دَ غلط ماحول نه بائيکاټ اوکړه۰

# "الابتلاء بالنعم والنقم"

داهم دَ منلو دَ پاره يو ممد او معاون دي نو قرآن دا ذکر کوي۰ کله به اووائي اوګوره خوشحالي مي درباندې کړې ده ، او بيا هم شکر نه اوباسې ؟ راشه کنه او شکر اوباسه ۰

او مسئله اومنه او کله اووائي عذابونه مي درباندې نه وو راوستي نو ولي اوس ئې درباندې نشم راوستې ؟

چې کله حق پرست نه وي راغلي نو په خلقو حالات سم وي هر څه لس په لس وي نو خلقو له شکر کول پکار وي ، او مسئله منل پکار وي ، نو دا دَ نعمتونو امتحان وي ، چې کله حق پرست راشي او حق بيان کړي او دَ هغې نه روستو خلق انکار اوکړي نو به دوي باندې مصيبتونه شروع شي ، حالات بدل شي نو دوي وائي چې دا خلق راغلي دي نو په مونږ باندې باران نه کيږي دا سپيرهٔ دې۰

انا تطيرنا بکم " دا وئيل شروع کړي نو دَ دې نه فائده اغستل پکار وو چې دا

حالات څکه بدل شو چې مونږ دَ الله تعالي حکمونه چې په مونږ باندې فرض وو هغه مو بدل کړل .

﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ ۙ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٣﴾ ﴾ سورة الأنفال: ٥٣

ترجمه : دا عذاب په دې وجه دې چې يقيناً الله تعالي نه دې بدلونکې نعمت له چې کړې وي هغه په يو قوم باندې تردې چې دوې بدله کړي هغه عقيده چې زړونو دَ دوې کښې ده ، او ( پوهه شئ) چې يقيناً الله تعالي هر څه اورې په هر څه پوهه دې .

قرآن کريم دا ابتلاء کله په يو حالت او کله په بل حالت باندې ذکر کوې .

﴿ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَوا۟ وَّقَالُوا۟ قَدْ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩٥﴾ ﴾ سورة الأعراف: ٩٥

ترجمه : بيا بدل کړه مونږ په ځائې دَ سختې خوشحالي تردې پورې زيات شو دوې او اووئيل دوې چې يقيناً رسيدلې دې مشرانو زمونږ ته تکليفونه او خوشحالئ نو اونيول مونږ دوې له ناڅاپه ، او دوې نه پوهيدل .

# دويم فصل

## "الدعوة بالموعظة"

دويم قسم دعوت په نصيحت سره دَ موعظة حسنه مطلب دا چې داسې خبرې کول چې په هغې سره زړونه نرميږي او سترګو کښې اوښکې راشي په ځانسته انداز سره داسې خبرې بيانول چې په هغې کښې دَ هغوي نالائقو خبرو رد وي او نيک عملونو ته شوق راوچتول وي او دَ بدو نه منع کول وي دَ دې دَ پاره خلق پيژندل ضروري وي نو غټ قسمونه دَ خلقو درې دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

# دَ خلقو درے قسمونه

چې کله په دغه انداز باندې بیان اوکړې نو اوس دَ بیان نه روستو به خلق درې قسمه شي.

۰۱ صاف منونکي، نعره تکبیر والا، نو هغوي به اووائي، الله اکبر نو منونکي خلق اولئک هم المفلحون.

۰۲ سکوت انکار کونکي صاف نه منونکي. چې وائي مونږ پکښې نه یو، بهائي مونږ ته به دامسئلې نه کوې، ضدیان، عنادیان، منکر،
ختم الله علي قلوبهم الآیة.

۰۳ دریم قسم به هغه خلق وي درمیانه، شیخ صاحب دَ پنجپیر قصه کوي چې سړې خیرات ته تلې وو نو بره ئې اوکتل او بیا ئې ښکته اوکتل، نو واپس شو، چا ورته وئیل ولې واپس شوې؟ نو هغه اووئیل چې په یوه دروازه باندې ئې لیکلي وو، باب الرجال او په دویمه دروازه باندې ئې لیکلي وو باب النساء نو زه په یو کښې هم نه وم. په هیڅ کښې چې نه وي هلک وي خو دَ جینې په وار پیدا وي، نو دا نر ښځې غوندې وي، نو المنافقین.

پنج پیر شیخ صاحب ورته کله کله هیں!! هیں !!دله وائي، او ویسا شیخ صاحب ورته جي حضور !! دله وائي.

دا درې واړه دلې په سورة الحج ۵۲ نه تر ۵٤ پورې ذکر دي،

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا۟ بِهِۦ

فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾

سورة الحج 52...54.

**ترجمه** : او نه دي ليږلي موږ ستا نه مخکښي هيڅ رسول او نه نبي عليه السلام مګر هر کله چي هغه لوستل کول غورځولي شيطان( وسوسي به زړونو ذ خلقو کښي ) په وخت ذ لوستلو ذ هغه کښي نو وران کړل الله هغه شبهات چي اچول شيطان بيا ټکګ اوساتل الله تعالي آيتونه خپل او الله تعالي پوهه دي او حکمتونو والا دي .

(ذ دي مقصد ذ پاره ) چي اوګرځوي هغه شبهي چي اچوي شيطان امتحان هغه کسانو له چي په زړونو ذ هغوي کښي مرض دي ، او ذ سختو زړونو والو له ، او يقيناً ظالمان خامخا په دشمنئ لري کښي دي .

او ذ دي ذ پاره چي يقين اوکړي هغه کسان چي علم ورکړي شوي دي چي دا حق دي ذ طرف ذ رب ستا نه نو ايمان به راوړي په دي باندي نو نرم به شي دي ته زړونه ذ دوي او يقيناً الله تعالي رسوي مومنانو له لاري نيغي ته .

في قلوبهم مرض منافقان شو، القاسية قلوبهم منکر شو، اوتوا العلم مومنان شو . قرآن کريم دا دري واړه ډلي ذکر کوي ، کله قرآن منافقان او کافران په يو حساب کړي ځکه په انکار کښي شريک وي نو ډلي دوه شي يو منونکي او دويم نه منونکي .

نو پس ذ بيان نه به خلق دري ډلي شي ، نو هر يو سره ذ هغه مناسب خبره کول پکار دي . په دعوت بالموعظه کښي غټ دري ځيزونه دي چي په هغې سره دعوت ورکولي کيږي ،زجر ، تخويف ، بشارت دا هر يو ذ هرې ډلي سره ذ هغوي مناسب وي .

# "الزجر"

زجر رټلو او زورلو ته وائي ، لکه والزاجرات زجرا، رټونکي او يا زوروونکي فرشتي يا آيتونه ، نو په څنو آيتونو کښي په يو نالائقه کار زورنه او رټنه وي چي کله زورنه وي کافرانو يعني نه منونکو ته ، کله هغوي ذ مقاصدو نه انکار اوکړي نو په انکار ذ مقاصدو زورنه ورکوي ځکه اصل زجر او زورنه نه منونکو ته کيږي لکه شاه ولي الله صاحب فرمائي .

Maktaba Tul Ishaat.com

## شرع الله الزواجر ليزجر بها العصاة[1]

زواجر الله تعالي مقرر كړي دي چي نافرمانه پرې اورټي . نو مشركانو ته كله په شرك كولو كله په انكار دَ توحيد ، قرآن ، پيغمبر او دَ آخرت زجر وركړي شي . رټنه او زورنه په انكار دَ توحيد .

﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿١٨﴾ ﴾ سورة يونس 18.

ترجمه : او بندګي كوي دا خلق سوا دَ الله تعالي نه دَ هغه چا چي نه ضرر او نه نفع رسولي شي دوي ته او وائي دوي چي دا كسان سفارشيان زمونږ دي په دربار دَ الله تعالي كښي اووايه ته آيا تاسو خبر وركوئ الله تعالي ته په هغه څيز چي نه پيژني الله تعالي په اسمانونو كښي اونه په زمكه كښي (يعني موجود نه دي ) پاک دي الله تعالي او لوئي دي دَ هغې نه چي دوي شريكوي .

رټنه او زورنه په انكار دَ توحيد .

﴿ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾ ﴾ سورة النحل 72.

ترجمه : او بندګي كوي دوي سوا دَ الله تعالي نه دَ هغه چا چي نشي وركولي دوي ته روزي دَ آسمانونو نه او دَ زمكي نه هيڅ قسم او نه ئي وس رسي .

رټنه او زورنه په انكار دَ قرآن كريم .

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ ۙ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِىٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ

---

[1] (تفهيمات الاهية).

إِلَيَّ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ سورة يونس 15.

ترجمه : او هر كله چي بيان كړېشي په دوي باندي أيتونه زموږ صفا صفا نو وائي هغه كسان چي نه لري عقيده د ملاقات زموږ ، راوړه يو قرآن علاوه د دي نه يا بدلون اوكړه په دي كښي ، اووايه ته نه دي جائز ماله چي بدلي اوكړم په دي كښي د طرف خپل نه ، نه كوم تابعداري ره مګر د هغي چي وحي كيدېشي ماته يقيناً زه ويريږم كه نافرماني اوكړم د رب خپل نه ( په بدلولو د قرآن سره ) د عذاب د ورځي لوئي نه .

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾ ﴾ سورة الفرقان 32.

ترجمه : او وائي هغه كسان چي كفر ئي كړي دي ولي نشي نازليدي په ده باندي قرآن په يو ځل دغسي ( نازل كړي دي موږ ) د باره د دي چي كلك كړو به دي سره زړه ستا او وضاحت كړي دي موږ د دي په پوره وضاحت سره .

رټنه او زورنه په انكار د پيغمبر باندي .

﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُكُمْ وَقَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ ﴾ سبا 43.

ترجمه : او كوم وخت چي اولوستلي شي په دوي باندي آياتونه زموږ ښكاره دوي وائي نه دي دا مګر يو سړي دي غواړي چي واړوي تاسو له د بندګئ د هغه چا نه چي بندګي كوله مشرانو ستاسو او دوي وائي نه دي دا مګر دروغ جوړ كړي شوي .

﴿ أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٨﴾ ﴾ سورة الفرقان 8.

ترجمه :يا ولي نه راغورځيديشي ده ته خزانه او يا ولي نشته ده له باغ چي خوري د هغي نه ، او وائي ظالمان تابعداري نه كوي تاسو مګر د سړي چي ليوني شوي دي په جادو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره.

زورنه او رټنه په انكار دَ آخرت.

﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾ ﴾ يس 48.

ترجمه : او وائي دوي كله به وي دا وعده كه تاسو رشتني يئ.

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَأْتِينَا ٱلسَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٣﴾ ﴾ سبا: ٣

ترجمه : او وائي هغه كسان چي كفر ئې كړې دې نه راځي مونږ ته قيامت ، ته اووايه ها ! قسم دې په رب زما راځي به قيامت ، عالم دې په الله تعالي په ټولو غيبو باندې نشي پټيدلې دَ هغه نه په وزن دَ يو ذرې په اسمانونو كښې او نه په زمكه كښې او نيشته وروكې ددې نه او نه لوئې مگر په كتاب ښكاره كښې دې.

داسې نور په غلطو عملونو دَ هغوې زورنه وركوي - لكه په اتباع دَ گمان.

﴿ وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ ﴾

يونس 36.

ترجمه : او نه كوي تابعداري (په شرک كولو كښې )دير دَ دې خلقو نه مگر دَ گمان ، يقيناً گمان فائده نه وركوي دَ حق په باره كښې هيڅ، يقيناً الله تعالي پوهيږي په هغې چې دوي ئې كوي.

زورنه په تابعدارې دَ مشرانو په مقابله دَ قرآن كښې.

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۗ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ ﴾ سورة البقرة 170.

ترجمه : او هغه وخت چې اوونيلي شي دوي ته تابعداري اوكړئ دَ هغه څه چې نازل كړي دي الله تعالي دوي وائي (نه ) بلكه تابعداري كوو مونږ دَ هغې طريقې چې موندلې

دي موږ په هغې باندې مشران خیل اګر چې وو دا مشران دَ دوي داسې چې نه پوهیدل په هیڅ څیز باندې او نه ئې لار موندلې وه.

﴿ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَـٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا۟ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ ﴾ الأنعام: ١٣٧

ترجمه : او دغسې ښولې کړې دي ډیرو مشرکانو ته وژل دَ بچو خپلو (محبت )دَ شریکانو دَ دوي دي دَ پاره چې هلاک کړي دوي او ګډوډ کړي په دوي باندې دین دَ دوي، او که غوښتي الله تعالي نه به وې کړي دوي دا کار، نو پریږده دوي سره دَ هغې چې څه دروغ جوړوي.

په نه منونکو کښې اهل کتاب هم دي نو کله هغوي ته دَ هغوي په غلطو اعمالو زورنه ورکړي ، او منافقین هم دي ، نو هغوي ته دَ هغوي په نفاق دورنګې دغه شان په غلطو عملونو زورنه ورکړې ، کله کله مومنانو ته هم زورنه ورکړي دَ هغوي په سستي باندې یا په ځنې بدو خویونو باندې په ترک دَ جهاد یا په ترک دَ انفاق وغیره باندې زورنه ورکړې شي.

## "التخويف"

تخویف دَ خوف نه دي او یرولو ته وائي ، کله الله تعالي نه منونکو ته یره ورکوي ، چې تاسو نه منې او په کومه لار روان ئې ، نو دا لار ډیره خطرناکه ده ، په دیکښې داسې داسې خطري راروانې دي ، نو دَ قِسما قِسم خطرو نه ئې یروي.

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَـٰبِ ٱلْفِيلِ ﴿١﴾ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِى تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍۭ ﴿٥﴾ ﴾ سورة الفيل: ١ - ٥

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : آیا نه ګورې ته چې څنګه کار اوکړو رب ستا دَ هاتیانو والو سره ، آیا او نۀ نه کړخوږ چل ول دَ هغوی بې کاره ، او را اولیږل ئې په هغوي باندې مارغان ډلې ډلې ، ویشتل ئې هغوی له په کانړو دَ پاخه کړو شوو نه په اور کښې ، نو اوګرځول ئې هغوي په شانته دَ بوسو خوړلې شوؤ .

﴿ تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ١ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ٢ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ٣ وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ٤ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍۭ ٥ ﴾

المسد: ١ – ٥

ترجمه :هلاک شول دواړه لاسونه دَ ابولهب او هلاک شو ، فائده ورنکړه ده ته مال دَ ده او هغه خیز چې ده ګټلې وؤ، زر دې چې ورننوځي به اور لمبو والا ته ، او ښځه دَ ده چې راوچتوونکې دَ خشاک ده ، په سټ دَ هغې کښې رسئ ده دَ پوستکي دَ کجورو.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَآ أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرْهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ٥ ﴾

سورة إبراهيم: ٥

ترجمه : او یقیناً مونږ لیږلې وو موسي (علیه السلام ) په آیتونو خپلو سره چې اوباسه قوم خپل دَ تیارو نه رڼرا ته او وریاد کړه دوي ته عبرتناک واقعات دَ الله تعالي ، یقیناً په دیکښې دلیلونه دي هر ډیر صبرناک او ډیر شکرګذار له .

دَ تخویف غټ درې قسمونه دي ، دنیوي ، برزخي او اخروې .

## تخویف دنیوی

دَ دنیا دَ عذاب نه یرول چې تاسو دا کوم عمل کوې نو دَ دې د دنیا نتیجه ډیره خطرناکه ده ، تباه او برباد به شې او دې سره دَ تیرو قومونو نمونې هم ذکر کړې دي چې دا فلانکې فلانکې سره دَ طاقتونو او هنرونو مې تباه کړي وو .

﴿ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِي ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَـٰسِـِٔينَ ٦٥

﴿ فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾

سورة البقرة ۶۵، ۶۶.

ترجمه : او په تحقيق سره پوهه ئي تاسو په حال دَ هغه چا چي زياتې ئي کړې وو ( دَ حد شرعي نه ) ستاسو نه په ورځ دَ حالي کښي پس اووئيل مونږ دوي ته چي شئ شادوګان ذليلان . پس اوګرځوله مونږ دا قصه عبرت هغه چا لره چي حاضر وو هغه وخت او هغه چا لره چي روستو وو او وعظ دَ پاره دَ پرهيزګارانو (د دې امت ) .

نموني هم ذکر کوي لکه

﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾ ﴾

سورة مريم ۹۸،

ترجمه : او ډير هلاک کړي دي مونږ دَ دوي نه وړاندې قومونه (پيړئ) آيا وينې ته دَ دوي نه څوک يا اورې ته دوي له کشار .

﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ
وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ
وَلَٰكِن كَانُوٓا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾ ﴾ سورة عنكبوت ۴۱ .

ترجمه : پس هر يو لره او نيؤو مونږ په ګناه دَ هغه سره پس بعضي دَ دوي نه هغه دي چي راوليږله مونږ په هغوي باندې سيلئ کاڼړي ويشتونکي او بعضي دَ دوي نه هغه دي چي اونيوۈ هغوي لره تيزې چغې او بعضي دَ دوي نه هغه دي چي خخ کړو مونږ په زمکه کښي او بعضي دَ دوي نه هغه دي چي غرق کړي دي مونږ او نه وو الله تعالي چي دوي باندې ظلم کړي وي ليکن بعضي دَ دوي نه هغه دي چي غرق کړي دي مونږ او نه وو الله تعالي چي دوي باندې ظلم کړي وي ليکن دوي په ځانونو خپلو باندې ظلم کوو.

شاه ولي الله رح ديته التذکير بايام الله وائي ، مونږ ورته تخويف دنيوي دَ دنيا يره وايو.

Maktaba Tul Ishaat.com

# تخويف اخروي

يعني دَ آخرت دَ عذاب نه يره چې تاسو په کوم عمل روان ئې ، نو دَ دې دَ آخرت نتيجه داسې ده ... اور دې جهنم دې ، او تباهي ده .

﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰاْ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ ﴾ البقرة: ٢٧٥

ترجمه : هغه کسان چې خوري سود نه به پاسيږي دَ قبرونو نه ، مګر پشان دَ پاسيدلو دَ هغه چا چې ګډوډ کړې وي هغه شيطان ، (سرکش پيرې ) دَ وجې دَ ليونتوب نه ، دا خکه چې يقيناً دوي وائي يقيناً خرخول پشان دَ سود دي ، او حلال کړې دي الله تعالي خرخول او حرام کړې ئې دي سود نو هغه څوک چې راغې هغه ته وعظ دَ طرف دَ رب دَ هغه نه نو منع شو نو ده له هغه ده چې مخکښې تير شوې دي ( يا ورکړې دې ) او معامله دَ ده سپارلې شوې ده الله تعالي ته او څوک چې راوګرځيدلو حلال ګنړلو دَ سود ته نو دغه کسان اور والا دي دوي به په هغې کښې هميشه وي .

په آخرنې حصه دَ قرآن کښې تخويف دَ آخرت زيات دې .

# تخويف برزخي

يعني دَ قبر دَ عذاب نه يرول دَ دنيا او دَ آخرت په مينځ کښې يو دور دې دَ قبر او برزخ چې په هغې کښې نافرمانو ته عذاب ورکولې کيږي

﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ ﴾

طه: ١٢٤

ترجمه : او چا چې مخ واړوو دَ یاداشت زما نه پس یقیناً هغه له ژوند تنګ دي ، او رابورته به کړو دې په ورځ دَ قیامت روند .

﴿ وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ ٱلظَّـٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ۖ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَـٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٩٣﴾ ﴾ سورة الانعام 93.

ترجمه : او که اووینې ته هغه وخت چې ظالمان په په سختو دَ مرګ کښې وي او ملائک به اوږدوونکي وي لاسونه خپل (وائي به ) راوباسي ساګاني خپلي نن بدله درکیدیشي تاسو ته دَ عذاب دَ ذلت په سبب دَ هغه چې جوړولي تاسو په الله تعالي باندي ناحق خبري ( دشرک او بدعت ) او وئ تاسو چې دَ آیاتونو دَ هغه نه مو لوئي کوله ( یعني دَ دلیلونو دَ توحید نه ) .

﴿ ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا ۖ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓا۟ ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ ﴾ غافر: ٤٦

ترجمه :اور پیش کیدیشي دوي په هغې باندې صبا او بیګاه، او په هغه ورځ چې قائم شي قیامت ( اوبه وئیلي شي ) داخل کړئ فرعونیان ډیر سخت عذاب ته .

# البشارة

بشارت دَ هغه څیزونو خبر ورکول چې هغې کیدل یقیني وي ، ابن العربي ؒ وائي .

البشارة إخبار عن المحبوب ، والنذارة اخبار عن المكروه

دَ محبوب څیز خبر ورکول دا بشارت دې ، او دَ بد شي خبر ورکول دَ خطرناکي دَ هغې نه دا انذار دې ، کله په عذاب کښې هم دَ بشارت لفظ استعمال شي لکه

"بشر المنافقين بان لهم عذابا اليما"

دا تهکماً او استهزاءً چې توقي وريوري کوي او يا دَ لعنت په اعتبار چې دا هم يو خبر

Maktaba Tul Ishaat.com

دي ، ځکه تغير په مخ کښې راولي او خبر دې او بيا په اصطلاح کښې الخبر السار يعني خوشالوونکي خبر ته وائي.

نو بشارت دَ خوشحالي خبر ته وائي ، نو دا په دوه قسمه يو دَ دعوې نه مخکښې چې دا اومنئ نو داسې به اوشي لکه سورة الزمر ١٨ ، دويم دَ دعوې نه روستو دا قرآن کښې ډير دي مثالونه به راشي دا هم په دري قسمه دي.

# البشارة الدنيوية

يعني دَ دنيا خوشحالي ورکول چې کله تاسو دا دعوې اومنې او په دې روان شې نو الله به درله دنيا کښې فتح ، نصرت او برې درکړي.

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾ سورة المائدة: ٦٦

ترجمه : او که چرې کتاب والو ايمان راوړو او ځان ئې بچ کړو دَ ګناهونو نه خامخا لرې به کړو مونږ دَ دوي نه بدې دَ دوي او خامخا داخل به کړو مونږ دوي جنتونو دَ نعمتونو ته.

﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٥٥﴾ ﴾

سورة النور: ٥٥

ترجمه : وعده کړې ده الله تعالي دَ هغه چا سره چې ايمان ئې راوړې دې ستاسو نه او عملونه ئې کړي دي نيک ( په تابعدارئ دَ نبي عليه السلام سره ) خامخا خلافت به ورکوي دوي له په دنيا لکه چې خلافت ئې ورکړې وو هغه کسانو ته چې دَ دوي نه مخکښې وو او خامخا کلک به کړي دوي له دين دَ دوي هغه چې غوره کړې دې دَ دوي دَ پاره او خامخا بدل به کړي دوي له روستو دَ ويرې دَ دوي نه امن ، په داسې

حال چي بندگي كوي زما شريک نه جوړوي ما سره هيڅ څيز، او چا چي كفر اوكړو روستو ذ دې نه نو دغه كسان دوي نافرمان دي.

قرآن كريم ذ دنيا خوشحالي ډيرې نه ذكر كوي ، ځكه دنيا مقصود ذ مومن هم نه ده ، او دا ټوله ذ ده ذ عمل بدله كيدلې هم نشي.

## البشارة الاخروية

يعني ذ آخرت ذ بدلو خوشحالي اورول چي كله تاسو دا عملونه اوكړې او دعوې اومنې نو الله تعالى به درله آخرت كښي ډيرې بدلې دركړي دا قرآن كريم ډير ذكر كوي.

﴿ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقْنَا مِن قَبْلُ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهًا وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥﴾ ﴾ سورة البقرة: ٢٥

**ترجمه :** او زيرې وركړه هغه كسانو ته چي ايمان ئې راوړې دې او عملونه ئې كړي دي په طريقه ذ پيغمبر چي يقيناً دوي له باغونه دي چي بهيږي لاندې ذ (اونو ) ذ هغې نه نهرونه هر وخت چي وربه كړې شي دوي ته ذ هغې نه څه ميوه ذ پاره ذ خوراک ، دوي به وائي دا هغه څيز دې چي راكړې شوې وو مونږ ته مخكښي ذ دې نه ، او را به وړيشي دوي ته دغه رزق يو شان ذ ( مخكښي سره ) او دوي ذ پاره به دې باغونو كښي بيبياني پاكې كړې شوې به وي او دوي به په هغې كښې هميشه وي.

﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾ ﴾

سورة الكهف: ٣١

**ترجمه :** دغه كسان دوي له جنتونه ذ هيشه اوسيدلو دي چي بهيږي به لاندې ذ دوي نه ولې اچولې كيږي به دوي ته په هغې كښي بنگړي ذ سرو زرو نه او اغوندي به جامې شنې ذ نرو ريښمو نه تكيه به وهلي وي به هغې كښي په پالنگونو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندي، سه بدله ده او خائسته دَ فائدو ځائي دي.

## البشارة البرزخية

دَ دنيا او آخرت مينځ کښې دَ قبر ژوند دې نو الله تعالي منونکو ته دَ هغې خوشحالي اوروي چې په برزخ کښې به هم دوي ته خوشحالي نصيب شي

﴿ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ يَقُولُونَ سَلَـٰمٌ عَلَيْكُمُ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾ سورة النحل: ٣٢

ترجمه : دا هغه کسان دي چې سا ء اخلي دَ دوي نه ملائک داسې حال کښې چې پاک وي دَ شرک نه، وائي به ملائک سلامونه دي په تاسو باندې ورننوځئ جنت ته په سبب دَ عملونو ستاسو.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَـٰمُوا۟ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا۟ وَلَا تَحْزَنُوا۟ وَأَبْشِرُوا۟ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾ سورة فصلت: ٣٠

ترجمه : يقيناً هغه کسان چې وائي رب زمونږ الله تعالي دي، بيا پاخه شوي وي ( په دې وينا ) راکوځيږي په دوي باندې ملائک چې مه ويريږئ او مه خفه کيږئ، او زيرې واخلئ په جنت سره هغه چې تاسو سره ئې وعده کيدې شوه.

دا استاذان ډير نه ذکر کوي که تخويف وي که بشارت وي ځکه چې قبر دَ آخرت دَ منزلونو نه اولنې منزل دې دَ دې کاميابي دَ آخرت کاميابي ده، نو ځکه ئې دَ آخرت سره ذکر کوي.

## الامور الدافعة للعذاب

اوګله منونکو ته امور دافعه دَ عذاب ذکر کوي -چې عذابونه راروان دي نو تاسو داسې اعمال کوې چې پرې دفع شي لکه سورة بني اسرائيل وقضي ربک الا تعبدوا الا

اياه نه دوه رکوع شوې ، چې احسان کوئ ظلم مه کوئ ، شرک مه کوئ ، نو دَ دې وجې نه به درباندې عذاب دَ الله نه راځي ۔

## التيقظ

کله په آيتونو کښې بيدارول وي چې داعي او مسلمان بيدار وي

پورته شه غافله خوب دې ولې زنګوي
وخت دَ صباني دې رب سوالونه قبلوي

نو التيقظ چې ويخ شه خلق دريسې شوې دي قومونه دريسې شوې دي هغه ستا نه ستا نظام اخلي، ستا نه ستا قرآن اخلي ، ستا نه ستا ايمان اخلي او ستا نه عزت او حيا اخلي نو ته دَ هاتي په غوږ کښې اوده ئي ، نو ظالمه ويخ شه ۔

ژوند دَ احساس په بام کوم خو لا ويښ شوې نه يم
داسې ووده يم لکه ځان واخله ويخيږم چرته

دومره ليوال يم چې ديوال سره دغره وهم نه پوهيږم
ځان پويه وم خو په حساب ئې لا پوهيږم چرته

نو التيقظ ۔

تمـــاحق مـــع الحمقـــاء اذا انـــت فـــيهم
وان كنت فـــي الكـــيس فكـــن انـــت اكـــيس

کم عقلو سره لکه کم عقلتيا کوه ، او چې کله هوښيارو کښې ئې ، نو ښه هوښيار شه ، ستا هوښيار دشمن سره واسطه ده ، انګريز زيات هوښيار دشمن دې ۔

## يتشكل باشكال مختلفة

په مختلفو اندازونو کښې په تا کښې چلن کوي ، او په تا کښې تګ کوي، يهودې دشمن دې نصارې دې دشمن دې ، په مختلفو اندازونو سره تاته راځي ، نو التيقظ ! ويخ

Maktaba Tul Ishaat.com

شه هغه ستا نه ایمان اخلي.

﴿ مَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ
خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾

سورة البقرة: ١٠٥

**ترجمه** : نه غواړي کافران دَ کتابیانو نه او نه دَمشرکانو نه چې نازل کړې شي په تاسو باندې څه خیر دَ طرفه دَ رب ستاسو نه ، او الله تعالي خاص کوي په رحمت خپل سره چا له چې اوغواړي او الله تعالي خاوند دَ لوئي فضل دې.

# دويم فصل

# المجادلة

دريمه طريقه دَ دعوت هغه دې دعوت بالجدال يعني مناظره کول دَ معترضينو دَ اعتراضونو جوابونه کول او د شکيانو شکونه زائله کول دا دې دعوت بالجدال دَ دې دَ پاره حسن نيت او دَ مسئلې اهميت ضروري دې ، چې مسئله اهمه وي او نيت هم سم وي بالتي هي احسن دواړه معني طريقه هم احسنه چې خائسته طريقه اخلاق ، او لهجه هم ، بدې ردې وئيل نه ، کنځل نه ، او مسئله هم اهمه دَ دې نه روستو مباهله يعني بددعا کول دروغژن ته دَ دعوت طريقې وي چې کله په قرآني طريقه سره دعوت ورکړې شي نو دَ هغې اثر به راوځي اوس دَ دعوت اثر.

# پنځم باب اثر د بیان د قرآن

## نو څه به اوشي ؟

دَ څلورو خبرو وضاحت اوشو چې قرآن کوم کتاب دې او څه وائي ؟ او چا ته ئې وائي او څنګه ئې وائي ؟ اوس چې بیان اوشي نو اثر به څه راوځي ؟ دَ قرآن بیان د اثر نه نه خالي کیږي خو په مختلفو زړونو مختلف اثر کوي لکه باران چې په هره زمکه ئې اثر یو شان نه وي ، نو دا دَ باران ګناه او غلطي نه وي دَ زمکې فرق وي

﴿ وَٱلْبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾ ﴾ سورة الأعراف: ٥٨

• ترجمه : او زمکه خوږه (ښه) راوخي بوټي دَ هغې نه په حکم دَ رب دَ هغې او هغه زمکه چې خوره وي (بې کاره ) وي نه راوباسي مګر بې کاره بوټي ، دغسې قسم قسم بیانوو موثر آیتونه هغه قوم له چې شکر کوي.

باران که در لطافت طبعش خلاف نیست
در باغ لاله روید و در شور بوم خس

دَ باران دَ مزاج نه دا خبره خلاف نه ده چې په باغونو کښې ګل لاله زرغون شي او په خوره ناکه زمکه کښې سخابوټي زرغون شي . باران خو عام کیږي خو فائده ترې هره زمکه نه اخلي نو قرآن هم بیان عام کوي، فائده ترې څښې خلق واخلي .

﴿ هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾ ﴾ سورة آل عمران 128.

ترجمه : دا قرآن وضاحت دي دَ پاره دَ خلقو او لار خودونکې دې ( په دلیلونو سره ) او نصیحت دې دَ پاره دَ فائدې دَ متقیانو .

نو بیان عام شو او هدایت مقصد ته بعض اورسیدل دَ هدي للناس ،او دَ هدي للمتقين

Maktaba Tul Ishaat.com

فرق معلوم شو - هدي للناس او رحمۃ للمومنین - نو دَ آیتونو مقصد معلوم شو -

نقصان زِ .قابل است لکن لا علی الدوام
فیض سعادتش به هر کس برابر است

نقصان دِ قبلونکې دې خو دَ همیش د پاره نه دې ، دَ نیک بختي فیضانِ هر چا ته برابر دې ،

نو په منونکو او په نه منونکو باندې به څه اثر وي ؟ نو دَ هر یو درجات دي دَ هدایت هم درجات دي او دَ ضلالت او ګمراهۍ هم درجات دي -

# فصل اول

## درجات دَ منونکواو دَ هدايت

دَ منونکو په زړه کښې اول څه لږ شان ترک راشي ، وائي هلکه ښکلي خبره وه ، اوريدل ئي پکار دي ، غلي شئ ځکلي خبره ده ، او وائي زړه مي پرې اوبه وځکلې ۰ او که څوک ورته اووائي چې خا ! خبره دې اومنله !!
څوک به دې توت ته توري کړي ، نو دې ورته وائي څه شي !!
توت ته نه هندوستان ته خو مي دي اورسوي ، خو دا مسئله کله هم نه پريږدم ، کينه په قلاره !!
او که ورته وائي حکومت به دې خلاف شي ، نو دې ورته وائي پريږده مړه !! دا دَ بزدلې خبرې مه کوه ، ما ته زما رب ميلاو شوې دې ۰

**انا الي ربنا لمنقلبو ن**

زما نور هيڅوک نه دي پکار زما الله پکار دي ، ما ته زما الله ملاؤ دې ، څلور درجې اووئيلې شوې ۰

## " انابت "

۰۱ انابت راګرځيدلو ته وائي چې په زړه کښې طلب او محبت دَ حق وي ، چې ما ته حق ملاؤ شي نو حق پسې ګرځي ، نو اول ئي زړه تک اوخوړلو چې دا خبره مزيداره ده ، نو انابت ، نو اول انابت راغي دَ زړه لوښې ئي لږ کهلاو شو، دَ شاګردې په انداز باندې کيناستو په سواليه (؟) نشان نو طالب جان چې په سواليه نشان باندې کيني ، نو چې څومره انابت وو نو دومره به خبره په زړه کښې ځائې نيسي،

Maktaba Tul Ishaat.com

تہی آ کہ پہ شوی
پہ آوی کے پہ شوی

خالي راشه چې ډک شې چې ډک راشې نو څه به حاصل کړې ،

چې خائسته خکلې میلمه ؤ کور ته بیائې
اول غولې دِ صفا که له خشاکه (عبدالرحمان بابا)

ته بورا ئې دَ گونګټ عادت اونکړې
سور ګلاب او سپین ریحان کشمالي راوړه (زاهد)

لکه سورة الشوري ١٣، ويهدي اليه من ينيب نو اول محبت او طلب شو۔ نو چې طلب وي انابت وي نو هدايت ورته نصيب شي لکه دا دواړه درجې په يو آيت کښې ذکر دي ۔ نو دويمه خبره۔

# "هدايت"

۲۔ هدايت په انابت پسې هدايت راغي ويهدي اليه من ينيب ، ويهدي اليه من اناب ، نو چې انابت وو نو هدايت به راشي ، وائي به چې بس زړه مې پرې اوبه اوڅکلې، نو چې طلب وي انابت وي نو هدايت ورته نصيب شي لکه دا دواړه درجې په دغه يو آيت کښې ذکر دي۔ نو دريم وريسې

# استقامت

۳۔ استقامت راغې ، استقامت نيغيدل برابريدل او ټينګيدلو ته وائي چې اوس په خپله خبره برابر دې او ټينګ دې ۔

﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا

تَحْزَنُواْ وَأَبْشِرُواْ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ سورة فصلت: ٣٠

ترجمه : یقیناً هغه کسان چې وائي رب زمونږ الله تعالي دې بیا پاخه وي ( په دې وینا ) راکوخیږي په دوي باندې ملائک چې مه ویریږئ او مه خفه کیږئ او زیرې واخلئ په جنت سره هغه چې تاسو سره ئې وعده کیدې شوه۰

اوس استقامت راغي ، که څوک ورته وائي چې واوړه کني وژنو دې ، نو دې وائي نه پریږدم دا مسئله که مرګ پرې راځي ، او که هر څه پرې راځي ، زما یوه خبره وي۰ نو

# ربط القلب

۰٤ څلورمه درجه ربط القلب یعني دَ زړه جوړیدل او کلکیدل دَ استقامت یعني په شریعت دَ عمل کولو دَ کلکیدلو یو ثمره او میوه الله تعالي ده له ورکړه چې هغه دې ربط القلب چې الله تعالي دَ دوي زړونو طاعت او تابعدارې ته اړوي ، لکه دَ بدر والو په باره کښې یو حدیث کښې راځي چې

اعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم

یعني ستاسو زړونه ګناه ته نه اوړي ، نو کله ئې الله ځان ته نسبت اوکړي او کله دَ مومنانو عملونو ته۰ ربط القلب یعني دَ زړه تسلي او آرام۰

﴿ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ ﴾ سورة الکهف: ١٤

ترجمه : او کلک کړي وو مونږ زړونه دَ هغوي کله چې اودریدل نو اوئیل دوي رب زمونږ رب دَ آسمانونو او دَ زمکې دې ، هیچرې به اونه بلو مونږ سوا دَ الله تعالي نه بل مددګار یقیناً وئیلې به وي مونږ په دغه وخت دَ حد نه تیره شوي خبره۰

﴿ قَالُواْ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِي فَطَرَنَا فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ ﴾ سورة طه ٧٢

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : دوي اووئيل هيڅرې نه غورو کوو مونږ تا په مقابله دَ هغه چې راغلې دي مونږ ته دَ ښکاره معجزاتو نه او هغه ذات چې مونږ ئې پيدا کړي يو پس فيصله اوکړه هغه چې ته څه فيصله کوونکې ئې يقيناً ستا فيصله چليږي په دې ژوند دنيوي کښې.

يقيناً څوک چې راشي رب خپل ته مجرم نو يقيناً ده له جهنم دې نه به مري په هغې کښې، او نه به ژوندي وي.

نو ربط القلب راغې او دَ زړه کومې ته او دَ زړه ويخ.ته مسئله کوزه شوه، كذالك الايمان اذا دخل بشاشة القلوب

اوس ايمان دَ زړه پردو ته وردننه شو، اوس دَ دنيا يو طاقت دَ دې نه دا مسئله نشي اغستلې.

نبي عليه السلام له خبر راغې چې ان عماراً قد ارتد، نو نبي عليه السلام اووئيل، قال كلا، زما شاګرد کله هم نه مرتد کيږي،

ان عماراً ملئ ايماناً من قرنه الي قدمه واختلط الايمان بعظمه وبدمه

عمار دَ ايمان نه ډک دې دَ سر نه تر خپو پورې، او ايمان دَ عمار هډوکو او وينې سره ګډ شوې دې، هغه د اوړيدو سړې نه دې، نو بيا که هر څه راشي خو

لکه ونه مستقيم په خپل مقام يم
که خزان راباندې راشي که بهار

دَ همت په غره کښې ونه دَ ناختر يم
په وچ زورر دَ وچو کانړو نه نم اخلم
(مفتون)

هغه لاروې مرام ته ورسي
څوک چې دَ همت سنام ورسي

بیا ورته دنیا هسې دنیا ښکاري
پام چې دَ هغلي پام ته ورسي

څو چې صوفي حال دَ قال تابع نکړي
خدائیګو که دَ خدائي کلام ته اورسي
(زاهد)

نو دیته وائي ربط القلب ، قرآن کله دا درجې ځان ځانله ذکر کوي لکه مخکښې آیتونه ذکر شو او کله په یو ځائې ذکر کړې لکه

﴿نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَٰهًا ۖ لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾﴾ سورة الکهف 13،14۔

ترجمه : پتې مو لکولې وه په زړونو دَ دوي کله چې اودریدل دوي، پس اووئیل دوي رب زمونږ رب دَ آسمانونو او زمکو دې هیچرې به راؤ نه بلو مونږ سوا دَ هغه نه مددګار یقیناً وبه وایو په هغه وخت کښې زیاتې خبره۔

ځوانان وو چې خبره ئې منلې وه ، نو آمنوا دَ ایمان نه مخکښې انابت وو کنه ، نو ځکه ئې ایمان راوړې وو، نو په آمنوا کښې دوه درجې شوې ، انابت او هدایت ، وزدنهم هدي نو دا شو استقامت وربطنا علي قلوبهم ، دا شو ربط القلب ، نو زړه کلک وو هغه وخت کښې چې بادشاه ته اولاړ وو، نو زړه ئې دمه ډول نه وو، رپیدل نه، مسئله صاف صاف بیانوي دَ هیڅ شي ورسره یره نه وه ، چې یاره زما خو جدا حیثیت وو زما پالنګونه وو پاسته پاسته ، او دا به رانه پاتې شي ، او زه دَ وزیر ځوئې یم ، او هلته مې پولاو خوړل او دلته به دالونه بیا خورم ، نو نا ! دَ هیڅ څه ورسره یره نه وه، او دَ حکومت خلاف دې او آواز کوي۔

﴿رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَٰهًا﴾

او قوم ته وائي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿...... فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۝١٥﴾

ترجمه : پس څوک دي لوئي ظالم دَ هغه چا نه چي تړي ، په الله باندي دروغ.

داسې په ترتوب مسئله بيانوي ، څکه چې ربط القلب راغلې وو. نو څلور درجې شوي. انابت، هدايت، استقامت ، او ربط القلب. نو اې داعي دعوت کوه مسئله رسوه ستا بيان فضول نه ځي طلبگارو ته به هدايت ملاؤ شي څوک به کلک شي څوک به مرتبې دَ ربط القلب ته اورسي نو ستا بيان به ضائع نه ځي ، بيان کوه ، دا څلور کليات شو ، بيا دا هدايت استقامت وغيره خپل درجې دې چي په يو حد اولاړې نه دې نو هر وخت بنده دَ هدايت محتاجه دې ، کومې ته چي رسيدلې وې نو بله ورته دَ هغې نه اوچته خکارې ، نو څکه اهدنا الصراط المستقيم چي يوه مرتبه ملاؤ وي نو بلې ته به اورسې که داسې نه وي نو دا بل به بلې مرتبې ته اورسي نو بيان کوه ، اوس دَ گمراهې درجې.

# دوېم فصل -

## درجات الضلالة -

لکه څنګه چې د هدايت دَ پاره څلور درجې وې نو دغه شان ضلالت هم په دمه دمه باندې راځي دَ هغې هم څلور درجات دي .

ځنې مخاطب به داسې وې چې بيان اوشي نو دا به وائي چې دې څه وائي ؟ څوک يوه مسئله کوي څوک بله ، هغوي هم بيان کوي ، او دې ئې هم بيان کوي ، مونږ په دې حساب کتاب نه پوهيږو ، او کله به وائي چې دَ دې سړي څه خيال دې ، څه نوې شې ئې راويستلو ، مونږ له هغه زړه مسئله ښه ده ، نو اول شکې شو، شک راغلو ،پريږدوه ئې ، نو ضلالت ،حق پريښودو سره به مونږ ته دَ قرآن درسونه نه کوې ، بيا توږ راځي نو جدال راغې،نو چې جدال راغلو نو چې مرچکې خوري نو خوله به دي ترخيږي ، نو دَ حق پرستو سره جنګ کولو سره ، مهر په زړه باندې راځي نو ختم القلب او طبع القلب . نو بيان کوه کيديشې چې دَ شکې شک ختم شي نو دَ ګمراه علاج هم کيږي بيان کوه کيديشي دَ ګمراهې نه واوړي او که نه جدال ئې شروع کړو نو بيا هم دَ خه کيدلو اوميد شته، خو چې کله په جدال کلک شو نو مهر پرې راغې نو دا دَ بد عمل نتيجه شوه ، دَ ربط القلب مقابله کښې زړه بند شو اوس نيکې طرفته نه ځي او ګناه ورته اسانه وي ، قرآن کريم دا درجې کله ځان ځانله ذکر کړي او کله په يو ځائې ذکر کړې .

دا درجات دَ ضلالت هم قرآن په يو ځائې ذکر کړي دي .

﴿ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴾ (٣٤) سورة المومن 34.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او يقيناً راغلې وو تاسو ته يوسف ، مخکښې ذَ دې نه ، په ښکاره دلائلو سره ، پس هميشه وئ تاسو، په شک کښې ، ذَ هغه نه چې راغلې وو تاسو ته په هغه باندې ، تردې چې کله وفات شو، نو ووئيل تاسو ، هيچرې به راوُ نه ليږي الله تعالي ، پس ذَ هغه نه څوک رسول . دغه رنګې ګمراه کوي الله تعالي هغه چاله چې وي هغه ذَ حده تيروُنکې، شک کونکې .

دارنګې الله ګمراه کوي هغه چا له چې زړه ئې شکي وي يعني چې اول ئې شک وي نو بيا ضلالت راشي ، نو شک اوله مرتبه او ضلالت دويمه مرتبه ﴿ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡۖ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلۡبِ مُتَكَبِّرٖ جَبَّارٖ ٣٥﴾ سورة غافر 35.

ترجمه : هغه کسانو له چې جګړې کوي ، په آيتونو ذَ الله تعالي کښې بغير ذَ څه دليل نه ، چې راغلې وي دوي ته ، غټه ده دا جګړه ذَ جهته ذَ غصې نه په نزد ذَ الله تعالي، او په نزد ذَ هغه کسانو چې ايمان ئې راوړې دې ، دغه رنګې مهر لګوي الله تعالي په هر زړه ذَ متکبره ، سرکشې کونکې باندې .

نو ذَ ضلالت نه پس ئې جدال شروع کړو نو کذالک يطبع الله علي کل قلب متکبر جبار نو مهر او طبع راغله ، نو دا څلور درجې شوې ذَ ضلالت.

# شپږم باب

## اول فصل

## دويم قسم اصول

## اصول دَ زده كولو دَ سورت

اول قسم اصول هغه وو چې دَ ټول قرآن كريم دَ زده كولو سره تعلق لرلو دَ هغې بيان په مختصر انداز سره اوشو اوس هغه اصول چې دَ سورت دَ زده كولو سره تعلق لري چې په هغې سره دَ سورت زده كول اسان شي.

زمونږ دَ استاذانو دَ اصولو مطابق دَ هر سورت دَ شروع كولو نه مخكښې پنځه خبرې پيژندل ضروري دي.

1. دعوې دَ سورت
2. ربط السورة
3. تقسيم دَ سورت او خلاصه دَ سورت
4. معرفت دَ مكي او مدني سورت
5. امتيازات دَ سورت

## اوله خبره دعوى دَ سورت

دعوې دَ سورت يعني دَ سورت آيتونه يو دعوې كوي او ټول د هغې خدمت كوي دَ دعوې مثال دَ سورت دَ پاره داسې دې ، لكه تخم دَ ونې دَ پاره لكه د تخم رنګ او اثر دَ ونې په تنه ، څانګو ، او پاڼو كښې موجود وي نو دغه شان دَ دعوې اثر هم دَ سورت په هر آيت كښې موجود وي كله دعوې ثابتوي او كله ئې واضحه كوي او كله ترغيب

Maktaba Tul Ishaat.com

وي وغيره دعوي دَ سورت مقصدي مضمون ، مقصد دَ سورت ، محور دَ سورت اهمه مسئله دَ سورت هم وائي - بله خبره دا چې دَ يو سورت ګنړې دعوې هم کيديشي ، لکه دَ سورة البقرة او سورة آل عمران دعوي ګنړې دي ، او دَ ډيرو سورتونو يوه دعوي هم کيدې شي، چې کله سورتونه مختصر وي نو په ډيرو سورتونو کښې يو مسئله بيانيږي لکه دَ سورة القيامة نه تر سورة الاعلي پورې اثبات دَ قيامت دې په مختلفو اندازونو باندې -

دويمه خبره دعوي دَ سورت اکثر دَ مقاصد ثمانيه ؤ يعني اتو اهمو خبرو نه وي ، او په تبعي مضامينو کښې هغه دَ مقاصدو سره ډير ربط لري ، يا دَ هغې دَ پاره ډير معاون وي لکه تزهيد من الدنيا دَ آخرت سره ډير ربط لري او ترغيب الي التبليغ چې دَ هرې مسئلې سره ربط لرې -

دريمه خبره دَ سورت دَ هر آيت ربط دعوي سره وي هغه آيتونه دَ هغې خدمت کوې -

## ربط

په سورت کښې دَ کومې خبرې پيژندل چې ضروري وي نو يو پکښې ربط هم دې ، ربط، تړون، جوړ ، مناسبت ، رشته ، دا دَ يوې معني ډير ټکي دي - ربط دَ يو سورت بل سره اول په دوه قسمه دې ، کلي او جزي ، -

## ربط کلي

يعني دَ يو سورت دَ پوره مضمون تړون او ربط دَ بل سورت سره چې دَ يو سورت دعوي دَ بل سورت دَ دعوې سره اوتړلې شي ، دا په ربطونو کښې اهم او خائسته ربط دې - چې دَ اته مسئلو ربط دې په اصولو کښې زده کړې وي نو دَ سورت ربط پيژندل به درته آسان وي -

# ربط جزی

دا ربط په خپل کور کښې په دوه قسمه دې ، يو ربط دَ ځنې آيتونو دَ سورت دَ ځنو سره ، زما محبوب استاذ شيخ الاسلام کابلګرامي رحمه الله الباري به فرمائيل چې په دې ربط سره دَ سورت آيتونه دَ بل سورت په آيتونو سره حل شي نو يو آيت دَ بل آيت تفسير او وضاحت اوکړځي ۔ الله دوي له په دې کښې خصوصي مهارت ورکړې وو، او پدې کښې ئې کتاب هم ليکلې دې ، او زما خوږ او محترم استاذ شيخ القرآن علامه محمد طيب طاهري صاحب دا ډير په ښکلي انداز بيانوي ۔ حضرت شيخ القرآن رحمه الله تعالي په سمط الدرر کښې په آخري حصه دَ قرآن کښې ديته ډيرې اشارې کړې دي ۔ دويم

# ربط جزی اسمی

يعني دَ يو سورت دَ نوم دَ بل سورت سره ربط او مناسبت ربط نامي ورته هم وائي ۔ دا ضيغم اسلام شيخ القرآن مولانا غلام الله خان صاحب رح دَ خصوصياتو نه وو هغوي به بيانولو او په جواهر القرآن دَ سورة الانعام پورې ليکلي دې ځما محبوب استاذ په ما ډير ګران شيخ التفسير والحديث مولانا غلام حبيب صاحب (رحمه الله تعالي رحمة واسعة وافرة ) په درس کښې تر آخره پورې بيانوي ۔

# تقسيم او خلاصه دَ سورت

۰۳ چې سورت کښې څه پيژندل ضروري وي ، نو تقسيم دَ سورت او خلاصه پيژندل ضروري وي ، چې سورت څو حصو ته منقسم دې ، او خلاصه ئې څه ده ؟ تقسيم ويشلو ته وائي چې دَ سورت آيتونه اوويشلي شي ۔

دَ سورت تقسيم کله حصو ته وي چې په سورت کښې مسئلې ډيرې وي نو حصو ته تقسيم اوشي ، او چې کله مسئله يوه وي اندازونه مختلف وي نو سورت بابونه ته تقسيم

Maktaba Tul Ishaat.com

شي . څنې سورتونو کښې تقسیم نه وي ځکه دَ مسئلو مناسبت زيات وي او آيتونه کړوړ روان وي نو تقسيم ته حاجت نه وي لکه سورت الاعراف ، هود، وغيره شو.

## خلاصه

خلاصه نجوړ ته وائي په عامو کتابونو کښې خلاصه ديته وائي چې اهم مضامين ذکر کول او غير اهم پرېښودل خو دَ قرآن کريم باره کښې مونږ دا نه شو وئيلې ځکه قرآن کريم ټول اهم دي ، نو ځما مرشد او محبوب استاذ مفتي محمد مسلم صاحب ذکر کوي چې قرآن کريم کښې خلاصه ديته وائي چې اوږد مضمون په لنډو الفاظو او لنډو ټکو کښې ذکر کول ،نو سورت اوږد وي نو دَ هغې مقصد په مختصر الفاظو کښې ذکر کولو ته خلاصه وائي ، نو دَ سورت دَ زده کړې دَ پاره تقسيم او خلاصه ذکر کول دا ضروري دي .

## معرفت دَ مکي او مدني سورتونو

٤- بل څيز چې پيژندل ئې ضروري دي ، نو معرفت دَ مدني او مکي او ترتيب نزولي او مصحفي دي . قرآن دَ علاج دَ پاره نازل شوې دې ، چې کوم وخت دَ کومې نسخې ضرورت وي ، نو خلق هغه نسخه بيمار ته ورکوي ، اګر چې دَ سبق وئيلو انداز بدل وي لکه په صرفو کښې اول دَ ضرب يضرب الخ ، نه شروع کوي ، اوس که تا ته يو سړې اووائي چې اعلموا دَ څه صيغه ده ، نو دَ هغې جواب به ورکوي ، دارنګې ډاکټري طريقه ځان له ده ، او دَ مريض دَ علاج انداز ځانله دې ، نو دَ قرآن مجيد دَ وئيلو انداز هم مختلف دې ، مونږ چې سبق وايو نو دَ سورة الفاتحه نه ئې وايو، او فرض کړه که مونږ کلي ته لاړ شو، او هلته دَ سورة النور دَ مسئلې ضرورت دې ، نو ته به ورته څه وائي چې اول ما سورة الفاتحة زده کړې ده ، او زه به درته سورة الفاتحه وايم ، نو علاج ځان له څيز دې او زده کړه او سبق وئيل ځان له څيز دې ، نو دا نزولي ترتيب دَ قرآن

دا دَ علاج ترتیب دې ، چې څه وخت کښې دَ څه ضرورت وو نو هغه نسخه به نازلیده او مصحفي ترتیب دَ سبق وئیلو ترتیب دې ، چې دغه شان په لوح محفوظ کښې هم وو .

## مکي او مدني سورتونو کې فرق

دَ نبي علیه السلام دَ نبوت دوه غټ دورونه وو یو ۱۔ بعد النبوة قبل الهجرة ،یعني دَ نبوت نه روستو او خپل کلي دَ پرېخودلو نه مخکښې ۔ دا دیارلس کاله وو ۔

۲۔ دَ هجرت نه پس تر وفات پورې دور دا لس کاله وو ۔

نو کوم سورتونه چې په دیارلس کاله کښې نازل شوي وو خوا که په مکه کښې وو او که مدینه کښې وو او که په طائف کښې او که په حبشه کښې وو نو هغې ته مکي سورتونه وائي ، او کوم سورتونه چې په لس کاله کښې نازل شوي دي نو هغې ته مدني سورتونه وائي ۔

۲۔ په مکي سورتونو کښې دَ منافقانو او دَ اهل کتابو تذکره نه وي ، او په مدني سورتونو کښې دَ دې دواړو تذکره وي ، ۔

۳۔ په مکي سورتونو کښې په اصلاح دَ عقیدې باندې زور وي ، او په مدني سورتونو کښې په اصلاح دَ مملکت او په احکاماتو دَ معاشرې زور وي ۔

٤۔ په مکي سورتونو کښې دَ توحید نه پس په تذکره دَ آخرت زیات زور وي، ځکه چې دا جنګي مسئلې وي او په مدني سورتونو کښې دَ توحید نه پس په احکاماتو زیات زور وي ۔

٥۔ په مدني سورتونو کښې لفظ دَ ؛کلا ؛ نه وي او په مکي سورتونو کښې درې دیرش ځله لفظ دَ کلا دې ۔

٦۔ په مکي سورتونو کښې سجدة التلاوة شته دې ، او په مدني سورتونو کښې نشته دې علاوه د سورة الحج نه او بعض علماء کرام فرمائي چې کوم آیت کښې سجده تلاوت ده ، نو هغه مکي دې ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۷- چې واقعه دَ آدم او دَ ابليس پکښې وي نو هغه مکي دې ، علاوه دَ سورة البقرة نه -
۸- مکي سورتونه مختصر دي او مدني سورتونه اوږده دي -
۹- مکي سورتونه شپږ اتيا دي او مدني سورتونه ۲۸ ،بعض عالمان فرمائي چې اتيا سورتونه مکي دي او دولس سورتونه اختلافي دي ، او باقي مدني دي -
په ديکښې داعي ته تعليم دې چې ستا به هم اولنې دور مکي وي او دويم دور به دې مدني وي -
شيخ القرآن نور الله مرقده ، به فرمائيل چې زما زړه هم دا غواړي چې مسئله دَ توحيد دومره بيان کړم لکه چې نبي عليه السلام څومره بيان کړې وه ، دَ دې خبرې مطلب دا دې چې دا نه چې مکي سورتونه منسوخ دي او اوس ګني مدني دور دې ، بلکه دَ هر داعي اولنې دور مکي دې ، او روستني دور ئې مدني دې ، چې دَ مکي سورتونو په تربيت ئې تربيت نه وي شوې او مکي ته لاس اچوي نو کيديشي چې نقصان ئې دَ فائدې نه زيات شي -

## امتيازات دَ سورت

٥ خبره چې پيژندل ئې ضروري دي نو هغه امتيازات دَ سورت دي امتياز جدا والي ته وائي يعني چې دا سورت دَ بل سورت نه په څه باندې جدا دې تاسو ورته خواص وائې -
خواص دوه قسمه دي شامله او غير شامله نو څنې امتيازات داسې وي چې هغه بالکل په بل سورت کښې نه وي او څنې امتيازات داسې وي چې په يو نيم سورت بل کښې موجوديږي دَ اول مثال لکه واقعه د ذبح دَ بقرې دَ دويم مثال لکه واقعه دَ آدم عليه السلام اندازونه ئې بل سورت کښې بدل وي -

# دَ سورت متعلق بعضی اهمے خبرے

دَ سورت په ابتدا کښې چې لفظ دَ قرآن راشي ، نو په هغه سورت کښې به دَ داسې واقعي تذکره وي چې په دې امت کښې به وي په نورو امتونو کښې به داسې واقعه نه وي ۔

دويم که دَ سورت په ابتدا کښې لفظ دَ " الکتاب " راشي نو په هغه سورت کښې به دَ تيرو امتونو تذکره وي ۔

دريم که دَ يو سورت په ابتداء کښې لفظ دَ القرآن او دَ الکتاب دواړه راشي ، نو په هغه سورت کښې به دَ مخکښني امتونو هم او دَ دې امت هم تذکره وي لکه سورة الحجر ۔

څلورم دَ يو سورت په ابتدا کښې چې لفظ دَ مبين راشي نو اشاره به وي کثرت دَ دلائل نقليه ته ، لکه سورة القصص ، او سورة الشعراء ۔

پنځم ۔ که دَ سورت په ابتدا کښې لفظ دَ حکيم راشي نو اشاره به وي کثرت دَ دلائل عقليه ته ۔

شپږم ۔ اوس که لفظ دَ حکيم او دَ مبين دواړه وي ، نو دواړه قسمه دلائل به پکښې وي ۔

سوال : په سورة يونس کښې خو لفظ دَ الحکيم راغلي دې ، په ابتدا کښې ، او عقليه دلائل پکښې نشته دې ، بلکه نقليه دې ۔

جواب : په سورة يونس کښې دا او هغه ترې نه په عقل معلوميږي ۔واقعات دَ تيرو امتونو دا دلائل نقليه نه دي بلکه دا دَ پاره دَ تخويف دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

# دوهم فصل

## دریم قسم اصول

## اُصول متعلق دَ زده کولو دَ آیت

دریم قسم هغه اصول دي چې هغه دَ آیت دَ زده کولو سره تعلق لري.
هغه امور چې دَ آیت دَ پیژندلو سره تعلق لري، که یو سړې په آیت ځان پوهه کوي نو په هغې کښې دَ څو خبرو لحاظ ضروري دې.
۱. مقصد الآیة. بس لنډا دا پیژندل چې دې آیت کښې بشارت دې که تخویف دې، چې دَ هر آیت مقصد ښکاره شي، نو ته به په لنډ ټکو کښې اووائې، چې دیکښې خوشحالي ده دَ دعوې منونکو دَ پاره. یا زورنه ده دَ دعوې نه منونکو ته، یا دیکښې دَ دعوې دَ ثابتولو دَ پاره دلیل دې یا دَ دعوي ثابتولو باندې قسم دې.
۲. ربط الآیة چې دَ دې آیت دَ مخکښې آیت سره، یا دَ دعوي دَ سورت سره څه مناسبت دې، دَ آیت آیت سره دومره مناسبت ضروري نه دې چې څومره دعوي سره ضروري دې، دا ضروري ده چې آیت دې دَ دعوې سره اوتړلې شي، دا زمونږ دَ استاذانو دَ درسونو امتیاز دې، دا تا ته په یو تفسیر کښې نه ملاویږي چې آیت دې دَ دعوي سره اوتړلې شي، آیت څنو مفسرینو د آیت سره تړلې وې، لکه امام رازي ؒ سراج المنیر او نظم الدرر په دیکښې کار کړې دې، خو آیت دَ دعوې سره تړل دا زمونږ دَ استاذانو کار دې، نو چې آیت دَ دعوې سره اوتړلې شي نو دَ قران قوت معلوم شي.
امام زرکشي ؒ فرمائي چې آیت دَ آیت سره تړل دا هم یو دقیق علم دې.
بیا مناسبت دَ یو آیت دَ بل آیت سره په دوه قسمه باندې دې.
۱. مناسبت لفظي چې دَ یو آیت الفاظ دَ بل آیت دَ الفاظو سره تړلې وي په اول

آيت كښې مبتدا وي ، په دويم آيت كښې خبر ، په اول آيت كښې موصوف وي په بل آيت كښې صفت په يو آيت كښې مبدل منه په بل آيت كښې بدل ، په يو آيت كښې موكد نو په بل آيت كښې تاكيد وي وغيره ، ديته ربط نحوي هم وائي.

٠٢ مناسبت معنوي . چې دَ اولني آيت او روستني آيت په معنې كښې مناسبت وي ، دا په ژور نظر سره معلوميږي ، دې له محققينو څه قواعد ذكر كړي دي.

## التنظير

كتلې به شي دوارو آيتونو ته ، چې كه يو آيت دَ بل آيت نه جدا وو ، نو په دې صورت كښې به دويم آيت دَ اولني آيت دَ پاره مثال جوړيږي لكه واتو البيوت من ابوابها ، واتقوا الله لعلكم تفلحون.

## المضادة

چې اولني آيت دَ بل آيت ضد وي ، په يو كښې تخويف وي په بل كښې بشارت.

## الاستطراد

چې دويم آيت دَ اولني آيت دَ پاره طردا راوړلې شوي وي.

## الالتفات من حديث الي آخر تنشيطاً للسامع

لكه سورت ص ٤٩، ٥٤ ، چې خبره په يو اسلوب باندې وي نو سړي ستړي كيږي نو تنشيطاً بل اسلوب اختيار كړي.

زمونږ شيوخ كرام دَ پوره سورت آيتونه يو بل سره تړي ، په داسې انداز چې القرآن كلمة واحدة.

٠٣ حل المفردات چې دَ مشكل الفاظو معني اوكړي او دَ گرانو تكو معني معلومه شي.

٠٤ حل المشكلات . آيت كښې څه اشكال وي ، صرفي ، نحوي ، يا فقهي طريقي

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ، یا زمونږ په نظر کښې ښکښې تعارض وي ، نو هغه مکمل حل کول، دَ اشکال ختمي هم بیانول ، او جواب ئې هم کول. دا دَ آیت دَ فهم سره متعلق خبري دي.

٥. کله په آیت کښې خطاب خاص وي او کله خطاب عام وي ، خطاب عام چې انسانانو پیریانو تولو ته شامل وي ، چې انسانانو ته اصالة او جناتو ته تبعاً شامل وي او کله دواړو ته اصالة شامل وي، یمعشر الجن والانس ، خطاب خاص لکه یو قوم او امت ته بیان کله مومنانو ته او کله اهل کتابو وغیره ته ، لکه یبني اسرائیل ، یا اهل الکتاب. یایها الذین آمنوا.

# "خاتمه"

دَ کتاب آخره کښې ځنې مختلفې خبرې او قاعدې ذکر کیږي ، چې هغهٔ دَ قرآن کریم په زده کولو کښې فائده ورکوي په دې مختلف کتابونه لیکلي شوي دي مختصر ځنې قواعد چې ډیر ضرورت ئې راځي دلته ذکر کولې شي.

# النسخ

نسخ دَ متقدمینو په نزد "تغیر في وصف الآیة" ته وئیلي شي نو دَ متقدمینو په نزد پنځه سوه آیتونه منسوخ دي ، خو دَ منسوخ دا مطلب نه دې چې عمل به پرې نه کوي ، بلکه کله مقید آیت مطلق ذکر شي ، کله عکس ، کله خاص آیت عام ذکر شي ، او کله عکس. او دَ متاخیرینو په نزد نسخ " بیان مدة الحکم " ته وئیلي شي ، نو دَ متاخرینو په نیز شل آیتونه منسوخ دي. خو امام شاه ولي الله رح په دې آیتونو کښې داسې توجیه کوي ، چې دَ نسخ نه بچ شي ، ځکه چې إعمال اولي دې دَ اِهمال نه ،یعني چې په یو آیت حتي الوسع عمل کیږي نو دا اولي دې دَ پریښودلو نه ، نو دَ شاه صاحب رح په نزد پنځه آیتونه منسوخ دي. او شیخ المشائخ حضرت حسین علي الواني رح او انور شاه کشمیري رح په دې پنځه آیتونو کښې داسې توجیه کوي ، چې دا هم دَ نسخ نه بچ شي.

دا مطلب نه دې دَ هغوئ چې کني هغوئ دَ نسخ نه منکر دي بلکه هغوئ وائي که د يو آيت کنړې معني کيديشي ، او چې يوه معني ترې اخلي نو آيت منسوخ کيږي او که بله معني اخلي نو دَ نسخ نه بچ کيږي، نو وائي هغه معني ولې نه اخلو چې عمل پرې کيدې شي- نو دَ دې وجې نه دوئ وائي چې دَ آيت دوه مصداقه شو-۱- منسوخ ۲-غير منسوخ - نو قرآن دائمي کتاب دې وقتي نه دې نو چې عمل پرې اوشي او دَ نسخ نه بچ شي نو ښه ده-

## معرفة المحكم والمتشابه

په قرآن کښې دوه قسمه آيتونه دي ، ۱- محکم ، ۲- متشابه -

محکم - هغه وي چې يو مقصد او معني لري دَ بلې معني يعني دَ هغې دَ ضد او مقابل احتمال نه لري- محکم په خپل مقصد او معني کښې قطعي الحکم وي ، اوبخپل مراد واضح دلالت کونکي وي - او متشابه چې دَ ډيرو معنو احتمال لري، سامع په اشکال کښې اچوي چې اوس کومه معني مراد واخلم - نو دَ محکم حکم دا دي چې په دې عقيده اولره، او دَ متشابه حکم دا دې چې الله ته ئې مراد حواله کړه او يا ئې دَ محکم په رڼا کښې حل اوکړه-

## اعاده بعد عهد

قرآن کله يو واقعه ذکر کوي او په درميان کښې ئې څه متعلقات راوړي بيا دوباره هغه واقعه ذکر کړي او حکم اولکوي ديته اعاده بعد عهد وائي - لکه سورة المائدة اذ قال الله يعيسي ابن مريم ----

## ادماج او اندماج

قرآن مجيد کله يوه واقعه ذکر کوي ، او په هغې کښې څه داسې خبرې ذکر نکړي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه په معمولي سوچ کولو سره ذهن ته راځي، نو ديته اندماج وائي - لکه واذا استسقي موسي لقومه فقلنا اضرب بعصاک الحجر ، فانفجرت نو مينځ کښې فضرب فانشق الحجر فانفجرت دا مينځ کښې اندماج دې -

## قاعده ماضى په امر

قرآن چې کله يو واقعه ذکر کوي او په لفظ دَ امر سره ئې نقل کوي نو دَ مقام مناسب به "قيل " قل " او يقال " مقدر کولې شي -

## عطف

قاعده : معطوف معطوف عليه ، دَ يو جنس يا دَ يو نوعي نه کيدل ضروري دي ، اتحاد في الکم ، في الکيف، في الزمان ، او في المکان دا ضروري نه دي ، لکه الانفال لله وللرسول نو دواړه شارع دي خو يو شارع حقيقي دې او بل شارع مجازي يا لکه مما آتهم الله ورسوله ، نو ورکړه دَ دواړو ده خو دَ الله ورکړه ما فوق الاسباب ده ، او دَ پيغمبر ورکړه ماتحت الاسباب ده -

### علفتها تبناً وماءً بارداً

دَ معطوف معطوف عليه دَ هر يو دَ پاره به مناسب فعل وي ليکن څه نه څه مناسبت به ئې وي - نو دَ يو فعل به ذکر وي او دَ دويم هغه به ذکر نه وي ، په ذکر کولو دَ يو به اکتفاء کولې شي ، لکه وله ما سکن في الليل والنهار ، نو په دواړو کښې خو آرام نه وي نو مناسب فعل به راوباسې ، اي ونشر في النهار .علفتها تبناً وماء بارداً نو ماءً بارداً دا خو خوراک نه دې نو وسقيتها ماء بارداً.

## التعارض

كله كله مونږ ته په آيتونو کښې تعارض په نظر راځي ، دا زمونږ کمزوري وي قرآن کښې هيڅ تعارض نشته دې ،**لو كان من عند غير الله لوجدوا فيه اختلافاً كثيراً** .
نو دَ هغې مناسب حل کول پس دَ پيژندلو دَ تعارض نه لکه سورة التكاثر کښې وائي چې لتسئلن يومئذ عن النعيم ، او په سورة الرحمن کښې وائي چې **فيومئذ لا يسئل** عن ذنبه انس ولا جان . نو يو سوال نفي کوي او بل ثابتوي نو حل چې يو سوال دَ ملامت کولو دَ زورني دې ، نو هغه به وي او بل سوال دَ ځان دَ خبرولو دې ، نو هغه نفي کوي .

## النظائر

په قرآن کښې يو ځائي کښې حکم مجمل وي او بل ځائي کښې تفصيلي وي نو دَ يو ځائي حکم به دَ بل ځائي نه راوباسي ديته النظائر وائي . بعض واقعات په قرآن کښې يو شان وي خو مقصدونه ئې مختلف وي ، يو ځائي دَ يوې دعوې دَ پاره وي او بل ځائي دَ بلې دعوې دَ پاره وي .

## الزيادة فى القرآن

قاعده : په قرآن کښې څنې داسې الفاظ دي چې دَ هغې په لرې کولو سره معنې نه خرابيږي لکه وما الله بغافل کښې باء شوه که دا نه وي نو هم لفظ پوره دې ، معنې ورکوي ديته کتابونو کښې زائد وائي خو قرآن کښې ورته زائد وئيل بې ادبي ده، صله ورته وائي ، او بل دا چې اوس راغلي دې ، نو فائده ئې شته دې ، دا نه چې فائده ئې نشته دې ، دا ځان له اختلاف دې چې قرآن کښې زائد شته دې او کنه ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

# الوجوه و النظائر

كله يو لفظ وي په قرآن كريم كښې په ګڼرو معنو استعمال شوي وي دا پيژندل اهم كار دي ، ځكه چې هر ځائې يوه معني كوې نو فساد راځي دَ يو لفظ ګڼرې معني وي لكه الكتب ، الامة ضلال وغيره دَ الفاظو يو مناسب ځائې سره يو مناسب معني پيژندل ضروري دي كله دَ يو لفظ فعل وغيره دَ صلې سره معني بدليږي او متعلق سره ، نو په دې ځان پوهه كول ضروري دي ، ديته الوجوه والنظائر وائي .

## قاعده "اوتوا" "اتينا"

په قرآن كښې كله دَ لفظ دَ الكتاب او العلم سره "آتينا" وي او كله اوتوا وي . نو آتينا نه به مراد قبلونكي او نيكان خلق وي او دَ اوتوا نه به مراد نه قبلونكي خلق وي ، دغه شان اورثنا به دَ قبلونكو دَ پاره راځي ، او اورثوا به دَ نه قبلونكو دَ پاره راځي ، كله به آتينا ، او اورثنا ، دَ مدح په مقام كښې راځي ، او اوتوا او اورثوا به دَ ذم په مقام كښې راځي .

﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٢١﴾ ﴾ سورة البقرة: ١٢١

ترجمه : هغه كسان چې وركړي دي مونږ هغوي ته كتاب لولوي ئې په حقې لوستنې سره ، دغه كسان ايمان راوړي په دې باندې او چا چې كفر اوكړو په دې پس دغه كسان هم دوي دي تاوانيان .

﴿ وَلَئِنۡ أَتَيۡتَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٖ مَّا تَبِعُواْ قِبۡلَتَكَۚ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٖ قِبۡلَتَهُمۡۚ وَمَا بَعۡضُهُم بِتَابِعٖ قِبۡلَةَ بَعۡضٖۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ إِنَّكَ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٥﴾ ﴾ سورة البقرة: ١٤٥

ترجمه : او كه چرې راتلهٔ اوکړې ته هغه کسانو ته چې ورکړې شوې دې کتاب ، په هرې نخښې تابعداري نه کوي ستا دَ قبلې ، او نه ئې ته تابعداري کونکې دَ قبلې دَ دوي ، او نه دي بعض دَ دوي تابعدار دَ قبلې دَ بعضو، او كه چرې تابعداري اوكړې ته دَ خواهشاتو دَ دوي، پس دَهغې نه چې راغې تا ته ، علم دَ قرآن يقيناً ته به په دغه وخت كښې خامخا دَ ظالمانو نه شې ٠

# احتیاط کول په مصداق دَ آیت کې

الله مونږ خپل خوږ كلام ته كينولي يو ، دا مقام چې څومره اوچت دې ، نو دومره دَ احتياط دې ، دَ قرآن زده كوونكي او ويونكي دَ هغه چې څومره فضائل او شرافتونه ډير دي ، نو دومره هغه له احتياط پكار دې ، ځكه چې قرآن ته ناسته او د قرآن زده كړه او دَ قرآن بيانول دا دَ الله ترجماني كول دي نو پكار ده چې دَ قرآن دَ آيتونو داسې طريقې سره ترجماني اوشي چې لكه څنګه د الله مراد وي، هسې نه چې دَ الله ترې يو مراد وي او مونږ اووايو چې دَ الله دا مراد نه دې ، يا دَ الله ترې څه مراد نه وي او مونږ اووايو چې دَ الله ترې دا مراد دې ، نو په دې نازک سفر كښې زيات احتياط پكار دې ، هسې نه چې مفتري علي الله شو، دوه څيزونه دي چې هغه په افتراء علي الله دَ پاره سبب ګرځي ٠

## ١- تعصب ، او ٢- بغض او حسد ،

كله چې په انسان كښې تعصب راشي چې انحصار دَ حق په ځان كښې اوګڼړي چې يم نو بس زه يم او نور ټول خلق په باطله باندې دي ، نو دې بيا دَ آيتونو مصداق چې دَ صفت آيتونه وي نو د هغې مصداق ځان اوګرځوي، اګر كه په ده كښې هغه صفات نه وي،

## يحبون ان يحمدوا بما لم يفعلوا

مينه او شوق به ئې دا وي چې زما دې صفت اوكړې شي ، په داسې كار چې كړې ئې

Maktaba Tul Ishaat.com

نه وي ، نو بيا آيتونه ځان ته راړوي ، اګر که مصداق ئې دا نه وي .٠

## ٠٢ حسد او بغض

يا چې تعصب سره حسد او بغض راشي نو چې کوم آيتونه دَ ذم وي نو دَ هغې مصداق بيا خپل مقابل او مخالف ګرځوي ، اګر که هغه ذم ئې په مقابل کښې نه وي ، نو نه په مدح کښې غلو پکار ده ، او نه په ذم کښې غلو پکار ده بلکه

**جعلنكم امة وسطاً**

تاسو له مونږ درميانه امت ګرځولې ئې ، الله مونږ درميانه امت ګرځولي يو ، نو نه به افراط وي او نه به تفريط وي نو هر آيت به د هغه دَ شان مناسب بيانوي ، په آيت کښې چې کوم مدائح ذکر شوي دي نو هغه شان ئې بيان کړه ، آيت په خپل ځائې باندې لګي که په تا کښې هغه صفات موجود وي او که په بل چا کښې هغه صفات موجود وي نو هغې له به آيت پخپله ورځي ، او په کوم آيت کښې چې پليتې او نقصانات بيان شوي وي نو ته دَ هغې وضاحت اوکړه او دَ هغې تشريح اوکړه په دې نيت او په دې غرض چې زه او زما مخاطبين دَ دې خبائثو نه ځان اوساتو او نيکي په دې نيت بيان کړه چې زه او زما مخاطبين دَ هغې دَ حاصلولو کوشش اوکړي ، نو په دې نيت قرآن بيان کړه او که دَ يوې پليتې رد راغلي وي ، نو په نيت دَ اصلاح سره صاف بيان اوکړه ، چا کښې چې کومه پليتي وي نو آيت به خپله په هغه ځائې لګي، تاله څه شو چې دَهغې مصداق خپل مقابل ګرځوي تا له دا نه دي پکار چې مصداق ئې خپل مقابل اوګرځوې ، هسې نه چې خطا شي او غلطه ترجماني اوکړې ، نو دَ دې وجې نه شيوخ کرام او مفسرين ذکرکوي چې زمونږ طريقه دَ تفسير څه ده- مونږ ترجماني کوو نو په کوم بنياد او اصولو به ئې کوو ؟ شيخ صاحب دَ کابلګرام رح هغوي به فرمائيل چې قرآن يا دَ قرآن والو نه زده کيږي او يا دَ قرآن نه زده کيږي ، چې داسې نه وي نو که يو سړې تفسيرونه او کتابونه ګوري ، نو ډير ځلې سړې په هغه کښې خطا شي ،

# دَ تفسير کولو طریقې

نو دَ دې وجې نه دَ قرآن دَ تفسير کولو طريقې هغه اولاً څلور دي

## اوله طريقه

" تفسير القرآن بالقرآن " چې قرآن دَ قرآن وضاحت څنګه کوي ، په ډېرو ځايونو کښې يو آيت مجمل او مختصر وي ، نو په نورو ځايونو کښې قرآن دَ هغې وضاحت کړې وي ، لکه سورة الفاتحه کښې اهدنا الصراط المستقيم - الله مونږ ته نيغه لار اوښايه ، نو اوس نيغه لاره کومه يوه ده ، دَ نيکانو لار کومه ده ؟ اوس هر يو به ځان ته وائي چې زه په نيغه لار يمه او خپلې لار ته به دَ نيکانو لار وائي ، نو دا تشريح قرآن کړې ده ،،-

﴿ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ﴾ سورة الأنعام: ١٥٣

ترجمه : او بې شکه دا قرآن زما لار ده ، نيغه نو روان شئ هم په دې باندې او مه ځئ په نورو لارو ګنې تس نس به کړې تاسو دَ لارې دَ الله نه ، دا يوځ حکم درکوي تاسو ته الله تعالى ، په دې سره دې دَ پاره چې تاسو پرهيزګاران شي .

چې دا قرآن نيغه لاره ده ، او آل عمران ٥٠ کښې وائي .

ان الله ربي وربكم فاعبدوه هذا صراط مستقيم - چې عبادت دَ الله دا نيغه لاره ده ، او سورة يس کښې وائي .

والقرآن الحكيم انك لمن المرسلين علي صراط مستقيم - چې دَ پيغمبر لار نيغه ده ، نو دَ عبادت لار دَ قرآن لار ، او دَ پيغمبر لار نيغه ده ، قرآن ئې تشريح اوکړه ، قرآن يو ځائې اجمالاً ذکر کړې دي ، او بل ځائې تفصيلاً ذکر کړې دي ، په تفاسيرو

Maktaba Tul Ishaat.com

کښي مفسرينو په دې طريقې دَ تفسير کار کړې دې ، تفسير القرآن بالقرآن ، دَ محمد امين شنقيطي کتاب دې " اضواء البيان في تفسير القرآن بالقرآن"۔

په اوس وخت کښې هم يو عالم کتاب ليکلې دې ، محمد فاروقي مکي ، دَ هغه په نوم اضواء البيان في تفسير القرآن بالقرآن په يو جلد کښې ، خو صرف دَ يو مضمون آيتونه ئې راجمع کړې دې ، دا ئې نه دي ذکر کړي چې دلته ئې دا وجه ده ، او دلته ئې دا وجه ده ، دَ تفسير کار ئې نه دې کړې۔

په متقدمينو کښې حافظ ابن کثير" هغه هم آيتونه راجمع کړي دي او وضاحت ته ئې ورله اشاره هم کړې ده۔ امام ماتريدي" په تاويلات اهل السنة کښې په دې طريقې سره ډير په ښکلي انداز حل دَ قرآن په قرآن کوي ، خو مستقل نه بلکه کله کله، خو دا هم قيمتي وي ، او زمونږ شيوخ چې په کوم انداز سره دَ قرآن کريم خدمت کوي ، دَ قرآن وضاحت په قرآن سره نو داسې انداز دا په نورو تفاسيرو کښې نشته دې۔

## دويمه طريقه دَ تفسير

### تفسير القرآن بالاحاديث

امام شافعي" ذکر کوي چې

"جعل الله رسوله موضع الابانة لکتابه" او کله وائي ،

"جعل الله رسوله شارحاً لکتابه"

الله ښکلي پيغمبر دَ قرآن دَ شرح او دَ وضاحت ځائي جوړ کړې دې ، نبي عليه السلام دَ قرآن شارح وو، په سورة النحل کښې ئې دَ نبي عليه السلام منصب بيان ذکر کړې دې چې

﴿ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾ سورة النحل: ٦٤

ترجمه : او نه دې رالېږلې مونږ په تا باندې كتاب مګر چې بيان كړې دوي ته هغه خبرې چې دوي اختلاف كړې دې په هغې كښې او هدايت دې او رحمت دې ، دَ هغه قوم دَ پاره چې ايمان لري.

دارنګې ابراهيم عليه السلام چې دعا كوي نو په هغې كښې ئې فريضه او وظيفه هم ذكر كړې ده چې دَ هغه كار به څه وي ؟ .

﴿ رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾ ﴾ سورة البقرة 129.

ترجمه : او اې زمونږ ربه او راولېږه په دوي كښې يو پيغمبر دَ دوي نه چې لولي دوي ته ستا آيتونه او ښائي دوي ته كتاب ، او حكمت او پاكوي دوي له بيشكه هم ته پوره غالب لوئې حكمت والا ئې.

ابراهيم عليه السلام وائي داسې پيغمبر راولېږه ، نو الله هم هغه شان پيغمبر راولېږو.

﴿ كَمَآ أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُواْ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ ﴿١٥١﴾ ﴾ سورة البقرة ١٥١

ترجمه : لكه څنګه چې راولېږو مونږ په تاسو كښې يو رسول ستاسو نه چې هغه لولي په تاسو آيتونه زمونږ او پاكوي تاسو له او ښائي تاسو ته كتاب او حكمت او ښائي تاسو ته هغه څه چې تاسو نه پوهېدې په هغې.

﴿ هُوَ ٱلَّذِى بَعَثَ فِى ٱلْأُمِّيِّۦنَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢﴾ ﴾ سورة الجمعة ٢

ترجمه : هم الله هغه (ذات ) دې چې رالېږلې ئې دې په اميانو كښې يو پيغمبر دَ هغوي نه چې لولي په هغوي باندې آيتونه دَ هغه ( الله ) او پاكوي هغوي او ښائي هغوي ته كتاب او حكمت او بيشكه وو هغوي مخكښې دَ دې نه خامخا په ګمراهي ښكاره كښې .

نو دا دَ پيغمبر فريضه ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾
سورة آل عمران ۱۶۴

ترجمه : يقيناً احسان كړي دې الله تعالي په مومنانو باندې كله چې ئې راوليږلو په دوي كښې يو پيغمبر (هم ) دَ دوي نه چې لولي دوي ته آيتونه دَ الله او پاكوي دوي له او ښائي دوي ته كتاب (قرآن ) او حكمت (سنت ) او بيشكه وو دوي مخكښې دَ دينه خامخا په گمراهي ښكاره كښې.

نو پوهه كول په كتاب دا دَ نبي عليه السلام ذمه واري وه ، لكه چې ابلاغ ئې ذمه واري وه.

﴿ ۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾ ﴾ سورة المائدة 67.

ترجمه : اې پيغمبره ! اورسوه هغه څه چې نازل كړې شوي دي تا ته دَ طرفه دَ رب ستا او كه چرې او دې نكړل (داسې ) نو نه دې رسولې تا پيغام دَ هغه او الله به ساتي تا دَ خلقو نه بيشكه الله نه كوي هدايت قوم كافرانو ته.

نو يو ئې تبليغ ذمه واري وه، يتلوا عليهم الكتاب والحكمة نو ديكښې ئې ورته اشاره اوكړه ، او بله ذمه واري تعليم وو نو ديته ئې په يعلمهم الكتاب كښې اشاره ده. نو وضاحت دَ قرآن كله دَ نبي عليه السلام دَ قول په اعتبار سره وو چې نبي عليه السلام دَ آيت كريمه وضاحت اوكړي ، نو په قول سره ئې وضاحت اوكړي چې دا داسې دي او دا داسې دي ، لكه سورة البقرة ۲۷۵ . واحل الله البيع وحرم الربوا

ربا ډير والي دَ مال ته وائي نو په آيت كښې دي چې ډير والي دَ مال حرام دي ، نو دا كاروبار خو خلق دَ گټې دَ پاره كوي نو نبي عليه السلام دَ دې وضاحت اوكړو

الحنطة بالحنطة والشعير بالشعير والملح بالملح والتمر بالتمر والذهب بالذهب والفضة بالفضة مثلاً بمثل يدا بيد والفضل رباً

نو نبي عليه السلام دَ هغې آيت وضاحت اوکړو او دَ سود دَ مسئلې وضاحت ئې اوکړو، چې سود حرام دې.

او کله صحابې تپوس اوکړې ، دَ نبي عليه السلام نه چې دا څنګه مسئله ده ، او نبي عليه السلام ئې وضاحت اوکړې ، لکه سورة التوبة ٣٤ کښې وائي.

﴿ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ ﴾ سورة التوبة: ٣٤

ترجمه : او هغه کسان چې جمع کوي سره زر او سپين زر، او نه خرچ کوي هغه ، په لارې دَ الله تعالي کښې ، پس زيرې ورکه دوي له په عذاب دردناک.

دا آيت چې نازل شو نو په صحابه کرامو باندې ګرانه شوه ، او اوېريدل چې دا څنګه ده چې کور به څوک څان سره سره او سپين زر نه جمع کوي ، چې چا جمع کړل او چا ته ئې ورنکړل ، نو دوي له سزا ده عذاب دې ورله ، نو عمر ؓ ورته اووئيل چې زه به ستاسو دا مشکل ختم کړم ، نو نبي عليه السلام ته ئې اووئيل چې آيت نازل شوې دې او په صحابه کرامو باندې ګران دې ، چې سره او سپين زر په کور کښې ساتل دا حرام دي ، نو نبي عليه السلام اووئيل چې دَ آيت مطلب دا نه دې ، څان په آيت پوهه کړې ، چې سره او سپين زر وي او زکات ترې نه ورکوي نو دا ئې سزا ده ، نور خو الله زکوة مقرر کړې دې ، څلويښتمه حصه ورکول دي ، نو چې څلويښتمه ورکوي نو يوکم څلويښتمه به تاسو سره پاتې کيږي ، نو چې الله زکوة واجب کړې دې نو دَ دې نه خو معلوميږي ، چې جمع کول جائز دي. دارنګې الله ميراث واجب کړې دې نو که مال جمع کول ناروا وي نو بيا ميراث ته څه حاجت وو څکه چې هغه خو دَ مرګ نه مخکښې مخکښې ورکول پکار وو، نو دَ آيت مطلب دا نه دې ، چې جمع کول او څان سره کېښودل ئې حرام دي بلکه مطلب دا دې چې زکوة ترې ورکول پکار دي ، عمر ؓ اووئيل چې الله اکبر مشکل ختم شو نو خوشحاله شو، دارنګې سورة البقرة ١٥٤ کښې وائي.

﴿وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾﴾

سورة البقرة 154.

ترجمه : او مه وائي تاسو هغه چا ته چې وژلې شي په لاره دَ الله کښې مړهٔ، بلکه دوي ژوندي دي ليکن تاسو شعور نه لرې.

داسې مه وائې چې عبث مړه دي،دَ مړي ټکې ورته مه وائې ، چې مړه دي دا آيت چې نازل شو نو دا په صحابه کرامو باندې ګران وو، مسروق تابعي دې ، هغه وائي چې ما دَ عبد الله ابن مسعود ؓ نه تپوس اوکړو چې دَ دې څه مطلب دې ؟ هغوي خو وژلې شوي دي او دلته وائي چې مړه ورته مه وائې ، نو چې وژلې شوي نه وي نو هغه ته خو څوک مړه نه وائي. نو عبد الله ابن مسعود ؓ ورته اووئيل چې دا آيت په مونږه هم ګران شوې وو ، خو ما دَ نبي عليه السلام نه تپوس اوکړو، او نبي عليه السلام راته اووئيل ، چې دَ دې مطلب دا دې چې ظ

**أَرْوَاحُهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ، تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ، ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ** [1]

نو عرش خو هم دَ اووم اسمان دَ پاسه دې ، دوه ګزه لاندې خو نه دې نو نبي عليه السلام ئې وضاحت اوکړو او زمونږ نه ئې د کيفيت دَ ژوند نفي اوکړه. ولکن لا تشعرون. نو چې نه پوهيږې نو بيا پکښې څه له ګوتې وهې په آرام ترې کينه ،په قرآن کښې او په حديث کښې چې څه راغلي دي نو آمنا وسلمنا ، شهيد دې پيغمبر دې ، ژوندي دې، نو هغه شان دې چې کوم شان ئې نبي عليه السلام وضاحت کړې دې. نو دا وو تفسير القرآن بالحديث.

په ديکښې دَ حديثو په کتابونو کښې باب قائموي ، کتاب التفسير په بخاري مسلم، او ترمذي شريف کښې ، دغه شان مصنف دَ ابن ابي شيبة کښې په مجمع الزوائد کښې او

---

[1] صحيح مسلم باب بيان ان ارواح الشهداء في الجنة.

یا چې دَ حدیثو دَ کتابونو مطالعه کوي ، نو په هغې کښې به ئې حدیث دَ وضاحت دَ پاره راوړي وي ، چې نبي علیه السلام به قولاً دَ یو آیت تفسیر کړې وو،
۲۔ دویم دې تفسیر دَ قرآن په عمل دَ نبي علیه السلام باندې، چې نبي علیه السلام به دَ یو آیت تفسیر په عمل سره کړې وو، دَ عائشه ؓ نه چا تپوس اوکړو دَ نبي علیه السلام دَ اخلاقو باره کښې نو عائشې ؓ اوفرمائیل۔

کان خلقه هو القرآن

دَ نبي علیه السلام عمل خو قرآن وو اخلاق ئې قرآن وو، یعني یو دَ قرآن تکې دې او بل ژوندې قرآن دې ، نو دَ نبي علیه السلام عمل او زندګي دا زنده قرآن وو ، ښکاره به ښکاریدو نبي علیه السلام چې به جماعت ته راغلو او مونځ به ئې کوو، نو دا دَ اقیموا الصلوة تفسیر وو، او چې کله به میدان جنګ ته اووتلو ، او جهاد به ئې کوو نو دا دَ کتب علیکم القتال تفسیر وو، او کله چې به دَ نبي علیه السلام روژه وه ، نو دا دَ کتب علیکم الصیام تفسیر وو، نو دَ عمل په ذریعه نبي علیه السلام دَ قرآن تشریح کړې ده۔ دَ قرآن آیت ولقد نصرکم الله ببدر الآیة۔

نو مونږ بدر نه پیژندو او دَ بدر معرکه مو نه پیژندله ، او دَ بدر قتال مو نه پیژندو په بدر کښې مو فتح نه پیژنده دَ بدر قیدیان مو نه پیژندل ، نو دا قرآن لنډې لنډې اشارې کړې وې ، خو دَ نبي علیه السلام زندګي به راواخلې او عمل به ئې راواخلې نو دا آیتونه به بالکل واضحه شي دَ سیرت کتابونه چې راواخلې نو دَ قرآن عملي وضاحت به درته ښکاره شي فقه چې راواخلې نو دَ نبي علیه السلام عمل به درته ښکاره شي ، دا دَ قرآن عملي تفسیر وو۔

شاه پور شیخ صاحب ؒ به فرمائیل چې شرح الوقایة دَ قرآن زبردست تفسیر دې ، نو شرح الوقایة تفسیر دې او که دَ فقه کتاب دې ؟ خو چې شرح الوقایة دې نه وي وئیلې ، نو ته دَ الطلاق مرتن په مقصد باندې نه پوهیږې دغه شان دَ طلاقو او دَ نکاح مسائل دي ، نو هغه شرح الوقایه کهلاو کړې دي ، نو نبي علیه السلام دَ دې عملي

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت کړې دي، تفسير القرآن بالحديث.
په دیکښې مفسرینو ډیر کار کړې دې، په متقدمینو کښې دَ ټولو نه اولنئ تفسیر، تفسیر ابن جریر جامع البيان او طبري دي، تقريباً ټول تفاسیر دَ دې نه اخذ کوي، ابن کثیر دَ دې نه اخذ کړې دې، او هغه ئې مختصر کړې دې.
ویسه شیخ صاحب حفظه الله وائي چې دَ شاه انور شاه کشمیري نه چا تپوس اوکړو چې هغه کوم مختصر کتاب دې چې سړې دَ غټ کتاب نه مستغني کوي، نو هغه ورته اووئیل چې ابن کثیر، چې سړې دَ ابن جریر نه مستغني کوي، په ابن جریر کښې تکرار دې، او ابن کثیر ترې تکرار لرې کړې دې، نو دا دواړه تفسیرونه دَ قرآن وضاحت په حدیث سره کوي،
امام سیوطي پکښې الدر المنثور لیکلي دې، الدر المنثور في تفسیر القرآن بالماثور، قرطبي هغه هم احادیث راوړي دي دَ پاره دَ وضاحت دَ آیت، او امام شوکاني په فتح القدیر کښې هم دواړه طریقې درایة او هم روایة دواړه راجمع کړي دي.

## تفسیر القرآن باقوال الصحابة والتابعین

۳. دریمه طریقه دَ تفسیر "تفسیر القرآن باقوال الصحابة والتابعین، صحابه کرامو ته دَ نبي علیه السلام دَ مجلس دَ وجې قرآن واضحه شوې وو، او بیا روسته هغوي تابعینو ته بیان کړې وو، مفسرین صحابه کرام زیات وو خو رئیس المفسرین هغه عبد الله ابن عباس وو او دویته نبي علیه السلام دعا کړې وه، چې

**اللهم علمه الکتاب والتاویل**

دَ دې وجې نه مفسرین په تفسیرونو کښې دَ هغه اقوال ذکر کوي، په تابعینو کښې هم مفسرین زیات وو، حسن بصري مجاهد، قتاده ابن عطیه، سعید بن جبیر او عکرمه دا لوئي مفسرین وو اوس تفسیر مجاهد او ابن عطیه چهاپ دې او تفسیر حسن بصري هم چهاپ دې، دَ هغه اقوال ئې راجمع کړې دي، نو دا وو تفسیر القرآن

باقوال الصحابة والتابعين.

# تفسير القرآن باللغة وديوان العرب

## ٤- طريقه د تفسير

### تفسير القرآن باللغة وديوان العرب

يو آيت دې دَ هغې وضاحت دَ قرآن نه تا ته معلوم نشو، پکښې وو خو تاته معلوم نشو ، يا درته دَ حديث نه معلوم نه شو يا درته دَ اقوالو دَ صحابه او دَ تابعينو نه معلوم نشو ، نو اوس به څه کوې ، نو ته به لغاتو دَ عربو ته توجه اوکړې ، چې دا لفظ په څه معني او مقصد راځي ، په لغت د عربو کښې خو دا دَ هر چا کار نه دې ، دا دهغه چا کار دې ، چې هغه په لغت دَ عربي باندې عبور لري ، ګنې بيا به داسې کار اوکړي لکه يو عالم چې حديث بيان کړو او دا ئې وئيل.

### لا يدخل الجنة قتات

نو هغه اووئيل قتات ، قتات خو شوتلو ته وائي ، نو ولې څوک چې شوتل کري ربي ، نو هغه به دوزخي وي جنت ته به نه ځي ، نو وئيل ئې زه خو هسې هم دوزخي يم ، څه له ځانله کارګورم نور عملونه به نه کوم ، نو دا نه پوهيدو په لغت دَ عربي باندې ، هغه صرف يو لفظ زده کړې وو، هغه په دې نه پوهيدو چې قت دا په څو معنو باندې راځي، چې مشتقي وي نو څه معني به ئې وي او چې جامد وي نو څه معني به ئې وي ، نو هغه غريب په دې باندې نه پوهيدو نو ځکه ئې دا معني کوله ، داسې نور هم نظائر دي چې دَ يو لفظ په يو معني باندې پوهه وي او په نورو معنو باندې نه پوهيږي ، نو بيا دَ ځان نه دَ قرآن وضاحت کوي.

نيم ملا خطرهٔ ايمان ونيم حکيم خطرهٔ جان

مودودي دَ ضال معني صرف ګمراهي زده کړې ده ، نو چې کوم ځائې لفظ دَ ضال راځي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو معني ئې دَ ګمراهۍ کوي، نو څه ! دَ اذا ضللنا في الارض دَ دې سره به څه کوې، نو يو معني ئې زده کړې وه، چې دَ عربۍ په لغت مکمل عبور نه وي نو هغه تفسير نشي کولې.

نو تفسير په لغت عربي سره چې کوي نو چې دومره خو ورته پته وي چې دَ دې لفظ دومره معاني دي ، او دا لفظ په قرآن کښې په دومره معنو باندې راغلې دې، دغه شان دَ عربۍ دا کمال دې ، چې يو لفظ وي او چې صله بدليږي نو معني ئې هم بدليږي لکه يو قال دې ، ابن العربي وائي، چې " قال وضرب بحر " قال او ضرب درياب دي ، نو دَ قال په صله کښې چې الي راشي ، نو په معني دَ اشارې سره وي ، او چې صله کښې ئې في راشي نو په معني دَ اعتراض سره راځي، نو چې صله بدليږي نو معني هم بدليږي ، لکه الي ، من ، في ، نو معنې ورسره هم بدليږي ،نو که دَ يو لفظ وضاحت په هغه محکښې درې طريقو کښې نه وي نو بيا دَ عربۍ ژبې موافق معني د هغې اوکړه ، خو چې دَ سياق سباق نه خلاف نه وي، او دَ احاديثو نه خلاف نه وي ، نو هله به بيا معني کوې،دا څلور طريقې دي دَ وضاحت دَ قرآن دائې دَ دې دَ پاره وئيلې چې احتياط پکار دې ، هسې نه چې چرته دَ يو آيت داسې معني اوکړې، چې هغه دَ الله مراد نه وي او ته ناست قرآن ته ئې ، قرآن بيانوې او دَ قرآن دَ الله کتاب دې ، نو ته چې خبره کوې نو خلق ئې نسبت تاته نه کوي ، بلکه قران ته ئې کوي چې په قرآن کښې داسې نه وو ، نو دا دَ الله ترجماني ده نو لږ په احتياط سره سره قدم کيده داسې مه کوه ، چې دَ زړه براس اوباسې ، دَ زړه بهراس مه اوباسه . په غلطه طريقه رد هم مه کوه ، او په غلطه طريقه تعين دا هم مه کوه ، بس قرآن بيان کړه ، صفت به دَ صفت ځائې ته ځي ، او ذم به دَ ذم ځائې ته ځي . اوبه هغه ځائې ته ځي چې کوم ځائې ښکته وي ، نو ته دَ ښو صفاتو تائيد کوه ، او دَ بدو صفاتو رد کوه ، هسې اشخاص مه چيره ديکښې څه خير نشته دې ، نو نوم هډو اخله مه، بس رد په هغه مسئله اوکړه ، خو که يو کس داسې وو چې ده هغه په نوم اغستلو کښې فائده وه ، ځکه که نوم ئې واخلې او په ګوته ئې اوښائې نه ، نو دَ هغه دَ وجې نه ځني خلق خطا کيږي ، هغوي پرې اعتماد کوي ، او دَ

هغه عقيده دَ قرآن او سنت نه خلاف وي او په هغه پسي روانيږي نو دَ هغه دَ اصلاح او دَ عوامو دَ اصلاح په نيت دَ هغه نوم واخله ، خو دَ براس وېستلو په نيت باندې نه ، داسې اووايه چې يو عالم دې او دا خبره ئې ليکلې ده ، خو ښه ئې نه دي کړي ، نو په هغه پسې مه ځې ! دا خبره ئې دَ قرآن خلاف کړې ده» چې دَ مودودي نوم واخلې ، ځکه چې خلق ئې ډير ډير پيش کوي ، يا دَ ډاکي بابا نوم واخلې نو خلق پرې دهوکه کيږي ، نو خير دې دَ دوي نوم واخله او کز پرې راکاږه ، دې دَ پاره چې خلق پرې دهوکه نشي ، نو په دې انداز باندې دَ قرآن وضاحت دې ، او دَ قرآن کريم تفسير دې ، زمونږ نه خو دا ټول اندازونه نه کيږي ، ځکه چې وخت کم دې ، او دا ټول راځي هم نه ، نو چې کوم مو دَ استاذانو نه اوريدلي دي نو ټول خو په يو آيت کښې نشي کيدې ، خو ټول په ټول قرآن کښې کيدې شي ، په هر يو آيت کښې دا څلور واړه طريقې دَ تفسير نشي کيدې ،نو کوشش به کوو چې دَ قرآن وضاحت په داسې انداز اوشي ، چې نه دَ الله دَ خفگان سبب اوګرځي او نه زمونږ دَ خسران سبب اوګرځي .

مونږ دې له ناست يو، چې په دې زمونږ نه الله راضي شي ، او مونږ ته اجر راکړي .

# شان نزول

اهمه خبره دَ قرآن دَ سورتونو او آيتونو سره متعلق "شان نزول"

چې کله دَ آيت کريمه يا دَ يو سورت شان نزول بيان شي نو هغې سره کله دَ آيت او دَ سورت په وضاحت سرې ډير پوهه شي ، هغه کومه واقعه چې راغلې وي په شان نزول کښې او هغه واقعه سړې اوګوري او اووائي ئې ، نو هغه آيت کريمه ورسره لګي نو په آيت هم پوهه شي او دَ آيت په مصداق هم پوهه شي چې که نن دغه کار څوک هم کوي نو دغه ئې مصداق دې ، خو ځنو عالمانو ذکر کړي دي چې

## اضر الاشياء في فهم القرآن شان نزول

نو دا ولې ؟ دا ځکه چې دَ شان نزول دوه اثره وي ، يو اثر ئې مزيدار دې ، هغه دا دې

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دَ قرآن په آيت سرې ښه پوهه شي ،او مصداق ئې هم سرې اوپيژني چې لکه دَ نبي عليه السلام په وخت کښې دَ دې واقعې سره دا آيت نازل شوې دې ، نو که دغه شان واقعه نن هم راشي نو هغه به دَ دې آيت مصداق وي او په هغې کښې به هډو شک نه وي ځکه چې مثال شو کنه ، نو دا خو ډيره ښه ده ، او دَ قرآن په فهم کښې ممد ده ، او معاون ده .

خو دويم اثر ئې دا دې چې کله شان نزول اوونيلې شي ، نو دَ څنو خلقو په ذهن کښې دا خبره راشي چې ګني دا آيت په هغه واقعې پورې خاص دې ، او دا خو دَ کافرو په باره کښې راغلې دې ، او دې وائي چې داسې او داسې ، دا آيت خو دَ يهودو باره کښې راغلې دې ، او دې مونږ ته وائي چې دا اوګوره او دا اوګوره نو ولې مونږ څه عيسايان يو څه ؟

نو کله چې شان نزول دا کار اوکړو نو شان نزول ضرري وو، ځکه چې دَ قرآن قاعده ده ،

## العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب

عبرت الفاظو له دې اسبابو له نه دې ، لفظ خو قرآن عام ذکر کوي، لکه ابوجهل باره کښې چې کوم آيت راغلې وو، نو هغه هم عام دې ، ځکه چې د ابوجهل نوم خو ئې نه دې ذکر کړې ، صفت ئې ورله ذکر کړې دې ، دې دَ پاره چې دا صفت عام شي او چې چا کښې دا وي نو چې هغې ټولو ته شامل شي ، قرآن داسې نه دي کړي چې دَ هغه نوم ئې اغستې وي ، چې دا دَ هغه په باره کښې دې ، بلکه صفات ئې بيان کړي دي .

ضارب صفت دې ، ذات من له الضرب ته وئيلې شي نو اوس که هغه ذات دَ زيد وي که د عمر وي اوکه دَ بکر وي که هر يو دې ، خو هغه ضارب دې ، او چې زيد دې اووئيل نو زيد ضارب دې ، بس دا به هغه چاته وئيلې کيږي چې دَ چا نوم زيد وي .

فلما قضي زيد منها وطراً

دلته بس زيد دې نوم ئې اغستې دې ، نو په علم کښې تاسو وائي چې احتمال دَ تکثر

پکښې نه وي ، مرقات کښې تاسو وائي ،

**ان اتحد معناه فمع تشخصه جزئي**

نو قرآن صفات ذکر کړي دي ، او په صفت کښې عموم وي او په علم کښې خصوص وي ، نو

**العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد**

نو که شان نزول دا دویم اثر کولو نو بیا شان نزول بیانول نقصاني دي، ځکه چې دا دَ قرآن عموم ختموي.

عمر﷛ به فرمائیل چې تاسو خو به وئیل چې دا آیت دَ بني اسرائیلو باره کښې دي ، خو

**إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ قَدْ مَضَوْا وَإِنَّكُمْ أَنْتُمْ تُعْنَوْنَ بِهَذَا الْحَدِيثِ** [1]

هغه بني اسرائیل چې به مو یادول نو هغه تیر شول ، اوس ګوري تاسو مراد ئي ، حدیث کښې هم راځي ، نبي علیه السلام فرمائي.

**حديث أَبِي سَعِيدٍ الْخدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: لَتَتْبَعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى قَالَ: فَمَنْ.** [2]

تاسو به دَ تیرو په قدم باندې روانیږئ ، پل په پل، لیشت په لیشت ، تردې چې دَ هغوی نه یو کس دَ خپلې مور سره بدکاري کړې وي نو تاسو به هم داسې کوئ ، او که هغوی کښې یو کس دَ سمسرې سوړې ته ننوتې وي نو تاسو به هم داسې کوئ ، او په قدم به

---

[1] تفسير الطبري جامع البيان : باب في قوله تعالي وان ياتو كم اسري تفدوهم.

[2] اخرجه البخاري في: 96 كتاب الاعتصام: 14 باب قوله النبي صلى الله عليه وسلم لتتبعن سنن من كان قبلكم.

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې قدم ایږدې ، نو دَ هغوي آیتونه به ستاسو باره کښې هم وي ، دا نه ده چې دَ هغوي سره دَ قرآن ذاتي دشمني وه ، دَ قرآن دَ چا دَ ذات سره کار نشته دې ، قرآن اوصاف بیانوي۔

ابوهریره رضي الله عنه فرمائي۔

## ما اشبه اللیلة بالبارحة

دَ نننۍ شپه او بیګانۍ شپه څومره ښکلې یو شان دي ، نو تیر او تاسو یو شان ئې ، دا نه چې خبره ختمه شوه۔

دَ حذیفه رضي الله عنه مخکښې دا آیت اوئیلې شو چې

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾﴾ سورة المائدة 44۔

چا چې دَ الله په مقرر شده قانون فیصله اونکړه نو دا سړي کافر دي ، نو هغه سړي اووئیل چې دا آیت خو دَ یهودو په باره کښې نازل شوي دې ، نو حذیفه رضي الله عنه ورته اووئیل۔

نِعْمَ الْإِخْوَةُ لَكُمْ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنْ كَانَتْ لَكُمْ كُلُّ حُلْوَةٍ، وَلَهُمْ كُلُّ مُرَّةٍ [1]

وئیل ئې ښکلې رونړه مو موندلي دي بني اسرائیل ، چې خوږ آیت راځي نو هغه ستاسو باره کښې راځي او چې تریخ آیت راځي نو وائې دا دَ بني اسرائیلو باره کښې دې ، چې ښه آیت راځي نو سینه تاو کړه ، چې دا زمونږ باره کښې دې ، دَ فاولئک هم المفلحون آیت چې راشي نو وائې دا زمونږ باره کښې دې ، او چې دِ لا تشتروا بایتي ثمناً قلیلاً آیت راشي ،نو وائې دا دَ یهودو باره کښې دې ، دا خو زمونږ باره کښې نه دې ، خواره ستا دي او تراخه دَ هغوي دي۔

## میٹھا میٹھا ہپ ہپ اور کڑوا کڑوا تو ! !

نو شان نزول زمونږ شیوخ کرام په هغه ځائې کښې بیانوي چې دَ قرآن په آیت سړې نه پوهیږي ، تر څو چې شان نزول نه وي بیان شوي ، لکه دَ بدر واقعه ، دَ احد واقعه شوه

---

[1] المسند الجامع لابن بحير۔

، هغه په آيتونو کښې مختصر ذکر دي، نو تر څو چې شان نزول نه وي بيان شوې نو په آيت سرې نه پوهيږي ، نو هلته زمونږ شيوخ خامخا شان نزول بيانوي ، او که په نورو ځايونو کښې بيان شي نو نقصان ئې دا دې چې خصوص پکښې راځي ، خو چې کله دا نقصان نه وي نو بيا بيانول ئې اولي دي۔

## دَشان نزول بارہ کې يوہ بله تنبيه:

مفسرين کله کله دَ آيت سره ذکر کړي نزلت في کذا ، او نزلت في کذا ، وائي دا فلانکې معامله کښې ، او فلانکې معامله کښې نازل شوې دې ، کله کله چې اوکتلې شي نوهغه کومه واقعه ئې چې ذکر کړې وي نو هغه د آيت نه روستو وي او آيت ترې مخکښې نازل شوي وي ، او دې وائي نزلت في کذا ، نو مفسرين چې دا وائي نو دَ دې دوه مطلبونه دي ، يو

۱۔ مطلب ئې دا وي چې دا واقعه اوشوه او آيت مخکښې نازل شو نو واقعه مخکښې وي او آيت روستو وي ، او

۲۔ مطلب ئې دا وي چې کله کله مفسرين نزلت في کذا ، په دغه معني نه وائي بلکه کله ئې مطلب دا وي چې نزلت في هکذا ، چې په داسې عوندې واقعه کښې دا آيت نازل شوې وو، حالانکه دا واقعه خو روستو ده ، خو داسې واقعه دَ نبي عليه السلام په زمانه کښې راغلې وه ، نو په هغې کښې دا آيت نازل شوې وو، نو دا اولنۍ واقعه او دا روستنۍ واقعه يو بل سره سمون خوري ، او مفسرين چې وائي نزلت في کذا ، نو تاته دا ښائي ، چې دا آيت په هغه واقعه پورې خاص نه دې ، نو که ستا په زمانه کښې هغه شان واقعه راشي ، نو ته وئيلې شي چې نزلت في کذا، چې دا آيت دَ نبي عليه السلام په زمانه کښې په داسې واقعه کښې نازل شوې وو، نو دَ دې آيت مصداق دا دې ، مثال په طور يو سړې دي او دَ هغه دَ زمکې مسئله راغله او وائي چې راځئ چې په شريعت فيصله کوو هغه بل ملګرې ورته وائي چې صحيح ده شريعت ته به لاړ شو ، او استاجي

Maktaba Tul Ishaat.com

ته به اووایو چې مونږ له په شرعي طریقي باندې فیصله اوکړه ، او دې اووائي چې دا کچرې دَ څه دَ پاره دي ؟ دې وائي چې راځه کچهرې ته به ځو ، ځکه چې هلته خو قاید بابا چلیږي ، او هلته خو وړ پړ شي او پړ وړ شي.

شیخ صاحب وائي چې هلته خو دا چې اشهد شاهدي کوم چې زورور وړ دې ، او کمزورې پړ دې ، نو یو وائي چې فیصلې له به جماعت ته ځو او بل وائي کچهرې ته به ځو، خیر خو سړې ئې مجبوره کړو او کچهرو ته ئې بوتلو هغوي پړ وړ کړو او وړ ئې پړ کړو،اوس تا دا واقعه وئیله او ورسره دې دَ سورة النساء واقعه اووئیله ، او داسې دې اووئیل چې نزلت في کذا، منافق وئیل چې کعب بن اشرف ته به فیصله وړو ، او یهودي وئیل چې نا محمد صلي الله علیه وسلم ته به فیصله اوړو، او داسې واقعه راغلې وه دَ نبي علیه السلام په زمانه کښې نو دَ نزلت في کذا دا مطلب دې ، نو داسې نه ده چې کني آیت کریمه دي خامخا روستو نازل وي او واقعه دي خامخا مخکښې وي، نو دا ځکه چې عموم دَ قرآن خراب نشي، دَ قرآن عموم برحال خود پریښودل دا یوه اهمه ذمه داري ده ، قرآن عام کتاب دې، او سمندر په کوزه کښې بند کړې ، نو دا یو ښو خبرې قابلې توجې وې ، یو طریقه د تفسیر ، دویم شان نزول او دَ هغې حیثیت.

# تقسيم دَ قرآن

## څلورو حصو ته

زمونږ دَ شیوخو دَ وینا مطابق قرآن په اعتبار دَ فهم سره څلور حصو ته منقسم دي ، هره حصه په "الحمدلله" سره شروع ده ، په دې تقسیم کښې راز دا دې ، چې مونږ مخکښې وئیلي وو، چې په انسان باندې اولنې فرض هغه معرفت الهي دې ، دَ الله پیژندل دا په هر انسان باندې فرض دي ، او قرآن دَ دې فرضو ښودلو دَ پاره راغلې دې، چې خلقو ته دَ الله تعارف اوکړي، او دا تعارف الهي قرآن په داسې اسان انداز سره کوي، چې په هغې یو زمیدار سړې او یو ناپوهه سړې هم پوهیږي، او که یو دانشور او فلسفي دَ هغې تفصیل کول غواړي نو دَ هغې دَ تفصیل نه به دَ هغه ذهن قاصر شي، نو نه پکښې ډیر لنډ والې شته دې، او نه پکښې ډیر طوالت اوږدوالې شته دې ، دا دَ قرآن کمال دې چې اختصار ئې مخل نه دې ، او طوالت ئې ممل نه دې ، اختصار د قرآن داسې نه دې چې کنې سړې پرې پوهه نشي او اوږدوالې ئې هم داسې نه دې چې کنې سړې ستړې کړي، دَ نفحة العرب خبره به مو یاده وي چې

جمیع الکتب یدرک من قرأها
ملال او فتور او سآمة

سوي هذا الکتاب فان فیه
بدائع لا تمل الی القیامة

ترجمه : ټول کتابونه چې څوک لولي نو په هغه ستړلې والې ، سستي او ستومانتیا راولي خو دَ قرآن نه علاوه څکه چې په دې کښې داسې نکتې دي ، چې هغه تر قیامته پورې نه ستړې کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ دې وجې نه نبي عليه السلام فرمائيلي دي. چې

**لا يشبعُ مِنه العلماءُ، ولا تزيغُ به الأهواءُ، ولا يَخلَقُ عن كثرةِ ردٍّ، ولا تنقضي عجائبُه**[1]

چې عالمان ترې مړېږي نه ، په اړولو زړېږي نه ، او ناآشنا نا اشنا نکتې ئې ختميږي نه. نو دا تعارف الهي په داسې انداز کوي چې هر سړې پرې پوهېږي که دائي منطقي ته حواله کړې وې ،چې خلقو ته تعارف الهي اوکړه ، نو هغه به وئيل چې

**سبحانه ما اعظم شانه لا يحد ولا يتصور**

او بيا به ئې په لا يحد کښې شپاړس ورځې سبق وئيلې نو امې به ورته مخامخ ناست وو- ورته به ئې وئيلې چې استاذجي په تياره کښې لګيا ئې ، نو چې استاذ په خپله په تياره کښې وي نو شاګرد به څه پوهه کړي ، او څه به ئې رڼا ته کړي ، د منطقي دَ توحيد حاصل څه دې ؟ خو الله بسيط ذهناً وخارجاً. دا دَ منطقي توحيد دې نو بيا به خلق په دې نه پوهيدل دې خو پرې ښه پوهه شوې وو، خو عوام پرې پوهه نه شو، او نه ئې پرې پوهه کولې شو.

نو دَ قرآن انداز فطري انداز دې ، چې دَ هر چا زړه پرې اوبه اوځکي ،داسې انداز دې دَ قرآن نو طبعي طور دَ الله دَ معرفة څلور طريقې دي. چې هر يو سړې په دې څلورو خبرو کښې سوچ اوکړي نو دَ ده ضمير به فيصله اوکړي چې يوه هستي شته او دَ هغه هستي پشان بله هستي نشته دې ، نو دا به دَ دوي دَ ضمير فيصله وي ، او دا به ئې دَ زړه آواز وي زړه به ئې په دې اوبه اوځکي ، دې به په ايمان کښې مجتهد شي، او دې به په ايمان کښې مقلد نه وي، مخکښې مو وئيلي وو کنه چې الله پيژندل پکار دي خو دَ چا په خله نه چې څوک اووائي چې فلانکي وائي چې الله شته دې ، نو زه هم وايم چې

[1] (1) أخرجه الترمذي (2906) ، والدارمي (2/ 435) ، والبزار (836) من طريق حمزة الزيات به. وانظر «علل الدارقطني» (322) .

الله شته دي ، نا ته سوچ اوکړه . قرآن په داسې انداز دَ الله تعارف کوي چې دَ هر چا زړه پرې اوبه اوشنبي ، او دا اووائي چې الله شته دې ، او الله يو دې ، او دَ الله دَ ذات په شان دَ چا ذات نشته دې، چې هر سړې په دې باندې پوهه شي، نو دَ هغې دَ پاره شلور طريقي دي .

**١. نظام خالقيت . ٢. نظام ربوبيت .٣. نظام رحمانيت يا نظام بركت .۴. نظام بادشاهت شاهي نظام ، مالكي نظام .**

شلور خبرې داسې دي چې ديکښې سوچ اوکړې شي نو ضمير فيصله او آواز کوي چې يو ذات شته دې ،

## نظام خالقيت

اول نه ووم چا پيدا کړم ، اول نش وونو چا شته کړو او ښکه شته شو ؟ دا ووني بوټي نه وو نو دا چا پيدا کړل ، زه ښکه دي دنيا ته راغلم ؟ ډير شيزونه زما مخې ته دي چې دنيا ته راغلل نو دا چا راوستل او ښکه راغلل، دَ نش نه شته کول دا په خله کښې اسان دي، خو ښکه راغلم او چا راوستم دا په څه باندې کيږي نو دا يو لوئې نظام دې ، او زميدار کاکا په لنډه پوهه شو چې دانې مې اوکرلې ، ورکې مې کړې ، اوهغه شته شوې ، نو دا چا شته کړې ، او پټې گل گلزار شو، دا چا اوکړل ، نو دا يو نظام دې نظام خالقيت . **خالق لكل شيئ هو الله .**

## ٢ - نظام ربوبيت

دَ پالنې نظام ماشوم دَ مور په کيډه کښې وو ديته خوراک چا ورکړو تقريباً دَ شلورو مياشتو نه يا لږ مخکښې ماشوم دَ مور په کيډه کښې دَ ساه والا شي ، او ساه والا ته دَ خوراک ضرورت وي ، نو دوي له دغلته خوراک چا ورکړو او دَ څه په ذريعه ئې ورکړو ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

او چې دَ مور دَ ګېډې نه دَ دنیا ګېډې ته راغلو نو ژبه ئې کمزورې وه څه غوښتل ئې نشو کولې دارنګې نظام تکلم ئې خراب وو، خپل حاجت ئې نشو پوره کولې، دې له الله دَ تربیت نظام څنګه اوکړو.

غم روزی مه خور بر هم نه زن اوراق دفتر را
که پیش از طفل ایزد پر کند پستان مادر را

دَ ډوډې غم مه کوه ګیډه وره چې څه به خورم او څنګه به ئې خورم ؟ دَ ماشوم دنیا ته دَ راتلو نه مخکښې الله ورله انتظام کړې وي، او چېنه ئې ورله دَ مور په سینه کښې دَ پیو پیدا کړې وي، نو دَ رزق تربیت غټول کمال ته رسول دا چا اوکړل ؟ هغه ژبه چې په وړوکوالي کښې ئې کار نه کوو او اوس کار کوي دا چا اوکړل ؟ دَ تیغ نه اونه چا جوړه کړه، په دې تربیت کښې که یو سړې سوچ اوکړي نو یځپله به اووائي چې داسې یو ذات شته دې.

# ۳- نظام برکت

نظام رحمانیت چې دَ نش نه شته الله کړې، پالنه درله الله اوکړه، دنیا کښې چې کوم مقصد حاصلول وو نو هغه مقصد ته ورسولې، غنم دَ نش نه چا شته کړل، چا غټ کړل هر څه الله اوکړل، نو اوس دې نوړې ته چا راورسول ؟ او په دې باندې مور چا کړې ؟ او په بدن کښې ترې دا وینا چا جوړه کړه، روټې دې اوخوړله او وینه او فضله ترې جوړه شوه دننه لوئې نظام په هغې روان دې، نو دا برکات په هغې کښې چا واچول، ماشوم نه وو پیدا شو ځواني ته ورسیدو پلار ئې ډېره وهلې ده او بچې کارونه کوي نو دا برکات چا اوکړل، نو دا برکات دي او دا نظام رحمانیت دې.

# ۴- نظام مالکیت

غاوره نه شي چې دا وائي چې که یم نو زه یم، دَ نش نه شته شوئ لوئي شوئ عقل درکښې راغې ، نو چې دَ ځان نه دي طمع پیدا نه شي مره !! لا تمش في الارض مرحاً مستي مه کوه د سر دَ پاسه سر وي یو بادشاه شته دې او دَ ژوند واګي دي دَ هغه په لاس کښې دي ، سم شه ګني را به ئې کاري او خانګي وانکي به پروت ئې ، ستا دَ ژوند اختیارات دَ بل چا سره دي ، دا مه وایه چې فلانکې فلانکې ته به اووایم او هغه به خدائې ته اووائي نو په الله باندې څوک زورور نشته دې ، الله نه دَ چا دَ میني نه مجبوره کیږي، او نه پرې دَ چا مخ زورور دې ، لم یلد ولم یولد ، هغه بادشاه دې ، نو نظام مالکیت ، دا خلور نظامونه شو۔

۱- دَ نش نه شته کول ۲- تربیت کول ۳- برکت اچول او ٤- بیا واکداري نو په دې خلورو خبرو چې څوک پوهه شي نو ضمیر به ئې فیصله اوکړي چې یو ذات شته دې ، نو قرآن خلور حصې دي او هره یوه حصه ئې په الحمد لله سره شروع کیږي ،۔

## I - اوله حصه

دَ سورة الفاتحه نه تر سورة الانعام پورې ده ، په دیکښې ذکر دې دَ دلائلو دَ نظام خالقیت دَ الله۔

خلقکم والذین من قبلکم ، یایها الناس اتقوا ربکم الذي خلقکم من نفس واحدة ، وخلق منها زوجها ، یخلق ما یشاء ، نو پیدائش ذکر کوي نو اول دَ الله دَ معرفت دَ پاره خبره چې

الخالق لکل شيئ هو الله ، دا په پینځه سورتونو کښې ذکر کوي،۔

Maktaba Tul Ishaat.com

## 2- دويمه حصه

دويمه حصه دَ سورة الانعام نه تر سورة كهف پورې ده ، په ديکښې ذکر دَ دلائلو دَ نظام ربوبيت دې ، په دې حصه کښې دولس سورتونه دي،

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ۝١ ﴾ سورة الكهف 1.

ترجمه : حمدونه دې الله تعالي هغه ذات چې نازل کړې ئې دې په خپل بنده باندې کتاب او نه ئې دې پيدا کړې په دې کښې څه کوږوالې.

نو رب راغلې دې نو خالق ئې منې نو رب ئې هم اومنه ، اغير الله ابغي ربا ، وهو رب كل شيئ نو اوله حصه کښې وو حمد بالخالقيت، نو دلته دې حمد بالربوبية.

## 3- دريمه حصه

دَ سورة الكهف نه تر سورة سبا پورې ، په دې کښې شپاړلس سورتونه دي او په ديکښې ذکر دَ دلائلو دَ برکت دې ، چې المبارک في کل شيئ هو الله ، الحمد لله الذي انزل علي عبده الكتاب ولم يجعل له عوجا . برکات جسمانيه او برکات روحانيه نو چونکه برکات روحانيه دا اهم وو نو دې وجې نه ئې دَ برکاتو روحانيو منبع او چشمه ذکر کړه . چې

﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ۝١٤ ﴾ المومنون: ١٤

﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝١ ﴾ الملك: ١

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ۝١ ﴾ الفرقان: ١

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾ ﴾ الفرقان: ٦١

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَيَجْعَل لَّكَ قُصُورًا ﴿١٠﴾ ﴾ الفرقان: ١٠

## 4- څلورمه حصه

دَ سورة سبا نه تر آخرة پورې په ديکښې ذکر دَ دلائلو دَ نظام مالکيت دې ، دَ دنيا او آخرت دَبره او ښکته واکداري دَ الله ده.

**الحمد لله الذي له ما في السموات والارض وما بينهما ، وله الحمد في الآخرة ، له الحمد في الاولي والآخرة.**

اختيارمندي دَ دنيا او دَ آخرت دَ الله ده، نه که د بل چا، دَ سورة سبا او سورة فاطر دَ دوارو په ابتدا کښې ئې حمد راوړو ، چې الحمد لله، کمال دې پکښې ، اختيارمندي د دنيا او دَ آخرت او ورسره قيامت او نفي دَ شفاعة قهري هم ذکرکوي ، نو مسئلې دوه وې مسئله دَ قيامت او نفي دَ شفاعة قهري نو دې وجې نه ئې دوه ځله الحمدلله ذکرکړو، په آخري حصه کښې پنځه ځله ئې الحمد لله راوړو او دَ معرفة الهي طريقې څلور وې او هغه دَ قرآن په هره حصه کښې ذکر شوې.

دَ قرآن څلور حصې وې ، اوله حصه دَ سورة الانعام پورې په ديکښې پنځه سورتونه وو او مسئله وه پکښې چې الخالق لکل شيئ هو الله ،

دويمه حصه تر کهف پورې وه په ديکښې دولس سورتونه وو او مسئله وه پکښې چې المربي لکل شيئ هو الله ، دريمه حصه دَ سورة سبا پورې وه په ديکښې شپاړلس سورتونه وو، او مسئله وه پکښې چې المبارک في کل شيئ هو الله، او څلورمه حصه تر آخره پورې وه ، او هغې کښې يو اتيا سورتونه وو، او مسئله وه پکښې چې المالک لکل شيئ هو الله ، (اوله حصه پنځه سورتونه، دويمه حصه دولس سورتونه ، دريمه حصه

Maktaba Tul Ishaat.com

شپاړس سورتونه او څلورمه حصه یو اتیا سورتونه ، نو ویسه شیخ صاحب رح به فرمائیل - چې دَ ټیلیفون نمبر ترې جوړ کړې -
۸۱،۱٦،۱۲،٥، نو درنه هیرېږي به نه - نو دا څلور حصې دَ قرآن وې په اعتبار دَ فهم سره
.

# تقسيم دَ قرآن كريم په اعتبار دَ سورتونو

اوس یو دَ قرآن تقسیم دې په اعتبار دَ سورتونو چې په قرآن کښې یو سل څوارلس سورتونه دي، او بل دَ قرآن تقسیم دې ، په اعتبار د- سیپارو سره نو په قرآن کښې دیرش سیپارې دې ، اصل کښې دَ قاریانو خپل یو تقسیم وې دَ تلاوت خلقو به څانله حساب مقرر کړې وو، نو چا به داسې مقرر کړو چې یاره چې په یوه میاشت کښې قرآن ختم کړم نو چې یوه یوه سیپاره تلاوت کوې نو ختم به شي، او چا دا حساب مقرر کړې وو چې په هفته کښې دې قرآن ختم کړم ، نو هغې له منازل سبعه دي ، چې یو منزل په ورځ کښې وائي نو قرآن هفته کښې ختمیږي ، روستو پکښې نور راغلل نو وئیل ئې نیمه سیپاره به وایو، وخت راسره کم دې ، نو په دوه میاشتو کښې ئې ختمولې شو، نو دوي له پکښې نصف نصف شو، بیا نور راغلل وئیل ئې یاره مونږ سره وخت کم دې ، دَ کافیه تکرار هم دې ، نو مونږ به پاؤ پاؤ وایو نو دوي له پکښې ربع ربع شو ، نو دَ پاؤ نه چې څوک ښکته دي نو په اسم تفضیل سره دلاکان دي دله ډله ده ، نو طالب جان پاؤ تلاوت هم کله کله نه کوي نو بیا چې عبارت وائي نو دا پته ورته نه لګي چې دا قرآن وائي او که عربي وائي ، او که حدیث وائي -
ویسه شیخ صاحب به وئیل چې طالب دې قرآن ته حاضري کوي خیر دې پاؤ پاؤ دې وائي خو چې وائي ئې مفسرین دَ دې آیت دَ لاندې -

﴿ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَـٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُوا۟ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾ ﴾ سورة الفرقان 30-

لیکي ، چې دَ چا ورد نه وي مقرر دَ قرآن دَ تلاوت دَ پاره نو هغه پکښې هم داخل دې ،

نو تلاوت خاخحا کوي.

سورت په لغت کښې ماخود دي دَ سور البلد نه، دَ کلي نه چاپيره به ديوال وو او دَ هغې به دروازې وي لکه پشاور چې ديته يو ديوال تاو وو هشت نکرې دروازه ئې وه، دغه شان نورې هم وې نو هغه ديوال به کلې راګير کړې وو، احاطه به ئې پرې کړې وه، نو دې سورت هم خپل مضامين راګير
کړي وي نو ځکه ورته سورت وائي.

دويمه توجيه دا چې دا مهموز دي، ماخوذ دې دَ سؤر نه، جوتې او مابقي من شيئ ته وئيلې شي، نو ديته سورت ځکه وائي چې هر سورت دَ ټول قرآن نه ما بقي وي، دې وجې نه ورته سورت وائي.

دريمه وجې دا ده، چې سورت رفعت، بلندي او درجې ته وائي، لکه

الـــم تـــر ان الله اعطـــاک ســـورة

تـــري کـــل ملـــک حولهـــا يتذبـــذب

نو سورت ته سورت ځکه وائي چې دا هم بلندي ده، او اوچتوالي دې، هر سورت دا مستقل رفعت دې، ځکه ورته سورت وائي.

آيت، علامې ته وائي نو پخوا چې به کاتبانو ليکل کول نو علامه به ئې آخر کښې ليکله، دې به دلالت کوو چې دې ځائې آيت سر ته اورسيدو، دا به تاء مدوره (ة) ليکله، نو تکي ترې لا رو نو صرف دائره پاتې شوه، اوس پکښې ورسره دننه نمبر دَ آيت هم ليکي، نو دا ئې دَ آية نه دا ة راخسته نو هغه به ئې ليکله.

## خلاصه دَ ټولو اصولو په لنډ انداز سره.

قرآن کريم کوم کتاب دې؟ قرآن څه وائي؟ ۲. چاته ئې وائي؟ ۳. څنګه ئې وائي؟ ٤. او چې داسې اوکړې نو اثر مرتبه پرې څه دې؟ قرآن دَ لوئې ذات لوئې کتاب لويو کمالاتو والا لوئې مقصد له راغلې په لويو آدابو زده کول غوارې چې لوئې فضيلت درته ملاؤ

Maktaba Tul Ishaat.com

شي نو
قرآن څه وائي ، قرآن دَ خير كتاب دې او خلقو ته دَ خير مسئلې بيانوي ، چې هغة اته مسئلې دي .
١- توحيد دَ الله چې دا دَ ټولو خيرونو جرړه ده ، نو قرآن دا مسئله بيان كوي سره دَ مراتبو دَ توحيد نه .
توحيد في وجوب الوجود ، توحيد في الخالقيت ، توحيد في التدبير ، او توحيد في العبادة ، او توحيد دَ خير نه ډكه مسئله نو دَ دې خيريت به دَ شر نه پيژني ، دَ مقابل نه به ئې پيژني ، چې هغه دې شرک ، نو قرآن دَ شرک اقسام ذكر كوي او رد پرې كوي، (شرک اعتقادي او فعلي ، او بيا دَ شرک اعتقادي څلور اقسام ، شرک في التصرف ، شرک في العلم ، شرک في الدعاء ، شرک في العبادة ) او چا چې په مسئله دَ توحيد كښې اختلاف كړې وو، مشركان نو دَ هغوي اقسام ذكركوي ، او په هغوي به رد اوكړي ،
(مشر كين بعباد الصالحين، مشر كين بالملائكة ، مشر كين بالجن ، او مشر كين بالكواكب ) .
٢- مسئله د توحيد ، توحيد دَ خير مسئله ده ، نو دا به دَ خير دَ كتاب په حواله باندې پيژني ، نو صداقة الكتاب ، ٣ مسئله دا دَ خير مسئله به دَ خير الكتب په حواله دَ خير الرسول په تعليماتو مني، نو صداقة الرسول .
٤- مسئله دا خيرونه حاصلول خو ګران كار دې ، نو عقيده دَ آخرت اوله ، چې دا خيرونه حاصلول درته اسان شي او باثيلل درته ګران شي، نو ايمان باالآخرة ، .
٥- مسئله دا خيرونه چې دې حاصل كړل نو بخيل كيږه مه او نورو ته ئې هم اورسوه ، او دَ دې په رسولو كښې انتهائي كوشش اوكړه ، دومره كوشش اوكړه كه دَ سر شيندل پكښې راځي كه خپل وي او كه د بل وي ، نو هم ئې اورسوه ، نو لكه دَ ټيپر ورته ګوره .
نو الجهاد في سبيل الله .

۶- مسئله چې دې خیرونو په رسولو کښې بدن لګوې نو مال پکښې هم اولګوه ، ځکه چې جهاد بغیر دَ لګولو دَ مال نه نه کیږي ، نو الانفاق في سبیل الله-
۷- مسئله یو خو یو الله دې چې خوند کوي نو تاسو دې مسئلو رسولو ته متفق شي نو التنظیم ، او
۸- مسئله چې لوښي یو ځائې شي نو کړنګ کوي نو ملګري چې سیوا شي نو څه به کشران وي څه به مشران وي نو دَ یو بل خیال ساتل ، مشر دې دَ کشر خیال اوساتي او کشر دې دَ مشر خیال اوساتي ، نو الآداب نو قرآن دا اته مسئلې بیانوي-

# قرآن کريم دا اته مسئلے چا ته وائی ؟

قرآن چې دا دَ خیر آواز کوي نو صدا به صحرا او خوشي میدان ته نه ده ، بلکه دوه غټو خلقو ته خطاب کوي - ۱- منونکي ۲- نه منونکي -
بیا نه منونکي په شپږ قسمه باندې دي - دهریه مجوس ، یهود ، نصاري، منافقین ، او مشرکان - قرآن منونکو ته کله تسلي ورکوي ، چې خفه کیږئ مه ، امتحانات به راځي ، خودنیا ستا ده برزخ ستا دې ، آخرت ستا دې ، نو بشارت ، نو نر شه بهادر شه بیان اوکړه ، فلانکو ته نه ګوري -

﴿ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ ﴾ سورة الاحقاف 35-

نو تشجیع او که چرته وقتي طور څه سستي راشي ، نو په هغې زورنه ورکوي چې داسې ورله کول نه دي پکار ، او نه منونکو ته چې خبره کوي نو هغه کله مشرکان وي او کله یهودیان وي ، کله عیسایان وي او کله منافقین وي ، یهود چې په علم کښې خراب شوي وو، نو دغه خلقو ته قرآن خبره کوي چې تاسو خو ښه پوهه ئي نو ولې خراب شوې ؟ عیسایان چې په پیرې کښې خراب شوي وو ، منافقان چې قوت سیاسي ئې خراب وي سیاسي لیدران وي ، او مشرکان ګده نشین ، نو قرآن دې ټولو سره چې خبره کوي نو کله دَ دوي دَ مرض علاج کوي چې دوي کښې دا پلیتي دي ، نو اې مسلمان

Maktaba Tul Ishaat.com

شهزاده !! دا پلیتې په دوي کښې دَ الله خوښې نه دي نو په تا کښې به ئې څه خوښې شي ؟ نو دَ دې پلیتو نه ځان اوساتې . نو کله هغوي له دَ هغوي په ناکاره عمل باندې زورنه ورکوي چې تاسو انکار دَ توحید نه دَ رسول نه دَ قرآن نه دَ آخرت نه کوې دا درله نه وو پکار .

## څنګه ئې وائی ؟

نو ادع الي سبيل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن ، قرآن دا اته مسئلې په دې دريو طريقو سره بيانوي .

۱. دعوت بالحکمة يعني دعوت بالدليل ، قرآن چې دا مسئلې ذکرکوي نو دَ دې دَ پاره ثبوتونه ذکر کوي ، قرآن چې وائي الله يو دې، نو مخاطب به وائي چې ثبوت درسره په دې څه دي ؟ او دا خبره زمونږ دَ عقل نه خلاف ده ؟

نو قرآن وائي راشه چې ثبوت درته اوښايم ، نو قرآن دلائل وائي ، کله به وائي مخاطب چې منلې به مي وه ، خو دا مسئله دَ عقل نه خلاف ده، نو قرآن ورته دليل عقلي ذکر کړي ، چې دَ عقل نه خلاص شي لږ سوچ اوکړه کنه ! دا خو دَ عقل سره موافق ده ، بيا دليل عقلي به کله محضه وي او کله به اعترافي وي کله به الزامي وي .

کله به وائي ما به منلې وه خو ته په دې مسئله کښې يواځې ئې ، نو دليل نقلي به ورته ذکر کړي چې ماسره خو ملائک په دې مسئله کښې ملګري دي، جنات راسره ملګري دي ، انبياء راسره ملګري دي ، نو بيا دليل نقلي کله به نقل من الانبياء وي کله به نقل من الملائکة وي کله به نقل من الجنات وي کله به نقل دَ کتب سابقه نه وي او کله نقل به دَ وحوش او طيورو نه وي .

۳. کله به مخاطب وائي ما به مسئله منلې وه ، خو ته دَ ځان نه لګيا ئې ، خو قرآن به ورته دليل وحي پيش کړي هسې دَ ځان نه لګيا نه يم بلکه ماته په دې وحي شوې ده .

۴. کله به مخاطب هسې دَ سپي لګې به وي او دَ تس نه به مس کيږي نه ، هسې به ئې

نه مني ، وائي به ته هسې لګيا ئې ، نو قرآن به قسم ذکر کړي چې قسم په خدائې هم دغه شان خبره ده ، اثبات بالقسم ، چې زمانه ګواه ده فرښتې ګواه دي ، بادونه ګواه دي هسې نکره نکړه مه کوه - نو قسم به قرآن پيش کړي دا څلور طريقې دَ دعوة بالحکمة دي -

دويمه طريقه دَ دعوت بالموعظة الحسنة -

اومنئ اومنئ !! دَ دنيا او دَ آخرت کامیابي ستاسو ده ، او اومني ! دَ دنيا مشرت به درکړم ، ليستخلفنکم دَ دنيا بادشاهان به مو کړم ، او خوشحاله به ئې ، سلم عليکم طبتم ، نحن اولياءکم في الحيوة الدنيا وفي الآخرة - نو بشارتونه ورکوي دنيوي برزخي او اخروي ، او که نه منئ ! نو بې عزته به شې ، پرتوګ به مو اووځي ، په دنيا کښې به ذليله ئې ، برزخ کښې به ذليل ئې ، او آخرت کښې به ذليله ئې نو تخويف دنيوي او اخروي به ورته ذکرکړي -

۳- دريمه طريقه دَ دعوت

وجادلهم بالتي هي احسن ، يواځي خو به ته نه ئې لګيا څوک به سر هم راوچتوي چې استاذجي په فلانکې کتاب کښې ئې چې دا ليکلي دي فلانکې ملا داسې وائي ، نو دې له به هم څه جواب ورکول غواړي ، نو رد دَ شبهاتو ، نو قرآن دا مسئلې داسې بيانوي -

## اثر مرتبه به څه شی ؟

قرآن چې دوي ته دا مسئلې په داسې انداز باندې اووائي ، نو څه نتيجه به ئې راوځي ؟ نو نتيجه به داشي چې قرآن اووائي نو ځنې خلق به ئې اومني ، په زړه کښې به ئې مينه وي نو په بيان سره به ورته هدايت نصيب شي - او که دَ هدايت نه پس ئې بيان واوريدو نو پس دَ بيان نه به کلک شي او که کلک وو،نو په بيان سره به ورته ربط القلب نصيب شي، په زړه به ئې مضبوطي راشي نو که بيا ئې په آره ، اره کوي نو هم جدا به نشي ، نو انابت ، هدايت ، استقامت او ربط القلب به راشي ، مطلب دا چې ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

بیان بې ځایه نه ځي ، او هیڅوک هیڅ وخت دَ قرآن نه څوک مستغني کیدې نشي .
خو کورې بیان دَ قرآن به په څنو باندې رې ایکشن هم کوي ، ستا بیان به وي نو
څنې شکیان وي نو چې ته بیان اوکړې نو هغه وائي ، زه مړه دا پکښې چا راوستي دي
نو دَ شک نه به گمراه شي ، نو چې ته نور بیان کوې ،نو هغه به درسره جنگ کوي چې
غلې شه ، نو جنگ به درسره کوي نو چې مرچکې خورې خله به دې ترخیږې نو آخر
کښې به دَ هغه په زړه مهر جباریت راشي نو اول شک وو بیا ضلال شو بیا جدال شو،
نو بیا مهر جباریت شو . نو ستا بیان دَ فائدې نه نه خالي کیږي ، څوک به دَ انابت
آخرې درجې ته اورسیږي ، او څوک به دَ شک آخرې درجې ته اورسیږي .

تمت بالخیر+

# خاتمہ مسک

شکر نعمتہائی تو چنداں کہ نعمتہائی تو
عذر تقصیرات ما چنداں کہ تقصیرات ما

لوئي ذات له بي انتها حمدونه چي په خپل گناهگار بنده باندې دَ جيل په پنجرو كښې لوئي فضل او احسان اوكړو چي دَ قرآن كريم سره ئي تعلق نصيب كړو او دَ څه ماتو ماتو ټكو ليكلو توفيق ئي راكړو ، دَ وس مطابق دَ كم فهمۍ او كم علمۍ دَ اقرار سره په دريم ځل دَ جيل په تيرو كښې اوكتلې شو، دا دَ الله تعالي لوئي فضل او احسان دې ، هغه لوئي الله تعالي وسيله كوم چي دا كتاب دې الله دَ خپل كتاب په خدمت كښې قبول كړي ، او ما عاجز دِ الله تعالي دَ قرآن كريم دَ خادمانو په لړئ كښې شمير كړي الله تعالي دَ عوامو او طلباء كرام دَ پاره دَ فائدې اوګرځوي او الله تعالي ځما دَ شيوخو كرامو ژوند او وفات شوو دَ پاره صدقه جاريه اوګرځوي ، ځما دَ عاجز داجي ګناهونه دِ الله تعالي معاف كړي ، ځما عاجزه بي بي دِ الله تعالي روغه او صحت منده كړي الله تعالي دې دَ هغې غمونه په خوشحالۍ بدل كړي ، ځما عاجزانې خويندې دِ الله تعالي خوشحاله او جوړې ساتي ، الله تعالي دِ ترې خوشحاله شي ، ځما عاجزان رونړه دِ الله تعالي دَ مخلوق دَ محتاجئ نه اوساتي ، او الله تعالي دِ دَ هغوي نسلونه غوړ كړي هم په دين هم په دنيا، ځما بچي دِ الله تعالي دَ دين خادمان كړي ، ځما دَ استاذانو مراكز دِ الله تعالي تر قيامته دَ هغوي په نسلونو آباد ساتي ، ځما ملګري دِ الله تعالي په دنيا دَ دين دَ پاره اوځلوي، جواهر القرآن مدرسه دِ الله تعالي دَ خپل محبت او دَ دين مركز اوګرځوي ، الله تعالي دَ هغې استاذان دَ دين دَ پاره او دَ خپل محبت او دَ رضا دَ پاره قبول كړي الله تعالي دِ جواهر القرآن نه وتلي او موجودا ، او راروان طالبان دَ دين او دَ خپلې رضا خادمان اوګرځوي، ټول مسلمانان خصوصاً ما او ځما مور او پلار ، رونړه خويندې او بچي او استاذان دِ الله معاف كړي ، الله تعالي دِ زمونږ نه رضا شي ، كومو ملګرو چي دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

دې قرآن خدمت کړې دې ، الله تعالي دِ پرې خپله پيرزونه او احسان اوکړي ، ځنې پېـ لاسونه چې جيل کښې ما سره دا مدد کوي الله تعالي ته معلوم دي ، الله تعالي دِ دَ زړه حاجتونه پوره کړي ، الله تعالي دِ ما او ټولو جيليان چې کوم ځائې دي دَ خپل دين خدمت له دَ جيل نه خلاص کړي ·

آمين يا رب العلمين

سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك

انا الاحقر مجتبى عامر بن عبد المتين عفا الله عنهما

11نومبر 2019ء 13 ربيع الاول 1441 ،

يـــا نـــاظراً فيــه ســل بــالله مرحمـــة
علـــي المصـــنف واســـتغفر لصـــاحبه
واطلــب لنفســك مــن خيــر تريــد بهــا
مــن بعـــد ذالــك غفرانـــا لكاتبـــه
لـــو أن لـــي يـــوم الـــتلاق مكانـــة
عنـــد الـــرؤوف لقلـــت يـــا مولانـــا
انـــا المســـيئ وانـــت مـــولي محســـن
يـــا قـــد أســـات وأطلـــب الاحســـانا

کــه پــه حســاب شي ځــائي مي نيشــته
کــه پــه احســان شي دَ خــواره جانــان بــه يمــه

## ----- فهرست -----



| | | |
|---|---|---|
| .1 | "دالئ كوم" | 1 |
| .2 | تقريظ<br>شيخ القرآن والحديث مفتى سراج الدين صاحب<br>(حفظه الله ورعاه) | 2 |
| .3 | تقريظ<br>شيخ القرآن والحديث استاذ العلماء مفتي محمد مسلم صاحب (سلمه الله) | 6 |
| .4 | تقريظ<br>تقي الاتقياء استاذ العلماء شيخ الحديث ابوعبيد مولانا عبد الرحيم صاحب (حفظه الله) | 7 |
| .5 | " منظومه " | 9 |
| .6 | "مقدمه" | 13 |
| .7 | "مقدمه" فضيلت العلم | ١٧ |
| .8 | تعريف دَ علم | ١٧ |
| .9 | دَ علم فضيلت دَ قرآن نه | 19 |
| .10 | دَ علم فضيلت دَ احاديثو نه | 20 |
| .11 | دَ علم باره کښې دَ عالمانو اقوال | 22 |



Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| 12. | باب اول دَ قرآن کريم<br>پيژندګلو او مقام | 25 |
| 13. | څونړ انداز درس | 26 |
| 14. | دَ شيوخو د طرز امتياز | 28 |
| 15. | اول هغه اصول چې د قرآن سره تعلق ساتي | 30 |
| 16. | تعارف دَ قرآن | 31 |
| 17. | اول فصل تعريف د قرآن کريم | 32 |
| 18. | دويم فصل<br>فضيلت دَ قرآن کريم | 35 |
| 19. | فضيلت انقلاب قرآن | 36 |
| 20. | دويم فضيلت القرآن خير كثير | 46 |
| 21. | دريم فضيلت : القرآن سبب للالفة | 52 |
| 22. | ٤- فضيلت صراط مستقيم | 54 |
| 23. | ٥ فضيلت سبب دَ رحمت خاصه | 56 |
| 24. | ٦- فضيلت حقيقي خوشحالي | 58 |
| 25. | ٧ فضيلت سبب دَ نزول دَ بركاتو | 60 |
| 26. | ٨ فضيلت كلام الله | 61 |

| | | |
|---|---|---|
| .27 | ۹ فضیلت دَ ژوند دَ تیرولو مکمل نظام | 62 |
| .28 | لسم فضیلت القرآن فضل الله تعالي<br>قرآن دَ الله فضل دے | 65 |
| .29 | فضیلت دَ قرآن من الاحادیث | 66 |
| .30 | دریم فصل<br>اسماء القرآن (نومونه دَ قرآن) | 73 |
| .31 | قرآن | 73 |
| .32 | صراط مستقیم, الکتاب | 74 |
| .33 | هدي ,الفرقان | 75 |
| .34 | الذکر | 76 |
| .35 | حبل الله ,برهان , نور | 77 |
| .36 | موعظة , شفاء ,رحمة | 78 |
| .37 | فضل ,تصدیق ,الحق , مبارک | 79 |
| .38 | تنزیل, المبین ,احسن القصص , عبرة ,ذکري | 80 |
| .39 | حکم, مفصل ,منزل ,صدق , عدل ,علم, | 81 |
| .40 | الحکمة ,بلاغ ,خیر ,علي ,حکیم | 82 |
| .41 | بینة ,الآیات ,القول , قول فصل ,التذکرة | 83 |
| .42 | الوحي ,البصائر | 84 |
| .43 | څلورم فصل | 85 |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| | حكمة نزول القرآن | |
| .44 | مقاصد دَ نزول قرآن | 85 |
| .45 | التدبر | 85 |
| .46 | التذكر | 85 |
| .47 | التبيان والبيان | 86 |
| .48 | مقصد الاخراج من الظلمات الي النور | 86 |
| .49 | التحكيم | 87 |
| .50 | شپږم (٦)حكمت معرفت دَ توحيد | 91 |
| .51 | اوم(٧) حكمت كلكول | 91 |
| .52 | پنځم فصل آداب د قرآن كريم | 93 |
| .53 | ادب څه ته وائي | 93 |
| .54 | دَ ادب اهميت | 93 |
| .55 | آداب | 95 |
| .56 | دَ نيت مقام او اهميت | 96 |
| .57 | غلط نيت | 98 |
| .58 | نيت صحيح كول | 100 |
| .59 | نيت مضبوطول | 101 |
| .60 | نيت ځان ته حاضرول | 103 |
| .61 | ۲۰ ادب تسلسل | 103 |

| | | |
|---|---|---|
| .62 | ادب الاستماع والانصات | 108 |
| .63 | ادب التدبر | 109 |
| .64 | التطهر من الانجاس الظاهرة والباطنة | 110 |
| .65 | الاجتناب عن التكبر | 111 |
| .66 | الاجتناب عن حب الدنيا | 112 |
| .67 | يكره قطع القرآن لمكالمة الناس | 113 |
| .68 | ويحرم توسده | 113 |
| .69 | ويكره جعله علي كرسي | 113 |
| .70 | ويكره جعله ذريعة لحصول الدنيا | 113 |
| .71 | دويم باب قرآن ـــِ څه وائي ؟ موضوع دَ قرآن | 115 |
| .72 | انسان څه شې دي ؟ | 115 |
| .73 | دَ انبياء كرامو عليهم الصلوات والتسليمات اتفاقي مسئلې | 117 |
| .74 | اول متفق عليها | 117 |
| .75 | مختلفة فيها | 117 |
| .76 | مقاصد ثمانيه | 118 |
| .77 | فصل اول (التوحيد) | 119 |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| 78. | دَ و ما يتبعه وضاحت او ربط بين المقاصد الثمانية | 123 |
| 79. | السوابق واللواحق | 124 |
| 80. | ۱۰ مسئله دَ توحيد | 124 |
| 81. | تعريف التوحيد | 127 |
| 82. | اقسام التوحيد | 131 |
| 83. | درجات د توحيد | 132 |
| 84. | درجه اولي(توحيد في وجوب الوجود) | 132 |
| 85. | دويمه درجه (توحيد في الخالقية) | 134 |
| 86. | دريمه درجه" توحيد في التصرف والتدبير" | 135 |
| 87. | څلورمه مر تبه("توحيد في الالوهية والمعبودية ") | 136 |
| 88. | اهميت د توحيد | 137 |
| 89. | التوحيد رأس الطاعات وملاک الامر | 137 |
| 90. | اول ما دعا اليه الرسل هو التوحيد | 139 |
| 91. | الكتب السماوية ما انزلت الا لتقرير التوحيد | 141 |
| 92. | الكائنات لم تخلق الا لاظهار التوحيد ، | 142 |
| 93. | الجن والانس ما خلقوا الا لمعرفة التوحيد | 144 |
| 94. | جنګي مسئله توحيد وه | 145 |

| | | |
|---|---|---|
| .95 | انداز بيان د قرآن كريم | 153 |
| .96 | فضائل او ثمرات دَ توحيد | 156 |
| .97 | حقيقة الشرك | 158 |
| .98 | دَ شرک سبب | 164 |
| .99 | اقسام دَ شرک | 167 |
| .100 | شرک اعتقادي | 167 |
| .101 | شرک فعلي او عملي | 168 |
| .102 | شرک اعتقادي قسمونه | 169 |
| .103 | ۰۱ شرک في العلم | 169 |
| .104 | ۰۲ شرک في التصرف | 171 |
| .105 | ۰۳ شرک في العبادت | 180 |
| .106 | ۰٤ شرک في الدعاء | 181 |
| .107 | شرک في الحکم | 182 |
| .108 | رد دَ شفاعت قهري | 182 |
| .109 | ۰۲ شرک فعلي | 186 |
| .110 | تحر يمات العباد | 187 |
| .111 | ۰۲ نذور العباد | 189 |
| .112 | شرک في البرکات | 191 |
| .113 | دَ شرک فعلي نموني | 192 |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| .114 | قباحت دَ شرک | 193 |
| .115 | دویم فصل<br>دویم مقصد د قرآن صداقت | 196 |
| .116 | طریقه دَ ربط | 199 |
| .117 | دریم فصل<br>۳ مقصد صداقة الرسول (رسالت) | 200 |
| .118 | طریقه دَ ربط دَ مقاصدو سره | 201 |
| .119 | څلورم فصل<br>٤ مقصد د قرآن ایمان بالآخرة | 202 |
| .120 | طریقه دَ ربط | 207 |
| .121 | پنځم فصل<br>الجهاد فی سبیل الله | 209 |
| .122 | فضیلت دَ مجاهد | 215 |
| .123 | فوائد الجهاد او مقاصد الجهاد | 216 |
| .124 | قبائح دَ ترک القتال | 218 |
| .125 | شرائط او آداب دَ جهاد | 220 |
| .126 | شپږم فصل | 221 |

| | | |
|---|---|---|
| | ٦- مقصد "الانفاق" | |
| .127 | اووم فصل<br>٧ مقصد " التنظيم" | 226 |
| .128 | ٨ اتم فصل<br>١ تم مقصد (الآداب) | 234 |
| .129 | دريم باب<br>مخاطب د قرآن | 235 |
| .130 | اول فصل "دهر يان" | 236 |
| .131 | ٢دويم فصل<br>مجوس | 243 |
| .132 | دريم فصل<br>مشركين | 243 |
| .133 | مدار دَ نجات | 247 |
| .134 | حالات د مشركانو<br>دَ مكي مشركانو حالات | 247 |
| .135 | تطبيق برجال حاضرة<br>پخواني او اوسني مشركان | 255 |
| .136 | دَ مشركانو قسمونه | 260 |
| .137 | ٠١ مشركين بالعباد الصالحين | 267 |



Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| 138 . | ٢. مشركين بالكواكب | 271 |
| 139 . | ٣. مشركين بالملائكة | 274 |
| 140 . | ٤. مشركين بالجن | 275 |
| 141 . | شبهات دَ مشركينو | 278 |
| 142 . | څلورم فصل يهود<br>څلورمه دِله يهود | 282 |
| 143 . | منصوبې دَ يهوديانو او نظريات | 284 |
| 144 . | " النصارى " | 285 |
| 145 . | " المنافقين " | 285 |
| 146 . | څلورم باب<br>انداز بيان د دې مسئلو | 287 |
| 147 . | فصل اول " الدعوة بالحكمة " | 289 |
| 148 . | ٢. دليل نقلي | 291 |
| 149 . | دليل وحي | 293 |
| 150 . | " الحلف " | 294 |
| 151 . | " وضاحت دَ دعوې " | 298 |
| 152 . | ادخال الهي | 299 |
| 153 . | " القصص " | 299 |
| 154 . | التشجيع | 300 |

| | | |
|---|---|---|
| 155. | امور مصلحه | 301 |
| 156. | التسلية | 302 |
| 157. | بيان دَ امتحاناتو | 302 |
| 158. | " طريقي دَ تعليم" | 304 |
| 159. | " الترغيب" | 305 |
| 160. | التزهيد من الدنيا | 305 |
| 161. | بائيكاټ دَ دشمنانو نه | 306 |
| 162. | ترغيب ملګرتيا دَ نيکانو ته | 306 |
| 163. | " الابتلاء بالنعم والنقم" | 307 |
| 164. | دويم فصل<br>" الدعوة بالموعظة " | 308 |
| 165. | دَ خلقو دري قسمونه | 309 |
| 166. | " الزجر" | 310 |
| 167. | " التخويف" | 314 |
| 168. | تخويف دنيوي | 315 |
| 169. | تخويف اخروي | 317 |
| 170. | تخويف برزخي | 317 |
| 171. | البشارة | 318 |
| 172. | البشارة الدنيوية | 319 |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| 173. | البشارة الاخروية | 320 |
| 174. | البشارة البرزخية | 321 |
| 175. | الامورا لدافعة للعذاب | 321 |
| 176. | التيقظ | 322 |
| 177. | دويم فصل<br>المجادلة | 323 |
| 178. | پنځم باب اثر د بيان د قرآن<br>نو څه به اوشي؟ | 324 |
| 179. | فصل اول<br>درجات دَ منونكو او دَ هدايت | 326 |
| 180. | " انابت " | 326 |
| 181. | " هدايت " | 327 |
| 182. | استقامت | 327 |
| 183. | ربط القلب | 328 |
| 184. | دويم فصل -<br>درجات الضلالة - | 332 |
| 185. | شپږم باب<br>اول فصل<br>دويم قسم اصول<br>اصول د زده كولو د سورت | 334 |

| | | |
|---|---|---|
| .186 | اوله خبره دعوي دَ سورت | 334 |
| .187 | ربط | 335 |
| .188 | ربط كلي | 335 |
| .189 | ربط جزي | 336 |
| .190 | ربط جزي اسمي | 336 |
| .191 | تقسيم او خلاصه دَ سورت | 336 |
| .192 | خلاصه | 337 |
| .193 | معرفت دَ مكي او مدني سورتونو | 337 |
| .194 | مكي او مدني سورتونو كي فرق | 338 |
| .195 | امتيازات دَ سورت | 339 |
| .196 | دَ سورت متعلق بعضي اهمي خبري | 340 |
| .197 | دويم فصل<br>دريم قسم اصول<br>اُصول متعلق دَ زده كولو دَ آيت | 341 |
| .198 | التنظير | 342 |
| .199 | المضادة | 342 |
| .200 | الاستطراد | 342 |
| .201 | الالتفات من حديث الي آخر تنشيطاً للسامع | 342 |
| .202 | " خاتمه " | 343 |


Maktaba Tul Ishaat.com

| | | |
|---|---|---|
| 203. | النسخ | 343 |
| 204. | معرفة المحكم والمتشابه | 344 |
| 205. | اعاده بعد عهد | 344 |
| 206. | ادماج او اندماج | 345 |
| 207. | قاعده ماضي په امر | 345 |
| 208. | عطف | 345 |
| 209. | علفتها تبناً وماءً بارداً | 345 |
| 210. | التعارض | 346 |
| 211. | النظائر | 346 |
| 212. | الزيادة في القرآن | 346 |
| 213. | الوجوه و النظائر | 347 |
| 214. | قاعده " اوتوا " " اتينا" | 347 |
| 215. | احتياط كول په مصداق دَ آيت كي | 348 |
| 216. | دَ تفسير كولو طريقي | 350 |
| 217. | اوله طريقه | 350 |
| 218. | دو يمه طر يقه دَ تفسير | 351 |
| 219. | تفسير القرآن باقوال الصحابة والتابعين | 357 |
| 220. | تفسير القرآن باللغة ود يوان العرب | 358 |
| 221. | شان نزو ل | 360 |

| | | |
|---|---|---|
| 222. | دَ شان نزول باره کي يوه بله تنبيه : | 364 |
| 223. | تقسيم د قرآن<br>څلورو حصوته | 366 |
| 224. | نظام خالقيت | 368 |
| 225. | ۲۔ نظام ربوبيت | 368 |
| 226. | ۳۔ نظام برکت | 369 |
| 227. | ٤۔ نظام مالکيت | 370 |
| 228. | 1۔ اوله حصه | 370 |
| 229. | 2۔دويمه حصه | 371 |
| 230. | 3۔دريمه حصه | 371 |
| 231. | 4۔ څلورمه حصه | 372 |
| 232. | تقسيم د قرآن کريم په اعتبار د سورتونو | 373 |
| 233. | خلاصه د ټولو اصولو په لنډ انداز سره | 375 |
| 234. | قرآن کريم دا اته مسئلې چا ته وائي ؟ | 376 |
| 235. | څنګه ئې وائي ؟ | 377 |
| 236. | اثر مرتبه به څه شي ؟ | 378 |
| 237. | خاتمه مسک | 380 |


Maktaba Tul Ishaat.com

# ددي قلم نه

1- تحفة المسجون ---------------------------------- مطبوع

2- الجواهر السجنية فى مقاصد السور والآيات القرانية ---------- مطبوع

3- د زندانى ډالئ ---------------------------------- زير طبع

4- اقامت دين ---------------------------------- زير طبع

5- ترجمہ اردو اعلام الاعلام ---------------------------------- زير طبع

6- صارم المجتبى ---------------------------------- زير طبع

7- مطر الفرائد شرح شرح العقائد ---------------------------------- زير طبع

8- الحوض الطامى شرح حسامى ---------------------------------- زير طبع

9- رسائل عامرى ---------------------------------- زير طبع

10- خطبات عامرى ---------------------------------- زير طبع

11 بياض القرآن مع نكات تفسير ---------------------------------- زير طبع

# بیاض القرآن الکریم

مختصر تفسیری نکات کے ساتھ

مفکر اسلام علامہ مفتی مجتبیٰ عامر سلمہ اللہ کی

تحقیق پر مبنی عنقریب طبع ہونے والا ہے

ادارۃ العلم پشاور

محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور

0332-9190282 0316-9086282

Maktaba Tul Ishaat.com